# د سريزي پر ځای

پښتانه بايد د دې حقيقت و منلو ته غاړه کښېږدي چي پښتو ژبي ته د غناء او بډايی پر لور لا اوږده مزلونه پاته دي. که داسي نه وای نو ولي به د شلمي عيسوي پېړۍ په پای کي لا زموږ خواخوږو مشرانو له پښتو سره د (خوار کۍ) لقب زياتولای. په دې لقب کي پر عاطفي اړخ سربېره د محتاجۍ ضمني معنا هم نغښتې ده. ګويا د پښتو ژبي د غناء له پاره د نور کار او زيار اړتيا سته.

د هري ژبي او په هغو کي د پښتو ژبي د بډايی له پاره د تحقيق، تخليق او ترجمې درې سره برخي لازمي دي. خو لکه د لاس په ګوتو کي چي توپير سته هره ژبه بيا د خپلو غوښتنو او اړتياوو له مخي په دغو درو واړو برخو کي پر يوه يا بله برخه باندي زور اچوي. زه له پښتو ژبي سره د نسبتاً اوږدې بلدتيا او د هغې په ګاونډ کي د نورو پرتو ژبو له مطالعې څخه دې نتيجې ته رسېدلی يم، چي د پښتو په پياوړتيا کي بايد د ترجمې کار ته زياته پاملرنه وسي. دا ځکه د تحقيق او تخليق هغه امکانات چي د نورو ژبو ويونکو ته ميسر دي، له بده مرغه پښتانه يې نه لري، په تېره بيا نن ورځ چي څه دپاسه درې لسيزي يې په جګړو کي تېري سوي دي، دوه درې سربسته نسله يې له منظمو زده کړو څخه بې برخي پاته سوي دي، د نفوسو يوه دريمه يې پر نړۍ باندي سره پاشل سوې ده او دننه په هيواد کي يې د پوهي او فرهنګ مرکزونه له تاداوه نړول سوي دي. خو د چا خبره "خونه که مي وسوه، دېوالونه يې پاخه سوه". د نړۍ پر هيوادو باندي د افغانانو سره پاشني هغوی ته په نسبي توګه دا زمينه برابره کړې ده، چي د ترجمې له پاره يې د تحقيق او تخليق په پرتله لاس تر يوه ځايه ورسېږي. پښتانه د نړۍ له ژونديو ژبو او ژونديو ادبياتو سره تر يوې اندازې بلد سوي دي [illegible] هر وخت او هر چا ته په پښتو ژبه باندي د [illegible] ژونديو [illegible] آثارو ژباړلو [illegible] کړې ده.

د دغه حاضر کتاب ژباړونکی ښاغلی ډاکټر محمدصديق ظهير په دغه



، زما سره په يوه نظر دئ او د
ي پر علمي زېرمه باندي د دې

لکي لحاظ انجنير دئ او په
وکتورا بشپړه کړې ده خو له
يتوب له وخته اشنا او په دغه
کي د ديموکراسۍ تر لسيزي
و ډېري علمي، ادبي او سياسي
ه کي د څلوېښتمي لسيزي په
موکراسۍ تر اعلان وړاندي
يلواکۍ د ګټونکي په توګه نه
ر په يوه مقاله باندي مات سو،
تل او ګټونکي په توګه ستايل
نورينو کي ډېره ښه استقبال
ي مستقل آثار يې هم په پښتو
ساطو خپاره کړي دي او دا دئ
لو سره پر پښتو ژبه باندي يوه
ي دئ. د ژباړي د ژبي په باب
ه شريک کړي دي خو د لغاتو
ي کړی دئ.
دغه درانه اثر د ژباړلو له امله
پښتو باندي خپله پوهه نوره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خارجي هیوادو کي اوسي هم په دې کار کي ډېره مرسته کولای سي.

دا کتاب چي ستاسي په مخکي دئ د څلورو امریکایي لیکوالو، میکایل راسکین، رابرت کورډ، جېمزمیډ یورس او والټر جونز لخوا په ګډه د یوه درسي کتاب په شکل په ۲۰۰۴ع کال کی د Political Science. An Introduction په نامه لیکل سوی او چاپ سوی دئ چي وروسته بیا په ۲۰۰۷ کال کي له سره کتنه وربانديي سوې ده او د لسم ځل له پاره دوباره چاپ سوی دئ. ما دا کتاب تلخیص او ترجمه کړی دئ، په دې معنی چي هغه برخي مي ځني ایستلي دي، چي د امریکې په متحده ایالاتو پوري ډېري مختصي دي او زما په نظر به یې ښایي د افغاني زده کوونکو له پاره مفهوم اخیستنه له ستونزو ډکه وي. سره له دې هم، څرنګه چي کتاب د امریکایي زده کوونکو له پاره لیکل سوی دئ، ځکه یې نو ډېر مثالونه او مسایل د امریکې په سیاسي او اجتماعي سیسټم پوري اړه لري خو یقین مي دئ چي د همدې مثالو او د امریکا د سیاسي، اقتصادي، اجتماعي ، او کلتوري ساختمان زده کړه زموږ ځوان نسل ته هم ګټوره او هم لازمي ده.

د دې معنی هیڅکله دا نه ده، چي ګویا زده کوونکي باید ټول هغه نظریات چي په کتاب کي راغلي دي په پټو ستر ګو ومني، او دا معنی هم نه لري چي زه ګویا له ټولو سره موافق یم. زما په نظر د دې کتاب د مفاهیمو، نظریاتو او مثالونو پوهه له زد کوونکو سره دا مرسته کولای سي، چي په افغاني ټولنه کي یې د مثالونو څر ک وباسي او د تطبیق ساحه یې وپلټي.

د دې کتاب دیارلس فصلونه ما ترجمه او تلخیص کړي دي. ځیني فصلونه اوږده او ځیني بیا لنډ ځکه دي، لکه مخکي چي مي وویل، موضوعات یې یوازي د هغه چا له پاره مفهوم لرلای سي چي په امریکا کي یې ډېر وخت تېر کړی وي. د ځینو فصلونو په پای کي (عمده مفاهیم) تشریح سوي دي چي زده کوونکو ته اضافي معلومات ور کوي چي د زده کونکو له پاره بې ګټې نه دي.

ګرانو لوستونکو ته معلومه ده، چي و پښتو ژبې ته د مسلکي اثارو ترجمه کول ستونزمن کار دئ. ما ډېر زیار ایستلی دئ، چي ترجمه روانه او اسانه راسي، مګر بیا هم که چېري کومه جمله مبهمه وي، لطفاً یې یو ځل بیا ولولئ ښایي معنی یې روښانه سي. که بیا هم د جملې مفهوم روښانه نه سو نو دا زه د ځان نیمګړتیا بولم او له ګرانو لوستونکو څخه هیله لرم، چي د خپلي

# یو څو خبري

ما یو څه وخت په جاپان کي تېر کړی دئ او هورې مي د انجینرۍ په څانګه کي د تحصیل پر څنګ د جاپان د تاریخي او کلتوري جوړښت او همدارنګه د بېساري چټک اقتصادي او تخنیکي پرمختګ په هکله هم څه ناڅه لوستي دي. یوه موضوع چي ما ته ډېره په زړه پوري وه هغه د جاپان په دې بېساري پرمختګ کي د ژباړي رول و. کله چي جاپانیان د نولسمي پېړۍ په وروستیو کلونو کي له تقریباً درې سوه کلني انزوا څخه راووتل او د نړۍ د پرمختللي او د جاپان د وروسته پاته ساینس او تخنیک څخه خبر سول، نو په دې فکر کي سول چي څه باید وکړي.

پر وطن او قام مین جاپاني مشران له ډېرو سلاوو اومشورو وروسته دې نتیجي ته ورسېدل، چي په غرب پسې د رسېدلو او له دوی سره د رقابت کولو یوه لار دا ده چي د غرب ټول علوم ژر تر ژره جاپان ته د ترجمې له لاري راوړي. که څه هم چي د جاپان اقتصاد په هغه وخت کي د نن په شان قوي نه و بیا یې هم ډېر ځوانان خارجي هیوادونو ته د زده کړي له پاره ولېږل او هم یې د امریکې، انګلستان، فرانسې، جرمني او نورو هیوادونو څخه په لوړو امتیازاتو استادان استخدام کړل، چي جاپاني زده کوونکو ته خارجي ژبې ور زده کړي. په ډېر لږ وخت کي جاپانیان په دې وتوانېدل چي د نړۍ په ژوندیو ژبو کي ډېر زیات لیکل سوي کتابونه جاپاني ژبې ته راواړوي او له هغو څخه په ګټه اخیستلو سره خپل هیواد ډېر ژر د نړۍ د پرمختللو هیوادو په ډله کي ودروي.

زما په نظر، زموږ ګران هیواد افغانستان هم باید د پرمختګ له پاره په دې لار کي جدي او هر اړخیزه ګامونه واخلي او چي په وس یې کېږي د نړۍ له ژوندیو ژبو څخه د هر ډول کتابو و ترجمه کولو ته زور ور کړي. په ملي سویه باندي خو په دې نېک کار کي پراخ ګامونه اخیستل او په دې لار کي پوره سرمایه ګذاري کول د دولت له مهمو کارو څخه دي، خو هغه افغانان چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بزرګواری له مخي عفوه راته وکړي.

له ښاغلي نسيم سليمي څخه زيات منته کوم، چي د دې ترجمې يوه برخه يې کتلې او لازمي مشورې يې راکړي دي. زما وروڼو ډاکتر رفيق ظهير او انجينر نادر ظهير زموږ د هفته ييز چکر وهلو پر وخت د مناسبو لغاتو او اصطلاحاتو په برخه کي ډېره مرسته راسره کړېده، چي کور وداني ورته وايم. په پای کي بايد ووايم چي دا ترجمه، لږ ده که ډېره، ښه ده که بده، د محمد معصوم هوتک له مرستي پرته يې تر تاسو ښاغلو لوستونکو پوري رسول ممکن نه وه. معصوم هوتک سربېره پر دې چي همېشه يې و دې کار ته تشويق کړی يم، دا ترجمه يې، د کلمې په واقعي معنی، ټکي په ټکي لوستلې او ايډيټ کړې ده. عمر دي يې ډېر، کور دې ودان او پرقلم دې برکت وي. زه تر حد زيات ځني ممنون يم، مګر نو د څه کم پنځوسو کالو اشنايی نتيجه بايد همداسي وي.

په درناوي

محمد صديق ظهير

ويرجينيا- امريکا

نومبر ۲۰۰۸ع

# لومړی فصل

**د سیاست علم :**

جنګ او تروريزم د امريکې د متحده ايالاتو په خلګو کي له سياست سره علاقه بيرته راژوندۍ کړې ده. زده کوونکو او جدي خلګو چي پخوا له سياست او سياسي مسايلو څخه مخ اړاوه، اوس يې بيرته سياست ته مخ کړی دئ. مګر سره له دې هم ډېرو پوليټيکل ساينټسټانو ته دا اندېښنه پيدا سوېده، چي د امريکې په متحده ايالاتو او همدارنګه د نړۍ په ډېرو نورو هيوادونو کي خلګ په اصطلاح غير سياسي سوي دي. پوښتنه دا ده چي ولي له ډېرو کلونو راهيسي له سياست سره د خلګو علاقه مخ پرلږېدو ده. ايا علت يې له سياستوالو څخه، چي هر وخت يوازي د ګوندي ګټو له پاره هڅې کوي، د خلګو کرکه ده؟ او که خلګو ته دا احساس ورپيدا سوی دئ چي د دوی يوه انفرادي رايه کومه ګټه نه کوي؟ ايا له خلګو سره دا مفهوم پيدا سوی دئ چي د سياست په ميدان کي يوازي د ثروتمندو او با قدرته خلګو، چي هر څه زړه غواړي هغه کولای سي، اغېزه سته نو په سياست کي برخه اخيستل څه ګټه لري؟

د دې کتاب تسيز (Thesis) دا دئ چي سياست مهم دئ. که تاسي له سياست سره علاقه ونه ښياست او په سياست کي برخه وانخلئ، يو بل څوک به دا کار وکړي او هغوی به پر هغو تصاميمو اغېزه وکړي چي زموږ او ستاسي پر ژوند اثر ښندي. د دې کتاب يوه وظيفه دا ده چي تاسي ته دا وښيي چي سياست څه شي دئ او څرنګه کار ورکوي، څو تاسي په خپله ګټه پوه سئ او نور څوک ونه کولای سي چي په سياست کي ستاسي له ناپوهۍ څخه ناوړه ګټه واخلي.

له سياست څخه د ډېرو خلګو نفرت کېږي او ښايي دوی پر حق هم وي. سياست ښايي په خپل ذات کي يو غيراخلاقي شی وي. له قدرت څخه ناوړه استفاده او فساد د سياست مهم اجزاء تشکيلوي. مګر دا حتمي نه ده چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسي هغه څه خوښ هم وي چي زده کړه يې کوئ. بیالوژیستان د خطرناکه ناروغیو باکټریاوي تر مایکروسکوپ لاندي مطالعه کوي. د دوی دا باکټریاوي خوښي نه وي، مګر دوی غواړي په دې پوه سي چي باکټریاوي څرنګه ډېرېږي، څه ډول خطرونه ځني پېښېږي او څرنګه له منځه وړل کېداي سي. د بیالوژیستانو دې باکټریاوو ته درد (قهر) هم نه راځي چي سره چختاښي او له منځه يې یوسي. دوی غواړي د طبیعت په قوانینو ځانونه پوه کړي څو وکولای سي له دې لاري له بشري ژوند سره مرسته وکړي. پولیټکل ساینټسټان له سیاست سره همدا کار کوي.

**اصلي علم :**

ارسطو، چي د ډیسپلین discipline تهداب ایښوونکی دئ، سیاست (اصلي علم) بولي. مطلب يې دا دئ چي تقریباً هر څه په یوه سیاسي زمینه کي پېښېږي او تقریباً پر نور هر څه باندي پولیس polis (د یونان ښار – دولت city-state) حکمراني کوي. څرنګه چي تقریباً هر څه سیاسي دي، نو د سیاست مطالعه [زده کړه] ګواکي تقریباً د هر څه زده کړه ده. ځیني محصلین [زده کوونکي] د زده کړي بېلابېلي څانګي تعقیبوي. پولیټکل ساینس پخپله د اجتماعي علومو د بېلابېلو څانګو څخه متشکل دئ. ځیني وخت، په دې باندي پوهېدل ګران دي چي د مثال په توګه تاریخ، بشري جغرافیه، اقتصاد، سوشیولوجي، انتروپولوجي او یا هم سایکولوجي پر کوم ځای ختمېږي او پولیټیکل ساینس پر کوم ځای پیل کېږي. دلته به، په لنډه توګه، وګورو چي پولیټکل ساینس څرنګه له نورو اجتماعي علومو سره ارتباط لري.

**تاریخ :**

تاریخ د پولیټکل ساینس له پاره د معلوماتو data یوه مهمه منبع تشکیلوي. کله چي موږ د فرانسې د دریم جمهوریت (۱۸۷۱ – ۱۹۴۰ع) د سیاست په باب، یا د فرانکلین روزولت (۱۹۳۳ – ۱۹۴۵ع) په وخت کي د امریکې د جمهوري ریاست د قدرت د زیاتوب په باب او یا هم د ساړه جنګ (۱۹۴۷– ۱۹۸۹ع) په هکله خبري کوو، موږ د تاریخ مطالعه کوو. مګر تاریخ پوهان او پولیټکل ساینټسټان په دې پېښو کي بېل شیان پلټي او له دې



معلوماتو سره په بېلابېلو اشکالو سروکار لري. په خاصه توګه، تاریخ پوهان یوه پېښه په تفصیل سره څېړي، د پېښي په هکله اسناد، ارشیفونه او خبري راپورونه راغونډوي. دوی پر یوه موضوع باندي متمرکز سوي زیات معلومات [ډېټا] لري، مګر د عمومي کولو [تعمیم] په هکله لږ او یا هیڅ اقدام نه کوي. له بلي خوا، بیا پولیټکل ساینټستان خبره له تعمیم [ generalization ] څخه راشروع کوي. موږ کولای سو د تاریخ پوهانو څېړني او ګروپېږني سره مقایسه او مقابله کړو. یو تاریخ پوه ښايي د وایمر جرمني (۱۹۱۹ – ۱۹۳۳ع) تفصیلي څېړنه او مطالعه سر ته ورسوي، پولیټکل ساینټسټ بیا ښايي دا ډول څېړنه په عین دوران کي له فرانسې، ایټالیا او روسیې سره مقایسه کړي، چي مشابهتونه او تفاوتونه يې وګوري. ځیني تاریخ پوهان هم مقایسوي څېړنه سر ته رسوي، چي په دې صورت کي نو دوی په عمل کي پولیټکل ساینټسټان هم بلل کېدای سي.

**بشري جغرافیه :**

بشري جغرافیه، چي له فزیکي جغرافیې سره تفاوت لري، که څه هم په دې وروستیو لسیزو کي پولیټکل ساینټستانو له نظره اچولې ده، مګر په واقعیت کي يې په سیاست کي نفوذ زیات دئ. د بشري سلوک په قلمرو پوري تړلي عناصر لکه سرحدات، نژادي ساحه، تجارت، د قدرت تمرکز او منطقه ډېر زیات سیاسي نتایج او اړخونه لري. د افغانستان، چچنیا او عراق پرابلمونه تر ډېره حده جغرافیايي اړخ لري او همدارنګه د کاناډا لاینحل فدرالیزم، چي د کوبیک ځیني خلک غواړي ځني بېل سي، جغرافیايي اړخ لري.

**اقتصاد :**

اقتصاد، د ځینو اقتصاد پوهانو په عقیده، د سیاست اصلي موضوع تشکیلوي. خو پولیټکل ساینټستان په دې هکله برعکس ادعا لري. دا خبره رشتیا ده، چي ډېري سیاسي لانجې اقتصادي ریښې لري. اقتصادي انکشاف د ډموکراسۍ د تحقق له پاره ډېر اهمیت لري، لږ غریب هیوادونه سته چي ډیموکراتیک رژیم لري. مخ پر کښته اقتصاد د ډموکراسۍ د له منځه تلو سبب ګرزیدای سي، د وایمر جمهوریت Weimer Republic او په راوروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي روسیه یي ښه مثالونه دي. کومي پالیسي ګاني اقتصادي انکشاف منځ ته راوړي؟ حکومت باید څومره رول [په اقتصاد کي] ولري؟ ایا یورو euro نور هم یوروپ سره متحد کولای سي؟ کله چي اقتصاد پوهان د پالیسۍ په دا ډول پوښتنو کي را ونغاړل سي، له دوی څخه (پولیټکل اکونومستان) جوړېږي.

**سوسیولوجي :**

د سوسیولوجي او پولیټکل ساینس ځیني برخي سره ګډېږي. سیمور مارتین لیپسیت Seymour Martin Lipset چي یو سوسیولوجست دئ، د پولیټکل ساینټست په صفت هم ډېر شهرت لري. دی د هغو لومړنیو پوهانو په ډله کي دئ چي د ډموکراسۍ او ثروت تر منځ یې نژدې رابطه وښودله. لکه چي په راتلونکي فصل کي به یې وګورو، پولیټکل ساینس په ټولنه کي دا مطالعه کوي چي د سیاست په هکله "څوک څه ډول فکر کوي". سوسیالوجي بیا دا څېړي چي څرنګه د اجتماعي طبقاتو، مناطقو، مذاهبو او عمر پر اساس د خلکو سیاسي نظریات فرق کوي. په دې ترتیب نو سوسیولوجي د سیاسي کلتور، عمومي افکارو او د انتخاباتو په هکله د مطالعاتو له پاره یو تجربوي اساس برابروي.

**انسان پېژندنه :**

انسان پېژندنه یا انتراپولوجي، چي په عنعنوي توګه د بې سوادو ټولنو مطالعې ته متوجه ده، له پولیټکل ساینس سره بې ارتباطه غوندي ښکاري. مګر د انتراپولوجي له تشریحي او مصاحبوي تخنیکونو څخه په پولیټکل ساینس کي په زیاته پیمانه کار اخیستل کېږي. د جاپانیانو د احترام سیسټم، چي موږ یې نن ورځ هم وینو، تر زر کاله لا هم پخوا منځته راغلی دئ. ځیني اوسني سیاسي سیسټمونه حتی اوس هم سیاسي قدرت و عنعنوي با نفوذه کورنیو یا قبیلو ته سپاري. په افریقا کي، رایي ګیري او تشدد قبیلوي کرښي تعقیبوي.

**سایکالوجي :**

سایکالوجي، په تېره بیا اجتماعي سایکالوجي، د پولیټکل ساینس په



پوهېدنه کي ډېره مرسته کوي. دا چي څه ډول شخصیتونه سیاست ته لېوال کېږي، یا دا چي ولي او تر کومو شرایطو لاندي خلک د واکمنانو اطاعت کوي، سایکالوجیکي مسایل دي چي پوهېدل یې له پولیټکل ساینس سره مرسته کوي. د هټلر، سټالین او ماوتسي تونګ په هکله مطالعه اکثره وخت پر سایکالوجیکي تیوري ګانو بنا سوي وې.

سایکالوجسټان په خاصه توګه په متود ولوجي methodology کي تکړه وي، دوی شیان په عیني (واقعي او بې طرفه) توګه مطالعه کوي او موږ ته دا رانښیي چي ضعیفو ادعا ګانو ته د شک په سترګه وګورو .

**سیاسي قدرت څه شي دئ؟**

پولیټکل ساینس ډېر وخت د نورو اجتماعي علومو له کشفیاتو او مطالعاتو څخه استفاده کوي. مګر کومه مشخّصه چي پولیټکل ساینس له نورو اجتماعي علومو څخه بېلوي، هغه و سیاسي قدرت ته د پولیټکل ساینس خاصه توجه ده. زموږ دوهم بنسټ ایښوونکې پلار (تر ارسطو وروسته) د رنسانس د دورې فلورانسي فیلسوف نیکولو ماکیاولي Niccolo Machiavelli دئ، چي په سیاست کي یي د قدرت پر رول ټینګار کړی دئ. تاسي کولای سئ له مخکي ذکر سوو ټولو روشونو او فکتورونو څخه کار واخلئ، مګر که تاسي له هغو څخه د سیاسي قدرت د مطالعې په برخه کي استفاده ونه کړئ، تاسي به ښایي د پولیټکل ساینس مطالعه نه کوئ. د ځینو خلکو د سیاسي قدرت political power مفهوم هم نه خوښېږي. ځکه چي له دې مفهوم څخه د جبر، عدم مساوات او کله هم د ظلم بوی راولاړېږي. ځیني خلک د "قدرت له پاره سیاست کول" غندي او د بې له قدرته حکومت وړاندیز کوي، چي په هغه کي به خلک ګویا د وروڼو او خویندو په شان د محبت او یو له بله سره د هر څه د شریکولو پر اساس ژوند سره کوي. پر دا ډول اساساتو جوړي سوي ټولني دوام نه سي موندلای، که چېري دوام هم ومومي نو به یې د معمولي حاکم او محکوم ساختمان و یو بل شکل ته غاړه ایښې وي، چي بیا به هم د قدرت زوړ وروست بوی ځني راولاړېږي. داسي ښکاري لکه سیاسي قدرت چي د بشر په خټه کي اخښل سوی وي. مګر سوال دا دئ چي ولي ځیني خلک پر نورو باندي سیاسي قدرت چلوي؟ د سیاسي قدرت له پاره قاطع او صریح تشریح وجود نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر ځیني بیولوجیکي، سایکالوجیکي، کلتوري، عقلاني او غیر عقلاني تشریحات رامنځته سوي دي، چي د سیاسي قدرت په مطالعه کي مرسته کولای سي.

**بیولوجیکي تشریح**:

ارسطو تر ټولو مخکي او ښایي هم تر ټولو ښه ویلي دي چي: "انسان د طبیعت له مخي یو سیاسي حیوان دئ". (ارسطو د zoon politikon, لغت استعمال کړی دئ چي د "سیاسي حیوان " او یا هم د " اجتماعي حیوان" په توګه ترجمه کېدای سي. یونانیان په city-state ښار – دولت کي اوسېدل چي polis پولیس د اجتماع [ټولني] په معنی هم استعمالېدی). د ارسطو مقصد دا دئ چي انسانان په طبیعي توګه د پیلانو او هوسیو په شان ډله ییز ژوند کوي. دوی د ځان ساتني او بقا له پاره یو بل ته ضرورت لري. دا هم طبیعي خبره ده چي دوی، لکه ټول ډله ییز حیوانات ځانونه د رهبري کوونکو او رهبري کېدونکو په ډله کي سره تنظیموي. د ارسطو د لارښودني له مخي داسي بیولوجیکي تشریح کېدای سي چي ګویا د سیاسي سیستمونو تشکیلول او د هغو د لیډرانو اطاعت کول د انسان فطري سلوک دئ، چي راتلونکو نسلونو ته د (ژن) [په کروموزم کي موجود عامل چي د ارثي صفاتو ناقل دئ] په وسیله انتقالېږي. ځیني متفکرین استدلال کوي چي انسانان په سیاست کي هماغه "تسلط د مراتبو سلسله" تعقیبوي چي نورو تي لرونکو (حیواناتو) وضع کړې ده.

د بیالوجیکي روش برتري د هغه په ساده توب [اساني] کي ده، مګر دا روش یو لړ سوالونه هم رامنځ ته کوي. که موږ دا ومنو، چي انسانان په طبیعت کي سیاسي موجودات دي، بیا نو موږ داسي حالتونه څرنګه تشریح کولای سو چي سیاسي ګروپونه سره پاشل کېږي او خلک د لېډرانو له اطاعت کولو څخه سرغړونه کوي؟ ښایي موږ دا تیوري داسي تعدیل کړو چي: انسانان نامکمله سیاسي (یا اجتماعي) حیوانات دي. ډېر وخت خلک ګروپونه تشکیلوي او د لیډرانو اطاعت کوي، مګر ځیني وختونه، تر معینو شرایطو لاندي، دوی دا کار [د لیډرانو اطاعت] نه کوي. دلته نو بیا دا سوال رامنځته کېږي چي کوم شرایط د سیاسي ګروپونو د تشکیل او یا انحلال سبب ګرځي؟



**سایکالوجیکي تشریح** :

د سیاست او اطاعت سایکالوجیکي تشریح له بیالوجیکي تیوریو سره تړلې ده. دواړه تیوري ګاني پر هغه فرضیه باندي بنا دي، چي ګویا د سیاسي ګروپونو تشکیل د پېړیو تکاملي جریان په نتیجه کي منځته راغلی دئ. سایکالوجستانو خپل نظریات د تجربیوي څېړنو له لاري سوتره کړي دي. یوه له هغو څخه هم د میلګرام Milgram مشهوره مطالعه او څېړنه ده، چي په هغه کي د یوه پروفیسور لخوا و ځو بې خبرو شاګردانو ته هدایت ورکړه سو، چي یو مظلوم شخص ته برقي ټکانونه [شوک] ورکړي. "مظلوم شخص" چي په یوه چوکۍ پوري ټینګ تړل سوی و، په حقیقت کي یو اکټر [لوبغاړی] و، چي یوازي یې داسي اکټ کاوه چي ګویا [له برقي شوکونو څخه] رنځ وړي. زیاتو شاګردانودا غوښتل چي پر "مظلوم" باندي ډېره اندازه برقي شوک ځکه استعمال کړي چي "پروفیسور" (یعني یو لوړ مقام د لابراتوار په سپینه چپنه کي) و دوی ته ویلي وه. د ډېرو شاګردانو دا خوښه نه وه چي مظلوم ته زجر ورکړي، مګر له ځان سره یې دا استدلال کاوه چي دوی یوازي د پروفیسور اوامر پر ځای کوي او پر مظلوم باندي چي هر څومره زجر تېرېږي هغه دپروفیسور مسئولیت دئ. دوی د خپلو اعمالو مسئولیت د یو لوړمقام په غاړه کي وراچاوه.

سایکالوجیکي مطالعاتو دا هم ښودلې ده چي زیاتره خلک په طبیعت کي مطابقت کوونکي دي. د یوه ګروپ زیات غړي شیانو ته د ګروپ په سترګو ګوري. سایکالوجست ایروینګ جینیس Irving Janis دا وښودله چي د خارجي پالیسۍ ډېر اشتباهات د "ګروپ په توګه فکر کولو" څخه منځته راغلي دي، چي په هغه کي د لېډرشیپ ګروپ ځانته وایي چي هر څه سم دي او اوسنۍ پالیسي کار ورکوي. ګروپونه دې ته تمایل لري چي د شکمنو خلکو پر شک باندي سترګي پټي کړي. د مثال په توګه، دا چي جاپان به ۱۹۴۱ع کال کي پر پرل هاربر باندي Pearl Harbor حمله وکړي او یا دا چي په ۱۹۶۱ع کال کي به د کیوبایي فراریانو د Bay of Pigs حمله ناکامه سي، چا غوږ ونه نیوه. و چارواکو ته اطاعت او ګروپي فکر کول دا ښیي چي انسانان عمیق (او یا هم ښایي فطري) ضرورت لري چي په ډلو (ګروپونو) کي ځانونه ځای او د دوی له نورمونو (معیارونو) سره ځانونه عیار کړي. ښایي دا به هغه څه وي چي د انساني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنو موجودیت ممکنوي، او په نتیجه کي د نازي قتل عام Nazi Holocaust او په اوس کي د عراق د قتل عام په شان وحشتونو امکانات منځته راوړي.

**کلتوري تشریح :**

د انساني سلوک ځومره برخه د زده کړي له لاري او په مقابل کي بیا ځومره برخه د بیالوجیکي وراثت له لاري لاسته راځي؟ دا هماغه د عمرونو زوړ (ارثي که کسبي) بحث تشکیلوي [چي په انګرېزي کي د " nurture versus nature" په نامه شهرت لري]. د شلمي پېړۍ په زیاته برخه کي، د کلتوري فرضیې پلویانو cultural theorists (هغه کسان چي په دې باور لري چي انساني سلوک د زده کړي محصول دئ) تسلط درلود. انتروپولوجستانو دا نتیجه ګیري کړې وه، چي د سلوک ټول تفاوتونه کلتوري دي. دوی استدلال کاوه هغه ټولني چي په سوله او یو له بل سره په همکارۍ کي ژوند کوي خپل اولادونه هم په همدې ډول رالویوي. سیاسي ټولني د کلتوري ارزشونو پر اساس تشکل او دوام مومي چي [دا کلتوري ارزشونه] د والدینو، مکاتبو، کلیسا ګانو او جمعي ارتباط د وسایلو په وسیله انتقال مومي. په پولیټکل ساینس کي د سیاسي کلتور په نامه یو بل په زړه پوري مضمون انکشاف موندلی دئ. د دې مضمون څېړونکو دا ښودلې ده چي د یوه هیواد سیاسي کلتور د ډېرو اوږد مهالو فکتورونو په وسیله تشکل موندلی وي چي دا فکتورونه دین، د اولادونو روزنه، او اقتصادي انکشاف تشکیلوي.

دکلتوري تیورۍ پلویان هغه وخت مشکل وینې چي سیاسي سیسټم له کلتوري سیسټم سره تماس له لاسه ورکړي. د مثال په توګه، کله چي د ایران پاچا کوښښ وکی یوې داسي اسلامي ټولني ته چي لوېدیز ارزښتونه او د ژوند طرز یې خوښ نه و، عصریت راوړي. ایرانیانو پاچا وشاړه او د یوه قرون وسطی مذهبي رهبر هرکلې یې وکړ چا چي د عنعنوي ایرانیانو خوښ ارزښتونو ته لبیک وواېه. کلتوري تیوري ګاني د امریکا پر سیاست باندي هم تطبیقېدای سي. جمهوري غوښتونکي زیات وخت انتخابات ځکه ګټې چي د مذهب، فامیل او خودکفایي پر ارزښتونو، چي د امریکا په کلتور کي ژوري ریښې لري، ټینګار کوي. ډېر پوهان په دې باور دي چي اقتصادي او سیاسي پرمختګ په کلتور culture پوري ټینګ تړلی دئ.



سیاسي ژوند ته د کلتوري تیورۍ له نظره کتل ځیني خوش بینانه اړخونه لرلای سي. که د انسان سلوک زده کېدای سي، نو بیا بد سلوک نازده [له ځانه لیري] کېدای او ټولنه اصلاح کېدای سي. د دې نظریې په اساس، ځوانانو ته ورزده کېدای سي چي تحمل، همکاري او انصاف ولري چي په دې توګه به نو په تدریج سره د ټولني کلتور پر ښه خوا تغیر ومومي. مګر، لکه د عراق امریکایي اشغال ګرو چي کشف کړل، په کلتور کي تغیر راوستل په بې ساري توګه ګران کار دئ.

کلتور د خلګو په سیاسي سلوک کي ډېره برخه اخلي، مګر دا تیوري ځیني مشکلات هم لري. لومړی دا چي، کلتور له څه شي څخه سرچینه اخلي؟ تاریخ، اقتصاد او که مذهب؟ دوهم دا چي، که د انسانانو ټول سلوک په کلتور اړه ولري، نو بېلابېل سیاسي سیسټمونه به یو له بله دومره سره بېل وي لکه کلتورونه چي سره بیل دي. مګر، په خاصه توګه د سیاست په برخه کي، موږ په ډېرو متفاوتو کلتوري ساحو کي سره ورته (مشابه) سیاسي کردارونه او مشخصات وینو. د مثال په توګه، سیاسیون په هر کلتور کي چي وي د فساد و خوا ته تمایل لري.

**د معقولیت تشریح :**

یو بل مکتب بیا سیاست عقلاني rational شی بولي. مطلب یې دا دئ چي خلګ ډېر وخت په دې پوهېږي چي څه غواړي او د هغه څه له پاره چي کوي یې ښه دلایل لري. د هابس Hobbes او لاک Locke په شان کلاسیک سیاسي تیوریسنان، په دې عقیده وه چي انسانان (مدني ټولنه) ځکه تشکیلوي، چي د دوی منطق ورته وایي چي دا (مدني ټولنه) تر انارشۍ ډېره ښه ده. خلګ د خپل ژوند او خپل ملکیت د ساتلو له پاره حکومتونه جوړوي. که چېري دا حکومتونه له قدرت څخه ناوړه استفاده وکړي، نو خلګ دا حق لري چي [دا حکومتونه] منحل کړي او له سره نور حکومتونه تشکیل کړي. د لاک نظریې د امریکې پر بنسټ ایښوونکو پلرونو Founding Fathers ډېر نفوذ درلودلی دئ.

د بیالوجیکي، سایکالوجیکي او کلتوري تشریح مکتبونه بشري استدلال ته لږ اهمیت ورکوي. دوی ادعا لري چي انسانان دیو معین سلوک سره زېږېدلي او یا (په یوه معین سلوک باندي) محدود کړه سوي دي، او افراد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر لږ وخت معقول فکر کوي. په دې صورت کې نو موږ داسي حالتونه څرنګه توضیح کولای سو چي خلګ له ګروپي تطابق څخه جلا کېږي او په آزاده توګه استدلال کوي. مثلاً یو څوک ویلای سي چي "زه تر هغه وخته د احمد پلوی وم تر څو چي ده دا خطرناکه اقتصادي پالیسي رامنځته کړه، اوس زه خپله رایه محمود ته ورکوم" خلګ هر وخت دا ډول معقول تصامیم نیسي. یو سیاسي سیسټم چي د بشري استدلال پر فرضیه بنا وي، زیات امکان لري د عدالت او بشریت پر اساس حکومت وکړي. که (سیاسي) لیډران په دې باور وکړي چي خلګ د بیا لوجیکي وراثت او یا هم کلتوري محدودیت له مخي (د حکومت) اطاعت کوي، نو دا فکر به ورپیدا سي چي دوی (لیډران) د هر ډول فساد او بې اداره ګۍ څخه تښتېدلای سي او له بلي خوا، که له واکمنانو سره دا باوره وي چي خلګ معقول دي، نو دوی به د غلطیو په تشخیص کي د خلګو وړتیا ته احترام وکړي. په نتیجه کي، که خلګ حتی په پوره ډول معقول هم نه وي، دا ښه خبره ده چي واکمنان فکر وکړي چي خلګ (معقول) دي.

**د غیر معقولیت تشریح :**

د نولسمي پېړۍ په اواخرو کي، ځینو متفکرینو دا نظریه رامینځ ته کړه چي خلګ، خصوصاً د سیاسي قدرت په هکله ، اساساً غیر معقول irrational دي. دوی (خلګ) احساساتي دي، د [موهومي] افسانو myth او قالبي نظریاتو تر تأثیر لاندي راځي او سیاست په واقعیت کي د سمبولونو په مهارت کارول دي. یوه [سیاسي] غونډه د یوه وحشي حیوان په شان ده چي یو جذاب لیډر یې په شلاقو وهي څو د خپلي خوښي کارونه په وکړي. هغه څه چي خلګ یې معقول بولي په واقعیت کي (موهومي) افسانې دي، د کنټرولولو له پاره یې فقط [موهومي] افسانې ورته ویلې. د دې مکتب لومړنی عملي کوونکی، په ایټالیه کي د فاشیزم موسس، موسولیني Mussolini و، چي په جرمني کي هټلر Hitler د هغه لاره تعقیب کړه. یو په ژبه نرم افراطي مسلمان، اسامه بن لا دن، د زرهاوو غیر معقولو احساساتي پېروانو لیډر دئ. د دې [موهومي] افسانې، چي ګوا کي امریکا د اسلام دښمنه ده، په منلوسره ځینو خلګو د ټروریسټي اعمالو له لاري په خوښۍ سره خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د انسانانو د سیاسي سلوک په هکله به د غیرمعقولیت نظریه ښایي تر



ډېره ځایه حقیقت ولري، مګر (دا نظریه) فاجعه آمېزه نتایج په بر کي لري. هغه لیډران چي د غیرمعقولیت د نظریې لاري او تخنیکونه په کار اچوي، د خپلو پروپاګنډونو په منلو پیل کوي او (په نتیجه کي) خپل ملتونه جنګ، اقتصادي ورانۍ او استبداد ته ورپوري وهي. ځیني وخت غیرمعقولیت توب [irrationalis] حتی په ډېرو پرمختللو ټولنوکي هم لیدل کېدای سي، چي د سیاست ډېره برخه د راغونډو سوو خلګو په زوره چیغي وهل او د لیډرانو د قهرمانۍ ځان ښوونه تشکیلوي.

**قدرت د یو ترکیب په توګه :**

د سیا سي قدرت په ټولو پورته [ذ کر سوو] تشریح ګانو کي د حقیقت عناصر وجود لري. په بېل وخت او بېلو شرایطو کي، هر یو د قدرت تشریح کولای سي. ټام پېن Tom Pain د سلیم عقل [common sense] په نامه پخپله رساله کي د معقولیت پر اساس دا خبره تشریح کړه چي ولي باید امریکا له برتانیې څخه جلا سي. د امریکې د آزادۍ د اعلامیې او هم د اساسي قانون تسوید کوونکي د خپل عصر د معقولیت [rationalism] تر نفوذ لاندي راغلي وه. دوی خپل استدلال داسي طرح کړ لکه د انسان سیاسي فعالیت چي د نیو ټن د فزیک په شان منطقي وي.

مګر آیا دوی څومره په رشتیا سره معقول وه؟ د اتلسمي پېړۍ په اواخرو کي، د امریکې دیارلس کالوني ګاني له کلتوري پلوه له برتانیې څخه بېلي سوي وې. خلګو ځانونه امریکایان بلل، نه د انګلستان د کالونۍ غړي. دوی امریکایي ورځپاڼې لوستلې او تر برتانیې یې خپل مینځي روابط او مراودات زیات وه. ښایي دا بېلوالی به تر معقولیت دمخه کلتوري شکل درلود.

موږ همدارنګه، سایکالوجیکي او د غیر معقولیت عوامل نه سو هېرولای. ساموېل ادم Samuel Adam ځیرک انقلابي و، تامس جفرسن Thomas Jefferson تکړه لیکوال و او جورج واشنګټن George Washington یو ډېر نامتو جنرال و. له برتانیې څخه د امریکې جلا کېدل او یو نوی نظام منځته راتلل د دې ټولو عواملو [فکتورونو] یو پرله پېچلي ترکیب و. د فکتورونو دا ډول پرله پېچلي ترکیب په هرډول سیاسي سیسټم کي راتلای سي. ځیني وختونه یو فکتور تر نورو ډېر مهم برېښي، مګر موږ په یقیني توګه د یوه ټاکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکتور دروندوالی نه سو تعینولای. دې ته هم پام باید وسي چي څرنګه بېلابېل فکتورونه یو په بل کي سره ګډېږي. بیالوجیکي فکتور پر سایکلوجیکي فکتور ورځي، چي دا بیا پخپله پر کلتوري فکتور ورځي، د معقولیت او غیر معقولیت د فکتورونو تر میانځ هم درز روښانه نه دئ.

یوه عامه تېروتنه دا ده، چي سیاسي قدرت ته د یو محدود او اندازه کېدونکي کمیت په توګه کتل کېږي. قدرت د خلګو تر میانځ یوه رابطه ده، هغه وړتیا او مهارت دئ چي یو فرد هغه څه چي دی یا دا یې غواړي په نورو وکولای سي. سیاسي قدرت په جوال کي یا د مګاواټ په توګه منځ ته نه راځي. په ځینو ځایونو کي انقلابیون د "قدرت نیولو" خبري کوي، لکه قدرت چي په ملي خزانه کي ساتل سوی وي او دوی د شپې په تیاره کي پټ ورسي او راغلا یې کړي. افغان طالبانو په۱۹۹۵ – ۱۹۹۶ع کي "قدرت ونیوی"، مګر دوی په افغانستان کي د نفوس له پلوه یو اقلیت و. ډېرو افغانانو له دوی څخه کر که کوله او ځیني لا ورسره وجنګېدل. انقلابیون فکر کوي چي د "قدرت په نیولو" سره دوی په اتوماټیکي توګه مشروعیت او واک پیدا کوي، مګر نه یې پیدا کوي. قدرت ګټل کېږي، نیول کېږي نه.

ایا قدرت او سیاست سره مساوي دي؟ ځیني په قدرت پسې لېوني خلک (د ډېرو سیاستمدارانو په ګډون) دواړه سره یو شی بولي، مګر دا کار د موضوع ساده کول دي. موږ سیاست د ځینو اهدافو او پالیسیو ترکیب بللای سو، چي و هغو ته د رسیدلو (لاسته راوړلو) له پاره د قدرت درلودل ضرور دي. د دې نظریې له مخي قدرت د سیاست عمده جزء تشکیلوي. دا به مشکله وي چي یو سیاسي سیستم بې له سیاسي قدرته تصور کړو. حتی یو مذهبي شخصیت چي د مینې او محبت پر اصولو حکمروایي کوي، لا هم پر خپلو پېروانو قدرت چلوي. دا به "ښکلی اومطلوب قدرت" وي، مګر بیا به هم قدرت وي. ځکه نو، قدرت د پالیسیو او تصمیمونو د عملي کولو له پاره د توان ورکولو یو ډول وسیله بلل کېدای سي. تاسي به ښایي د ستایلو وړ اهداف ولرئ، مګر که د اهدافو د سر ته رسولو او عملي کولو قدرت ونه لرئ، نو دا به یوازې په اصطلاح خیال پلو وي.

ځني بیا د سیاست جوهر د قدرت له پاره مبارزه بولي، لکه یوه ستره لوبه چي ګول یا هدف یې قدرت وي. د مثال په توګه، انتخابات د څه له پاره دي؟ د



قدرت د لاسته راوستلو له پاره دي. مګر دلته یو خطر موجود دئ. که یوازې د قدرت لاسته راوستل د سیاست هدف وګرځي، نو بیا خود خواهي، بې رحمي او ځان ورانونه منځ ته راوړي. د هټلر رژیم د قدرت په معبود ګرځولو سره ځان تباه کړ. نکسن، د امریکا جمهور رئیس، د خپل جمهوري ریاست د قدرت له ساتني سره د افراطي علاقې په نتیجه کي جمهوري ریاست له لاسه ورکړ. لکه د نولسمي پېړۍ بر تانوي تاریخ پوه او فیلسوف چي وایي: "قدرت و فساد ته تمایل لري، مطلقه قدرت په مطلق ډول سره فاسد کېږي".

### آیا سیاست یو ساینس (علم) دئ؟

که موږ دا نه سو ښوولای چي کوم فکتورونه په سیاست کي څومره وزن لري، نو سیاست څرنګه ساینس کېدلای سي؟ د مشکل یوه برخه خو د ساینس په تعریف کي هم ده. په لومړي سر کي د ساینس معنی، په فرانسوي science ژبه کي، په ساده توګه (پوهنه knowledge) وه. په راوروسته کي، طبیعي علومو، چي پر اندازه ګیرۍ او محاسبه باندي ولاړ دي، دا اصطلاح په کار واچوله. اوس ډېر خلګ د ساینس په هکله د دقیق او واقعي شي فکر کوي، چي پر تجربو او ډېټاګانو تکیه لري. ځینو پولیټکل ساینټستانو (چي وروسته به یې یادونه وکړو) دا کوښښ کړی دئ، چي د طبیعي علومو ساینټستان له ځانه جوړ کړي، دوی ډېټا data ته کمیتي quantify رنګ ورکوي او په احصائیوي تنظیم یې داسي راکښیباسي چي ټاکل سوي فرضیې hypotheses په تصدیق کړي. کمیتي کول ډېره مرسته کوي، مګر د معنی په لحاظ د جامع او پراخو موضوعاتو په پرتله معمولاً پر وړو جزئیاتو تمرکز کوي. دا ځکه چي په عمومي توګه هغه ساحې په بر کي نیسي چي کمیتي quantify کېدای سي لکه: عامه نظر غوښتنه، د انتخاباتو نتایج او پارلماني رایي ورکول.

مګر د سیاست ډېري ساحې کمیتي کېدونکي نه دي. مثلاً، لېډران خپل تصامیم څرنګه او ولي نیسي؟ حتی په ډیموکراسي رژیمونو کي زیات تصامیم په پټه نیول کېږي. موږ په یقیني توګه نه پوهېږو، چي د واشنګټن په سپینه ماڼۍ، د پاریس په ایلیزه او یا د ماسکو په کرملین کي تصامیم څرنګه نیول کېږي. کله چي د کانګرس غړي پر یوه موضوع رایه ورکوي، ایا موږ په یقین سره ویلای سو، چي دوی ولي په دا یا هغه ډول رایي ورکړي؟ آیا دا ډول رایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور کول د مؤکلینو غوښتنه وه، د ملت د ښېګڼې له پاره وه او که له دوی سره د انتخاباتو پر وخت د ذینفعو ګروپونو د مالي مرستو په خاطر وه. د سیاست ډېره برخه، په تېره بیا دا چي څرنګه او ولي تصامیم نیول کېږي، ډېره پر له پېچلي ده چي په کمیت سره نه سي افاده کېدلای.

آیا د دې نو معنی دا ده چي سیاست هیڅکله د طبیعي علومو په شان علم نه سي کېدای؟ پولیټکل ساینس یو تجربوي empirical دسپلین دئ چي کمیتي او کیفیتي دواړه ډوله ډاټا data راغونډوي. د دې ډول ډاټا په لرلو سره بیالوجي ته ډېر نژدې دوامداره ماډل pattern موندلای سو. او بیا نو په تدریج سره په تعمیم generalization پیل کوو. کله چي تعمیمات ټینګ او کلک سي نو بیا یې موږ تیوري ګاڼي بولو. په ځینو حالاتو کي بیا تیوري ګاڼي دومره مستحکمې سي چي موږ یې قوانین بللای سو. په دې توګه نو، د سیاست زده کړه او مطالعه پوهه knowledge را غونډوي، چي په اصل کي د ساینس معنی هم دا ده.

پولیټیکل ساینس له یو بل پلوه هم طبیعي ساینس ته ورته والی لري، او هغه دا دئ چي د پولیټکل ساینس مسلکي څېړونکي شیان هغه ډول مطالعه کوي لکه چي دي (موجود دي)، داسي یې نه مطالعه کوي لکه د دوی چي زړه غواړي او یا باید چي وي. دا کار د سیاست په مطالعه کي د ستورو او یا حجراتو تر مطالعه کولو ډېر مشکل دئ. ډېر پولیټکل ساینټستان د روانو موضوعاتو په هکله ځان لره خپل نظریات لري، چي په اسانۍ سره د دوی پر سیاسي تحلیل اثر ښندي. په رشتیا سره هم، که یوه (سیاسي) موضوع زموږ توجه دومره جلب کړي چي هغه مطالعه کړو نو بیا ښکاره ده چي موږ له هغې موضوع سره ډېره علاقه لرو. که تاسي له یو سوال او یا یوې موضوع سره دومره علاقه ولرئ چي په مطا لعه یې پیل کوئ، نو بیا د دې احتمال سته چي یوه طرف ته میلان ولرئ. چي په دې صورت کي (دا ډول مطالعه) د حقیقت پلټني له پاره تحقیقي څېړنه نه سي ګڼل کېدای بلکي د یو ډول ګوندي (حزبي) بڼې شکل اخلي. تاسي څرنګه کولای سئ د دې کار مخنیوی وکړئ؟ د تحقیق او څېړني scholarship له پاره ځیني عنعنوي لارښودني وجود لري. یو تحقیقي کار باید مدلل، متوازن او پر شواهدو متکي وي. دا عنعنوي لارښووني په لاندي ډول دي:



**مدلل والی** (چي پر استدلال تکیه ولري):

تاسي باید خپل بامفهومه استدلال وړاندي کړئ. که چېري ستاسي نظر د یوې فرضیې رنګ په ځان کي ولري، تاسي باید هغه واضح کړئ. تاسي د مثال په توګه داسي ویلای سئ، چي: "د دې څېړني له پاره، موږ داسي فرضوو چي خلک د معقولیت له مخي عمل کوي"، یا دا چي: "دا څېړنه په یوه وړوکي ښارګوټي کي د رایو ورکوونکو د سایکالوجي په هکله ده". ستاسي خپل فرضیات ستاسي پر څېړنه او دا چي تاسي دا څېړنه څرنګه سر ته رسوئ، تأثیر کوي، مګر په صداقت او وضاحت سره د خپلو شخصي فرضیاتو وړاندي کول (د څېړني په هکله) تعصب او تنګ نظري را لږولای سي. د شلمې پېړۍ په اوایلو کي جرمني ټولنپوه [sociologist] ماکس ویبر (Max Weber)، چي په اجتماعي علومو کي یې په پراخه پیمانه کار کړی دئ، په دې عقیده و، چي هره هغه څېړنه چي ستاسي خپل سیاسي نظر تقویه کوي باید د تعصب او تنګ نظرۍ له امله هیسته وغورځول سي. ډېر لږ څېړونکي د دې عقیدې پیروي کوي، مګر د ماکس ویبر اصلي موضوع پوره منل سوې ده: د څېړني له داسي سیسټم څخه ډډه وکړئ چي نتیجه یې د یوه ټاکل سوي نظر تقویه او ملاتړ وي.

**متوازن والی** :

تاسي همدارنګه د تنګ نظرۍ او تعصب د کمولو له پاره باید دا اعتراف وکړئ چي ستاسي د موضوع په هکله نور نظرونه هم وجود لري. تاسي باید هغه روشونه چي نورو (څېړونکو) ستاسي د موضوع په هکله کارولي او هغه نتایجو ته چي دوی رسېدلي دي، بیان کړئ. د څېړني په یوه معینه ساحه کي ستاسي پوهه او معلومات لوستونکي تر تأثیر لاندي راولي. که تاسي پخوانۍ څېړني انتقاد کړئ او دا تشریح کړی چي ولي هغه څېړني نامکمله او یا ناقصي دي، دوی نور هم تر تأثیر لاندي راځي. که تاسي د نورو څېړني او روشونه څنګ پر څنګ سره کښېږدی او خپل نظر د هغوی په هکله بیان کړی نو به مو د خپلي څېړني ډېر واقعبینانه او قانع کوونکی حالت وړاندي کړی وي. تاسي خپل ځان په یوه مشخص نظر یا تیوري باندي مه منحصر کوئ بلکي پر دې اعتراف وکړئ چي ستاسي نظر د څو بېلابېلو نظرونو په اړخ کي یو بل نظر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر شواهدو تکیه کول :**

ټولي تحقیقي څېړني شواهدو ته اړتیا لري، چي د طبیعي علومو د کمي شواهدو څخه رانیولې بیا د بشري علومو تر کیفي شواهدو پوری په بر کي نیسي. پولیټکل ساینس له دواړو (کمي او کیفي) شواهدو څخه کار اخلي. ښه دا ده چي هره هغه څرګندونه چي په یو بل ډول تفسیرېدای سي او یا له مناقشې سره مخامخ کېدای سي، باید پر شواهدو باندي تکیه سي. ضرور نه دئ چي ډېر عام معلومات هم پر شواهدو تکیه سی، مثلاً د دې خبري د اثبات له پاره چي د امریکې د جمهوري ریاست دوره څلور کاله ده د اساسي قانون د بیانولو ضرورت نسته (ځکه دا ډېر عادي معلومات ګڼل کېږي).

مګر که وواياست چي په دې وروستیو لسیزو کي د امریکې جمهورو رئیسانو ډېر قدرت حاصل کړی دئ، نو تاسي شواهدو ته اړتیا لری. تاسي باید د خپل ثبوت له پاره لږ.تر لږه یوه څېړونکي ته اشاره وکړئ چي په دې هکله یې ډېر تحقیق کړی وي. دې ته فرعي (دوهم لاس) منبع وايي. یعني دا چي د یو بل چا د فکر محصول دئ. ډېر محصلین فرعي منا بعو ته اشاره کوي، مګر استادان اصلي (اول لاس) منابعو ته ډېر ارزښت ورکوي.د یوې تحقیقاتي لیکني لوستونکی باید وکولای سي وړاندي سوي شواهد مشاهده کړای سي او پر اعتبار یې قضاوت وکولای سي. تاسي نه سي کولای شواهد او منابع پټ او سري وساتئ.

**پولیټکل ساینس څه ګټه لري؟**

ځیني محصلین داسي فکر کوي چي پولیټکل ساینس یوازي پر نظریاتو ولاړ دئ، دوی پخپلو لیکنو کي د مخکي بیان سوو ټکو مراعات نه کوي. رشتیا خبره دا ده چي موږ ټول خپل ځانته ځانګړي سیاسي نظریات لرو، مګر که هغه (زموږ ځانګړي نظریات) زموږ پر څېړنه حاکم سي نو د څېړني څخه به لاسته راغلي نتایج بې ارزښته او بې اعتباره وي. مسلکي پولیټیکل ساینټستان د ریسرچ او مطالعي په جریان کي خپل شخصي نظریات په جلا ګوښه کي ایږدي. ډېر عالي متفکرین په دې توانېدلای سي، داسي نتایجو ته ورسېږي چي په واقعیت کي د دوی له پخوانیو نظریاتو سره په تضاد کي واقع سي. داسي حالت نو د رښتیني ذهني انکشاف څرګندوی ګڼل کېږي، چي همدا باید



د محصلینو هدف هم وي.

په دې صورت کي تاسي ته ښايي دا فکر درپیدا سي چي له لومړي سره مو ولي دا ډول نظریات درلودلي وه. تاسي به ښايي هغه سرټمبه نظریاتو ته چي پخوا مو درلودل، د شک په ستر ګه وګوری. ځکه نو، پولیټکل ساینس خامخا د سیاست مداری او سیاست مدار کېدلو زده کړه او تمرین نه دئ. په داسي حال کي چي سیاست مداري د ثابتو، د خلګو خوښ او ساده سوو (عام فهمو) نظریاتو سره سروکار دئ، پولیټکل ساینس د عیني او کله کله پرله پېچلي تحلیل زده کړه او تمرین په بر کي نیسي.

پولیټکل ساینس د قدرت خاوندانو ته د (کارونه سم نه دي) په خبرداري ورکولو سره له ښه حکومت کولو سره مرسته کوي. کویکرز Quakers دا کار (قدرت ته حقیقت ویل) بولي او ځیني وخت دا ډول مشوره له فعالو سیاستمدارنو سره مرسته کوي. د مثال په توګه، د ۱۹۶۰ع کلونو په نیمایي کي، د امریکې د متحده ایالاتو عمومي افکارو د حکومت د مشروعیت سولېدل وښودل. علتونه یې هم د ویتنام جنګ، د واټر ګیټ مسئله او د امریکا پولي بحران و. د عمومي افکارو له په نظر کي نیولو سره، د سیاسي مقاماتو کاندیدانو وکولای سوای خپلي انتخاباتي مبارزې داسي وسکښي چي د دې (د حکومت د مشروعیت) زوال مخه ونیسي. رونالد ریګن Ronald Reagan (د ۱۹۸۱ څخه تر۱۹۸۹ع پوري د امریکې جمهوررئیس)، له خپل خوشحاله مزاج او له خپلوخوش بینانه نظریاتو سره، له دې نارضیاتی څخه په استفاده کولو سره دوه پلا جمهوررئیس سو.

حتی په ۱۹۵۰ع کي لا د امریکې د پولیټکل ساینس ټولني د امریکې د سیاسي ګوندونو د کمزورتیا خبرداری ورکړی و، او دا یې ښوولې وه چي په دې ګوندونو کي تمرکز او کنټرول له منځه تللی دئ. په امریکا کي سیاسي ګوندونه خپل نظر پر ګوندي غړو تحمیلولای نه سي او نه هم پر دې خبره کنټرول لري چي مثلاً څوک ګوندي غړی دئ. په کال ۱۹۸۹ کي، ډېوېډ ډیوک David Duke د کوکلس کلان[1] Ku Klux Klan یوه پخواني غړي چي د نازي اړیکي یې هم لرلې، د جمهوري غوښتونکي ګوند د غړي په توګه د لوزیانا

(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



Louisiana په ایالتي مقننه مجلس کي یوه چوکۍ وګټله. د جمهوري غوښتونکي ګوند ملي کمېټې هڅه وکړه چي له ډیوک څخه فاصله ونیسي، مګر ده په پرله پسې توګه ځان جمهوري غوښتونکی باله، او د ده د مخنیوي له پاره کومه قانوني لاره موجوده نه وه. د امریکې په متحده ایلاتو کي ګوندونه دومره کمزوري دي چي د هغو کسانو مخه هم نه سي نیولای چي د ګوند له نامه څخه ناوړه استفاده کوي.

ځیني پولیټکل ساینټسټانو له ډېره وخته د ایران د پاچا د رژیم د کمزورتیا په هکله خبرداری ورکړی و. له بده مرغه دې خبرداریو ته اعتناء ونه سوه. د واشنګټن پالیسي دا وه چي د ایران پاچا حمایه کړي، د ایران د پاچا د رژیم تر ړنګیدلو فقط دوې میاشتي مخکي په تهران کي د امریکې سفارت د ایران د بې ثباتۍ په هکله رپوټونه واشنګټن ته را چالانه کړل. د امریکې د خارجه وزارت مامورینو خپل سیاسي تحلیل ورځني سیاست (پالیټکس) ته ورپرېښود، دوی ونه کولای سوای (حقایق) په روښانه توګه ووینې. ژورنالیستانو هم چنداني څه ونه کړل، ډېرو لږو (ژورنالستانو) د حالت د خرابېدو تر وخته پوري د ایران په هکله رپورټونه ورکول. مګر ډېر کلونه وړاندي، د ایران په برخه کي د امریکې د پولیټکل ساینس متخصصینو د نا آرامۍ د راتګ پېشبیني کړې وه. په دې نژدې کلونو کي، پولیټکل ساینټستانو دا خبرداری ورکړی و، چي عراق د ډیموکراسۍ له پاره آماده نه دئ او د امریکې تعرض به (په عراق کي) بشپړه بې نظمي او ګډوډي منځته راوړي. د واشنګټن تصمیم نیوونکو و دې خبرداریو ته توجه ونکړه. د دې پورته خبرو څخه دا نتیجه اخیستلای سو، چي پولیيټکل ساینس ګټور کېدای سي.

# عمده مفاهیم

**مشروعیت**، **حاکمیت او واک** (صلاحیت) :

*LEGITIMACY, SOVEREIGNTY, AND AUTHORITY*

دا درې سره تړلي مفاهیم مشروعیت، واکمني او واک د پولیټکل ساینس لپاره اساسي (مفاهیم) دي. مشروعیت legitimacy په لومړي سر کي دا معنی درلوده چي ذیحق او مشروع پاچا یا ملکه د (مشروع) تولد



(زېږېدني) له امله پر تخت ناست دي. له منځنیو پېړیو راپدېخوا، دا اصطلاح په داسي معنی پراخه سوې ده چي نه یوازي د (حکمروایۍ حقوقي حق) بلکي د (حکمروایۍ سایکالوجیکي حق) هم په ځان کي رانغاړي. اوس مشروعیت د خلکو پر یو داسي فکري روش او رفتار باندي اطلاق کوي چي د حکومت سلطه مشروعیت لري. دا روش په ځینو هیوادو کي کمزوری او په ځینو کي قوي وي. د امریکې په متحده ایالاتو کي مشروعیت پوره لوړ دئ. حتی هغه امریکایان چي (د امریکې) حکومت یي چندان خوښ نه دئ، هم د حکومت اطاعت کوي. دوی حتی مالیات (چي خوښ یي نه دي) تادیه کوي. د مشروعیت ښه معیار دا دئ چي: څومره پولیس وجود لري؟ د سویډن او ناروې په شان هیوادونو کي د لږو پولیسو موجودیت دا څرګندوي چي ډېر لږ تهدید او اجبار ته اړتیا لیدله کېږي، یعني د مشروعیت درجه ډېره لوړه ده. په شمالي کوریا یا هم په عراق کي د ډېرو پولیسو موجودیت دا معنی ورکوي چي تهدید ته اړتیا سته، یعني د مشروعیت درجه ډېره ټیټه ده.

کله چي مشروعیت کمزوری وي، لږ خلک د مالیاتو په ورکولو او د قانون په اطاعت ځانونه مکلف بولي ځکه دوی خپله حکومت ته د ناوړتیا او بې اعتبارۍ په سترګو ګوري. بالاخره، د پراخي او عمومي نافرمانۍ امکان رامنځته کېږي. لکه په ۲۰۰۰ع کال کي چي په سربیا کي پېښه سوه. خلګو د جمهور رئیس سلوبدان ملاسویچ Slobodan Milosevic د جنایتکارانه واکمنۍ پر ضد په تظاهراتو پیل وکړ، د پولیسو کوتکونو او په انتخاباتو کي لاس وهنو هم ونه کولای سوای چي له قدرت څخه د ده د شړلو مخه ونیسي. په ۲۰۰۳– ۲۰۰۴ع کلونو کي د عراق اجرائیه شورا له ډېرو تعلیم یافته عراقیانو څخه چي د ټولو عراقي ګروپونو نماینده ګي یي کوله، متشکله وه. مګر ډېر لږ مشروعیت یي ځکه درلودی چي د امریکایي اشغال ګرو لخوا نصب سوې وه. داسي ویل کېدای سي چي دا شورا ښه ترین حکومت و، چي عراق درلودی یا به یي ولري، مګر لږو کسانو ته یي ارزښت درلودی. بې له مشروعیته، حکومتونه بې اثره دي.

یو حکومت پر څو لارو مشروعیت لاسته راولي. په ډېره ابتدایي سطحه کي، حکومت باید امنیت تأمین کړي څو خلګ ځانونه مصئون احساس کړي. ډېر عراقیان شکایت کوي چي، صدام حسین که هر څومره بد و، مګر د ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کي موږ په ښار کي ګرځېدلای سوای. لکه هابس Hobbe چي وایي د امنیت نستوالی یعني د مشروعیت نستوالی. له امنیت سره د (قانون حکومت) هم تړلی دئ. د دې شیانو په لرلو سره رژیمونه مشروعیت مومي : د ډېر وخت له پاره د یو رژیم موجودیت هم مشروعیت ته وده ورکوي. خلک په عمومي صورت هغو حکومتونو ته احترام لري، چي له تأسیس څخه یي ډېر وخت تېر سوی وي. دا چي د امریکې اساسي قانوق تر دوو پېړیو زیات عمر لري د امریکې د متحده ایالاتو حکومت ته مشروعیت وربخښي. له بله پلوه، نوي حکومتونه بیا لږ زانده مشروعیت لري، خلک لږ او یا هم هیڅ احترام نه ورته لري.

یو حکومت د ښه حکومت کولو له لاري هم مشروعیت تر لاسه کوي. اقتصادي پرمختګ او د کارونو برابرول چي خلک خپلو کورنیو ته ډوډۍ برابره کړای سي، مشروعیت منځته راوړي. د لوېدیځ المان حکومت، چي تر دوهمي عمومي جګړې وروسته تأسیس سو، په لومړي سر کي ډېر لږ مشروعیت درلود. مګر د سالمو سیاست مدارانو د سالمو اقتصادي پالیسیو په نتیجه کي، د بن حکومت په تدریج سره مشروعیت تر لاسه کړ. له بلي خوا، دا لمان د وایمر جمهوریت چي تر لومړۍ عمومي جګړې وروسته جوړ سو، له یو لږ اقتصادي او سیاسي ستونزو سره مخامخ سو، چي مشروعیت یي له بېخه وران او د هټلر د قدرت نیولو له پاره یي لاره هواره کړه.

د حکومت ساختمان او جوړښت هم له مشروعیت سره مرسته کوي. که خلک داسي احساس وکړي چي د حکومت په جوړښت کي یي مناسبه نماینده ګي سوې ده، د حکومت د اطاعت کولو امکان یي ډېر دئ. بالاخره، حکومتونه خپل مشروعیت د ملي سمبولونو له لاري ټینګوي. بیرغ، تاریخي یادوګارونه، وطن پالونکي رسم ګذشتونه، تاوده نطقونه خلک د حکومت پر مشروعیت او اطاعت کولو قانع کوي. که څه هم د لاوس خلکو د څو پېړیو شاهي رژیم ته په ۱۹۷۵ع کال کي خاتمه ورکړه، په کال ۲۰۰۲ع کي د لاوس د کمونست رژیم هغه پاچا د برنزي (له ژړو جوړه سوې) مجسمې په وړاندي پر ګونډو سو، چي ۶۵۰ کاله مخکي یي د لاوس د شاهي رژیم بنسټ ایښی و. د لاوس کمونستانو هڅه کوله چي د خپل مخ پر زوال مشروعیت د تقویې لپاره ځانونه په پخوانیو پاچاهانو پوري وتړي، ځکه چي دا پخواني پاچاهان د مشروعیت داسي سمبولونه وه چي دوی پرې ښه پوهېدل. مګر، که مشروعیت



ړنګ سي نو بیا د ملي سمبولونو څخه کار اخیستل یوه بې خونده ټوکه ښکاري. د فلیپین د دیکتاتور جمهور رئیس مارکوس Marcos ستره مجسمه د ریشخند او ملنډو موضوع او د رژیم د ټولو بدیو سمبول وګرځېده. یوازي سمبولونه مشروعیت منځ ته نه راوړي.

حاکمیت sovereignty (چي په زړه فرانسوي کي د [حکمراني کولو] په معنی دئ) په لومړي سر کي پر سلطنتي قلمرو باندي د یوه پاچا د قدرت معنی درلوده. په راوروسته کي دا اصطلاح داسي پراخه سوه، چي د هیواد پر قلمرو باندي د ملي کنټرول معنی لري. ملتونه له خپل حاکمیت سره حسادت لري (دلته حسادت یوازي د ځان له پاره د یو شي د غوښتلو په معنی دئ) او دولتونه یي په ټینګه ساتنه کوي. دوی (دولتونه) د خارجي یرغل د دفع له پاره لښکر ساتي، خپل سرحدونه د پاسپورټ او وېزې له لاري تر کنټرول لاندي راولي او تروریستان له مینځه وړي. د حاکمیت پر سر منازعات ډېر ناوړه اشکال لري. فلسطین، چیچنیا او عراق یي څو مثالونه دي.

حاکمیت ځیني وخت یو حقوقي جعل وي. عراق خپله ظاهري واکمني په ۲۰۰۴ع کال لاسته راوړه خو بیا هم د امریکې تر نفوذ لاندي وه. حاکمیت او مشروعیت سره تړلي دي. د مثال په توګه، د لبنان مسلمانانو د عیسویانو تر کنټرول لاندي حکومت ته د غېرقانوني حکومت په سترګه کتله. په کال ۱۹۷۵ع کي د یو شمېر سیاسي – مذهبي ملیشیایي ډلو تر منځ جګړه ونښتله. سوریي ختیځ لبنان له ۱۹۷۶ څخه بیا تر ۲۰۰۵ع کال پوري او اسرائیلو جنوبي لبنان له ۱۹۸۲ع څخه بیا تر ۲۰۰۰ع کال اشغال کړی و. لبنان په حقیقت کي خپل حاکمیت بایللی و، چي اوس هڅه کوي بیرته یي تر لاسه کړي. د څو لسیزو له پاره لبنان نه پر خپل قلمرو کنټرول درلودی او نه یي هم د خارجي متعرضینو مخه نیولای سوای. د مشروعیت بایلودل د حاکمیت بایلودلو ته ورسیدی.

واک (صلاحیت) authority د لیډرانو هغه سایکولوجیک توانېدل دي، چي خلک و خپل اطاعت ته رابللای سي. واک د تعهد یو احساس دئ چي د یوه مقام پر مشروعیت باندي تکیه لري. یو عسکر د خپل کپتان اطاعت کوي، موټر چلونکي د ټرافیکي ګزمې اطاعت کوي، یو شاګرد د استاد اطاعت کوي. مګر ټول خلک د واک یا مقام اطاعت نه کوي. ځیني عسکر سرغړوونکي ویي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني موټر چلونکي خلاف رفتاري کوي او ځیني شاګردان په خپل کورني کار کي غفلت کوي. بیا هم، ډېر شمېر خلګ ډېر وخت د هغه واک یا مقام اطاعت کوي چي دوی یې مشروع بولي.

کله واک او صلاحیت په مقام پوري تړلی وي مګر باید روزنه یې هم وسي. د امریکې د جمهور رئیس ډېر واک او صلاحیت یوازي په جمهوري ریاست کي پروت دئ. د جرالډ فورډ Gerald Ford احترام او اطاعت کېدی که څه هم چي د جمهور رئیس او یا د جمهور رئیس د مرستیال په توګه انتخاب سوی نه و. جرالډفورډ کله چي سپیرو اګنیو Spiro T. Agnew استعفی وکړه د جمهوري ریاست معاون سو او بیا کله چي ریچارډ نکسن Richard Nixon استعفا وکړه د امریکې جمهور رئیس سو. نیکسن د ۱۹۷۲ع کال د واټرګېټ په رسوایي کي راونغښتل سو، او اجرائیه واک یې دومره ډېر کمزوری سو، چي نور یې نو په اغېزناکه توګه حکومت نه سوای کولای. جمهور رئیس یوازي په فرمان حکومت نه سي کولای او باید د کانګرس، قضائیه قوې او مهمو ذینفعو ګروپونو خپل په رضاء موافقه تر لاسه کړي. کله چي نکسن دا موافقه له لاسه ورکړه، نو د جمهور رئیس په توګه د ده قدرت د زوال سره مخامخ سو.

په لنډه توګه ویلاي سو، چي مشروعیت یعني یوه حکومت ته احترام، حاکمیت یعني یو مملکت ته احترام، او واک یعني یوه لیډر ته احترام. یو له دغو څخه هم اټوماتیک نه دئ بلکي دا ټول باید وګټل سي (لاسته راوستل سي). کله چي مو یو ومونډ دا نور هم مونډلای سی. کله چي یو سره ورژېدی عموماً دا نور هم په پسې وي.

### "پر حقیقت هیڅکله مه په قهر کېږه"

د جدي مطالعې په هکله دا اساسي ټکی عادي سلیم قضاوت ښکاري مګر ډېر وخت، حتی د پوهنتون په تدریس کي، سترګي پر پټېږي. کرښپل یې په حقیقت کي د جرمني فیلسوف هیګل Hegel و ډېر مغلق فکري استدلال ته رسېږي. د ده په عقیده شیان نه د هوس له مخي او نه هم په تصادفي توګه پیښېږي، بلکي د ښو او کافي دلایلو له رویه منځ ته راځي : "هر هغه څه چي حقیقت دئ هغه معقول دئ". د دې معنی دا ده چي هیڅ شی په مکمله توګه



تصادفي نه دئ او که عقل او دلیل په کار واچوو، موږ به په دې پوه سو چي ولي یو شي پېښېږي. موږ سیاست په (طبیعي) اسلوب مطالعه کوو. هغه څه ته چي موږ یې وینو نه په قهر کېږو بلکي هڅه کوو د هغوی په موجود حالت ځانونه پوه کړو.

د مثال په توګه، موږ خبر اورو چي یو سیاستمدار له یو چا څخه رشوت اخیستی دئ. د پولیټکل ساینټست په توګه، موږ خپل قهر یوې خوا ته پرېږدو او داسي سوالونه مطرح کوو: آیا ډېر سیاستمداران په دغه هیواد کي رشوت اخلي؟ آیا دا یوه پخوانۍ عنعنه ده او د دغه مملکت کلتور ته د منلو وړ ده؟ آیا حتی خلګ د سیاستمدارانو څخه دا توقع لري چي بډې واخلي؟ د انتخاباتي مبارزې مصارف څومره دي؟ آیا دا ممکنه ده چي سیاستمدار بې له پیسو اخیستلو ځان یو مقام ته کاندید کړي؟ لنډه دا چي، موږ باید وګورو چي آیا د نغدو پیسو غیر قانوني تبادله د سیاسي سیستم یو جزء دئ که یا؟ که چېري داسي وي، نو دا هیڅ مفهوم نه لري چي موږ یوه انفرادي سیاستمدار ته په قهر سو. که زموږ له دې کاره بد راځي، نو موږ ته ښایي د سیستم د ریفورم په باب فکر وکړو ځو سیاستمداران ونه کولای سي پیسې واخلي او ریفورم هم ښایي کار ونه کړي. جاپان د (پیسو د عنعنوي سیاست) د له منځه وړلو په هڅه پخپلو انتخاباتي قوانینو کي ریفورم راوستی مګر ډېره لږ ګټه یې وکړه. په سیاست کي ځیني شیان، د بکټریا په شان ځان لره خپل ځانګړی ژوند لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایډیال پولیس polis تشریح کوي، مګر په هکله یې استدلال تر ډېره حده پوري خیالي شکل لري او د ده ایډیال سیستم یو څه د اوسني عصر فاشیزم او کمونیزم ته ورته دئ. له بلي خوا، د افلاطون شاګرد، ارسطو، بیا تجربېي [empirical] پولیټکل ساینټست و. لکه په تېر فصل کي چي مو ولیدل، ارسطو سیاست ته د (اصلي علم) په سترګه کتله او خپل شاګردان یې د ډېټا (معلومات data) د راټولولو له پاره د یونان څو درزنو ښاري – دولتونو [city-states] ته ولېږل. د دې ډېټا پر اساس، ده خپل ستر اثر پولیټکس politics ولیکی. افلاطون او ارسطو دواړو آتن Athens مخ پرزوال لیدی، دوی هڅه کوله چي په علت یې ځانونه پوه کړي او (د زوال) د مخنیوي له پاره یې وړاندیزونه وړاندي کړي. په دې توګه دوی یوه عنعنه راپیل کړه چي تر نني ورځي پوري د پولیټکل ساینس زړه تشکیلوي او هغه د ښه او باثباته سیاسي سیستم د سرچینې لټول دي. ارسطو تر ټولو غوره سیستم په لاندي عبارت کي وړاندي کوي:

تر ټولو غوره سیاسي ټولنه د منځنۍ طبقې خلکو له خوا جوړېږي، او ډېر امکان سته هغه دولتونه ښه اداره ولري چي ستره او پراخه منځنۍ طبقه ولري ... او په هغه کي خلګ د متوسط او کافي ملکیت خاوندان وي، دا ځکه که ځیني ډېر څه او ځیني بیا هیڅ ونلري نو به افراطي ډیموکراسي او یا خالصه اولیګارشي او یا هم ښایي استبداد منځته راسي ... ډیموکراسي تر اولیګارشۍ محفوظ تره او دوام داره وي، ځکه چي په هغه کي متوسطه طبقه خلګ ډېر وي او په حکومت کي یې برخه زیاته وي. که چېري متوسطه طبقه وجود ونه لري او غریبان په شمېر ډېر زیات وي، ناکراري او نارامي منځته راځي او دولت ډېر ژر له منځه ځي.

که څه هم پولیټکس تر میلاد مخکي په څلرمه پېړۍ کي لیکل سوی دئ، داسي ښکاري لکه ارسطو چي په اوسني عصر کي د ډیموکراسۍ د بریالیتوب او یا ناکامۍ په هکله خبري کوي یعني دا چي ډېر څه د متوسطي طبقې په پراخوالي او ډېروالي پوري اړه لري او دا ټکی د اوسنیو څېړنو له لاري هم ثبوت سوی دئ. د ارسطو څېړني هم تشریحي descriptive او هم معیاري normative وې. (تشریحي یعني د یو شي لکه څنګه چي دئ، تشریح کول او معیاري یعني یو شي لکه څنګه چي باید وي، تشریح کول) ده د هغو حقایقو په

# دوهم فصل

**کلاسیکي او نوي تیوري ګاني :**

د پولیټکل ساینس ډېر نوي شاګردان دا پوښتنه کوي چي تیوري ګاني څه کوو او د څه له پاره دي؟ ولي یوازي حقایق (فاکتونه) نه راغونډوو او نه پرېږدو چي حقایق خپله ځانونه د یو منسجم واحد په توګه سره سنبال کړي. جواب دا دئ چي دوی (حقایق) دا کار نه سي کولای. بېله یوې کیلۍ او لارښوونکي قاعدې څخه د حقایقو راغونډول د بې معنی حقایقو یو لوی کولیکسیون (مجموعه) تشکیلوي. په یقین سره تیوري ګاني هم پرله پېچلي او مجرد شکل اخیستلای او له واقعي ژوند څخه لیري کیدای سي، مګر بې له یو تیوریک لید څخه (پر یوه تیوري باندي له ولاړ نظر پرته) موږ حتی نه پوهېږو چي کوم سوالونه مطرح کړو. حتی که تاسي وواياست چي کومه تیوري نه لری، بیا به هم ښایي تاسي یوه ناویل سوې تیوري ولری. هغه سوالونه چي تاسي مطرح کوی او دا چي څه وخت یې مطرح کوی، د تیورۍ شروع ده.

د مثال په توګه، د دې کتاب جوړښت او ترکیب ته وګورئ. موږ دا نظر، (چي له څو لسیزو راهیسي په پولیټکل ساینس کي مروج دئ) قبول کړی دئ چي ټولنه د سیاسي تحلیل او تجزیې له پاره د پیل مناسب ټکی دئ. موږ داسي فرض کړې ده چي سیاست په ټولنه کي وده کوي. موږ د خلکو په ارزښتونو، روشونو او نظرونو پیل کوو او ګورو چي دوی څرنګه پر حکومت تأثیر کوي. د یو مشهور سوسیولوجست د یو مشهور کتاب عنوان (د سیاست ټولنیز اساسات) دئ. د کتاب پیغام دا دئ چي تاسي له ټولني څخه پیل کوی او تأثیر یې پر سیاست ګوری.

**کلاسیکي تیوري ګاني :**

ځیني کسان په دې عقیده دي چي افلاطون د پولیټکل ساینس اساس ایښی دئ. د ده د جمهوریت Republic (په نوم اثر)، د نورو اثارو تر څنګ، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښا کي چي ده او شاګردانو یې راغونډ کړي وه د مطلوبو سیاسي مؤسساتو نسخه او تجویز وړاندي کړ. له هغه وخت راهیسي بیا تر نني ورځې پوري پولیټکل ساینټستان همدا کار کوي، یعني هم د سیاسي مؤسساتو تشریح او هم یې تجویز وړاندي کوي.

په اروپا کي د منځنیو پېړیو او رنسانس د وختونو ډېرو سیاسي متفکرینو د دولت او سیاست د مطالعې او تحلیل په برخه کي د یو ډول مذهبي روش څخه کار اخیست. دوی په ډېره جدي توګه معیاري [normative] وه او ډېره هڅه یې دا وه چي (بایدوالی) وپلټي او د واقعي ژوند (سته والي) ته یې توجه لږ وه (یعني دا یې پلټل چي شیان باید څرنګه وي نه دا چي څرنګه دي). دوی د مذهبي، حقوقي او فلسفي ارزښتونو پر بنسټ کوښښ کاوه دا یقیني او ثابته کړي چي څه ډول دولتي سیسټم انسانان هغه څه ته نژدې کوي چي د خدای رضا وي.

د شپاړسمي پېړۍ په لومړیو کلونو کي، نیکولو ماکیاولي Niccolo Machiavelli د اوسني عصر پولیټکل ساینس ته د قدرت مسئله راداخله کړه چي (دا مسئله) د ځینو په عقیده یوه پر له پېچلې معما ده. د ده ستر اثر ټولواک (شهزاده) the prince د سیاسي قدرت د لاسته راوړلو او استعمال په باب دئ. ډېر فلاسفه ماکیاولي لومړنی موډرن (د اوسني عصر) فیلسوف بولي، دا ځکه چي د ده انګېزې او توضیحات له مذهب سره هیڅ اړه نه لري. ماکیاولي هغومره ناوړه سړی نه و لکه ځیني خلک چي وایي. دی یو ریالست و او ویل یې چي د هر ښه شي (لکه د ایټالیې بیا یووالی او د هغو خارجیانو شړل چي ایټالیه یې ورانه کړه) د لاسته راوړلو له پاره ټولواک باید د قدرت د استعمال په مورد کي معقول او سخت ګیره واوسي.

سره له دې چي د امریکې سیاسي متفکرینو په بې اهمیته ستر ګه ورته کتل او د (قدرت) څخه یې د یوه چټل شي په توګه ځان ګوښه کاوه، دې روش په اروپا کي ریښې وځغلولې او د موسکا Mosca، پاریتو Pareto او مایکل Michels په سترو څېړنو کي استفاده ځني سوې ده. امریکایان د قدرت له روش سره د بین المللي روابطو د یوه مهاجر الماني پوه هانز. جې مورګین تاو Hans J. Morgenthau د لیکنو له لاري اشنا سول. ده عقیده درلوده چي (سیاست د قدرت له پاره مبارزه ده).



**قراردادیون** (د قرارداد د تیوری پلویان):

تر ماکیاولي لږ راوروسته، (قرارداد یون) لکه هابس Hobbes، لاک Locke او روسو Rousseau، دا تحلیل کړه چي اصلاً سیاسي سیسټمونه ولي باید وجود ولري. دوی پر ډېرو ټکو اختلاف سره درلودی، مګر پر دې ټکي سره جوړ وه چي انسانانو د روسو په مفهوم په یوه ټولنیز تړون social contract کي یو له بله لاسونه سره ور کړل او اوس یې باید ومني.

تامس هابس په اوولسمه پېړۍ کي د انګلستان د داخلي جنګ په انقلابي تحولاتو کي، چي دی ورسره په مخالفت کي و، ژوند کاوه. دی ځکه مخالف و، چي دې تحولاتو خلګ له بېړي او بې امنۍ سره مخامخ کړي وه. د ده په تصور، د مدني ټولني civil society تر منځته راتلو مخکي، به انسانانو د (طبیعت په حالت کي state of nature) وحشتناکه ژوند درلود. هر سړی به د بل هر سړي دښمن و، د (هر یوه سړي جنګ د ټولو په مقابل کي) حالت به و. انسانانو به په وحشیانه اسکېر لتوب او خواری کي ژوند کاوه چي (نه به هنر و، نه ادبیات، او نه هم ټولنه) او تر ټولو ناوړه دا وه چي انسانان به د دایمي وېري او غیر طبیعي مړیني له خطر سره مخامخ وه، او د انسان ژوند به منزوي، غریب، ناولی، وحشي او لنډ و. له دې ډار او وحشت څخه د ځان د ژغورني له پاره به (د خپلو ځاني ګټو له امله) معقوله دا وه چي انسانان یو له بله سره یو ځای او مدني ټولنه تشکیله کړي. په دې ترتیب ټولنه په طبیعي توګه له بېړي څخه راپیدا سوې ده. خلګ همدا رنګه په خوښۍ سره پاچا، حتی بد پاچا ته غاړه ایږدي، ځکه چي پاچا د انارشۍ مخه نیسي. پام وکړئ چي څرنګه د هابس تیوري، یعني دا چي ټولنه پر معقول ځاني منفعت ولاړه ده، د ارسطوله تیورۍ سره چي وایي انسانان په طبیعي ډول (سیاسي حیوانات) دي، تفاوت لري.

یو بل انګرېز، جان لاک، هم د اوولسمي پېړۍ انقلابي تحولات ولیدل، مګر نسبتاً نرمو نتایجو ته ورسېدی. د لاک تیوري دا وه چي لومړنی طبیعي حالت state of nature دومره هم بد نه و، خلګو په مساوات او یو له بل سره په تحمل کي ژوند سره کاوه. مګر د خپل ملکیت ساتنه یې نه سوای کولای: پیسې، قباله یا قانوني محکمه نه وه، ځکه نو مالکیت معلوم نه و. د دې ستونزي د له منځه وړلو له پاره، دوی په قراردادي توګه مدني ټولني تشکیلي کړې او په دې کار سره یې (ژوند، ازادي او ملکیت) خوندي کړل. لاک ته د ملکیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوق داسي دي لکه هابس ته له غیرطبیعي مرګ شخه بېره. ځیني فلاسفه استدلال کوي چي امریکایان د (لاک) زامن دي. د (ملکیت پر طبیعي حق) باندي امریکایان ډېر تأکید کوي.

د فرانسې ژان ژاک روسو په اتلسمه پېړۍ کي ژوند کاوه او د ځینو په قول، د فرانسې د انقلاب فلسفي تهداب یې کېښېښود. ده د هابس او لاک تیوري ګاني ومنلې مګر یو بل تاو یې ورکړ. د روسو تیوري دا وه چي ژوند په طبیعي حالت کي بالکل ښه و، خلکو د (شریفو وحشیانو) په شان له حسادت، چالبازۍ او دوکه بازۍ پرته ژوند کاوه. پخپله اجتماع وه چي، د روسو په قول، انسانان یې فاسد کړل. د ده ټولنیز تړون social contract په دې مشهورو الفاظو پیل کېږي چي: "انسان ازاد زېږېدلی دئ مګر هر چېرته په ځنځیرانو تړلی دئ".

مګر، روسو استدلال کاوه چي ټولنه په مؤثره او جدي توګه د بشري ازادۍ پر لور اصلاح کېدای سی. یوه عادلانه ټولنه به یوه اختیاري ټولنه (کمیونیټي) وي چي خپله اراده ولري، او عمومي اراده به general will د افرادو او ذیعلاقه ګروپونو تر (خاصي ارادې particular will) مافوق او لوړه وي. (یعني د عوامو اراده د خواصو تر ارادې لوړه وي) په دې شان ټولنو کي انسان وقار او ازادي لاسته راوړي. ټولنه خلګ جوړوي، نه برعکس. که خلګ بد دي، دا له دې سببه دي چي ټولني دوی همداسي جوړ کړي دي (چي نن ورځ هم ډېر کسان په دغه عقیده دي). له بلي خوا، په یوه ښه ټولنه کي که څوک ناوړه او بد عمل وکړي، ټولنه کولای سي (خلګ ازادۍ ته مجبور کړي) ډېر کسان د ټوټلیتاریانیزم totalitarianism (مطلقه او ډکتاتوري رژیم) ریښې په روسو کي ویني : لکه مکمله او بې عیبه خیالي ټولنه، د خلکو اراده چي ډیکتاتور یې د پوهېدلو ادعا کوي او د هغو خلکو ماتول چي له رژیم سره همکاري نه کوي. د امریکې بنسټ ایښوونکي پلرونه د روسو تر تأثېر لاندي نه وه راغلي. مګر د فرانسې د انقلاب لار ښوونکو روسو ته ډېره عقیده درلوده او ښایي د فرانسې د انقلاب د ناوړه پاي دلیل به هم دا و.

د امریکې بنسټ ایښوونکو پلرونو، هابس او لاک ډېر مطالعه کړې وه، چي تأثیر یې پر دوی ښکاره دئ. د امریکې اساسي قانون بې له یوه اجتماعي قرارداده بل شه نه دئ. د ازادۍ د اعلامیې ډېره برخه داسي ښکاري لکه د



لاک د لیکنو شخه چي رااخیستل سوې وي او جفرسن دا کار کړی هم دئ. تاسي داسي فکر مه کوئ چي سیاسي تیوري ګاني بې تأثیره دي.

**مارکسیستي تیوري ګاني :**

یوه بله سیاسي تیوري چي پر سیاست یې ډېر زیات اغېز درلودلی دئ هغه مارکسیزم دئ. کارل مارکس Karl Marx جرمنی و، په لندن کي اوسېدی او د هیګل په فلسفه کي روزل سوی و. ده یوه ډېره پرله پیچلې تیوري، چي له درو یو له بله سره تړلیو برخو شخه جوړه سوې ده، رامنځته کړه. یوه یې د اقتصاد تیوري، بله د اجتماعي طبقې تیوري او دریمه هم د تاریخ تیوري ده. د هیګل په شان، مارکس هم استدلال کاوه چي شیان په تصادفي توګه نه پېښېږي، هر شی یو علت لري. هیګل ادعا درلوده چي د تاریخ په مخ په وړاندي تګ کي اساسي علت معنوي او غیرمادي او په خاصه توګه د زمان روح zeitgeist دئ. مارکس بیا دا اساسي علت په اقتصاد کي پیدا کړ. دا درې برخي په لنډه توګه په لاندي ډول تشریح کوو:

**اقتصاد :**

مارکس پر (اضافي ارزښت) باندي، چي موږ یې ګټه profit بولو، ډېر ټینګار کاوه. کارګران شیان تولیدوي مګر د تولید سوو شیانو د ارزښت ډېره جزئي برخه دوی ته ورکول کېږي. سرمایه داران پاته برخه، چي اضافي ارزښت دئ، جېب ته اچوي. کارګران، چي مارکس پرولتاریا بلل، دومره لږ لاس ته راوړي چي په هغه باندي ټول هغه شه چي دوی یې پخپله تولیدوي، نه سي رانیولای. په نتیجه کي اضافه تولید منځته راځي چي د اقتصادي بحران سبب ګرځي. او بالاخره، د مارکس په عقیده، دومره لوی اقتصادي بحران به رامنځته سي چي د سرمایه دارۍ نظام به ړنګ سي.

**اجتماعي طبقه :**

هره ټولنه پر دوو طبقو وېشل کېږي: یوه وړه طبقه چي د تولید آلات په اختیار کي لري او بله لویه طبقه چي د وړې طبقې له پاره کار کوي. ټولنه د لوړي طبقې په حکم چلېږي چي همدا لوړه طبقه داسي قوانین منځ ته راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دوی پر قدرت وساتي. ډېر قوانین، د مارکس په قول، د ملکیت له حقوقو سره اړه لري. بورژوازي (سرمایه داران) د خپل ملکیت له خوندي کولو سره لېونۍ مینه لري چې ملکیت، د مارکس په قول، بې له اضافي ارزښته بل څه نه دئ. مارکس ویل که یو هیواد په جګړه لاس پوري کوي، علت یې دا نه دئ چې عام خلک جګړه غواړي بلکې حاکمه بورژوازي د خپلو اقتصادي ګټو له پاره جګړې ته اړتیا لري. پرولتاریا، په حقیقت کې، وطن نه لري، پرولتاریا نړیوال دي او ټول د سرمایه دارانو تر ظلم لاندې رنځ وړي.

**تاریخ** :

د اقتصادي او طبقاتي تیوري ګانو له مخې، مارکس تاریخي تغیرات تشریح کړل. کله چې د ټولنې بنیادي اقتصادي اساس (زېربنا) د هغه ساختمان (روبنا) سره چې حاکمې طبقې جوړ کړی دئ (لکه قوانین، موسسات، بزنسونه او داسې نور) په ټکر کې راسي، نو سیستم ړنګېږي. مارکس په دې هکله د فرانسې د انقلاب مثال راوړي. تر ۱۷۸۹ع دمخه، د فرانسې حاکمه طبقه فیوډالي اشرافیت و. د دوی د منځنیو پېړیو سیستم د ځمکې او جایداد پر ارثي ملکیت، د ارثي ملکیت د ساتلو پر قوانینو، په هغه پوري پر تړلو اشرافي القابو او همدارنګه پر زړه ورتیا او عزت باندې ولاړ و. دا ټول د یوې فیوډالي ټولنې متشکله برخې وې. مګر د ټولنې په اقتصادي بنسټ کې تغیر راغی. د صنعت له پرمختګ سره، د ځمکې مالکیت او فیوډالي ارزښتونه سره ورژېدل او د ښاري سرمایه دارانو (یا بورژوازي) یوه نوې طبقه منځته راغله چې د ژوند طرز او اقتصاد یې ډېر تفاوت درلود. د اتلسمې پېړۍ په اواخرو کې فرانسې، سره له دې چې پر صنعت ولاړ اقتصاد یې درلود مګر بیا هم پخوانی فیوډالي اشرافیت باندې حاکم و. د ټولنې نظم سره وسکولېدی یعنې د ټولنې اقتصادي بنسټ (زېربنا) مخ په وړاندې تللی و مګر طبقاتي روبنا superstructure تر شا پاته وه. په کال ۱۷۸۹ع کې دا روبنا په یوه غړومب سره ونړېدله او قدرت د بورژوازۍ لاسته ورغی چې له ځان سره یې د ازاد بازار، فردي ګټو او حقوقي (مګر نه مادي) مساوات کپیټالیستي (سرمایه داري) او لیبرال ارزښتونه منځته راوړل.

مارکس هم په دې قانع و، چې سرمایه دارانو ښه کارونه هم وکړل. دوی



د نړۍ په ډېرو برخو کې صنعت او نویتوب [modernization] منځته راووړ. دوی ډېر زیات نوي تولیدات او کشفیات منځته راوړل. مګر مارکس لیکي، دوی هم له منځه تلونکي دي. ځکه هر څومره چې سرمایه داران په اقتصاد کې ګړندي تغیرات راوړي هغومره ژر (اقتصاد) له سرمایه داري روبنا سره په ټکر کې راځي. مارکس استدلال کاوه، لکه پخوانۍ فیوډالي ټولنه چې د پرمختلونکي اقتصاد له امله شاته پاته سوه، بالاخره اقتصاد به دومره زیات له بورژوازي نظم څخه بېل سي چې سرمایه داري نظام به هم ړنګ سي. مارکس پېش بیني کوله چې وروسته به سوسیالیزم منځته راسي او موږ یې باید له راتګ سره مرسته وکړو.

مارکسیزم، لکه څرنګه چې په شوروي اتحاد او نورو کمونستي هیوادونو کې عملي سو، استبدادي نظامونه منځته راوړل او له ناکامۍ سره مخامخ سو. مګر د یوه تحلیلي سیستم په توګه، مارکسیزم اوس هم په زړه پوري او ګټوردئ. اجتماعي طبقه د خلکو د سیاسي نظریاتو په جوړښت او تشکل کې اهمیت لري، مګر (دا نظریات) هیڅکله یو شان نه وي. د مثال په توګه، د کارګري طبقې ډېر خلک محافظه کاره conservative وي او د منځنۍ طبقې ډېر روښن فکران بیا لیبرال یا چپي leftist افکار لري. په امریکا کې اوس هم ذینفع ګروپونه interest groups په انتخاباتي مبارزو کې د زیاتو پیسو خرڅولو له لارې خپلې غوښتنې لاس ته راوړي. که څه هم، دوی هر وخت هرڅه ځکه لاس ته نه سي راوړلای چې د نورو ګروپونو له مخالفت سره مخامخ کېږي. په پولیټیکل ساینس کې، د مارکس د مهمو او تلپاتو کارونو څخه یو هم د بشري ټولنې په باب د ده درک دئ چې وایي ټولنې هیڅکله په بشپړه توګه یووالی او سوله نه سي لرلای او هر وخت له تضادونو ډکه وي. بل دا چې په هره سیاسي شخړه کې موږ باید دا پوښتنه وکړو چې : "څوک له دې سیاسي شخړې څخه ګټه اخلي؟"

**معاصري تیوري ګانې** :

د کلاسیکي لارې ځینې متفکرین معاصري تیوري ګانې بې اهمیته ګڼي او په دې عقیده دي چې معاصري تیوري ګانې جزئي، ښکاره، سطحي، او یا هم د کلاسیکو تیوري ګانو تکراري بیان دئ. یوه عالم حتی دا خبره هم کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ټول هغه څه چي ده د معاصرو تيوري ګانو څخه زده کړي دي پريوه وړوکي ټوټه کاغذ باندي ليکل کېداى سي. مګر موږ ته نه ښايي دومره سخت ګيره واوسو. معاصرو (يعني تر دوهمي نړيوالي جګړې وروسته) تيوري ګانو هم څه مرسته کړې ده. حتى که دا تيوري ګاني ناکامه او له نظره غورځول سوي دي، بيا يې هم ځيني په زړه پوري پوښتني رامنځته کړي دي. دا خبره هم رشتيا ده چي معاصري تيوري ګاني د کلاسيکو تيوري ګانو په مقايسه دومره زيات وزن نه لري. د معاصرو تيوري ګانو لنډيز په لاندي ډول دئ:

## د بشري سلوک تيوري :

*BEHAVIORLISM*

کمونيستي او فاشيستي ديکتاتوريو او دوهمي عمومي جګړې پوليټيکل ساينټسټان دې ته اړ کړل په دې باندي ځان پوه کړي، چي سياست په واقعيت کي څرنګه عمل کوي نه دا چي څرنګه بايد عمل وکړي. تر دوهمي عمومي جګړي راوروسته، د امريکې پوليټکل ساينټسټانو د فرانسې د نولسمي پېړۍ د فيلسوف اګوستي کومتي Auguste Comte د مثبتيت positivism دکتورين تعقيب کړ. د مثبتيت دکتورين دا دئ چي د ټولني په مطالعه او څېړنه کي د طبيعي ساينس له ميتودونو څخه کار اخلي. د مثبتيت د دکتورين پر بنسټ، کله چي موږ د علمي مشاهدې له لاري صحيح او معتبره معلومات (ډېټا) راغونډ کړو نو به د ټولني په هکله پوهه لاسته راوړو چي ورسره به يې ټولنه پرمختګ وکړي. دې روش ته سايکالوجستانو ډېره عقيده درلوده. د بشري سلوک د تيورۍ طرفداران د انسانانو واقعي سلوک ته ډېره توجه کوي.

په ۱۹۵۰ع کلونو کي، د بشري سلوک طرفدارو پوليټيکل ساينټستانو د طبيعي ساينس له ميتود څخه په استفادې سره د انتخاباتو، د عمومي نظرغوښتني د سروې ګانو، په پارلمان کي قوانينو ته د رايي ورکولو، او د هر هغه څه په هکله چي په اعدادو سره مشخص کېداى سواى، احصائيي را غونډې کړې. د بشري سلوک د تيورۍ پلويانو د پوليټيکل ساينس له پاره يو تجربيوي empirical اساس کښېښود. د بشري سلوک مطالعه په خاصه توګه د سياست د (اجتماعي بنسټ) او د يوه متوسط تبعه د ارزښتونو او نظرياتو په څېړنه کي ډېره ګټوره وه. د دوى له برياليتوبونو څخه يو د خلګو د رايي ګيرۍ



د ماډل pattern وړاندي کول دي، دا ځکه چي په دې برخه کي دوى د زيات اعتبار وړ معلومات راغونډولاى سواى.

په ۱۹۶۰ع کلونو کي، د بشري سلوک مکتب د پوليټيکل ساينس په ساحه کي ډېر عموميت پيدا کړ. مګر د ۱۹۶۰ په وروستيو کلونو کي دا مکتب تر سختو انتقادونو لاندي راغى. ډېرو ځوانو پوليټيکل ساينسټانو، چي ځيني يې د ويټنام د جګړې پر ضد د افراطي جريان تر تأثير لاندي راغلي وه، دا شکايت کاوه چي د بشري سلوک روش ساکن [static]، محافظه کار او د عاجلو کارو له پاره غيرعملي دئ.

## د سيسټم تيوري :

تر عمومي جګړې وروسته په پوليټيکل ساينس کي يوه نوې اختراع د (سياسي سيسټم) ماډل دئ چي ډېويډ ايسټن David Easton را منځته کړئ. د دې ماډل له مخي مغلقو واقعيتونو ته د بيا لوجيکي سيسټم په توګه کتل کېږي. ژوندي موجودات ډېر پرله پېچلي او بشپړ دي. زړه، سږي، د وينو جريان، د هاضمې جهاز او مغز په داسي توګه خپل وظايف سر ته رسوي چي ژوندى موجود ژوندى ساتي. د سيسټم د تيورۍ اساس پر دې ولاړ دئ چي موږ نه سو کولاى د سيسټم يوه جزء ته تغير ورکړو، ځکه چي د يوه جزء تغير په نورو اجزاوو کي تغير راولي. د دې ماډل د پلويانو په نظر، د يوه هيواد سياست د بيالوجيکي سيسټم پر اساس عمل کوي.

## د عصريت تيوري :

د عصريت د تيورۍ، چي يوه ډېره پراخه اصطلاح ده، ريښه په هيګل Hegel کي ده. دى دوې پېړۍ دمخه په دې عقيده و، چي د ټولني ټول اړخونه (اقتصاد، کلتور او سياست) يو له بله په يوه بسته بندي [package] کي داسي سره تړلي دي چي ټولو ټولنو ته په يوه ټاکلي جهت کي حرکت ورکوي. هيګل فکر کاوه چي د دې پروسې اساسي علت معنوي [spiritual] دئ، مګر مارکس په دې عقيده و، چي (د دې پروسې اساسي علت) اقتصاد دئ: "د بخار انجن خپل له ځان سره خپله فلسفه راوړه". موږ نه سو کولاى په فيوډالي ټولنه کي عصري اقتصاد ولرو. ماکس ويبر Max Weber ويل چي علت يې کلتوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ. نورو پوهانو بیا ښوونه او روزنه، کمیونیکېشن او د منځنۍ طبقې وجود د دې پروسې اساسي علت بللی دئ. مګر ټول په دې خبره کې سره موافق دي چې دا ټول په یوه بسته بندۍ کې سره پېښېږي.

د دې تیورۍ زیات پلویان د صنعتي کېدلو پر اهمیت سره موافق دي. کله چې یو هیواد صنعتي سي، په اقتصاد، کلتور، کمونیکېشن او سیاست کې یې هم تغیر راځي. سیمور مارتین لیپزیت Seymour Martin Lipset د خپل ۱۹۶۰ع کال د سیاسي سرې په نوم کتاب کې، هیوادونه د (باثباته ډیموکراسي) او (بې ثباته ډیموکراسي او ډیکتاتوري) په توګه طبقه بندي کړل. د ده د دې طبقه بندۍ په حساب، کاناډا او ناروې د با ثباته ډیموکراسۍ او هسپانیه او یوګوسلاویه د بې ثباته ډیموکراسۍ او ډیکتاتورۍ نمونې دي. بېله یو څو استثنایي حالاتو، هغه هیوادونه چې باثباته ډیموکراسۍ لري، د هغو هیوادو په مقایسه چې بې ثباته ډیموکراسۍ لري، ډېر ثروت، صنعت، ډاکټران، موټران او ښاري اوسېدونکي لري. لیپزیت دا موضوع داسي تشریح کړه: صنعتي هیوادونه پراخه متوسطه طبقه لري چې د ډیموکراسۍ اساس تشکیلوي.

# دریم فصل

**ملت، دولت او حکومت:**

کوم یو مخکي دئ، دولت که ملت؟ ملت nation د خلګو هغه جمعیت دئ چي د خپل ځان په هکله د ځانګړیتوب احساس، خپل منځي پیوستون، ګډ تاریخ او کلتور او همدارنګه ډېر وخت (مګر نه هر وخت) ګډه ژبه ولري. دولت state یو حکومتي جوړښت دئ چي عموماً مستقل وي او دومره قدرت ولري چي خپل حکم او غوښتنه عملي کړای سي. ډېر کسان داسي ګومان کوي چي ګواکي ملتونو باید تر دولتونو مخکي وده کړې وي. دولتونه مصنوعي جوړښتونه دي، دوی منځته راځي او له مینځه ځي او د پېړیو په جریان کي یو او بل شکل اخلي. مروجه او معمول نظر دا دئ چي ملت اساسي عنصر دئ او خلګ تر حکومتي جوړښتونو ډېر مخکي موجود وه.

تاریخي څېړني دا نظر ردوي. په ډېرو حالاتو کي دولتونو پر خپل شاوخوا ملتونه خلق کړي دي. د مثال په توګه، د جنوبي افریقا زولویان Zulus ، یوه قبیله نه ده بلکي یو مصنوعي ملت دئ چي څه کم دوې پېړۍ مخکي د یو زورور جنګیالي شاکا Shaka لخوا د ډېرو قومونو او قبیلو د سره یو ځای کولو له لاري منځته راوړه سوی دئ. نن ورځ دوی ځانونه زولویان ځکه بولي چي شاکا دوی د فتح کولو له لاري سره متحد کړل، ټول یې د یوې ژبي یعني د ده د خپلي ژبي ویلو ته مجبور کړل او زورور جنګیالي یې ځني جوړ کړل.

فرانسه ډېر ځلي د یو (طبیعي) ملت په توګه و پام ته راګرځي. فرانسه یوه منظمه شپږضلعي ده چي مشترک تاریخ، ژبه او کلتور لري. مګر د نن ورځي فرانسه د څو بېلابېلو سیمو څخه جوړه ده چي بیخي بېلي ژبي او تاریخ لري او د پېړیو په جریان کي دا سیمي د توري په زورسره متحدي سوي دي. پاریس د ښووني او روزني، ژبي او مرکزي ادارې له امله خلګو ته د فرانسویت احساس وربخښي. فرانسوي ملت یو مصنوعي تخلیق دئ چي د فرانسې دولت د خپل کار د اسانۍ له پاره منځ ته راوړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو لوی مصنوعي ملت د امریکې متحده ایالات کېدای سي، چي په فلادلفیا کي یو څو تنو له دیارلسو جلا کالونیو colonies څخه جوړ کړ. سره له دې چي د بېلابېلو ژبو او کلتورونو په لسهاوو ملیونونه مهاجر په خپل ځان کي منحلوي، د امریکې متحده ایالاتو د کلونو په جریان کي په خلګو کي د ملت والي احساس روزلی دئ. ملتونه له اسمانه څخه نه رالوېږي، دوی د انسان د استادانه تخلیق په نتیجه کي منځته راځي.

د ډېرو هیوادونو لپاره، د ملت د جوړښت پروسه لا تکمیله سوې نه ده. د هسپانیې دولت د هسپانوي ملت سره ناتکمیله توافق لري. د تولېدو Toledo او مادرید Madrid پاچهانو هڅه وکړه چي د فرانسې د مرکزیت تقلید وکړي، مګر دا کاستلیان Castilians په دې ونه توانېدل چي د هسپانیت واحد اساس پر کاتالانو Catalans، باسقیانو Basques، ګالیسیانو Galicians، اندالوسیانو Andalucians او ناواریسانو Navarese باندي تحمیل کړي. منطقویت تر دا نني ورځي پوري د هسپانیې سیاست څوروي. د برتانیې تر تسخیر مخکي، هندوستان یوازي د یو مفهوم په حیث وجود درلود. انګرېزي ژبې، د رېل ګاډۍ خط او ټلګراف هندوستان سره وګنډی. هندوستان هم د نژاد او قوم پر اساس د جلا کېدلو په آفت اخته دئ. په پنجاب کي د سیکانو تجزیه غوښتنه یې یو مثال دئ.

**د ملت والي عناصر :**

په عمومي توګه ویل کېږي چي ملتونه ځانته ځیني ټاکلي مشخصات لکه قلمرو، نفوس، استقلال او حکومت لري. موږ د دې مشخصاتو و هر یوه ته سوالیه ایښوولای سو. دا ځکه چي دا مشخصات کله قوي او روښانه وي او کله بیا کمزوري او یا هم غایب وي.

**قلمرو :**

په عمومي توګه، هر ملت په یوه ټاکلې جغرافیایي ساحه کي اوسي. داسي یو ملت په مشکله موندل کېږي چي قلمرو ونه لري. مګر د هغو خلګو په هکله به څه ووایو، چي خپل (ملت) له خپل ځان سره انتقالوي؟ یهودیانو خپل د قلمرو ملت دوه زره کاله مخکي د یونان او روم په فتوحاتو کي له لاسه ورکړ.



مګر څرنګه چي ډېرو یهودیانو ملتولۍ ډېر قوي ایډیال له ځان سره درلودی، په دې وتوانېدل چي په کال ۱۹۴۸ع کي د اسرائیلو اوسنی دولت تأسیس کړي. هغه فلسطیني عرب هم چي یهودیانو له خپله ځایه بېځایه او فراره کړل، همدا اوس د ملتوالي ډېر قوي ایډیال له ځان سره لري او سخت زیار باسي چي د خپل ځان دولت تأسیس کړي. آیا کولای سو د یهودیانو او فلسطینیانو په شان تیت او پرک خلګ (ملتونه) وبولو؟ دوی کېدای سي چي بالقوه ملتونه وبلل سي. ځکه دا هغه خلګ دي چي غواړي، او یا مبارزه کوي، ځان په یو قلمرو کي ځای پر ځای او خپل دولت تأسیس کړي.

کله چي د قلمرو په هکله ادعا ګاني ټکر سره وکړي، نو زیات وخت جګړې منځته راځي. ډېر لږ ملتونه طبیعي سرحدات لري. په ځینو حالاتو کي، دولتونو د سرحداتو د تأسیس او ټینګولو له پاره له نظامي قوي څخه کار اخیستی دئ. جرمني د الساس Alsace پر سر له فرانسې سره جګړه وکړه، د امریکې متحده ایالاتو د ټکساس پر سر له مکسیکو سره جګړه وکړه، او ارجنټاین تر نن ورځي پوري له برتانیې څخه د مال ویناس جزیرې Malvinas Islands، چي برتانیه یې فاک لینډ Fakland بولي غواړي. کومه ادعا حقیقت لري؟ د قضاوت په هکله باید له کومو معیارونو څخه کار واخیستل سي؟

د قلمرو په هکله تاریخ ډېره مرسته نه سي کولای، ځکه په هره خاوره کي تر یو چا مخکي بل څوک اوسېدل. اسرائیلیان او عرب له ډېره وخته په دې باب په دعوه لګیا دي. (که موږ ډېر شا ته ولاړ سو، یو له دوی څخه لا هم پر دې مځکه لومړی نه اوسېدل). ژبه او نژاد هم په دې هکله، چي کوم قلمرو په کوم دولت اړه لري، زموږ سره مرسته نه سي کولای. د مځکي پر مخ خلګ د ملتونو په توګه په واضح ډول سره اوډل سوي نه دي، بلکي په ګاونډیو هیوادونو کي سره غزېدلي دي. د مثال په توګه، ډېر الساشیان Alsatians د ژبې، کلتور او کورني نومونو له مخي په جرمني پوري اړه لري یا یې اړه درلوده. مګر ډېر یې سمه او بشپړه فرانسوي وایي او ځانونه فرانسویان بولي. اوس نو آیا دا ویلای سو، چي الساشیان په چا اړه لري، په جرمني او که په فرانسه؟

**نفوس :**

د هر ملت د سرحداتو په دننه کي اولس اوسېږي. ډېره ښه خبره دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا اولس یو له بل سره د پیوستون او د یوه ملت په توګه د ځانګړي توب احساس ولري. د یوې واحدې ژبې درلودل مهم دي مګر زیات وخت حتمي نه وي. د مثال په توګه، د بلجیم په هیواد کې د فرانسوي ژبو او فلمش ژبو تر منځ له ډېره وخته راهیسې اخ و ډب وجود لري. مګر سربېره پر دې هم په دواړو ګروپونو کې دومره خلک سته چې بلجیمي (احساس) لري او هیواد یو موټی ساتلای سي. هغه دولتونه چې اولس یې د ژبې، کلتور او هویت له مخې توپیر ولري، څو ملتي multinational دولتونه بلل کېږي. د (پخواني) شوروي اتحاد یوازې نیم نفوس روسان وه، د شوروي د نورو ملتونو دا خوښه نه وه چې د ماسکو تر اداري لاندې وي. دا ملتونه له شوروي څخه بېل سول او پر ځاي یې پنځلس نور هیوادونه منځ ته راغلل.

بنایي د یوې منطقې خلک ونه غواړي په یوه معین ملت پوري اړه ولري. په هسپانیه کې باسکیان Basques ، په کاناډا کې د کیوبیک خلک Quebecois او په عراق کې کُردان غواړي چې خپل مستقل ملتونه تشکیل کړي. که د اولس ډېره برخه خوشحاله نه وي، د ملت د سره پاشل کېدو امکان سته. ډېرو سلوواکیانو Slovaks بد وړل چې د چکانو Czechs تر اداري لاندې وي، او په کال ۱۹۹۳ع کې یې سلوواکیه Slovakia تشکیله کړه. سلاویانو Slovenes او کروټانو Croats د سربیانو Serbs لخوا له اداره کېدلو څخه کرکه کوله او په کال ۱۹۹۱ع کې یې د یوګوسلاویا څخه خپله آزادي اعلان کړه. اېریتریا له حبشې سره تر ډېرې اوږدې ګوریلایي جګړې وروسته، په کال ۱۹۹۳ع کې خپله آزادي اعلان کړه. دا چې خلک په یوه ټاکلي دولت کې ژوند سره کوي معنی یې حتمي دا نه ده چې د دوی به دا دولت خوښ هم وي.

**استقلال:**

ملت باید چې ازاد وي، په دې معنی چې د یومستقل sovereign وجود په توګه خپلې چارې پخپله اداره کړي. مستعمرات هغه وخت ملت ګرځي چې په رسمي توګه آزادي لاسته راوړي، لکه د فرانسې تر لاس لاندې الجزایر چې په کال ۱۹۶۲ع کې آزاد سو. د یوه ملت فروعات، لکه کیوبک Quebec او نیوادا Nevada، ځکه ملتونه نه بلل کېږي چې استقلال نه لري. ځیني کیوبکیان اوس هم غواړي چې مستقل او آزاد واو سي.



د آزادۍ مفهوم هم ځیني مشکلات لري. کله چې یو لوی او قوي هیواد یو بل وړوکی او کمزوری هیواد تر کنټرول لاندې ولري، آیا دا وړوکی هیواد آزاد او مستقل بلل کېدای سي؟ سټالین په شرقي اروپا کې مطیع او د لاس آله حکومتونه منځته راوړل (دا دلیل دئ چې دا دولتونه د شوروي "اقمار" بلل کېدل) او په منځنۍ یوروپ کې شوروي ټانکو کمونستي ضد قیامونه مات او وځپل. آیا دا هیوادونه په رشتیا سره آزاد وه؟ همدا شان، آیا د امریکې متحده ایالات په کارابین Caribbean او مرکزي امریکا کې د چارو نظارت نه کوي؟ آیا هایتي Haiti چې د لنډ وخت له پاره په کال ۱۹۹۴ع کې د امریکایي قواوو لخوا اشغال سوه، رشتیا مستقله ده؟ د تعریف له مخې، ټول ملتونه مستقل او آزاد دي، خو ځیني بیا تر نورو ډېر آزاد دي.

د نورو هیوادونو، په تېره بیا د سترو قوتونو لخوا په رسمیت پېژندنه استقلال او آزادي تقویه کوي. تر دې وروسته د سفیرانو لېږل او د سفارت خانو تأسیسول د په رسمیت پېژندني بل اړخ دئ. د زیات شمېر مهمو او سترو ملتونو لخوا د یوه هیواد په رسمیت پېژندنه هغه ته مشروعیت وربخښي. که یې هیڅ یو هیواد په رسمیت ونه پېژني، نو مشروعیت یې شکمن ګڼل کېږي. د سپین پوستانو د واکمنۍ په وخت کې، جنوبي افریقا له ځینو محلي تورپوستو سیمو څخه یو تش په نامه آزاد او ګوډاګی دولت منځته راووړ، مګر هیچا دا ګوډاګی په رسمیت ونه پېژندی، او ډېر ژر دا جعل سوی جمهوریت، کله چې نیلسن مانډیلا په جنوبي افریقا کې واک ته ورسېدی، د جنوبي افریقا په دولت ور ګډ سو.

**حکومت :**

ښکاره خبره ده چې یو ملت باید د خپلو خلکو د اداره کولو یو سازمان ولري. د داسې یو سازمان نسته والی انارشي ده، او ویل کېدای سي چې دا قلمرو به ډېر ژر سره تجزیه او یا به د نورو ملتونو له لخوا ونیول سي. چې حکومت نه وي، ملت نسته. افغانستان د دې انارشۍ یو مثال دئ.

حکومت، که څه هم، په ځینو ټاکلو حالاتو کې له ملت څخه مستقل وجود لرلای سي. مثال یې تر ځکې لاندې په پټه حکومتونه یا (جلا وطنه حکومتونه) دي چې د اشغالګرو یا ګوډاګي حکومتونو د شړلو له پاره مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. د لويي وچې کانګرس Continental Congress یو ابتدايي حکومت و، چې د یو آزاد متحده ایالاتو د تأسیس له پاره منځته راغی او د هغه له پاره وجنګېدی، او په نتیجه کي امریکې د متحده ایالاتو حکومت ځني راوزېږیدی. په کال ۱۹۴۰ع کي، له فرانسې څخه د جرمنیانو د ایستلو لپاره، جنرال چارلس دوګول د "آزادي فرانسې" حکومت اعلان کړ، چې ډېرو سترو قدرتونو د فرانسې د حکومت په توګه په رسمیت وپېژندی. په کال ۱۹۴۴ع کي، د پاریس له آزادېدلو سره له هغه څخه یو داسي حکومت جوړ سو چې قلمرو، اولس او آزادی یې درلودل.

د یوه قانوني حکومت موجودیت خامخا دا معنی نلري چې دا حکومت به اغېزمن وي او د خپل قلمرو او اولس کنټرول به یې په لاس کي وي. کله چې حکومت کمزوری وي، د داخلي او خارجي مخالفت په وړاندي به د پایښت توان ونه لري. د مثال په توګه، د بوګوتا Bogota حکومت د کولمبیا پر ډېرو هغو سیمو چې د مخدره موادو د دلالانو او ګوریلایانو په ولکه کي دي، کنټرول نه سي ټینګولای.

پخواني سیاسي تیوریسنان، د ملت له پاره پورته بیان سوي مشخصات لازمي بولي. چېرته چي یو ملت موجود وي، حتماً باید قلمرو، نفوس، آزادي، حکومت او د ملت نور صفات ولري. معاصر پولیټکل ساینټستان د ملت سوچه او خالص حقوقي مفهوم ایسته غورځوي او د عملي واقعیت څېړنه یې کوي. د تیورۍ له مخي، مثلاً X هیواد یو ملت بلل کېږي، مګر آیا دا هیواد په واقعیت کي یو پرله غښتلی اولس او یو اغېزمن حکومت لري چې خپل قلمرو اداره کړای سي او کنه؟ ځیني چي ځانونه ملت بولي په حقیقت کي، د کولمبیا په شان کمزوري دولتونه دي او ځیني بیا حتی، د سومالیا غوندي، ډېوالي (Bankrupt) او ناکامه دولتونه دي. ډېر ملتونه په پرله پسې توګه اوس هم د ملت والي پر لور تکامل کوي.

### د ملت جوړوني بحرانونه:

ځیني ټولنپوهان په دې باور دي چې د ملتونو د جوړښت پروسه (د دې له پاره چې پروسه په بریالیتوب سر ته ورسېږي) دا ایجابوي چې هیوادونه تر پنځو مرحلو تېر سي او دا مرحلې هم باید په تقریبي توګه یو شانته زماني



تسلسل ولري. هره مرحله د یوه ملت په ژوند کي د یو (بحران) څرګندویه وي، چې دولت باید دا بحران په ډېر یا لږ بریالیتوب سره حل کړي.

### هویت:

د ملت جوړوني په لار کي لومړنی پنډل د (هویت بحران)دئ. هغه خلک چې مخکې یې خپل هویت په یو قوم، منطقه او یا کوم بل ګروپ کي څرګنداوه، اوس باید لومړی او تر هر څه دمخه ځانونه د ملت تبعه وبولي. دا کار په اسانه، ژر او یا هم په اوتوماتیکه توګه نه پېښېږي. د امریکې داخلي جنګAmerican Civil War پر دې ټکي ولاړ و. فرانسه او برتانیه اوس هم داسي سیمه ییز ګروپونه لري چې ځانونه فرانسویان یا برتانویان نه بولي، بلکي (په فرانسه کي) ځانونه برتون Breton او کورسیکن Corsican بولي. همدا ډول (په برتانیه کي) ځانونه سکاټ Scottish، ویلش Welsh او آیریش Irish بولي. یوګوسلاویا هیڅکله د خپلو سربیانو Serbs ، کروټیانو Croats، سلاونیانو Slovenes، بوسنیانو Bosnians، مسیدونیانو Macedonians او نورو له پاره ملي هویت تأسیس نکړای سوای. ډېر افریقایان اوس هم هویت څرګندونه په خپلو قومونو باندي کوي او نه وایي چې زه سوډانی یا نایجریایي یم. عراقیان ځانونه سني، شیعه او یا کُردان بولي نه عراقیان.

### مشروعیت:

مشروعیت له اسمانه نه رالوېږي. لکه په لومړي فصل کي چې وویل سول، یو حکومت باید په خلکو (پخپلو اتباعو) کي د ځان په هکله احترام او په خپله خوښه اطاعت راوزېږوي او په خلکو کي باید داسي احساس راپیدا سي چې دا رژیم قانوني او پرحق وبولي. هغه رژیمونه چې د مشروعیت پرابلم ولري، په نظامي کودتا له منځه وړل کېږي.د لاتیني امریکا او افریقا هیوادونه یې مثالونه دي.یا هم د ایران او کیوبا په شان د انقلاب له لاري له مینځه ځي. بالاخره ویلای سو چې لکه د یوګوسلاویا حالت، که مشروعیت نه وي نو ملت هم وجود نه سي لرلای. د بغداد رژیم په عراق کي ډېر کمزوری مشروعیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نفوذ :**

د هویت او مشروعیت سره په ارتباط کي، د (نفوذ بحران) دا معنی لري چي یو ملت باید په دې وتوانېږي چي ټول ولس، حتي د لیرو او یا د کلتور له مخي متفاوتو سیمو خلک، د حکومت د حکم منلو ته اړ کړي. د نفوذ یوه ساده ازموینه دا ده چي: آیا ټولي سیمي مالیات ورکوي؟ که داسي نه وي نو د نفوذ ستونزه موجوده ده. په عادي توګه، رژیم خپل امر چلونه لومړی په پایتخت کي ټینګوي او ورو ورو یې اطرافو ته ورغځوي. په اطرافو کي کله کله له مقاومت سره مخامخ کېږي چي د ماتولو له پاره یې نظامي قوت ته اړتیا سته. د نفوذ نستوالی دا معنی لري چي حکومت یوازي د کاغذ پر مخ یو قانون (لکه د مخدره موادو د قاچاق پر ضد قانون) درلودلای سي مګر د هیواد ډېره برخه، د ځینو حکومتي مامورینو په شمول، قانون ته اهمیت نه ورکوي. افغانستان یو ډېر ښه مثال دئ چي حکومت تر پایتخت یعني تر کابل دباندي ډېر لږ وجود لري. د افغانستان په ولایاتو کي، جنګسالاران او قاچاق سالاران د ټوپک په زورحکم چلوي.

**برخه اخیستنه :**

کله چي خلک زیات پوه سي، په حکومت کي خپل بړخ پورته کوي. دا احساس په عمومي توګه د هغو خلکو لخوا پیل کېږي چي ژوند یې سم او مشهوره وي. شتمن او د لوړ مقام ښاري اوسېدونکي پاچا یا ملکې ته وایي، "که ته له موږ څخه مالیات او عسکري خدمت غواړې، نو موږ هم په پالیسي کي څه ویل غواړو". څرنګه چي سلطان مالیاتو ته ډېره زیاته اړتیا لري، نو د دې له پاره چي د دوی موافقه تر لاسه کړي، د انګلیس د پارلمان او د سوېډن د ریکس ډاګ Riksdag په شان یوه نماینده ګي کوونکې ډله body representative منځته راوړي. په لومړي سر کي د ټولني د ممتازه ډلي نماینده ګي کېږي مګر ورو ورو د برخي اخیستني غوښتنه د ټولني نورو برخو ته ورغزېږي او عام نارینه او ښځي د رایي ورکولو د حق غوښتنه کوي. د ملت د تکامل له پاره، په خلکو کي د برخي اخیستني د احساس منځته راتلل ضرور دي.

رژیمونه زیات وخت ډېرو خلکو ته د رایي ورکولو د حق له پراخولو سره مقاومت کوي، یعني نه غواړي ډېرو خلکو ته د رایي حق ورکړي. دوی بېربېري



چي نوي رایه ورکوونکي به ډېري غوښتني رامنځ ته کړي. د امریکې په متحده ایالاتو کي، ښځو د رایي حق په کال ۱۹۲۰ع کي د اساسي قانون د نولسمي ضمیمې په انفاذ سره تر لاسه کړ او د سویس ښځو د رایي حق یوازي په کال ۱۹۷۹ع کي تر لاسه کړ. خطر په دې کي دئ چي نماینده ګي نه لرونکي خلک به د حکومت په مخالفت کي ودرېږي او د رژیم مشروعیت ته به تاوان ورسېږي. بالاخره، رژیم معمولاً دې نتیجې ته رسېږي چي خلکو ته برخه ورکول تر انقلاب ښه دي. لکه د نولسمي پېړۍ د برتانیې د پارلمان یوه غړي چي ویلي دي: "موږ د سرونو د ماتولو پر ځای رایي شمېرو". د جنوبي افریقا د سپین پوستو اقلیتي حکومت په دې اساسي ټکي باندي ډېر وروسته وپوهیدی.

د برخي اخیستني د بحران د حل ډېره ښه لاره دا ده، لکه برتانیې چي په نولسمه پېړۍ کي غوره کړه، او هغه دا چي ورو او واړه ګامونه واخیستل سي. برتانیې د یو لړ اصلاحي قوانینو له لاري انتخاباتي امتیازات ګام په ګام پراخ کړل او ډېرو خلکو ته یې د رایي حق ورکړ. په دې توګه هم حقوقي مؤسساتو او هم خلکو د عیارېدلو له پاره وخت ودرلودی. رایي ورکولو معنی درلوده او برخه اخیستنه واقعي او رښتینې وه. کله چي د رایي حق په ناڅاپي توګه خلکو ته ور ارتاو سي، چنداني ښه نتیجه نه ورکوي. په هسپانیه کي نارینه وو ته د عامه رایي حق د کاغذ پر مخ په کال ۱۸۷۴ع کي، تر برتانیې ډېر کلونه مخکي ورکول سوی و. مګر په عمل کي، محلي اداره چیانو او داخله وزارت د انتخاباتو نتایج په کنټرول کي درلودل. په دریمه نړۍ کي (چي زیاتو بې سوادو خلکو ته په یوه پلا د رایي حق ورکړه سو) محلي سیاستوال او قبیلوي مشران خلکو ته وایي چي څرنګه او چا ته رایي ورکړي.

**توزیع :**

د (توزیع بحران) هیڅکله په بشپړه توګه حل سوی نه دئ. دا بحران له دې کلاسیکي پوښتني سره اړه لري چي (چا ته څه رسېږي). کله چي د اتباعو پراخي پرګنې په انتخاباتو کي برخه واخلي، دوی زیات وخت د خپل ځان په ګټه د ملت د عایداتوپه توزیع کي د تغیر غوښتنه کوي. دوی دا پوښتنه کوي چي "ولي باید بډایان هرڅه ولري؟" د کارګري طبقې زیات خلک هغه ګوند ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایي ورکوي چې دوي ته د لوړ مزد، زیاتو تعلیمي امکاناتو او ډېرو اجتماعي مرستو وعده ورکوي. همدا علت دئ چې په برتانیه او ناروې کې لیبرال ګوندونو او په جرمني او سویډن کې سوسیال ډموکرات ګوندونو وده وکړه. دوی قدرت ته ورسېدل او د پراخو اجتماعي خدماتو دولتونه welfare states یې تأسیس کړل چې پر مالیاتو یې تکیه درلوده. د دې مالیاتو دروند بار د بډایانو پر اوږو پروت و. د امریکې کارګري طبقې خپلې زیاتې رایې فرانکلین روزویلټ Franklin D. Roosevelt او لیندن جانسن Lyndon Johnson ته ورکړې چې د عایداتو دوباره توزیع سر ته ورسوي.

د توزیع بحران هیڅکله پای ته ځکه نه رسېږي چې د ټولني غریبه برخه لا زیات اجتماعي خدمات غواړي. په داسي حال کې چې د ټولني غني برخه چې محافظه کار ګوندونه یې نماینده ګي کوي، دا استدلال کوي چې اجتماعي خدمات تر کنټرول وتلي دي، مالیات ډېر لوړ دي او اجتماعي امتیازات ډېر سخاوتمندانه دي. کله چې محافظه کاران انتخابات وګټي، دوی هڅه کوي د اجتماعي خدماتو پروګرامونه لنډ او غوڅ کړي لکه په کال ۱۹۷۹ع کې چې مارګریت تاچر Margaret Thatcher په برتانیه او رونالد ریګن Ronald Reagan په امریکا کې دا کار وکړ. کله چې محافظه کاران دا کار وکړي نو د امتیازاتو د قطع کېدلو له بېرې د رایې ورکونکو بړغونه پورته کېږي. دا دوام داره ریسمان کشي د پرمختللي او صنعتي ډیموکراټیکو هیوادونو په ډېرو انتخاباتو کې روانه ده.

ډېرو لږو ملتونو ته دا ښه چانس برابر سوی دئ چې له دې بحرانونو سره په یوه وخت کې، چې تر منځ یې زماني فاصله موجوده وي، معامله وکړي. دا ډول نېکمرغه شرایط (یعني چې له یوه بحران سره په یوه وخت کې معامله وسي) د هیواد حقوقي موسساتو (لکه ګوندونو، پارلمان، اجرائیه څانګو او نورو ته) د دې توان ورکوي چې له هر نوي بحران سره د مخامخ کیدلو پر وخت قوت او تیاری ولري. مګر که دا ټول پنځه سره بحرانونه پر یوه وخت رامنځته سي نو بیا به یو هیواد څه کوي؟ په خاصه توګه په دریمه نړۍ کې داسي حالات سته چې ډېر هیوادونه د هویت او مشروعیت جدي ستونزي لري مګر دا ځني غوښتل کېږي چې پرله پېپچلي قوانین وضع کړي، ټولو اتباعو ته د رایې حق ورکړي او ټولو خلکو ته په مساوي توګه ښه ژوند برابر کړي. له دې ټولو سره



په یوه وخت کې مخامخ کېدل د دې هیوادونو پر کمزوري اقتصاد او کمزورو حقوقي مؤسساتو ډېر لوی بار وي، چې تر منزله یې نه سي رسولای. ځکه نو په دې هیوادونو کې انقلاب او یا هم نظامي رژیم منځته راځي. تر ټولو مخکې د خلکو برخه اخیستنه له منځه ځي چې نتیجه یې د دریمي نړۍ په ډېرو هیوادونو کې د ډیکتاتوري رژیمونو تسلط دئ.

### حکومت څه شي دئ او څه کوي؟

له ځینو بدوي ټولنو پر ته د نورو اکثرو ټولنو پوره تعریف سوی، حکومتي جوړښت او ساختمان درلودلی دئ. لکه مخکې چې مو ولیدل، لاک Locke ، چې د امریکې بنسټ ایښوونکو پلرونو ډېر څه ځني پور کړي دي، په دې نظر و، چې حکومت د حقوقو او ملکیت د ساتني یوه آله او وسیله ده. لاک پخپل کتاب کې چې د مدني حکومت دوه تړونونه ( Two treaties of civil government) نومېږي لیکي : "د حکومت تر بیرغ لاندي د خلکو د سره یو ځاي کېدلو ... ستر او عمده هدف د خپل ملکیت (او په دې توګه د خپلو طبیعي حقوقو) ساتنه ده. د لاک په عقیده، حکومت د حاکم او محکوم تر مینځ یو قرارداد څرګندوي چې د هغه له مخي به خلک تر هغه وخته پوري د واک خاوندان حمایه کوي چې حکومت د دوی په ګټه کار کوي. حکومتونه د تهدید د قانوني استعمال انحصار په لاس کي لري. (یعني یوازي حکومت کولای سي له تهدید څخه کار واخلي). یاغیان او داړه ماران هم کولای سي له تهدید څخه کار واخلي، مګر هغه به تر قانون دباندي او غیر قانوني وي.

حکومتونه ورځ په ورځ پراخېږي او لوېږي. له لومړۍ عمومي جګړې راهیسي چې په کال ۱۹۱۴ع کې پیل سوه، نن ورځ د پرمختللو صنعتي هیوادونو حکومتونه د داخلي ناخالص تولید gross domestic product پنځه چنده مصرفوي. یعني په سلو کې له نهه GDP څخه خبره په سلو کې پنځه څلوېښتو ته رسېدلې ده. حتی د امریکې متحده ایالات چې د لوی او پراخ حکومت مخالف دي او څو پلا یې هڅه کړې ده چې په فدرالي مصارفو کې کموالی راولي، بیا هم دا مصارف په ۱۹۶۰ع کال کې د GDP په سلو کې ۲۷ وه، چې په کال ۱۹۹۸ کې په سلو کې ۳۳ ته لوړ سول. په نورو هیوادو کې حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور هم رشد کړی دئ. د مثال په توګه، په سوېډن کې حکومتي مصارف په ۱۹۶۰ع کال کې په سلو کې ۳۱ وه چې په کال ۱۹۹۸ کې په سلو کې ۶۱ ته اوچت سول. ځیني دا استدلال کوي چې د حکومت د مصارفو کال په کال زیاتوب تمام نه سي لرلای، ځکه د خلکو غوښتني له حکومت څخه هم مخ پر زیاتېدو دي.

**د حکومتونو طبقه بندي کول:**

ډېر تیوریسنان په دې باور دي، چې حکومت باید د خلکو له پاره د باثباته ژوند کولو شرایط، او اقتصادي او اجتماعي سوکالي برابره کړي. د دې خبري معنی خامخا دا نه ده چې حکومت باید په مستقیمه توګه اقتصاد او یا ټولنه اداره کړي او نه هم دا معنی لري چې ګواکې ټول حکومتونه مخکې ذکر سوي وظایف تر سره کوي، فاسد او کمزوري حکومتونه دا کار نه کوي مګر د دوی د ړنګېدو او له منځه تللو خطر هم وجود لري.

یو ملت باید تر ټولو مخکې د ځان ساتنه وکړي او خپل پایښت تأمین کړي. د نړیوالي ټولني لخوا د یوه ملت آزادي او د سرحداتو تمامیت یعني حاکمیت په رسمیت پېژندنه په دې کار کې مرسته کوي. همدا رنګه د هیواد ثبات هم مهم دئ. له سیاسي پلوه ټېنګ او ثابت ملت له یوه ګوند څخه و بل او یا له یوه لیډر څخه و بل ته د قدرت د انتقال یو منظم سیستم لري. د عدالت او امنیت په برابرولو او د ملکیت په ساتني سره حکومت داخلي سوله تأمینولای سي. یو حکومت همدارنګه کولای سي د کار، تعلیم او صحي خدماتو په برابرولو سره د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي او خلک به هم د رژیم مشروعیت ومني.

حکومت څرنګه کولای سي د خپلو خلکو اقتصادي او اجتماعي نېکمرغۍ په ښه توګه تأمین کړي؟ دولتونه له دوو پوښتنو سره مخامخ وي:

۱. د اقتصاد څومره برخه باید د دولت په لاس او یا تر اداري لاندي وي؟
۲. د ملت د شتمنۍ څومره برخه باید د ټولني له غریبي برخي سره د مرستي له پاره دوباره توزیع سي؟

په جواب کې یې څلور اساسي روشونه وجود لري: خپل سر ته پرېښوول Laissez-faire (لایسه فېره)، دولتي مالکیت، سوسیالیزم او رفاهي دولت welfare state.

په لایسه فیره سیستم کې حکومت د اقتصاد او صنعت ډېره لږ برخه په



اختیار کې لري او یا په اقتصاد کې هیڅ برخه نه لري او د اجتماعي خدماتو welfare په پروګرام کې هم ډېره لږ برخه اخلي. دا هیوادونه د ایډیالوجۍ په لحاظ د ادم سمیت Adam Smith پېروي کوي. د ادم سمیت استدلال دا و، چې په اقتصاد کې د حکومت مداخله اقتصادي پرمختګ کمزوری کوي او نېکمرغي او سوکالي کموي. تامس جفرسن Thomas Jefferson په لنډ ډول وایي چې، "ډېر ښه حکومت هغه دئ چې ډېر لږ حکومت کوي"، تیوري یې دا ده چې خصوصي تشبث او شخصي ابتکار یو ملت هم آزاد او هم نېکمرغه کوي.

رفاهي دولت welfare state هم د اقتصاد او صنعت ډېره لږ برخه په اختیار کې لري مګر د ټولني له غریبي طبقې سره د مرستي له پاره د ثروت دوباره توزیع سر ته رسوي. (د دوباره توزیع معنی دا ده چې دولت له خلکو څخه مالیات راټولوي او یوه برخه یې بېرته خلکو ته ورکوي) د شمالي اروپا رفاهي دولتونه، چې کله کله د (سوسیال ډیموکراسۍ) په نامه هم یادېږي، و خپلو خلکو ته له (زانګو څخه تر قبره) پوري امتیازات وړاندي کوي، چې روغتیایي بیمه، د ماشومانو پاملرنه او تقاعد په بر کې نیسی. د دې خدماتو د مصارفو د پوره کولو له پاره دا دولتونه پر خلکو باندي ډېر زیات مالیات وضع کوي. په سویډن او ډنمارک کې مالیات د GDP تر نیمایي زیاته برخه تشکیلوي. مګر صنعت بیا هم شخصي دئ او د پیسو ګټلو سرمایه داري سیستم پکښې چلېږي.

د دولتي مالکیت سیستم Statism یو پخوانی سیستم دئ چې تر لایسه فیره یې هم مخکې وجود درلود. د دولتي مالکیت په سیستم کې دولت (یعني ملي حکومت) اول لمبر سرمایه دار وي او د ټولو عمده صنایعو مالکیت او اداره په لاس کې لري. مګر و خلکو ته د اجتماعي خدماتو له برابرولو سره علاقه نه لري. د دولتي مالکیت سیستم هغه وخت پیل سو، چې د فرانسې پاچهانو د یوه داسي قوي او مرکزي دولت بنسټ کېښېښود، چې د فرانسې د ثروت او قدرت له پاره یې د صنعت اداره او څارنه کوله. دا سیستم چې ځیني وخت پخپل فرانسوي نوم اتاتیزمي etatisme باندي یادېږي، د رېل ګاډي خط، د فولادو فابریکې، بانکونه، نفتي تأسیسات او د داسي نورو اقتصادي مؤسساتو دولتي مالکیت په بر کې نیسي. واړه او متوسط بزنسونه په شخصي لاسونو کې وي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي مالکیت سیسټم د اروپا او لاتیني امریکې په ډېرو هیوادونو کي منځته راغی. فرانسه، برازیل او مکسیکو د دولتي ملکیت سیسټمونه وه مګر اوس ریفورم پکښې روان دئ. ځیني بیا د جاپان د اقتصاد بیوروکراتیکي اداره او څارنه ددولتي مالکیت د سیسټم یو شکل بولي. ډېرو پرمختیایي هیوادونو د دولتي مالکیت سیسټم په دې دلیل تعقیب کړ، چي د نوو صنایعو د منځته راوړلو له پاره یوازي دولت پوره پیسې، ایډیاوي او وړتیاوي لري. اقتصادي نتایج دا ښیي چي د دولت په ملکیت کي اقتصادي مؤسسات او کارخاني بې اغېزې او بې کفایته وي، ځکه د بیروکراتانو لخوا اداره کېږي او له رقابت سره مخامخ نه وي، ډېر وخت په تاوان چلېږي او د ملي خزاني له لاري یې تاوان ورکول کېږي (سبسیډي کېږي). د چیلي هیواد چي د دولتي مالکیت پر سیسټم ولاړ و، د دولت د اقتصادي مؤسساتو او کارخانو تر شخصي کېدلو وروسته ډېر پر مخ ولاړی.

یو سوشیالیستي سیسټم بیا د دولتي مالکیت تر څنګ په پراخه پېمانه اجتماعي خدمات وړاندي کوي. مثال یې پخواني شوروي اتحاد دئ چي په هغه کي د تولید تقریباً ټول وسایل د حکومت په مالکیت کي وه او ادعا یې کوله چي حکومت د ټولني د ګټو له پاره ټول اقتصاد چلوي. مګر، په اروپا کي د کمونیستي رژیمونو (دوی ځانونه "سوشیالست" بولي، موږ یې "کمونست" بولو) ړنګېدلو دا وښودله چي د دې حکومتونو د اقتصادي ادارې چنداني خوند نه و. نن ورځ یوازي شمالي کوریا او کیوبا د سوشیالیزم د مثالونو په توګه پاته دي او د دوی سیسټمونه هم و تغیر ته آماده دي.

په عمل کي، حکومتونه اکثره وخت د دې ځلورو سیسټمونو عناصر سره یو ځاي کوي. حتی د امریکې په متحده ایالاتو غوندي بیخي لایسزه فیري سیسټم کي هم د اقتصاد یوه اندازه اداره او څارنه وجود لري او هم اجتماعي خدمات موجود دي. د چین او ویتنام په کمونستي رژیمونو کي، چي یو وخت مطلق سوشیالستي وه، اوس شخصي او سرمایه داري سکتورونه وده کوي. په اوسني عصر کي، موږ په شرقي اروپا، فرانسه او لاتینه امریکا کي د دولتي مالکیت په برخه کي خورا لوی بدلون ولید. د سویډن په شان رفاهي دولتونو هم د ډېرو امیتازاتو او ډېرو لوړو مالیاتو ستونزي احساس کړي دي.



**دولت د عصریت د عامل په توګه :**

په امریکا کي یوه اساسي عقیده دا ده چي حکومت (چي په نورو هیوادو کي یې "دولت"بولي) باید وړوکی او محدود وساتل سي. په نوره نړۍ کي، د دولت قدرت د یو طبیعي او ښه شي په توګه منل سوی دئ. په فرانسه کي، د مثال په توګه، شپاړسم لویي Louis XI په پنځلسمه پېړۍ کي یو قوي دولت پیل کړ، او اتلسم لویي او همدارنګه کارډینل ریخلیو Cardinal Richelieu په اوولسمه پېړۍ کي پسي پراخ کړ. دې قوي دولت strong state د فرانسې په شعور کي ځان ځاي کړ، او وروسته د اروپا ډېرو برخو ته وروغزېدی. د فرانسې په ډول قوي دولت د اقتصاد او معارف اداره او څارنه کوله، مالیات یې راټولول، لویې لاري او کانالونه یې جوړ کړل، او دایمي اردو یې منځته راووړ. یوې ډلې ممتازو مامورینو به، چي په ځانګړو ښوونځیو کي به روزل سوي وه، د مملکت اداره پر غاړه درلودله.

د تفکر دا ډول طرز تر شلمي پوري پسې اوږد سو او اوس هم وجود لري. کله چي فرانسې په کال ۱۸۷۰– ۱۸۷۱ کي د جرمني لخوا ماته وخوړله، د فرانسې نخبه ګانو elite له دولت څخه د عصریت د عامل په توګه کار واخیست. پاریس هڅه وکړه چي یو واحد او سره پیوند اولس منځته راوړي او په اصطلاح د (بزګرو څخه فرانسویان) جوړ کړي. د معارف مرکزي سیسټم محلي ژبني لهجې له منځه یووړې، راکد کلیوالي عنعنات یې مات کړل او غوره استعدادونه یې د پوهنتونونو له پاره را جلب کړل. کله چي فرانسه یو ځل بیا په دوهمه عمومي جګړه کي ماته سوه، د فرانسې نخبه ګانو بیا هم د فرانسې د بیا ودانولو او عصري کولو له پاره د دولت له قدرت څخه کار واخیست.

آیا دې کار ګټه وکړه؟ فرانسه بیرته پر پښو ودرېدله، مګر آیا دا تر ټولو چابکه او یا تر ټولو اغېزناکه لار وه؟ برتانیې او د امریکې متحده ایالاتو په نسبتاً ډېره لږ دولتي څارنه ډېر زیات پرمختګ وکړ، د آزاد بازار د اقتصاد رقابتي روحیې دا دنده ژر او ارزانه تر سره کړه. (که څه هم دا مقایسه دومره هم مناسبه نه ده، برتانیې او د امریکې متحده ایالاتو په خپلو سرحداتو کي د قوي او پراختیا غوښتونکي جرمني سره مخامخ نه وه. که چېري دوی هم د داسي زورور قوت سره مخامخ وای، نو د دوی د حکومتونو مداخله به هم زیاته وای).

جاپان د دولت تر رهبرۍ لاندي د عصري پرمختګ یو بل مثال دئ. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۸۶۸ع له میجی تجدد Meiji Restoration سره سم، جاپان د صنایعو بېلا بېلي څانګي ساموراییي کورنیو ته وسپارلې، سرمایه یې ورته برابره کړه او ورته یې وویل چې د غرب ټول ښه شیان کاپي او جاپان ته یې رانقل کړي. د (غني ملت، قوي اردو) تر شعار لاندي، جاپان د یوه نسل په دوران کې د لاسي صنایعو له مرحلې څخه د درنو صنایعو مرحلې ته ورسېدی. تر دوهمې عمومي جګړې وروسته، د مالیې وزارت او هم د صنایعو او بین المللي سوداګرۍ وزارت د جاپان د چټک اقتصادي پرمختګ ځارنه او لارښوونه پر غاړه واخیستله. دې وزارتونو بانکي پورونه پرمختیایي صنایعو ته ورپوري وهل، د خارجي رقابت مخه یې ونیوله، او د نړۍ بازارونه یې په جاپاني تولیداتو وبوزول. دمخه تر دې چې موږ ووایو چې د دولت لخوا د اقتصاد اداره (رهنمایي سوي اقتصاد) کار نه ورکوي، موږ باید دا تشریح کړو، چې ولې یې د جاپان له پاره کار وکړی. ښکاره خبره ده چې جاپانیان بالکل بېل او د همکارۍ کلتور لري. دا رنګه دولتي لارښوونه او اداره د امریکې په اقتصادي او کلتوري زمینه کي ښایي کار ور نه کړي.

آیا دولت باید د عصري پرمختګ عامل وګرزي؟ آیا لازمه ده چې حکومت د اقتصادي پلانونو، سلا مشورو او پورونو د وړاندي کولو له لاري د اقتصاد ځارنه او اداره وکړي؟ عنعنوي امریکایي جواب دا دئ چې "یه، دا کار به شیان سره ګډوډ کړي". مګر که په غور سره وګورو وینو چې په امریکا کې هم فدرالي حکومت د ټولني د پرمختګ له پاره دا کار کړی دئ. ډېري مځکې یې د عامه ګټې له پاره ولکه کړي او د رېل ګاډۍ خط ته یې د نورو په مځکو کي د تېریدلو حق ورکړی دئ. په ۱۹۳۰ کلونو کې د تینسي Tennessee د وادي پروژې د امریکې یوې ډېري وروسته پاتي برخي ته برېښنا وروستله. د کمپیوټر په برخه کي له سخت رقابت سره د مخامخ کېدلو له امله، د امریکې حکومت د محافظه کار رونالد ریګن د جمهوري ریاست په دوران کې د خصوصي شرکتونو یو کانسرسیوم consortium (د اقتصادي شرکتونو اتحادیه) منځته راووړ څو تر نورو مخکې د کمپیوټر نوي نسل پلان او جوړ کړي. یعني امریکې هم له دولت څخه د عصري پرمختګ له پاره د یو عامل په توګه کار اخیستی دئ. د اوسني عصر د سیاست له مهمو پوښتنو څخه یوه دا ده چې موږ څومره او په کومه اندازه د دولت مداخله غواړو؟



**د عمومي سیاست جوړول :**

ټول عصري حکومتونه عمومي پالیسي جوړوي. کمزوري او فاسد حکومتونه په دې چارو کې لږ برخه اخلي. د زاییر (چې اوس کانګو بلل کېږي) جمهور رئیس موبوتو یوازي د پیسو په ټولولو او د خپلي خېټې په ډکولو بوخت و، چې د حکومتونو په هکله د ارسطو طبقه بندي اوس هم رشتیا کوي. په مشروع سیستمونو کې، د ملي غوښتنو د تحقق له پاره عمومي پالیسي ګاني منځته راځي. دا پالیسي ګاني قوانین، قضایي احکام، تقنیني فرمانونه (چې د اجرائیه قوې لخوا صادرېږي) او اداري تصمیمونه په بر کې نیسي.

که څه هم حکومتونه ادعا کوي چې هغه پالیسي ګاني او پروګرامونه تعقیبوي چې د ملت په ګټه وي، دا پروګرامونه زیاتره وخت د بانفوذه ګروپونو [interest groups] پر خوا ور رغړي. څرنګه چې پیسي (بودجه) محدودي دي نو ټول خلک چې هر څه غواړي نه یې سي درلودلای. آیا د امریکې د متحده ایالاتو له پاره په عراق کې ډیموکراسي راوستل ډېر مهم دي او که د سپین ږیرو او سپین سرو له پاره د دوا د مصارفو تادیه کول؟ آیا د معارف د سویې د لوړلو له پاره پیسې ولګول سي او که زیات پولیس استخدام سي؟ تصمیم نیوونکي باید د بحثونو، او ګوندي مناقشو او کله د رډ رشوت پر مبنا پر له پېچلي انتخابونه وکړي. د هر ډول انتخاب او پرېکړي په صورت کې د ځینو خلکو او ګروپونو سره مرسته کېږي او ځینو ته بیا تاوان رسېږي. د پردې تر شا، ډېر وخت پیسې سره لاس پر لاس کېږي. د عمومي پالیسۍ په هکله د تصمیم نیولو جریان له عمومي دود سره سم (سیاست) بلل کېږي. دا ډول سیاست هیڅکله په بشپړه توګه پاک نه وي ځکه هر وخت له قدرت او پیسو سره تړلی وي. لکه یو سیاستوال چې وایي:

"سیاست د یو حساس ګل په شان دئ چې د وده کولو له پاره یو څه چټلۍ (سره) ته اړتیا لري".

# عمده مفاهیم

**اغېزمن، کمزوري او ناکام دولتونه :**

ټول دولتونه د دولت په شان کار نه ورکوي (د دولت په شان وظیفه سر ته نه رسوي)، ځیني دولتونه هیڅ کار نه ورکوي. یوازي دا چې یو هیواد خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرغ او په ملګروملتو کي چوکۍ لري دا نه ثابتوي چي دا ګواکي یو جدي دولت هم دئ. هیڅ یوې نړیوالي محکمې دولتونه د دوی د زور او قوت پر مبنا طبقه بندي کړي نه دي، مګر موږ درې کټه ګورۍ دولتونه لیدلای سو.

اغېزمن یعني مؤثر دولتونه خپل ټول قلمرو اداره کوي او مالیات ځني راټولوي. قوانینو ته زیاتره وخت غاړه ایښوول کېږي. حکومت د خلګو د هوسایني او امنیت له پاره کار کوي. اداري فساد پکښې تر ډېره حده کم وي. مؤثر دولتونه د بډایۍ پر لوري روان وي او زیات مالیات (د GDP په سلو کي له ۲۵ څخه تر بیا په سلو کي تر ۵۰ پوري) راټولوي. اغېزمن دولتونه جاپان، د امریکې متحده ایالات او لوېدیځه اروپا په بر کي نیسي. ځیني کسان د دې ډلي ډېر ښه دولتونه د (ډېرو اغېزمنو) دولتونو په کټه ګوري کي راولي.

د کمزوري دولتونو ځانګړ تیا دا ده، چي جرم په سیاست ورننوزي. څوک نه پوهېږي چي سیاست پر کوم ځای ختمېږي او جرم پر کوم ځای پیل کېږي. له حکومت سره دا واک نه وي چي د بې قانونۍ، د مخدره موادو له قاچاق، اداري فساد، غربت او له کنټروله وتلو جریاناتو سره مبارزه وکړي. عدالت په پیسو رانیول کېږي. د ډیموکراسۍ تبلیغ کېږي مګر عمل نه په کېږي او په انتخاباتو کي زیاتره وخت لاس وهل کېږي. ډېر لږ مالیات راغونډېږي. د طبیعي زېرمو عایدات، لکه په مکسیکو او نایجریا کي د تېلو عایدات، و شخصي جیبونو ته لوېږي. د اسیا، افریقا او لاتیني امریکا زیاته برخه کمزوري هیوادونه تشکیلوي. ځیني یې دومره کمزوري دي چي ناکامه دولتونه بلل کېدای سي.

ناکامه دولتونه اصلاً ملي حکومت نلري، که څه هم ځیني یې په لرلو تظاهر کوي. جنګسالاران، ملیشا او د تاریاکو قاچاقبران هر څه چي غواړي هغه کوي. بېله ټوپکه بل قانون وجود نه لري. د قلمرو د تجزیې وېره موجوده وي. معارف او روغتیایي چاري مخ پر کښته رواني وي. افغانستان، عراق او سومالیا د ناکامه دولتونو په ډله کي شاملېدای سي. یوازي خارجي مرسته او فشار دا دولتونه د له منځه تللو څخه را ګرزوي.

**جنګ او ملت جوړونه** :

ښکاره ده چي جنګ د دولت په تکامل کي رول لري. ډېر ملتونه د



فتوحاتو له لاري جوړ سوي او ټینګ سوي دي. د بدعت، بغاوت او تجزیه غوښتني جریانات د برچې په زور مات سوي دي. په ځینو سیمو کي اوس هم دا حال روان دئ.

د هر حکمران له پاره، د دولت پاینښت تر ټولو لومړی اهمیت لري. پاچهان او جمهور رئیسان دواړه، د خارجي حملې او داخلي تجزیې د مخنیوي له پاره هر هغه څه چي لازم وي سر ته رسوي. دوی له هر ډول تهدید سره د مقابلې له پاره نظامي قوت جوړوي او سمبالوي یې. د دې معنی دا ده چي دوی باید خپل سیاسي سیستم هم پراخ او عصري کړي.

تر ټولو مخکي، دولتونه باید په پرله پسې توګه مالیات زیات کړي څو د اردو او د هغه د وسایلو مصارف تادیه کړای سي. د روسیې ستر پیټر Peter the Great خپلو مامورینو ته امر وکړ، چي "پیسې، څومره چي امکان لري راغونډې کړئ، ځکه پیسې د جنګ شریانونه دي". د فرانسې پاچهانو د دولت د عایداتو د زیاتولو له پاره یو مرکانتلست (تجارتي) اقتصادي سیستم منځته راووړ، چي خپل صنایع یې زیات حمایه کول. د جنګ له پاره د پیسو راغونډولو اړتیا ځیني پاچهان دې ته مجبور کړل چي یو څه قدرت له پارلمان سره هم شریک کړي. د مالیاتو وضع کول د مقننه هیئت (مقننه قوه) لومړنی قدرت تشکیلوي. لومړي جېمز James I او لومړي چارلز Charles I، کله چي په اروپا کي د خپلو جنګونو د تمویل له پاره، د پارلمان له سلا پر ته مالیات وضع کړل، انګلستان یې داخلي جنګ ته ور ارتاو کړ. کله چي د انګلستان داخلي جنګ English Civil War بریالی پای ته ورسېدی، دپارلمان غړو په کال ۱۶۴۹ع کي د چارلز سر ورغوڅ کړ او په نتیجه یې کي د اولس کور House of Commons (د انګلستان ولسي جرګه) د تفوق له پاره لاره هواره کړه.

د ستري او ښه تره اردو له پاره اړتیا پاچهان و دې ته اړ کړل چي د خپل سلطنت په تنظیم او اداره کي سمون او پرمختیا راولي. دوي د مالیاتو او عسکرو ډېروالي ته اړه درلوده. په پنځلسمه پېړۍ کي د باروتو او توپونو تر منځته راتلو مخکي، فیوډالي خانانو د سلطان په مقابل کي په خپلو قصرونو کي د ځان دفاع کولای سوای. مګر کله چي پاچهانو زیات توپونه لاسته راوړل، دا قصرونه یې مات او فیوډالي خانان یې مطیع کړل. باروتو د فیوډالي سیستم د له منځه وړلو او د پاچهانو د مطلقه قدرت له زیاتوالي سره مرسته وکړه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مملکت په اداري او نظامي عصریت کي پاته راتلل د قدرت د لاسه ورکولو سبب ګرزېدای سوای. د وړو دولتونو په فتح کېدلو او په لویو دولتونو کي د دوی له یو ځاي کېدلو سره د اروپا نقشه هم ساده سوه. جنګ د عصریت او ټینګښت ستر انجن (محرکه قوه) وګرزېدی.

کله چي فرانسوي انقلابیون په کال ۱۷۹۲ کي له مسلکي عسکري یرغلګرو سره مخامخ سول، دوی ټول اولس د د فاع له پاره چمتو کړ او یرغلګرو ته یې ماتي ورکړه. ناپلیون له دې نوي نېشنلیزم شخه په ګټه اخیستلو او و عسکری ته د ټولو ځوانو نارینه وو په جلبولو سره (عسکري جلب چي په هغه وخت کي یوه نوې ایډیا وه) د اروپا تر ټولو ستره اردو جوړه کړه او د ټولي اروپا د فتح کولو له پاره یې ملا وتړله. د ناپلیون له لښکر سره د مقاومت له پاره، د نورو اروپایي هیوادونو مخ هم نېشنلیزم او عسکري جلب [draft] ته سو.

اروپایي دولتونو د خپلو وسلو په زور، خپل دولتي سازمان، تکنالوجي، او نیشنلیزم پر اسیا، افریقا، او منځني ختیځ هم وغوړاوه. عنعنوي هیوادونه، یو په بل پسې د اروپایانو لاسته ورغلل او د اروپایانو سیسټم یې ومانه. جاپان او ترکیه چي د اروپایانو لاسته ونه لویدل، ځانونه یې په عصریت دومره سمبال کړل څو وکولای سي د اروپایانو مخه ونیسي.

### د ارسطو د حکومت شپږ ډولونه:

د حکومت تر ټولو پخوانی او مشهوره طبقه بندي ارسطو د قبل المیلاد په څلورمه پېړۍ کي کړې ده. ده د مشروع حکومت درې ډولونه (چي حکمران واکمن د ټول اولس په ګټه عمل کوي) او درې فاسد ډولونه (چي په هغه کي حکومت یوازي د ځان په ګټه کار کوي) سره تشخیص کړي او بېل کړي دي.

مونارکي (شاهي دولت)، د ارسطو په عقیده، هغه ده چي یو شخص د ټولو په ګټه عمل کوي. مګر مونارکي، د استبداد او فساد شکل اخیستلای سي چي په هغه کي یو واحد حکمران له قدرت شخه یوازي د خپل ځان په ګټه کار اخلي. اریستوکراسي (اشرافیت)، چي د یوناني کلمې (aristos) شخه، چي د اشرافو معنی ورکوي، اخیستل سوې ده، د ټولو په ګټه د څو تنو حکمراني ده. مګر د یوې نخبه ډلي مشروع حکمراني د اولیګارشي (د څو کسانو حکومت)



فاسد شکل اخیستلای سي چي په هغه کي یو څو تنه یوازي په خپله ګټه عمل کوي.

ارسطو پولیټي polity (چي موږ یې د اساسي قانون ډیموکراسي بللاي سو) چي د ټولو په ګټه د ډېرو حکومت دئ، د حکومت تر ټولو غوره شکل بولي. ټول اتباع د لیډرانو په ټاکلو او د قوانینو په جوړولو کي برخه اخلي، مګر د اساسي قانون ټاکلې کړنلاره د ټولو خلکو د حقوقو ساتنه کوي. ارسطو دا اخطار هم ورکوي چي پولیټي یو فاسد شکل، چي ډیموکراسي ده، اخیستلای سي چي په هغه کي ډېری (اکثریت) د خپلو ځانونو په ګټه عمل کوي چي دا د حکومت ناوړه ترین شکل دئ. په دې تېرایستونکي فکر چي ګویا یو شخص دومره ښه دئ لکه بل شخص (یعني ټول خلګ ښه دي)، په ډیموکراسي کي خلګ په فا سدو، خودخواه او تېر ایستونکو لیډرانو پسي ځي چي هغوی د خواریکښو او لایقو خلکو ملکیت چور او تالا کوي. د ارسطو دا طبقه بندي، چي د پنځه ویشتو پېړیو له پاره چلېد لې ده، همدا اوس هم ګټوره ده او لنډیز یې په لاندي ډول کېدای سي:

| څوک حکومت کوي | مشروع اشکال<br>چي د ټولو په ګټه عمل کوي | فاسد اشکال<br>چي د ځان په ګټه عمل کوي |
|---|---|---|
| یوشخص | مونارکي | استبداد |
| یوڅوتنه | اریستوکراسي | اولیګارشي |
| زیات اشخاص | پولیټي | ډیموکراسي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو خلکو، چې دوی یې په دې تور تورن کړي وه دعوه وکړي؟ څرنګه کولای سو د سیاسي قدرت حدود وټاکو او څرنګه کولای سو د اکثریت د غوښتنو او د افرادو او اقلیتونو د حقوقو تر منځ توازن منځته راوړو؟ د دې کار له پاره د عنعناتو، قوانینو او تر ټولو مهم د ملي اساسي قوانینو لخوا ځیني لارښووني منځته راغلي دي چې د حکومت کولو اساسي کړنلاري راښیي.

**په اوسنۍ نړۍ کې اساسي قوانین:**

په عادي توګه، اساسي قانون یو لیکلی سند دئ چې د یوه سیاسي سیستم د جوړښت عمده ټکي بیانوي. پولیټکل ساینټستان (اساسي قانون) د یو لړ قواعدو او دودونو په توګه تعریفوي چې د هغه پر اساس حکومت خپلې چارې پر مخ بیایي. دا قواعد او دودونه ښایي لیکلي یا نالیکلي وي، ښایي د یوې قانوني پروسې له لارې وضع سوي وي او یا هم تر قانوني پروسې دباندې منځته راغلي وي. تقریباً ټول ملتونه ځانته اساسي قوانین لري ځکه دوی د ځینو ټاکلو قواعدو له مخې خپلې چارې پر مخ بیایي. په بې نظمو، فاسدو، او یا هم استبدادي سیستمونو کې، ښایي پر اساسي قوانینو دومره حساب ونه سي. افغانستان، چې وسله والو قبیلو او جنګسالارانو سره ویشلی دئ، په دې نه دئ توانېدلی چې خپل نوی اساسي قانون تطبیق کړي. په کانګو کې (پخوانی زایر)، موبوتو هیڅ هغه شي ته چې د هیواد له شتمنۍ څخه د ده د غلا مخه یې نیوله، اجازه نه ورکوله. په کال ۱۹۳۶ع کې سټالین، کټ مټ هغه وخت چې خونړۍ تصفیه یې پیل کړه، د شوروي اساسي قانون یې منځته راووړ، چې د کاغذ پر مخ ډېر ښه ښکارېدی. د برتانیې او اسرائیلو په شان یو څو هیوادونه بیا یو واحد لیکلی سند نه لري مګر بیا هم دواړه هیوادونه ځانته اساسي قوانین لري. د برتانیې دودونه، قوانین، قضایي تعاملات او عنعنات، چې د پېړیو په جریان کې یې تکامل موندلی دئ، دومره قوي دي چې د برتانیې حکومت ځان هغو ته مکلف بولي. ځکه نو ویلای سو چې برتانیه هم اساسي قانون لري.

اوس د ډېرو هیوادو په اساسي قوانینو کې فردي حقوق او آزادي ګاني په څرګنده توګه بیان سوي دي. د امریکې د متحده ایالاتو په اساسي قانون کې دا کار ډېر پخواسوی دئ، مګر کاناډا خپل د حقوقو او آزادي ګانو منشور یوازې په کال ۱۹۸۲ع کې لاسته راووړ. برتانیې دې ته معادل شی یوازې په کال

# څلرم فصل

**افراد (خلګ) او اساسي قوانین:**

ملت ډېر سخت په زړه زخمي سوی دئ او دښمنان د لا زیات تاوان په فکر کې دي. خلګ امنیت او انتقام دواړه غواړي. کېدلای سي چې په داسې یوه حالت کې، چې اضطراري حالت بلل کېږي، د اساسي قانون عمده حقوق محدود کړه سي؟ آیا ملت باید د تروریستانو په وړاندې، چې د امریکې له آزادۍ څخه په استفاده کولو سره یې یو بې ساری ټروریستي عمل سر ته ورساوه، بې دفاع او غلی پاته سي؟ دا هغه سوال و، چې د امریکې د متحده ایالاتو حکومت د ۲۰۰۱ع کال د سپتمبر تر یوولسمې وروسته ورسره مخامخ و. په ډېر تلوار سره یې د وطن پالني قانون Patriot Act تصویب کړ، چې د هغه له مخې حکومت د هغو کسانو څارنه زیاته کړه چې تر اشتباه لاندې راتلل. د امریکې د متحده ایالاتو په تاریخ کې دا لومړی ځل نه و، چې په دا ډول له تشنج څخه ډک حالت کې د خلګو پر آزادي ګانو باندې بندیزونه ولګول سول.

هر سیاسي سیستم، په تېره بیا تر فشار لاندې حالاتو کې، د قدرت د ټینګښت او محدودولو له ستونزې سره مخامخ کېږي. د حکومت د اقتدار او مدني آزادیو تر منځ او همدارنګه د اکثریت د غوښتنو او د اقلیت د حقوقو تر منځ مناسب توازن ساتل څه اسانه کار نه دئ.

په امریکا کې ډېر خلګ ښایي دا ومني چې د سترې محکمې تصمیم پخپله قانون دئ حتی که د کانګرس خوښه هم نه وي. مګر ډېر خلګ ښایي دا ونه مني چې هغه مسلمانان چې په هوایي ډګر کې لمونځ کوي باید الوتکې ته په دې اشتباه پرې نه ښوول سي چې دوی به ښایي په الوتکه کې بمب کښېږدي. آیا د هغو خلګو خاصه څارنه ځکه باید وسي، چې څېرې یې د منځني ختیځ اوسېدونکو ته ورته دي او دوی به ښایي، یوازې ښایي، تروریستان وي؟ او که چیرې دوی ټروریستان نه وي آیا دوی کولای سي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۰۰ع کې هغه وخت تر لاسه کړ، چې برتانیې د اروپا د بشر د حقوقو تړون ومانه. تر دې دمخه، د برتانیې حقوق او آزادي ګاني دومره ښکاره او روښانه نه وې.

له اساسي قوانینو څخه داسي توقع کېږي چې د حکومت تشکیلات، مؤسسات، او حدود وټاکي او د اقلیت او اکثریت د ګټو تر منځ توازن منځته راوړي. مګر ټول اساسي قوانین داسي نه کوي. سیاست پوهان نه یوازي هغه څه څېړي چې لیکل سوي وي، بلکي هغه څه چي په عمل کي تطبیقېږي، هم څېړي. د امریکې اساسي قانون، د مثال په توګه، ډېر لنډ دئ او ډېر شیان یې ناویلي پرې ایښي دي. د دې اساسي قانون اووه مادې تر ډېره حده د دولت د هري څانګي اقتدار ټاکي، وروستني یوویشت ضمایم یې په پراخه توګه مدني حقوق تعریفوي مګر ډېر شیان یې و تفسیر ته آزاد پرې ایښي دي.

په مقابل کي بیا، ډېرو هغو هیوادونو چي تر دوهمي عمومي جګړې وروسته استقلال ګټلی دئ، داسي اساسي قوانین جوړ کړي دي چي د پام وړ جزئیات لري. تر جنګ وروسته د جاپان اساسي قانون، چي په کال ۱۹۴۶ع کي په جاپان کي د امریکې د نظامي حکومت لخوا په پنځو ورځو کي تسوید سو، یوازي د خلکو د حقوقو او وظایفو په باب څلویښت مادې لري چي د کار حق، د آبرومنده ژوند حق، او د اجتماعي امتیازاتو حق په بر کي نیسي. تر جنګ وروسته د جرمني د اساسي قانون لومړۍ ماده هم د حقوقو یو اوږد لیست لري، چي نه یوازي اساسي حقوق او آزادي ګاني په بر کي نیسی بلکي همدارنګه، د دولت لخوا د ښووني او روزني د سیسټم او د اقتصاد څارنه او کنټرول په دې اوږده لیست کي شامل کړه سوي دي.

د برازیل د ۱۹۸۸ع کال اساسي قانون ډېر حقوق راڅر ګندوي. په هفته کي څلوېښت ساعته کار، د روغتیا او تقاعد پلانونه، حد اقل مزد (معاش)، حد اکثر سود، د محیط حفاظت او داسي نور زیات حقوق، چي د برازیل کمزوری اقتصاد یې تر عهده نه سي وتلای. اوس ډېر کسان په دې عقیده دي چي دا دومره زیات ټولنیز او اقتصادي حقوق باید له لومړي سره د برازیل په اساسي قانون کي نه وای داخل کړه سوي، دا ډول حقوق په نورو قوانینو اړه لري او یا هم باید آزاد بازار ته ورپرېښوول سوي وای. په نویو اساسي قوانینو کي د داسي حقوقو داخلول، چي عملي کېدای نه سي، معمول څکه دئ چي تسوید کوونکي



یې فکر کوي دوی اجتماعي او اقتصادي مشکلات اصلاح کولای سي.

برتانیه ښایي بې له لیکلي اساسي قانون څخه ژوند وکړای سي، که څه هم اوس د برتانیې حکومت د یوه لیکلي اساسي قانون دتسوید په تکل کي دئ. د امریکې متحده ایالات بیا د یو ډېر عمومي اساسي قانون سره کارونه سر ته رسولای سي. په برتانیه او هم د امریکې په متحده ایالاتو کي، جزئیات د وخت له تېرېدلو سره تکمیل سوي دي. مګرپه دې راوروسته کلونو کي منځته راغلیو ملتونو ډېر اوږده لیکلي اساسي قوانین جوړ کړي دي چي هر شی یې په ډېر تفصیل پکښې ځای کړی دئ.

**د اولس لوړترین قانون:**

ملتونه اساسي قوانین په هماغه دلیل منځته راوړي لکه د بین النهرین قانونګذار هامورابي Hammurabi چي د بابل له پاره درلود او هغه دا چي غوښتل یې د اولس دعالیترین قانون بنسټ کښېږدي. اساسي قوانین د ټولني اساسي او مهم قوانین دي چي په اسانۍ سره باید تغیر پکښې رانه وستل سي. په یوه هیواد کي اساسي قانون داسي یو معیار دئ چي د هغه پر اساس د حکومت او یا هم د خلکو فعالیتونه ارزیابي کېږي. مقننه قوه کولای سي سږکال یو قانون جوړ کړي او بل کال یې لغوه کړي، مګر په اساسي قانون کي تغیر راوستل قصداً ډېرمشکل کړه سوی وي. په سویډن کي، د اساسي قانون تغیرات باید د عمومي انتخاباتو په شمول د پارلمان د دوو پرله پسې دورو لخوا تصویب سي. د امریکې د متحده ایالاتو په اساسي قانون کي تغیرراوستل تر دې لا هم مشکل دئ. ډېر عام طرزالعمل یې دا دئ چي د سنا او اولسي جرګې دوه پر دریمه برخه یې باید تصویب کړي وروسته یې باید د ایالتي پارلمانو د استازو درې پر څلورمه برخه هم تصویب کړي. دا چي د امریکې په اساسي قانون کي د کال ۱۷۹۱ راپه دې خوا یوازي اوولس واره تغیرات راغلي دي، دا ښیي چي د دې کار طرزالعمل څومره مشکل دئ.

**د اساسي قانون عمومي ماهیت:**

څرنګه چي اساسي قوانین، که هرڅومره په تفصیل ترتیب سوي هم وي، ټول حقوقي او اداري مسایل او مشکلات په بر کي نیولای نه سي. څکه نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو ځايونو کې د اساسي قانون محکمه منځته راوړل سوې ده څو وکولای سي په ټاکلو حالاتو کې د لوړترين قانون (يعني اساسي قانون) تفسير وکړي. د اساسي قانون د قضايي تفسير مفهوم په نړيواله سطحه کې يو نوی شی دئ، چې لومړی د امريکې په متحده ايالاتو کې منځته راغی او په دې وروستيو لسيزو کې نورو ځايونو ته هم پراخ سوی دئ. اساسي قانون بايد د ټاکلو پېښو پر وخت تفسير سي. څوک دا صلاحيت لري چې د اساسي قانون د عباراتو او جمله بنديو د تفسير په هکله تصميم ونيسي؟ په لومړي سر کې د امريکې متحده ايالاتو، او اوس تر ډېرشو زياتو هيوادونو دا مسئوليت د عاليترينې ملي محکمې پر غاړه وراچولی دئ. چې دا محکمه د قضايي بيا کتنې (تجديد نظر) قدرت لري او کولای سي د حکومت هغه اعمال چې دا محکمه يې د اساسي قانون خلاف وبولي، لغوه او باطل اعلام کړي. د قضايي بيا کتنې د قدرت په هکله هم مخالف او موافق نظريات وجود لري. په امريکا کې ډېرو منقدينو ستره محکمه (په تېره بيا هغه وخت چې ارل وارن Earl Warren له١٩٥٣ع څخه تر ١٩٦٩ع پورې د سترې محکمې قاضي و) په دې متهم کړه چې خپله شخصي فلسفه يې د مملکت د قانون په توګه تحميلوله. تر ډېره حده پورې په رشتيا سره هم، اساسي قانون هغه څه دي چې مفسرين يې تفسيروي، مګر ډېر وخت د عندي subjective تفسير خطرهم ورسره تړلی دئ.

همدارنګه، د جرمني د اساسي قانون فيډرالي محکمه چې د امريکې د سترې محکمې پر سيسټم جوړه سوې ده (مګر د امريکې له سترې محکمې سره يې توپير دا دئ چې دا محکمه شپاړس قاضيان لري) دا صلاحيت او وظيفه لري چې له اساسي قانون سره، چې دوی يې Grundgestez بولي، د ټولو قوانينو مطابقت يقيني کړي. مګر ټولو هيوادونو و سترې محکمې ته د قضايي بيا کتنې صلاحيت نه دئ ورکړی، ځينو هيوادونو دا قدرت مقننه قوې ته ورسپارلی دئ. په برتانيه کې يوازې پارلمان د اساسي قانون د تفسير صلاحيت لري.

**اساسي قوانين او د اساسي قانون مطابق حکومت کول:**

اساسي قانون تر ډېره ځايه په دې اړه لري چې څرنګه تفسيرېږي. دوه بېل ملتونه به سره ورته اساسي قوانين ولري مګر په عمل کې به بنايي بالکل



سره بېل وي. د سوېډن او ايټاليا اساسي قوانين سره ورته جوړښت لري، مګر د دوی سياسي کلتور ډېر سره بېل دئ. ځکه نو د دوی ليکلي قوانين په جلا توګه وظيفه اجراء کوي. اساسي قانون کېدای سي چې يوه افسانه وي. د شوروي اساسي قانون د دولت يو چوکاټ درلودی چې د اولسي جرګې او سنا څخه جوړه مقننه قوه يې درلوده او اجرائيه او اداري واک د وزيرانو شورا ته ورکړه سوی و، چې و يوې کابينې ته ورته وه. اولس ته هم د ډيموکراټيکو حقوقو يو اوږد ليست منل سوی و. په واقعيت کې، د فردي حقوقو په ګډون، هرڅه د کمونست ګوند د لوړپوړي ډلې په کنټرول کې وه.

د اساسي قانون مطابق Constitutionalism معنی دا ده چې د حکومت واک محدوديت ولري. دا کار د انګلستان له مګنا کارټا Magna Carta څخه راپيل سوی دئ چې په کال ١٢١٥ع کې د انګلستان اشرافو پاچا د هغه په امضا کولو مجبور کړ. دا ستر منشور [مګنا کارټا] د ډيموکراسۍ يادونه نه کوي او صرف د پاچا واک محدودوي. مګر د پېړيو په جريان کې، له هغه څخه په برتانيه، د امريکې په متحده ايالاتو او کاناډا کې دډيموکراسۍ او فردي آزادي ګانو د خپرولو او پر مخ بيولو له پاره کار اخيستل سوی دئ. هغه ملتونه چې له اساسي قانون له مخې اداره کېږي، قوانين او حقوقي مؤسسات يې د حکومت په قدرت کې محدوديت راولي څو د خلګو اساسي حقوق تر پښو لاندې نه سي. له بلې خوا، مطلقه او استبدادي حکومتونه په اساسي قانون محدود نه دي، که هر څو هم په اساسي قانون کې يې ذکر سوی وي، خو افراد او اقليتونه د حکومت د خپل سره اعمالو په وړاندې د ډېر لږ حمايت څخه برخورداره وي. په ١٩٧٠ع کلونو کې، د چيلي او ارجنټاين په رژيمونو کې په زرهاوو تورن چپي عناصر، سره له دې چې په اساسي قانون کې د بشري حقوقو وعده ورسره سوې وه، [ورک] سول (يعني شکنجه او ووژل سول).

**د اساسي قانون هدف:**

که ځيني ملتونه په هغه څه چې په اساسي قوانينو کې ليکل سوي دي عمل نه کوي، نو ولي ځان ته د اساسي قانون د ليکلو تکليف ورکوي؟ اساسي قوانين يو لړ دندې سرته رسوي: اساسي قوانين په ليکلي توګه د ملي ايډيال (ارمان، نصب العين) سمبوليک شکل وړاندې کوي، د دولتي تشکيل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساختمان فورمولبندي کوي، او همدارنګه اساسي قوانین هڅه کوي د حکومت د حکمروايي کولو حق تصدیق کړي.

د ملي ایډیال په توګه، د امریکې د متحده ایالاتو د اساسي قانون د مقدمې preamble له مخې، د امریکې ملت و شپږو اهدافو ته وقف دئ: د لا زیات بشپړ وحدت منځته راوړل، د عدالت منځته راوړل او قایمول، د آرامۍ او سوکالۍ تضمین، د ملت ګډه دفاع، د ټولو خلکو د عمومي هوساینې له پاره هڅه کول، او د اولس د آزادۍ ساتنه. د ملي ایډیال په توګه، د شوروي د ۱۹۷۷ع کال اساسي قانون اعلام وکړ، چې شوروي اتحاد یوه (پرمختللې سوشیالیستې ټولنه) ده چې یوه بې طبقې یوتوپیا (خیالي نړۍ) به منځته راوړي. د ملي ایډیال په توګه، د المان د فیدرالي جمهوریت اساسي قانون هڅه کوي د نازي حکومت هر ډول اثرات له منځه یوسي، پرېکړه کوي چې د نړۍ د سولې له پاره به خدمت کوي، او په ډاګه دا اعلاموي چې د المان د خلکو هیڅ ګروپ به له الماني تابعیت څخه محروم نه کړه سي، چې البته دا د هټلر د نورنبرګ د قانون په مقابل کې یو عکس العمل دئ چې د هغه قانون له مخې په سلهاوو زره المانیان له تابعیت څخه محروم سول.

د اساسي قانون مقدمې او د حقوقو لیستونه سیمبولیکي څرګندوني دي چې د اساسي قانون د تدوینوونکو (لیکونکو) د ارزښتونو، ایډیالونو او اهدافو ښکارندویي کوي. مقدمې ډېر عمومي شکل لري او په دې پوري اړه لري چې څرنګه تفسیرېږي. مثلاً د امریکې په اساسي قانون کې د "لا زیات بشپړ وحدت منځته راوړل" څه معنی لري؟ د امریکې داخلې جنګ د همدې پوښتنې په هکله د مناقشې په نتیجه کې منځته راغی. په اساسي قانون کې د "عدالت منځته راوړل او قایمول" یعني څه؟ عدالت څه شي دئ، او آیا عدالت د ټولو اتباعو له پاره یو شان دئ؟ دا چې امریکایي افریقایان (په امریکا کې تور پوستان امریکایي افریقایان بولي) د دوو پېړیو له پاره د مساوي حقوقو څخه محروم کړه سوي وي، نو اوس باید دوی ته په پوهنتون کې د شامیلدو او هم د کار په برخه کې امتیاز ورکړه سي؟ اساسي قانون یو ملي ایډیال دئ مګر د اهدافو او ارزښتونو تفسیر یې ځینو تصامیمو ته اړتیا لري (یعني په تفسیرپوري اړه لري).

اساسي قانون همدارنګه یوه لیکلې تشریحي نقشه ده، چې د حکومت د



غړو دندې پکښې ټاکل سوي وي، د دولت د بېلابېلو قواوو صلاحیت او محدودیت پکښې تعریف سوی وي، او هم د مخالفتونو د رامنځته کېدلو په صورت کې د حل مناسبې او منظمې لارې چارې راته څرګندې وي. د امریکې اساسي قانون له لومړۍ څخه تر دریمې مادې پورې د کانګرس، جمهور رئیس او قضائیه قوې د وظایفوکُلي تشریح کوي. کانګرس کولای سي مالیات او ګمرکي محصولات ټول کړي، مګر پر صادراتو باندې محصول نه سي وضع کولای. جمهور رئیس د نظامي قواوو اعلی قومندان نومول سوی دئ، مګر د معاهداتو د انعقاد له پاره باید د سنا (مشوره او موافقت) تر لاسه کړي. په یوه سیسټم کې چې د قواوو تفکیک موجود وي، اساسي قانون د دولت د بېلابېلو قواوو د صلاحیتونو او مسئولیتونو وېش سر ته رسوي او هم د هرې څانګې قدرت محدودوي.

بل هیڅ اساسي قانون د امریکې په شان د "checks and balances" څخه کار نه اخلي، ډېر یې حتی د قواوو پر وحدت تأکید کوي. لږ هیوادونه دي چې د قدرت له تمرکز څخه د امریکې د بنسټ ایښوونکو پلرونو په شان کرکه کوي. د روسیې د ۱۹۹۳ع کال اساسي قانون جمهور رئیس ته ډېر زیات او پارلمان، دوما Duma، ته ډېر لږ قدرت ورکړی دئ او ډېر لږ روسان په دې بې توازنۍ باندې اندېښمن دي. حتی ډېر روسان د انارشۍ د مخنیوي او اقتصادي ثبات له پاره یو قوي جمهور رئیس خوښوي، چې په سر کې واقع وي. دا چې یو اساسي قانون څرنګه عملي کېږي، لکه مخکې چې وویل سول، د یوه هیواد په سیاسي کلتور پوري ډېره اړه لري.

له بلې خوا، اساسي قانون د مرکزي او منطقوي یا محلي حکومتونو تر منځ د قدرت وېش هم ټاکي. په فیډرالي سیسټم کې، قدرت او مسئولیتونه د مرکزي حکومت او ایالتي او ولایتي حکومتونو تر منځ وېشل سوي وي. المان او استرالیا، د امریکې د متحده ایالاتو غوندې، فیډرالي سیسټمونه دي. د دوی اساسي قوانینو مرکزي حکومت ته د خارجي پالیسۍ، دفاع او د پیسو د چاپولو د چارو کنټرول ورسپارلی دئ. د مثال په توګه، د المان د بواریا Bavaria اولس خپله خارجي پالیسي نه سي ټاکلای او د امریکې په متحده ایالاتو کې ټکساس Texas خپلې پیسې نه سي چاپولای. ټاکلي صلاحیتونه مرکزي دولت ته سپارل سوي او نور بیا ایالت یا ولایت ته پرېښوول سوي دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکې د متحده ایالاتو په اساسي قانون کي دا وېش یو عمومي شکل لري، هر هغه قدرت او صلاحیت چې مرکزي حکومت ته نه دئ ورسپارل سوی هغه په ایالاتو پوري اړه لري. ایالتونه عموماً معارف، پولیس، روغتیایي چارې، او محلي تجارت کنټرولوي. د قدرت دا ډول وېش په دې وروستیو کلونو کي دومره واضح نه دئ، ځکه چې فیډرالي حکومت د معارفو، روغتیا او داسي نوري چارې هم پر غاړه اخیستي دي.

ډېر هیوادونه توحیدي unitary سیستمونه لري، په دې معنی چې دوی قدرت په منطقوي اساس وېشلی نه دئ بلکي قدرت یې د مملکت په پایتخت کي متمرکز کړی وي. د توحیدي سیستمونو په اساسي قوانینو کي، لکه په فرانسه کي، ځیني منطقوي اختیارات مشخص سوي وي، مثلاً ځیني سیمي کولای سي چې مالیات وضع کړي، منطقوي جرګې انتخاب کړي او یا د سیمي د انکشاف له پاره پلانونه جوړ کړي. توحیدي سیستمونه د مرکز او ولایاتو تر منځ د قدرت په توازن پسي نه ګرزي، مګر بیا هم بنایي ځیني سیمو ته څه اختیارات ورکړي. دا سیستمونه بنایي ځیني موجوده ولایتونه او سیمه ییز اداري واحدونه سره ګډ، سره جلا او یا یې له منځه یوسي، مګر دا کار په فیډرالي سیستم کي نه سي کېدلای ځکه هر اداري واحد خپل حقوقي او قانوني وجود لري.

اساسي قانون همدارنګه بنایي یو حکومت ته سمبولیک او یا هم عملي مشروعیت وروبخښي. ډېر ملتونه یو دولت تر هغو پوري په رسمیت نه پېژني چې یو لیکلی اساسي قانون یې منځ ته راوړی نه وي . دا ځکه چې اساسي قانون د دوام او مسؤلیت ښکارندوی وي. د امریکې د متحده ایالاتو د کانفیډرېشن قانون او تر هغه راوروسته اساسي قانون، د امریکې د استقلال ښکارندوی و. زیاتره اساسي قوانین په رژیم کي د عمده تغیراتو تر منځته راتلو وروسته لیکل سوي دي څو وکولای سي د نوي رژیم د واکمنۍ حق تثبیت کړي. د یوه رژیم تر له منځه وړلو وروسته د اساسي قانون جوړوونکې یوه جرګه constituent assembly (دا د فغانستان لویي جرګې ته ورته ښکاري) منځته راځي څو نوی اساسي قانون ولیکي. د هسپانیې پارلمان چې په ۱۹۷۷ع کال کي انتخاب سوی و، ځان یې په اساسي قانون جوړوونکې جرګې واړاوه څو وکولای سي د فرانکو Franco سیستم لغوه کړي او پر ځای یې د کال ۱۹۷۸



اساسي قانون منځته راووړ. کله چې یې دا دنده سر ته ورسوله، بیرته و کورتس cortes یعني عادي پارلمان ته راواوښت. په کال ۱۹۹۰ع کي، د بلغاریا خلګو یوه ۴۰۰ کسیزه ستره ملي جرګه انتخاب کړه څو تر کمونستي رژیم وروسته نوی اساسي قانون ولیکي. کله چې یې دا کار سر ته ورساوه، په کال ۱۹۹۱ کي د بلغاریا خلګو د ملي جرګې ۲۴۰ کسیزه پارلمان وټاکی. د طالبانو تر له منځه وړلو وروسته، افغاني ډلي په یوه لویه جرګه کي، چې د افغانستان عنعنوي اساسي قانون جوړوونکې جرګه ده، سره راغونډ سول چې د ۲۰۰۴ع کال نوی اساسي قانون جوړ کړي. مګر، جنګسالاران، چې د افغانستان د ډېرو برخو اداره یې په لاس کي ده، دا اساسي قانون په باک نه راوړي.

په اساسي قوانینو کي د عنعناتو، او نوي قوانینو له امله بدلون راوستل کېږي. د مثال په توګه، د امریکې د متحده ایالاتو په اساسي قانون کي د سیاسي ګوندونو یادونه نه ده سوې، مګر بیا هم ګوندي سیستم د امریکې د سیاسي جریان یو منل سوی اړخ تشکیلوي. قضایي تعاملات او حکومتي دود و دستور هم د ټولني اساسي قوانین جوړوي. اساسي قوانین باید له وخت سره د تطابق کولو لپاره د تغیر قابلیت ولري.

## آیا اساسي قانون د حقوقو تضمین کولای سي؟

د دوهمي عمومي جګړې په دوران کي، نازیانو په ملیونو خلګ تري تم کړل، جاپاني لښکرو چین لوټ او تالا کړ. په عکس العمل کي یې، نړۍ د دې ډول دهشت او وحشت د مخنیوي له پاره ګامونه اوچت کړل. په کال ۱۹۴۸ع کي، د ملګروملتونو عمومي اسمبلې، د بشر د حقوقو جهاني اعلامیه تصویب کړه. دا یوه سمبولیکه (چې واقعي اجرائیه قدرت نه لري) اعلامیه ده او داسي بنسټیز مفاهیم او معیارونه پکښې ځای سوي دي چې ډېر دولتونه نه غواړي په اسانۍ سره سرغړونه ځني وکړي. هغه هیوادونه چې سرغړونه ځني وکړي (د مثال په توګه ماوتسه تونګ په ملیونونو چینایان مړه کړل، صدام حسین پر خپلو عراقیانو زهري ګاز استعمال کړ، لورینت کابیلا په کانګو کي پر قبیلوي قتل عام سترګي پټي کړې) نو د نړیوالي مرستي او تجارت په برخه کي له تجرید سره مخامخ کېږي. که څه هم د بشري حقوقو د معیارونو ټاکنه په مستقیمه توګه عملي کېدونکې نه ده، سره له دې هم موږ دې ته هڅوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه او پلټنه یې وکړو. دا جهاني اعلامیه، چې د فرانسې د حقوقو د اعلامیې او د امریکې د آزادۍ د اعلامیې په تقلید منځته راغلې ده، عمده مدني او بشري حقوق په قطعي توګه تصدیقوي چې حکومتونه یې په خپل سر او په زور سره له چا څخه اخیستلای نه سي. دا اعلامیه مدني او بشري حقوق، د ژوند حقوق او همدارنګه د غونډې کولو، بیان، مذهب او سیاسي برخې اخیستنې آزادي ګاني په بر کې نیسي. په جهاني اعلامیه کې همدارنګه ډېرې اقتصادي او کلتوري اړتیاوې هم شاملې دي، چې هغه د کار کولو، تعلیم کولو، واده کولو، فامیل درلودلو اولویولو او د فامیل د اړتیاوو د پوره کولو له حقوقو څخه عبارت دي. د خپل کلتور مطابق ژوند کولو حق هم په جهاني اعلامیه کې داخل دئ. د دې ټولو حقوقو عملي کول تقریباً ناممکن کار دئ او لږو کسانو یې د عملي کولو هڅه کړې ده. حقیقت دا دئ چې د حقوقو او آزادي ګانو تعریفول او مشخص کول ډېر ګران کار دئ او ټول ملتونه مدني آزادي ګاني په یوه او بل شکل ایساروي. د اقلیتي ډلو ستونزه نړیوال شکل لري. په اروپا کې د مدني حقوقو تر ټولو جدي ستونزه له جتانو Gypsies سره ده، چې تقریباً په هر ځای کې په نفرت او کرکه ورته کتل کېږي.

## اقلیتي ګروپونه او مدني آزادي ګاني:

ډېر لږ ملتونه متجانس شکل لري. ډېر یې د نژادي، ایتنیکي، مذهبي، کلتوري او ژبني پلوه د متفاوتو اوسېدونکو څخه جوړ سوي دي او د دوی مدني یا کلتوري آزادي ګاني زیاتره وخت له خطر سره مخامخ کوي. د امریکې د متحده ایالاتو د فلوریډا په ایالت کې هیتیان Haitians او په کالیفورنیا کې چیکانو Chicanos تر څو چې انګرېزي ژبه زده نه کړي په ناوړو شرایطو کې ژوند کوي. په برتانیه کې هندیان او پاکستانیان، په فرانسه کې الجزایریان اوپه جرمني کې ترکان تر فشار لاندي دي څو له مسلط کلتور سره تطابق وکړي. مګر جهاني اعلامیه وایي چې اقلیتونه حق لري خپل کلتور وساتي. په داسي حالاتو کې، آیا جهاني اعلامیه عملي کېدای سي او یا دا چې باید عملي سي؟ د امریکې په متحده ایالاتو کې د (څو کلتورۍ multiculturalism) مناقشه په دې سوال پورې تړلې ده: آیا د امریکې متحده ایالات باید هر ایتنیکي ګروپ پر خپل حال پرېږدي؟ آیا د دې هر یوه ګروپ کوچنیان حق



لري چې پخپله مورنۍ ژبه د زده کړې شرایط ورته برابرسي؟ په کال ۱۹۹۸ کې، د کلیفورنیا د ایالت اکثریت رایه ورکوونکو، د اکثریت لاتینیانو (په امریکا کې دا خلک هسپانیشان بلل کېږي) په شمول، ۲۲۷ لمبر قانوني پیشنهاد تصویب کړ، چې د هغه له مخې په ښوونځیو کې په دوو ژبو زده کړه پای ته ورسېده او انګریزي ژبه د زده کړې یوازنۍ معیاري ژبه سوه. آیا په دې ځای کې حقوق تر پښنو لاندي سول؟ او یا که حقوق پر مخ ولاړل؟ د امریکې ډېر هسپانوي ژبي اوسېدونکي غواړي اولادونه یې انګرېزي زده کړي.

## په امریکا کې د بیان ازادي:

د امریکې د متحده ایالاتو د حقوقو د اعلامیې لومړۍ ضمیمه وایي چې: "کانګرس باید داسي قانون جوړ نه کړي چې ... د بیان آزادي، یا د مطبوعاتو آزادي او یا هم د سوله ییزې غونډې کولو آزادي محدوده کړي". امریکایان د بیان آزادي د ډیموکراتیک ملت نښانه بولي. هغه خلک چې حکومت بد او یا خراب بولي، باید په ډاګه همداسي وویلای سي. د حکومت یا مذهب پر ضد یو هنري کار (مثلاً یو تصویر، کارتون) باید د حکومت د مداخلې او څېړنې سبب ونه ګرزي.

دا خبره اسانه ښکاري مګر اسانه نه ده. آیا د پوهنتون په ساحه کې یو متعصب زده کوونکی دا حق لري چې د افریقایي امریکایانو پر ضد نفرت راوپاروي؟ (په امریکا کې تورانو ته افریقایي امریکایان ویل کېږي). آیا یوه ورځپاڼه دا حق لري چې داسي معلومات خپاره کړي چې ملي امنیت ته زیان ورسوي؟ موږ ټول ښایي د بیان د آزادۍ حق ته عقیده ولرو، مګر پر دې خبره به هم قناعت ولرو، چې د هر څه له پاره حدود وجود لري. د بیان په آزادي کې دا حق شامل نه دئ چې یو څوک زیانمن او ناوړه غلط معلومات خپاره کړي، مثلاً پولیس ته اطلاع ورکړي چې په پلاني کور کې مخدره مواد سته مګر هغه حقیقت ونه لري.

## د بیان آزادي او فتنه ګري:

د نارضایتۍ او بغاوت د منځته راوړلو په مقصد د حکومت او حکومتي مقاماتو انتقادول فتنه ګري SEDITION بلل کېږي. د امریکې د متحده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايالاتو حکومت د حقوقو د اعلاميې له تصويب راهيسي ځو ځله د افراطي بيانونو د بندولو او شنډولو له پاره د فتنه ګرۍ له قانون څخه کار اخيستی دئ. د امريکې کانګرس د فتنه ګرۍ لومړی قانون په کال ۱۷۹۸ کې تصويب کړ. دا قانون د فرانسې د انقلاب امريکايي مدافعينو ته متوجه و، ځکه چې په دې وخت کې د امريکې د متحده ايالاتو دولت له فرانسې سره په يوه نا اعلان سوي جنګي حالت کي واقع و. داسي فرض سوې وه چې دا قانون به هغه وخت ختمېږي چې د جمهور رئيس جان ادمز John Adams د جمهوري رياست دوره پای ته ورسېږي. دې قانون څه حقوقي شخړي رامنځته کړې مګر څرنګه چې ختم سو نو د ستري محکمې له خوا يې له اساسي قانون سره مطابقت ونه ازمويل سو. دوهم ځل د فتنه ګرۍ قانون د داخلي جنګ په دوران کي هغه وخت منځته راغی چي جمهور رئيس لينکن د جنګ د شمالي ايالاتو د مخالفينو د ځپلو له پاره له خپل جنګي صلاحيته کار واخيست. دا موضوع ستري محکمې ته وړاندي سوه، مګر ستري محکمې د ده د اعمالو په هکله له قضاوت کولو څخه ډډه وکړه، ځکه نو د دې قانون قانوني والی بيا هم ونه څېړل سو. تر داخلي جنګ وروسته ټول (سياسي بنديان) وبخښل سول.

**په شلمه پېړۍ کي د فتنه ګرۍ قوانين:**

د لومړۍ عمومي جګړې په دوران کي، په کال ۱۹۱۷ع کي، د جاسوسۍ قانون منځته راغی چي د قاضي هولمز Justice Holmes د (واضح او موجود خطر) دکتورين يي راوزېږاوه. دا هغه وخت و چي سوسيالسټانو او سوله غوښتونکو خلګ دې ته راپارول چي په عسکري کي له خدمت کولو څخه ډډه وکړي ځو په دې توګه په لومړۍعمومي جګړه کي د امريکې د متحده ايالاتو د شامليدلو مخه ونيسي. د دې قانون په وسيله د نظامي جلب او احضار په چارو کي د مداخله کولو هر ډول هڅي منع سوې. يو شمېر کسان د جاسوسۍ د قانون له مخي په کال ۱۹۱۹ع کي متهم سول. څو سوه کسان، د سوسيالسټ ګوند د مشر يوجين ډيبز Eugene Debs په شمول، تر دې قانون لاندي بنديان سول، مګر زيات يي تر جنګ وروسته خوشي سول.

په ۱۹۴۰ او۱۹۵۰ع کلونو کي، د فتنه ګرۍ قوانين و کمونيستانو ته متوجه سول. په ۱۹۴۰ع کال کي د سميت د قانون Smith Act، له مخي دا يو



جرم سو، چې څوک د تشدد له لاري د حکومت د له منځه وړلو هڅه وکړي او يا هم د ليکلو موادو د توزيع له لاري د دې ډول عمل غوښتنه وکړي او يا هم په خپله خوښه د داسي سازمانونو يا ډلو غړي سي چي د تشدد له لاري د حکومت د له منځه وړلو هڅه کوي. د سميت قانون ډېري مباحثې او مناقشې راپورته کړې، مګر تر کال ۱۹۵۱ع پوري يې لا هم د اساسي قانون له مخي قانونيت ونه ازمويل سو. مګر په همدغه کال ستري محکمې د امريکې د کمونست ګوند د مشرانو محکوميت تائيد او تصديق کړ، دا په داسي حال کي چي دوی د تشدد له لاري د حکومت د راپرځولو په هيڅ ډول څرګند عمل متهم سوي نه وه. قاضي القضات وينسن داسي حکم صادر کي چي "پخپله د توطئې موجوديت دئ چي خطر تشکيلوي، نه د څرګند عمل موجوديت او يا نه موجوديت". تر دې راوروسته د سميت د قانون د قانونيت (يعني دا چي د اساسي قانون مطابق دئ او کنه) په هکله نور احکام هم صادر سوي دي، مګر دا احکام يو له بله متفاوت وه. د مثال په توګه، په کال ۱۹۵۷ع کي د وارن محکمې Warren Court د امريکې د کمونست ګوند مشرانو ته برائت ورکړ او فيصله يې داسي صادره کړه چي د دې قضيې په هکله څرګند او ښکاره عمل وجود نه لري او يوازي مجرد او خيالي بغاوت وجود لري. څلور کاله وروسته بلي محکمې د سميت د قانون هغه برخه تائيد او تصديق کړه چي د کمونست ګوند غړيتوب يې غيرقانوني بللي و. مګر دې محکمې دا خبره هم واضح کړه چي په داسي يوه ګوند يا سازمان کي فعال غړيتوب چي د تشدد له لاري د حکومت د له منځه وړلو نيت او مقصد ولري، هم جرم دئ.

د کمونستانو د تخريبکارۍ پر ضد تر ټولو سخت قانون تر دوهمي عمومي جګړې وروسته د مک ارتي McCarthy په دوران کي تصويب سو. د ۱۹۵۰ع کال د مک کارن McCarran قانون (د داخلي امنيت قانون) کمونستان په فيډرال حکومت او يا د دفاعي چارو په مربوطو صنايعو کي له کار کولو څخه منع کړل. دې قانون د تخريبي فعاليتو د کنټرول هيئت منځته راووړ، چي دا قانون تطبيق کړي. او همدارنګه هغه سازمانونه چي د تخريبي فعاليتونو د کنټرول هيئت په نخښه کول، مجبور وه چي د لويي څارنوالۍ له دفتر سره ځان راجستر کړي. که څه هم د داخلي امنيت قانون په مجموع کي هيڅکله د اساسي قانون په خلاف اعلان نه سو، مګرد تخريبي فعاليتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنټرول د هیئت لخوا د په نخښنه سوي هر سازمان او یا فرد راجستړېشن د لوېي څارنوالۍ له دفتر سره د اساسي قانون خلاف اعلان سوی دئ. په پای کې، کله چې ټول په دې پوه سول چې د تخریبي فعالیتونو د کنټرول هیئت هیڅ تر لاسه نه کړل، نو په کال ۱۹۷۳ع کې دا هیئت لغوه سو. په زړه پوري خبره دا ده چې د امریکې د متحده ایالاتو حکومت د ویټنام د جنګ په خلاف د انتقادونو د مخنیوي له پاره اساساً هیڅ ونه کړل، ضدیت او مخالفت ډېر پراخ و، او د جنګ اعلان هم نه و سوی.

د امریکې په متحده ایالاتو کې د حکومت له خوا د بیان د آزادۍ د محدودولو او یا د مشکوکو کسانو د بندي کولو تاریخ دا ښیي، چې د امریکې د حقوقو د اعلامیې Bill of Rights تفسیر د وخت په تېرېدلو سره تغیر موندلی دئ. کله چې کانګرس، جمهور رئیس، او محاکم خطر او تهدید ووینې، دوی ډېر محدودیتونه رامنځته کوي او په نورو وختوکې بیا دومره سخت ګېرې نه کوي. حقوق په پېښو او حالاتو پوري ډېره اړه لري. د ۲۰۰۱ع کال د سپتمبر د یوولسمې تر تروریستي حملې وروسته، لږو امریکایانو ته د سلهاوو مشکوکو خلګو د بندي کېدلو په هکله تشویش موجود و. څو کاله وروسته، د افراطي عکس العملونو له په نظر کې نیولو سره، ځینو امریکایانو ته دا تشویش پیدا سو، چې د وطن پرستۍ په قانون Patriot Act کې باید ځیني داسې اصلاحات راوستل سي چې له اساسي قانون سره ټکر ونه کړي.

کله چې موږ په نورو هیوادونو کې پر بشري او مدني حقوقو باندې محدودیتونه وینو، نو له پېښو او حالاتو سره د حقوقو ارتباط باید په یاد ولرو. ځیني رژیمونه په رشتیا سره هم تر ډېر فشار لاندې وي او مخالفین غواړي له منځه یې یوسي (چې زیات وخت یې دلایل هم معقول وي). څرنګه چې په انتخاباتو کې هم هر وخت لاس وهنه کېږي او یا هم تش په نامه وي، نو د تشدد په شمول په غیر قانوني وسایلو سره د داسې رژیمونو له منځه وړل یوازنۍ لار ده. په داسې حالاتو کې د بیان آزادي تشدد راپاروي او په تشدد سره د رژیم د له منځه وړلو لامل (سبب) ګرزي. حکومتونه چې په هر نامه وي، کله چې د له منځه تللو له بېرې سره مخامخ سي، پر حقوقو تېری کوي. میانمر (چې پخوایې برما بلله)، جنوبي کوریا، اندونیزیا، مصر، ایران، جنوبي افریقا، ارجنټاین او ډېرو نورو هیوادونو خپل هغه سیاسي مخالفین په بندیخانو چخلي



(ننه ایستلي) چې په لوړ اواز ږغېدلي دي. (ازاد بیان) یوازې یو ښه شی نه دئ، کېدلای سي چې ډینامایټ واوسي. د بیان آزادي په ثبات لرونکو او مشروع حکومتونو کې او په آرامو وختونو کې وده کوي. په لنډ ډول ویلای سو چې دب یان آزادي یو سیاسي شی دئ.

## عمده مفاهیم

**د اساسي قوانینو د تغیر خطرونه:**

ملتفت اوسئ هغو هیوادونو ته دا مسئله د بې ثباتۍ نخښنه ده، چې په پرله پسې توګه خپل اساسي قوانین تبدیلوي او دا ښیي چې هیڅ اساسي قانون د خلګو په زړونو کې ځای نه دئ نیولی. فرانسې، له انقلاب راهیسې پنځلس اساسي قوانین درلودلي دي چې ځیني یې عملي سوي هم نه دي. برازیل د استقلال اخیستلو راهیسې (۱۸۲۲ع کال) اووه اساسي قوانین درلودلي دي. د ټیټو د واکمنۍ په وخت کې، یوګوسلاوېې په هره لسیزه کې یو اساسي قانون رامنځته کړی دئ چې هر نوی اساسي قانون یې تر پخواني اساسي قانون مبهم او مشکوک و.

د یوګوسلاویا د ۱۹۶۳ع کال په اساسي قانون کې د مقننه قوې پنځه خوني ټاکل سوي وې. (مقصد د قانون ساز مجلس خوني دي چې په انګرېزي کې د chamber کلمه ورته استعمال سوې ده. د مثال په توګه د افغانستان مقننه قوه له دوو خونو څخه جوړه ده چې یوه یې اولسي جرګه او بله د مشرانو جرګه ده). د هیواد په داسې لوړ او ستر قانون باندې پرله پسې تجربې سر ته رسول ښیي چې په یوګوسلاویه کې هیڅ اساسي قانون مشروعیت نه و درلودلی او په کال ۱۹۹۱ع کې د یوګوسلاوېې د خونړۍ تجزیې یو علت هم دا و. اساسي قوانین ډېر مهم دي او د تجربه کولو شی نه دئ.

**د کاناډا نوی اساسي قانون:**

کاناډا په یو بېل او عجیب حالت کې وه. د برتانیې د ۱۸۶۷ع کال د شمالي امریکا قانون، چې د برتانیې د پارلمان لخوا تصویب سو، کاناډا ته آزادي ورکړه. مګر د برتانیې د دومینیون (واک لرونکې مستعمره)په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاناډا په خپل اساسي قانون کي د تغیر راوستلو له پاره د برتانیي د عوامو د مجلس House of Commons منظورۍ ته اړتیا درلوده. د کاناډایانو دتندي غوټي ورځ په ورځ زیاتېدلې او د خپل اساسي قانون (هیواد ته د راستنېدلو) تقاضا او غوښتنه یې کوله، یعني غوښتل یې چي خپل اساسي قانون بیر ته کاناډا ته راوړي. د دوی دا غوښتنه یوازي په کال ۱۹۸۲ع کي تر سره سوه او همدارنګه یو بل شی په لاس ورغی چي دوی پخوا هیڅ نه درلودی او هغه د حقوقو او آزادي ګانو منشور و، چي د امریکې د حقوقواعلامیې ته ورته دئ.

**حق څه شي دئ؟**

(حقوق) له کمه ځایه راځي؟ آیا حقوق طبیعي دي که مصنوعي؟

کلاسیک مُفکّرین، د امریکې د بنسټ ایښوونکو پلرونو په ګډون، (طبیعي حقوق) د بشري حقوقو اساس بولي. طبیعت د خداي تعالي اراده ځرګندوي چي تمیز یې ګران کار نه دئ. هر څوک ډېر ژر او په غریزي توګه پوهېږي چي یو تعمیر په جیټ الوتکه باندي ویشتل غلط عمل دئ. ژوند او آزادي د انسانانو طبیعي حق دئ، ځکه نو حکومت یوازي د ښه علت له پاره خلک د دې اساسي حقوقو څخه محروم‌ولای سي. بشري حقوق په عمومي توګه داسي فورمولبندي کېدای سي چي مثلاً له (استبداد څخه آزادي)، چي د توماس جفرسن لویه اند ښنه وه.

مدني حقوق نوي شیان دي او په لوړه سطحه کي قرار لري، دا حقوق د عصري ډیموکراسۍ له زېږېدو سره را منځته سول چي په هغه کي خلک د بیان آزادۍ او د رایي ورکولو حق ته اړتیا لري. دا حقوق د بشري حقوقو په شان ځرګند او روښانه نه دي. د مطبوعاتو آزادي به ښایي تر بشري حقوقو زیاتره په مدني حقوقو پوري اړه ولري، که څه هم دواړه یو په بل کي سره نغښتي دي. هغه خلک به چي د مدني حقوقو څخه محروم دي (لکه د حکومت مخالف ګوند جوړولو حق) ډیر ژر ځانونه په یو ډیکټاټوري رژیم کي بندیان ويني.

اقتصادي حقوق بیا تر ټولو نوي حقوق دي چي په نولسمه پېړۍ کي له سوسیالستانو سره راپیدا سول، چي حقوق یې د مادیاتو و ساحې ته متوجه کړل. د فرانکلین روزویلت Franklin D. Roosevelt په شان خلګو دې ډول حقوقو ته انکشاف ورکړ او داسي فورمولبندي سوي دي چي خلک باید په



کفایت ژوند وکړي (یعني په اصطلاح ډوډۍ، کور او کالي ولري)، کار ولري او د زده کړي امکانات ورته برابر وي. خلګو ته د دې حقوقو تأمینول ډېري پیسې غواړي چي حکومت یې باید د مالیاتو له عاید څخه پوره کړي.

**د جاپاني الاصلو امریکایانو توقیف:**

د امریکي د متحده ایالاتو په تاریخ کي د اقلیت پر حقوقو باندي ډېر لوی تېری په ۱۹۴۲ع کال کي پېښ سو. د بدنامه ۹۰۶۶ لمبر تقنیني فرمان له مخې، ۱۲۰۰۰۰ جاپاني امریکایان د امریکا په لوېدیځ ساحل کي د دې غلطي عقیدې پر اساس توقیف سول چي ګویا دوی په امریکا کي اوسېدونکي دښمنان وه (په داسي حال کي چي زیات شمېر یې په امریکا کي زېږېدلي وه). د دوی کورونه، بزنسونه او آزادي په زور او غیرقانوني توګه ځني واخیستل سول. دوی له دوړو او خاورو ډکو کمپونو ته چي اغزن سیمونه پر راچاپېره وه او د نازیانو کمپونو ته ورته وه، ولېږدول سول. له امریکې سره د بې وفایي یوه پېښنه هم د جاپاني امریکایانو په هکله چا ثبوت نکړای سوای. دوی یوازي د نژادي تبعیض او جنګي دوران د لیونتوب قربانیان وه.

حتی د جنګ وزیر هنري ستیمسن Henry L. Stimson سره، چي دا امر یې لاسلیک کړ، دا ښېره موجوده وه چي دا کار به (اساسي قانون ته یوه بې ساري ضربه ورکړي). دا رشتیا هم اساسي قانون ته یوه لویه ضربه وه، خو یوازي په کال ۱۹۸۳ع کي د امریکې یوې فیډرالي محکمې د دي توقیف د غیرقانونیت فیصله صادره کړه. دا ناوړه تاریخي پېښنه ښیي چي حتی په یوه ډېره با ثباته ډیموکراسي کي (د امریکې په شان) هم د بې اساسه او اغراق آمېزي وارخطایي په وخت کي مدني آزادي ګاني تر پښو لاندي کېدای سي. (د سپټمبر تر یوولسمي وروسته د مسلمانانو په مقابل کي هم دې پېښني ته ورته عکس العمل وښودل سو). دا خبره د یادوني وړ ده چي له جاپاني الاصلو امریکایانو څخه جوړ سوی ۴۴۲ لمبر جګړه ییز کنډک یو له هغو یونیټونو څخه و، چي ډېر زیات مډالونه یې تر لاسه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمان او ګوندونه لري. روسیه او مصر یې مثالونه دي. ځیني بیا هغه سیسټمونه دي چې د زیاتي ډیموکراسۍ او لږ ډیموکراسۍ تر منځ په تغیر کي وي. وینزویلا، بولیویا او پیرو اوس د اټوریټېرین سیسټم خوا ته تمایل موندلی دئ.

"متوسط" ډیموکراتیک او یا "متوسط" غیر ډیموکراتیک دولت وجود نه لري او بشپړ ډیموکراتیک دولت خو بیا بېخي وجود نه لري. خبره دا ده چې ډیموکراسي په عمل کي څرنګه تطبیقېږي. آتن یوه محدوده ډیموکراسي درلوده، ځکه د اولس ډېره برخه (لکه ښځې، اوسېدونکي خارجیان او مریان) په سیاست کي له برخې اخیستلو څخه محروم وه او یوې ډلي نخبه ګانو elites هر څه په کنټرول کي درلودل. په شوروي اتحاد کي په سل کي ۹۹ خلګو په انتخاباتو کي برخه اخیستله مګر په دې انتخاباتو کي انتخاب وجود نه درلود. پولیټکل ساینس، شیان داسي څېړي چې په عمل کي څرنګه کار ورکوي، نه دا چې د کاغذ پر مخ څرنګه لیکل سوي دي.

**عصري ډیموکراسي:**

ښایي د ډموکراسۍ په شان به بل هیڅ لغت دومره زیاتي معنی ګاني ونه لري. د شلمې پېړۍ مستبدینو د ډموکراسۍ له نامه څخه په استفاده کولو سره خپل رعیت په دې باندي قانع کاوه، چې ګویا دوی په یوه عادلانه سیسټم کي ژوند کوي. شوروي اتحاد ادعا کوله، چې د دوی د ډموکراسۍ په شان په ټوله نړۍ کي بله وجود نه لري، او چین اوس هم ځان (د خلګو جمهوریت) بولي. ډیموکراسي له آزادۍ سره یو شان نه ده. د انتخاباتو له لاري داسي رژیمونه منځته راتلای سي چې فردي حقوق اوآزادي ګاني تر پښو لاندي کوي، چې دې ته غیرلیبرال ډیموکراسي illiberal democracy وایي. ډیموکراسي بافکره خلګو، د قدرت محدودیت، د قانون حکومت، او بشري او مدني حقوقو ته اړتیا لري. هر هیوادچې ځان ډیموکراتیک بولي خامخا ډیموکراتیک نه دئ.

ډموکراسۍ (د یوناني دموکراتیا demokratia څخه اخیستل سوې ده چې د موس خلګ بولي او کراتیا حکومت بولي) تر نولسمي پېړۍ پوري لا هم یو ډول منفي مفهوم درلودئ، داځکه چې د مفکرینو په نظر د یونانیانو مستقیمه ډیموکراسي دیو بې کنټروله ډلي حکومت ښکارېدی. (واقعي) ډ موکراسي، چې په هغه کي ټول خلګ په یوه ځای کي سره راټولېږي څو د حکومت غړي

# پنځم فصل

**ډیموکراسي، ټوټلیټاریانیزم، او اټوریټاریانیزم :**

*DEMOCRACY, TOTALITARIANISM, AND AUTORITARIANISM*

انګرېزي لیکوال جورج اوروېل George Orwell په کال ۱۹۴۸ع کي خپل د ۱۹۸۴ په نوم کتاب خپور کړ. په دې کتاب کي، په خاصه توګه په شوروي او په عامه توګه په ټوټالیټاري ټولنو کي، د راتلونکي ژوند تصویر ورکړه سوی دئ. په دې تصوري غمجنه ټولنه کي، خلګ هیڅ ډول حقوق نه لري، دوی ټول د دولت مخلوقات دي. حکومت د دوی مغز پرېولنه (مغزشویي) کوي، د دوی څارنه کوي، د ژوند هر اړخ یې کنټرولوي او د شکاکینو روحیات ورماتوي.

په مقابله خوا کي یې بیا د پنځم قبل المیلاد آتن قرار لري. ټول بالغ نارینه اوسېدونکي سره مساوي وه او هر یوه یې په عمومي اسامبله General Assembly کي د ګډون حق او وظیفه درلوده. عمومي اسامبلې د قوانینو د جوړولو او اجرائیه غړو د ټاکلو له پاره په کال کي لس واره غونډه کوله. اجرائیه غړي د خپلو اعمالو په وړاندي مسئول وه او د رایو په ساده اکثریت سره ټاکل کېدل.(ساده اکثریت یعني تر نیمایي زیات) په زرهاوو کسانو په عمومي اسامبله کي برخه اخیستله، دا ځکه چې په سیاست کي برخې اخیستلو ته په درنه سترګه کتل کېدله او د آتن خلګو ته یې وقار او حیثیت ورباخښنه.

د اورویل د ټوټالیټاریانیزم تصویر او د آتن آیډیل ډیموکراسي د حکومت په دوو مقابلو څنډو کي واقع دي او په دې مابین کي د حکومت ډېر ډولونه، له بشپړې ډیموکراسۍ څخه رانیولې بیا تر بشپړ ټوټلیتاریانیزم پوري وجود لري. ځیني سیسټمونه دي چې یوازې په نامه ډیموکراسي وي چې په هغه کي میډیا تر کنټرول لاندي وي، په انتخاباتو کي لاس وهل کېږي، او مطیع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکي او پخپله شخصاً قوانین جوړ کړي، ډېره لږ مونده کېږي چې د آتن عمومي اسامبله، د انګلستان د ښاروالۍ جرګې او د سویس لندزګیمانده landsgemeinde يې مثالونه دي.

د مستقیمي ډموکراسۍ یو شکل د امریکې په متحده ایالاتو کي تر اوسه هم دوام لري او هغه ریفرینډم دئ چې په هغو چارو کي سرته رسېږي چې مقننه قوه یې سر ته نه رسوي. که څه هم ریفرینډم ډېر ډموکراټیک ښکاري، خو اداره کوونکی یې په مهارت سره په خپله خوښه څرخولای سي. کالیفورنیا د دې کار ښه مثال دئ چې ډېري قانوني لایحې د ریفرینډم له لاري تصویب سوي دي او ځیني یې یو له بله سره تناقض لري. د پاکستان جمهور رئیس (مشرف)، چې د نظامي کودتا له لاري یې قدرت ونیوی، ځان یې په کال ۲۰۰۲ کي د ریفرانډم له لاري دوباره تثبیت کړ.

مستقیمه ډیموکراسي ډېر مشکل کار ځکه دئ چې د ټولو خلکو په یوه ځای کي راټولېدل سخت کار دئ. که حکومت خپل هر تصمیم د منظورۍ لپاره و ملیونونو خلکو ته وړاندي کوي نو بیا به یې کارونه هم ژرپرمخ نه ځي. ځکه نو نماینده ډیموکراسي د یوه عملي سیسټم په توګه تکامل کړی دئ.

**نماینده (وکالتي) ډیموکراسي:**

د اوسني عصر ډیموکراسي په واقعیت کي د خلکو لخوا د پالیسۍ ټاکل په برکي نه نیسي. بلکي، خلګ ډېر یو عام رول لوبوي. د نن ورځي ډیموکراسي، د لیپسیت Lipset په قول، "یو سیاسي سیسټم دئ چې د حکومت لوړ پوړي مامورین د قانوني تغیراو تبدیل له پاره امکانات برابروي، او هم یو داسي اجتماعي میکانیزم (طرزالعمل) دئ چې په عمده تصامیمو کي ترممکنه حده د زیاتو خلکو د برخي اخیستلو لپاره زمینه برابروي، چې دا کار د انتخاباتوله لاري د لوړ پوړیو مامورینو د انتخابولوپه وسیله سر ته رسېږي". وکالتي ډیموکراسي ځیني اساسي مشخصات لري چې موږ به یې په لاندي ډول بیان کړو. دا خبره په یاد ولرئ چې ډیموکراسي یو ساده سیسټم نه دئ چې په اسانۍ سره یوه قالب ته لوېږي. ډیموکراسي باید په ډېراحتیاط د ډېرو کلونو په جریان کي ایجاد سي. د روسیي او عراق په شان هیوادونو باندي چې ډموکراسۍ ته آماده نه وي، د ډموکراسۍ ترپل (تحمیلول) ګټه نه کوي.



**د حکومت عامه مسئولیت:**

په ډیموکراسي کي باید پالیسی ټاکونکي (لوړپوړي حکومتي مقامات) د اکثریت رایي ورکوونکو او یا د ایتلاف له لاري د منځته راغلي اکثریت حمایه تر لاسه کړي. لیډران د اولس په وړاندي مسئولیت لري. که انتخاب سوي لیډران سم کار ونه کړي، له وظیفې څخه به د رایي ورکولو له لاري لیري کړه سي. هیڅوک هم د یوه سیاسي مقام د اشغالولو میراثي حق نه لري. هر څوک باید و یوه ټاکلي مقام ته د خلکو له خوا د آزادو او عادلانه انتخاباتو له لاري انتخاب سوی وي. دا انتخابېدل کېدای سي چې په منظمه توګه د ټاکلي وخت له پاره وي (لکه د امریکې په متحده ایالاتو کي) او یاهم په یوه ټاکلې اعظمي فاصله کي وي (لکه په برتانیه کي). په ډېرو سیسټمونو کي د بیا انتخابېدلو اجازه سته مګرپه ځینوسیسټمونوکي دوباره انتخابېدل په قانون کي تعین سوي وي. دوباره انتخابول د خلکو د حمایې او د حکومت د پالیسۍ د کنټرول وسیله ده.

**سیاسي رقابت:**

رایه ورکونکي باید یا د کاندیدانو او یا د ګوندونو د غوره کولو موقع ولري. د دې معنی دا ده چې د انتخاب له پاره باید لږترلږه دوه څرګند اختیارونه موجود وي. په اروپاکي رایه ورکوونکي د څو سیاسي ګوندونو تر منځ اختیارلري، چې ګوندونه هم هڅه کوي دایډیالوجیو او پالیسیو له پلوه یوله بله ځانونه جلا او مشخص کړي. هغه انتخابات چې پریوه ګوند اویا یوه کاندید ولاړ وي، جعلي دي. په امریکا کي خلګ عموماً دوه کاندیدان لري چې له هر لوی ګوند څخه یو تن کاندید وي. مګرد کانګرس زیات غړي له لږ او یا هیڅ مخالفت سره مخامخ وي. د دې کار علت دا دئ چې انتخاباتي مبارزه ډېري پیسې غواړي او د هرچا په انتخاباتي مبارزه کي برخه اخیستل په وس پوره نه وي. حتی د امریکې په متحده ایالاتو کي هم بشپړه ډیموکراسي وجود نه لري.

ګوندونه باید د خپلو پالیسیو دتنظیمولو او وړاندي کولو له پاره تر انتخاباتو مخکي پوره آزادي، او کافي وخت ولري. هغه رژیم چې مخالفینو ته د انتخاباتو لپاره لنډ وخت ورکوي، په انتخاباتوکي لاس وهنه کوي. همدارنګه، مخالفینو ته په میډیا کي برخه نه ورکول د مخالفینو د بریالیتوب مخه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیموکراسي تر ډېره ځایه په دې پورې اړه لري چې ایا د انتخاباتو (رایي اخیستنې) تر ورځې میاشتې او حتی کلونه مخکې سیاسي آزادي موجوده ده او کنه. د رایي کارډونه هم ښایي ستونزې منځته راوړي. په ځینو هیوادونو کې د رایو شمېرنه ښایي سمه سر ته ونه رسېږي. د رایي اخیستنې د ناقص سیسټم په نتیجه کې ښایي د خلکو اراده په سمه توګه تمثیل نه سي. یوازې انتخابات د ډیموکراسۍ معنی نه لري.

**د قدرت تغیر او تناوب:**

د قدرت واګې باید کله کله له یوه لاسه بل لاس ته سي، یعني له مشروع او سوله ییزې لارې په قدرت کې (دننه) ډله له قدرت څخه (دباندې) سي. هیڅ ګوند یا فرد باید د قدرت انحصار ونه لري. یو سیسټم چې په هغه کې یو ګوند د څو لسېزو له پاره د قدرت واګې په لاس کې ولري، په رشتیا سره ډیموکراتیک سیسټم نه سي بلل کېدای. دا ډول ګوندونه ادعا کوي چې دوی انتخابات ځکه ګټي چې په خلکو کې محبوبیت لري مګر دوی زیات وختونه د انتخاباتو قوانین پخپله ګټه اړوي. په کال ۲۰۰۶ع کې دسنګاپور People's Action Party د خلکو د عمل ګوند په پرله پسې توګه د لسم ځل له پاره انتخابات وګټل، دوی د انتخاباتي مبارزې لپاره (مخالفینوته) ډېر لنډ وخت ورکړ او د انتخاباتي حوزو په سرحداتو کې یې تغیر راووست. د مکسیکو د سازماني انقلاب ګوند د ۱۹۲۰ع کال راهیسې په پرله پسې توګه څورلس واره انتخابات وګټل. وروسته په ۲۰۰۰ع کال کې د ملي عمل ګوند څخه ویسینت فاکس په انتخاباتو کې بریالی سو او مکسیکو یوه ډموکراټیکه بڼه غوره کړه. همدارنګه دکینیا خلکو په۲۰۰۲ع کال کې هغه ګوند له قدرت څخه لیرې کړ، چې د ۳۹ کلونو له پاره یې واک په اختیار کې و. په ځینو نورو افریقایي هیوادونو کې هم دقدرت تغیر پیل سوی دئ چې ډېره ښه خبره ده.

د قدرت د تغیر یو مهم رول چې چنداني پاملرنه نه ده ورته سوې، هغه د فساد مخنیوی دئ. کله چې مخالف ګوند د واکمن ګوند د فساد په هکله نارې وهي، دا کار له قدرت څخه د ناوړې استفادې مخه نیسي. کوم سیسټم چې تغیر اوتبدیل ونه لري خامخا فاسد کېږي.



**عامه نماینده ګي:**

په وکالتي ډیموکراسي کې، رایه ورکوونکي خپل نماینده ګان (وکیلان) د دې له پاره ټاکي چې د دوی له پاره قوانین جوړ کړي او په دې توګه د دوی عامه ګټې وساتي. هر وکیل معمولاً د یوې ټاکلې حوزې او یا د خلکو د یوې ټاکلې ډلې له پاره کار کوي. مګر دا چې د خلکو وکیلان باید څرنګه عمل وکړي؟ یوه تیوري دا ده چې وایي وکیلان (قانون ګذاران) باید انتخابات د خپلو مؤکلینو د غوښتنو د تر سره کولو له پاره یو تعهد وبولي. دوی په دې عقیده دي چې هغه څه چې رایه ورکوونکي غواړي باید ورکړه سي. نور کسان بیا د دې تیورۍ مخالف دي، د دوی په عقیده مؤکلین زیات وخت د مسایلو په هکله مشخص نظر نه لري. ځکه نو وکیلان یا نماینده ګان باید د معتمدینو trustees په شان وظیفه سر ته ورسوي، د خپلو مؤکلینو هغه غوښتنې چې عملي او کیدونکي وي، ومني مګر باید د ټول اولس ګټې په پام کې ونیسي. ښکاره خبره ده چې ډېر لږ خلک د هري موضوع په هکله ښکاره او قطعي نظر لري. که له خلکو څخه وغوښتل سي چې مثلاً د انرژي د سپما او یا د مالیاتو د کمولو په باب رایه ورکړي، ښایي ډېر لږ خلک په رایه ګیرۍ کې برخه واخلي. وکالتي ډیموکراسي دا معنی نه لري چې وکیلان به تش په نامه ناست وي، بلکې معنی یې دا ده چې خلک باید د حکومت د پالیسیو یو عمومي کنټرول ولري. مثلاً خلک ښایي د ښووني او روزني د پرمختګ په هکله یوه عمومي غوښتنه ولري، مګر د دې هدف د لاسته راوړلو جزئیات بیا خپلو نماینده ګانو ته ورپرېږدي. د خلکو او د دوی د نماینده ګانو تر منځ دا ډول ارتباط د عصري ډموکراسۍ جوهر تشکیلوي. شاتس شنایډر Schatt Schneider یې لنډیز په لاندي ډول بیانوي:

د ډموکراسۍ د تیوري په هکله عقل له دې ځایه پیل کېږي چې هغه څه چې خلک یې کولای سي، له هغو شیانو څخه بېل سي چې خلک یې نه سي کولای. ډموکراسۍ ته زیات تاوان ښایي هغه وخت پېښ سي که و خلکو ته په یوه مرموز او جادویي غوندي مطلق قدرت قایل سو، او دا درک نه کړای سو، چې خلک د شمېر د ډېروالي له امله هم ځیني کارونه نه سي کولای. (یعني دا ممکنه نه ده چې د ټول اولس په ملیونو وګړي دي مثلاً د یوقانون په جوړولو کې برخه واخلي). که موږ دا کار وکړو نو له ځانو څخه به مو احمقان جوړ کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اکثریت فیصله:**

داسي ډېر لږ پېښېږي چي د حکومت د مهمو فیصلو په هکله دي توافق موجود وي. معمولاً د یوې ډلي یو شی خوښ وي او بل ګروپ یې بیا مخالفت کوي. په داسي حالاتو کي باید کومه پرېکړه ومنل سي؟ د دې پوښتني اسانه جواب دا دئ چي اکثریت باید فیصله وکړي. پر پالیسۍ باندي د مناقشې په صورت کي باید هغه پالیسي د حکومت پالیسي وګرزي چي د زیات شمېر غړو ملاتړ ورسره ملګری وي. دا هغه کړنلاره ده چي د لرغوني یونان په ډموکراسۍ کي کار ځني اخیستل کېدی. مګر له ډموکراسۍ څخه زموږ عصري او عملي مفهوم دا دئ چي اکثریت فیصله کوي خو د اقلیت حقوقو ته هم احترام کېږي. د دې حقوقو د ساتني او حمایي له پاره، یوې مستقلي قضائیه قوې ته، چي د رژیم تر کنټرول لاندي نه وي، اړتیا سته.

د اقلیت نظریات مهم دي. ښایي هغه نظر چي اوس ډېرو خلکو منلی دئ یو وخت د اقلیت نظر و. ډېر قوانین د اکثریت او اقلیت ګروپونو تر منځ د کشمکش او مخالفت په نتیجه کي مینځ ته راغلي دي. همدا رنګه، لکه د اقلیت نظر چي ښایي د وخت په تېرېدو سره د ډېرو خلکو له خوا ومنل سي، د اکثریت نظر هم ښایي د وخت په تېرېدلو سره نامعقول او غیر عملي ثابت سي او د خلکو لخوا رد سي. کټ مټ لکه اقلیت چي ښایي صحیح ثابت سي، د دې امکان هم سته چي اکثریت غلط ثابت سي. که د اقلیت نظریات خاموشه کړل سي، نو به د (اکثریت استبداد) منځته راسي.

**د مخالفت کولو او نافرمانۍ حق:**

د اقلیت د حقوقو په ارتباط، خلک باید د حکومت د هغو اوامرو په مقابل کي د مقاومت کولو حق ولري، چي د دوی په فکر غلط او یا غیر معقول برېښي. دا حق په کال ۱۷۷۶ع کي د تامس جفرسن په غوښتنه د امریکې د آزادۍ په اعلامیه کي ځای کړه سو. هنري توریو Henry Thoreau، د امریکې د سیول نافرمانۍ civil disobedience ترټولو مهم مدافع بلل کېدای سي. له مکسیکو سره دامریکې د جنګ په مخالفت کي توریو اعلام کړه چي: "ټول خلک د انقلاب حق لري، یعني کله چي د حکومت استبداد او بې کفایتي تر حد واوړي او نور د زغملو نه وي، خلک حق لري چي و داسي حکومت ته له وفادارۍ څخه



انکار او په مقابل کي یې مقاومت وکړي. د سیول نافرمانۍ تر ټولو نامتو پلوی د هندوستان د آزادۍ لیډر مهاتما ګاندي و، چي ډېر د توریو د نظریاتو تر تأثیر لاندي و. دواړو خپل د مقاومت متوډ (مد ني civil) باله یعني داسي نافرماني چي د عدم تشدد له لاري کېږي او د دولت تر قانوني چوکاټ ونه وزي. دا د توجه جلبولو یوه وسیله وه چي چارواکي یې د دوی د غوښتنو په هکله فکر کولو ته مجبور کړل. او بالاخره، ګاندي او د ده پلویانو برتانیه دې ته مجبوره کړه چي هندوستان پرېږدي.

ځیني کسان سیول نافرماني یو انفرادي وجداني عمل بولي. مګر نور بیا سیول نافرماني سره تنظیموي او په کار یې اچوي. په امریکا کي د سیول نافرمانۍ تر ټولو اوچت او نومیالی تنظیمونکی عزتمند مارتین لوتر کینګ Reverend Martin Luther King Jr. و، چي په ۱۹۶۰ع کلونو کي یې د مدني حقوقو له پاره د عدم تشدد له لاري مبارزه پیل کړه او قصداً یې له تعصبي قوانینو څخه سرغړونه وکړه. د دې سرغړوني له مخي به دی او د ده ملګري بندیان سول. مګر کله چي به پېښه فدرالي محکمې ته وړاندي سوه، زیاتره وخت به پخپله هغه تعصبي قوانین چي دوی یې له مخي بندیان سوي وه، د فدرالي محکمې لخوا غیر قانوني اعلان سول. د کینګ او د ده د ملګرو د اوږدې مبارزې په نتیجه کي هم په قوانینو او هم د امریکا د خلکو په سایکالوجي کي تغیرات راغلل. که دا سیول نافرماني نه وای سوې، نو د اقلیت پر غوښتنو به چا غوږ نه وای نیولی.

**سیاسي مساوات:**

په ډیموکراسي کي، د ټولني ټول بالغ غړي (چي اوس عموماً اتلس کلن او تر هغه لوړ کسان په بر کي نیسي) په مساوي توګه په سیاست کي برخه اخیستلای سي: د (یو تن، یوې رایې) د تیورۍ له مخي، هر څوک کولای سي یو مقام ته ځان کاندید کړي، مګر په عمل کي و سیاست ته داخلیدل او ځان یو مقام ته کاندیدول ډېري پیسې (او زیات وخت ټاکلي نژادي او یا هم مذهبي اړیکي) غواړي. د اقلیتونو او همدارنګه د سیول نافرمانۍ تر فشارونو لاندي، اوس زیات سیسټمونه هڅه کوي چي نورو ته هم لاره پرانیزي او سیاست یوازي د نخبه ګانو elites په ولکه کي پاته نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خلکو سره مشوره:**

له ډېرو لیډرانو سره دا درک موجود وي، چې د اغېزمن حکومت کولو له پاره دوی د خلکوپه غوښتنو او اړتیاوو باندي پوهېدلو ته اړتیا لري. آیا خلک د خارجي پالیسي، مالیاتو او بیکارۍ په هکله ناخوښه دي؟ او که ناخوښه دي، په کومه اندازه؟ هوښیار لېډران په دې پوهېږي چې دوی باید تر عمومي افکارو public opinion نه ډېر زیات مخکي او نه ډېر زیات وروسته پاته وي. ځکه نو د عمومي افکارو د معلومولو او اندازه کولو لپاره ځیني تخنیکونه او طریقې منځته راغلي دي او د ډېرو موضوعاتو په باب د عمومي افکارو احصائیه اخیستله کېږي. میډیا د خلکو او د دوی د لیډرانو تر منځ د خبرواترو او ډایلوګ زمینه برابرولای سي. له انتخاب سوو چارواکو سره په مصاحبو او همدارنګه په مطبوعاتي کنفرانسونو کي، خبریالان داسي پوښتني رامنځته کوي، چې د دوی په عقیده، خلک یې جواب غواړي. مطبوعاتي سرمقالې او ورځپاڼو ته راغلي لیکونه هم د بېلا بېلو موضوعاتو په هکله د خلکو احساسات ښر ګندوي.

په دې وروستیو کلونو کي دا انتقادونه رامنځته سوي دي چې د امریکي د متحده ایالاتو رسمي مقامات د مؤکلینو د کوچنیو مګر فعالو، منظمو او خوله ورو ګروپونو پر نظریاتو ډېره تکیه کوي. مثلاً د امریکې زیات خلک د شخصي وسلو د کنټرول غوښتونکي دي مګر د توپک ملي ټولنه National Rifle Association هر وخت په کانګرس کي د دې ډول قوانینو مخنیوی کوي.

**آزاد مطبوعات:**

دیکتاتوري د عامه مطبوعاتو mass media تحمل نه لري مګر ډیموکراسي بې له هغه ژوند نه سي کولای. داچي په یوه هیواد کي څومره ډیموکراسي سته، د هغه هیواد له عامه مطبوعاتو څخه ښر ګندېدلای سي. عامه مطبوعات د خلکو له پاره حقایق راغونډوي او وړاندي کوي، خلک د مسایلو په باب پوهوي، او واکمنان دې ته اړ باسي چي د خلکو غوښتنو ته جواب ورکړي. له آزادو او انتقادي مطبوعاتو پرته، واکمنان پر خپلو غلطو اعمالو او اداري فسادونو پرده غوړوي او خلک خطا باسي. کله چي چین د۱۹۸۰ع په وروستیو کلونو کي د (ډموکراسۍ جنبش) ته اجازه ورکړه، د چین میډیا د پخوا په نسبت آزاده،



صادقه او انتقادي سوه. تر هغه راوروسته د مطبوعاتو د آزادۍ د کنټرول په منظور، چین خوله ور ژورنالیسټان له خپلو وظایفو لیري او یا بندیان کړل.

ځیني امریکایان استدلال کوي چي د امریکې په متحده ایالاتو کي میډیا له کنټروله وتلې ده او خامخا مخالف موقف نیسي چي په دې عمل سره دوی د حکومت واک تهدیدوي او د ملت د کمزورۍ سبب ګرزي. مګر په یوه ډیموکراسي کي داسي میکانیزم وجود نه لري چي (له کنټروله وتل) دي په تشخیص کړه سي. نو رقیب ژورنالیستان د بېباکو رپوټونو مخنیوی د هغوی د رد او انتقاد له لاري کولای سي، او همدارنګه خلک، د حکومت له څارني پرته، پخپله هم د ښه او بد رپوټ په هکله قضاوت کولای سي. که څه هم نیمه ټوکه ده خو د امریکې د متحده ایالاتو مطبوعات د دولت څلورمه قوه ګڼل کېږي. (اجرائیه، مقننه او قضائیه یې نوري درې قواوي دي).

**ټوټلیټاریانیزم:**

*TOTALITARIANISM*

په ټوتالیتارین سیسټم کي، نخبه ګان elite له هر ډول مسؤلیت څخه تقریباً په بشپړه توګه خلاص وي، دوی په قدرت پوري لاسونه ټینګ نیولي وي او له قدرت ته لیري کول یې ډېر ګران کار وي. یوازي هغه وخت له قدرت ته لوېږي چي رژیم ونړېږي. مثالونه یې په۱۹۸۹ کال کي د شرقي اروپا او په کال ۱۹۹۱ کي د شوروي اتحاد ړنګېدل دي. اوس له ټوټلیټاریانیزم څخه څه پاته نه دي. ټوټلیټاریانیزم پر مطلق کنټرول او د دولت او د هغه د لیډرانو پر مطلق اطاعت باندي ټینګار کوي چي دا کار غلط او غیر مؤثر ثابت سوی دئ. لږ خلک اوس له دې ډول سیاسي ماډل سره علاقه لري. اوس، یوازي کیوبا او شمالي کوریا د سوچه ټوټالیټاریانیزم د مثالونوپه توګه پاته دي. چین او ویټنام که څه هم له سیاسي پلوه ټوتلیټاریستې هیوادونه دي خو اوس له اقتصادي پلوه پرانیستي هیوادونه ګڼل کېږي .د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کي د سټالین، موسولیني او هټلر رژیمونه پر ټوتلیټاریانیزم ولاړ وه او ډېر شهرت یې درلود. په هغه وخت کي ځینو فکر کاوه چي دا به د نړۍ راتلونکی سیسټم وي مګر دا د شلمي پېړۍ یوه ناروغي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټوټالیټاریانیزم څه شی دئ؟**

د شلمې پېړۍ ټوټالیټاریانیزم د پخوانیو وختونو له ظلم او استبداد سره ډېر زیات توپیر لري. ستر پیتر Peter the Great او څوارلسم لویي Louis XIV ډېر زورور مستبدین وه، مګر دوی د خپل وخت په مخابراتي او ترانسپورټي محدودیتونو پورې محدود وه. دوی نه سوای کولای خپل رعیت پوره کنټرول کړي. حتی څوارلسم لویي، چې یو ډول درباري دیکتاتور و، دا هڅه هم نه کوله چې په فرانسه کې هر څه کنټرول کړي، عادي خلکو خپل شخصي ژوند پرمخ بېوی. په مقابل کې بیا د شلمې پېړۍ ټوټالیټاري دولتونه کوښښ کوي د خلکو په ژوند پورې تړلې هر څه بدل او تر کنټرول لاندې راولي.

ټوټالیټاریانیزم په روسیه کې هغه وخت پیل سو، چې په کال ۱۹۱۷ع کې لنین قدرت تر لاسه کړ. موسولیني په کال ۱۹۲۲ع کې په ایټالیا او هټلر په کال ۱۹۳۳ع کې په جرمني کې همدا کار وکړ. دې ته پام وکړئ چې دا درې هیوادونه په لومړۍ عمومي جګړه کې له ګډوډۍ سره مخامخ سوي وه. د ټوټلیټاریانیزم اصطلاح چې په ۱۹۳۰ کلونو کې د څېړونکو لخوا منځته راغله، یو سیسټم دئ چې په هغه کې یو ګوند مطلق قدرت په لاس کې لري او هڅه کوي چې ټولنه د ګوند له ارزښتو سره سمه جوړه کړي. آزادي له منځه ځي. پخوانیو مطلقه او استبدادي واکمنانو خپل رعیت غلي او ارام ساتل، مګر ټوټلیټاري دولتونه له دولت سره د خلکو پر علاقه لرلو هم ټینګار کوي. دولت ټول کمونیکېش او اقتصادي ژوند کنټرولوي.

کارل فریډریک Carl J. Friedrich او زبیګنیو بریږنسکي Zbigniew Brezinski د ټوټلیټاري دولتونو له پاره لاندې شپږ مشخصات وړاندې کوي. له دغو مشخصاتو له جملې څخه څلور یې تر صنعتي انقلاب مخکې ممکن نه وه.

**(۱) انحصاري ایډیالوجي:**

ټوټلیټاري ایډیالوجي د تاریخ، اقتصاد او راتلونکي سیاسي او اجتماعي پرمختګ یوه رسمي تیوري ده. دا ایډیالوجي په نړۍ کې هر څه پر تور او سپین باندې ویشي او ادعا کوي چې د یوې بشپړې او خوشحاله ټولنې د جوړولو لپاره کار کوي، ځکه نو هر څوک چې د دې ایډیالوجۍ مخالفت کوي هغه د (خلکو دښمن) دئ. ټول خلګ باید د دې رسمي ایډیالوجي زده کړه او مطالعه



وکړي. د مارکسیزم– لنینیزم کورسونو اخیستل په ټولو کمونسټي دولتونو کې حتمي وه.

**(۲) یو واحد ګوند:**

د قانون له مخې یوازې یو ګوند وجود لرلای سي، او د یوه شخص لخوا رهبري کېږي. موسولیني، هټلر، سټالین او مائوتسه تونګ له خلکو څخه د ځان د نمانځنې او درناوۍ غوښتنه کوله. د ګوند غړیتوب تر کنټرول لاندې وي. عموماً د اولس په سلو کې لس د ګوند غړیتوب لري چې باید افتخار او سرلوړي هم وګڼل سي. ګوند د سلسله مراتبو پر اساس تنظیم سوی وي او قدرت د څو محدودو لوړپوړو غړو په لاس کې متمرکز وي. ګوند له رسمي حکومتي مؤسساتو سره تړلی او یا تر هغو په لوړ مقام کې واقع وي. ټول مهم حکومتي مقامات د ګوند ي فعالینو په لاس کې وي او لږ ترلږه په ظاهره له ټول اولس سره مطابقت لري.

**(۳) تنظیم سوی دهشت:**

امنیتي پولیس د خلکو د روحیې د کمزورې کولو او بېرولو له پاره له جسماني او روحي میتودونو څخه کار اخلي. د نازي ګشتاپو Gestapo خفیه یا پټو دولتي پولیسو، د سټالین تر مشرۍ لاندې د شوروي NKVD او د موسولیني OVRA هیڅ ډول قضایي مانع او محدودیت په مخکې نه درلود. د خلکو له پاره قانوني ضمانتونو وجود نه درلود او که یې د کاغذ پر مخ وجود هم درلود، چا پروا نه په کوله. ځکه نو خلګ په پټه بندیانېدل او شکنجې ورکول کېدلې. امنیتي قواوې، چې کله به (مخفي پولیس) بلل کېدل، د یوې مشخصې ډلې یا طبقې پر ضد کارول کېدلې. مثلاً د یهود و، د مځکود خاوندانو، کپیټالستانو، سوشیالستانو او یا روحانیونو پر ضد له امنیتي قواوو څخه کار اخیستل کېدی. په نیمه شپه کې د (دروازې ټکولو) له بېرې ډېر خلګ تسلیمېدلو ته مجبورېدل. ډله ییزې ګرفتارۍ او اعدامونه د دولت د قدرت او د خلکو د بې وسۍ ځرګندوی دي. شوروي اتحاد په جنګ کې له مړو سوو پرته، تقریباً ۶۲ ملیونه ملکي وګړي وژلې دي. کمونسټي چین ۳۵ ملیونه او نازي جرمني ۲۱ ملیونه خلګ وژلې دي. دا ډول دهشت تر ډېره وخته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلېږي. شوروي اتحاد د ستالین د وختونو ظالمانه تاکتیکونه پرېښوول او پر ځای یې د بېرولو او کنټرول له پاره نور تاکتیکونه ، لکه بېکاره کول یا یوه لیرې او ګوښه ښار ته فراره کول، رامنځته کړل.

**(۴) د کمونیکېشن انحصار :**

په ټوټلیټاري دولتونو کي د جمعي ارتباط وسایل یعني میډیا خلګو ته رسمي ایډیالوجي ور زده کوي او په خلګو کي داسي احساس چي ګواکي سیسټم د هوښیارو رهبرانو تر لارښووني لاندي ډېر سم چلېږي او ګمراه خارجي قوتونه هڅه کوي چي سیسټم ته تاوان پېښ کړي نو ځکه یې باید مخه ونیول سي.

**(۵) د وسلې انحصار :**

ټوټالیټاري حکومتونه پر وسلې باندي مطلق انحصار لري چي په دې توګه د وسله وال مقاومت مخه نیسي.

**(۶) تر کنټرول لاندي اقتصاد:**

ټوټالیټاري رژیمونه د اقتصاد کنټرول په لاس کي لري. ستالین په مستقیمه توګه د دولتي مالکیت له لاري او هټلر په غیر مستقیمه توګه د ګوند لخوا د خصوصي صنایعو د (انسجام) له لاري د اقتصاد کنټرول په لاس کي درلود. په دواړو حالاتو کي، د اقتصاد کنټرول دولت قوي کوي او دولت کولای سي چي مالي منابع په درنو صنایعو، د وسلو په تولیداتو او نور هغه څه باندي مصرف کړي چي ګوند یې غواړي. کارګران هر چیري چي د دوی کار ته اړتیا وي لېږدول کېدای سي او د مستهلکینو اړتیاوي او غوښتني بې اهمیته ګڼلي کېږي. شوروي اتحاد لومړنی هیواد و، چي انسان یې فضا ته واستاوه، مګر غیر کمونسټي هیوادونو هر وخت ډېر ښه استهلاکي مواد درلودلي دي. اقتصادي شاته والی د شوروي اتحاد ډېره لویه کمزوریا وه.

**ښی لاسی (راست) ټوټلیټاریانیزم :**

زموږ ډېر پام و کمونیزم ته وي، مګر د ایټالیا د فاشیزم او د جرمني د ملي



سوشیالیزم په شان ښی لاسي ټوټلیټاریانیزم بیا یو څه فرق درلودی. ښی لاسی ټوټالیټاریانیزم په هغو صنعتي هیوادونو کي پرمختګ وموندی، چي ډیموکراسي پکښې کمزورې وه او له اقتصادي رکود، اجتماعي بدلون او سیاسي مغشوش والي سره لاس وګرېوان وه. المان، چي تر لومړۍ عمومي جګړې وروسته د جنګ د تاوان په پورونو بار و، سره په ښور کي و، بېکاري پکښې ډېره زیاته وه، کارګري مناقشې او جنجالونه زیات او له تشدد سره ملګري وه، او پولي بحران داسي سر اخیستی و، چي د منځنۍ طبقې (دکاندارانو، د دولت د وړو مامورینو او مسلکي کارګرانو) پس انداز (بچت) یې له ځانه سره یووړ. هټلر قدرت ته د رسېدلو پر وخت خلګو ته وعده ورکړه چي کارګري اتحادیې به په ډسیپلین او تنظیم را کښېباسي، نظم به منځته راوړي، د ورسایلیس تحقیر آمېزه تړون Versailles Treaty به رد کړي، او له کمونیستي خطر څخه به د شخصي ملکیت ساتنه وکړي. د ده پروګرام د صنعت خاوندانو، نظامیانو، او منځنۍ طبقې ته، چي د فاشیستي دولت د حمایې شمزۍ یې تشکیلوله، یو په زړه پوري پروګرام و.

ښی لاسی ټوټلیټاریانیزم انقلاب نه غواړي، بلکي د موجوده اجتماعي نظم د ټینګښت او د دولت د ستاینې او نمانځني له پاره کار کوي. ټوټلیټاریانیزم هڅه کوي هغه کسان چي دوی یې خارجي او یا یې تر ځان ټیټ بولي له منځه یوسي. هټلر د یهودیانو او جتانو د نابودولو له پاره ډېري هلې ځلې وکړې. اولس هم د ملي افتخار او جګړې پر لوري رهنمایي کېږي. شخصي ملکیت ته په عمومي صورت اجازه ورکول کېږي، مګر تابع کارتلونه (د صنایعو د خاوندانو اتحادیه) او صنفي اتحادیې د ګوند غوښتني تر سره کوي.

**استبدادي رژیم :**

*AUTHORITARIANISM*

اوتوریټیریانیزم، او ټوټالیټاریانیزم ځیني وختونه سره ګډېږي، مګر هر یو ځانته بېله معنی لري. په استبدادي رژیمونو کي د یوه ګوند، یوه دیکتاتور او یا اردو په شا ن یوه کوچنۍ ډله حکمراني کوي چي د عام اولس د برخي اخیستلو مخه نیسي. دوی دا هڅه نه کوي چي هر څه کنټرول کړي. ډېري اقتصادي، اجتماعي، مذهبي او کلتوري چاري انفرادي اشخاصوته پرېښوول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي وي. د ټوټالیټاریانیزم شپږ مشخصات، چي مخکي يې ذکر وسو، اوبلن سوي او یا وجود نه لري. استبدادي رژیمونه، د مثال په توګه، زیاتره وخت یوه مشخصه ایډیا لوجي نه لري. ځیني کسانو په عراق کي د صدام حسین رژیم ټوټالیټاري باله مګر هغه و استبدادي رژیم ته نژدې و.

استبدادي رژیمونه د فردي آزادۍ مخالفت او د قوماندې، اطاعت او نظم پلوي کوي. دوی ټولني ته د یوه داسي سازمان په ستر ګه ګوري چي د یو واحد واکمن او یا ډلي تر لیډرشیپ لاندي پر سلسله مراتب بنا وي. له خلکو څخه غوښتنه کېږي چي قوانین مراعت او مالیات تادیه کړي، که څه هم چي د قوانینو په جوړلو او د مالیاتو په وضع کولو کي يې هیڅ برخه هم نه وي اخیستې. د ډیموکراسۍ ځیني پراغونه (تجملي ګېڼې) به ښایي موجودي وي، مګر عملي اړخ يې ډېر لږ وي. مقننه هیئت (پارلمان) بېله (ربړي ټاپې) څخه بل څه نه وي او یوازې د دیکتاتور قوانین منظوروي. همدارنګه ګوډاګی صدراعظم او کابینه یوازې د دیکتاتور غوښتني سر ته رسوي. د فرانسې څوارلسم لویي د استبداد ابتدایي شکل په دې جمله کي څر ګند دئ چي وایي "زه دولت یم".

د فرانکو (۱۹۳۹ – ۱۹۷۵ع ) تر واک لاندي هسپانیه یو (عنعنوي استبداد) و، نه ټوټالیټاري رژیم، ځکه لیډر له خلکو څخه په سیاست کي د برخي نه اخیستلو او اطاعت غوښتنه کوله. فرانکو (د هسپانیې استبدادي لیډر) یوه مشخصه ایډیالوجي نه درلوده .خلکو په اقتصاد او همدارنګه په مطبوعاتو کي تریو حده برخه اخیستله. جیین کیرک پاټریک Jean J. Kirkpatrick، چي سیاست پوهه او په ملګرو ملتونو کي د امریکا د جمهور رئیس ریګان سفیره وه، په دې عقیده وه چي د استبدادي او ټوټالیټاري رژیمونوترمنځ توپیر سته. په استبدادي رژیمونو (لکه ارجنټاین، چیلي او برازیل) کي ریفورم راتلای سي. مګر کله چي توټالیټاري سیستم (لکه کمونیزم) قدرت ته ورسېږي او ريښې ټینګي کړي بیانو په ځان کي ریفورم نه سي راوستلای. ارجنټاین، چیلي او برازیل په ۱۹۸۰ کلونو کي ډیموکراسۍ ته راستانه سول. د کیر ک پاټریک نظر پر دې حقیقت ولاړ دئ چي شوروي او په هغه پوري تړلو کمونستي رژیمونو هیڅکله په ځان کي ریفورم رانه وستلای سوای، دې رژیمونو چي کله په ځان کي د ریفورم راوستلو هڅه وکړه سره



ونړېدل. دا به وکتل سي چي چین ته به، چي د آزاد بازار اقتصاد او کلک سیاسي کنټرول د سره یو ځای کولو هڅه کوي، څه پېښه سي. آیا ریفورم به یکښې راسي او که به د نورو کمونستي رژیمونو په شان ونړېږي.

**استبداد او پر مخ تلونکي (مخ پر انکشاف) ملتونه :**

تر دوهمي عمومي جګړې وروسته، له مهمو سیاسي نهضتونو څخه یو دا و، چي ډېرملتونه د استعماري امپراتورۍ له منګولو څخه خلاص او استقلال ته ورسېدل. په دې دولتونو کي د ملي استقلال له پاره ایډیالوجیکي مبارزه د (خودارادیت) پر حق ولاړه وه چي د امریکې د آزادۍ د اعلامیې او د فرانسې د بشر د حقوقو له اعلامیې څخه يې سرچینه اخیستله. مګر د استقلال تر لاسته راوړلو وروسته په دې دولتونو کي ډیموکراسۍ زیات دوام ونه کړ او هر وخت د یوه ډیموکراټیک سیاسي کلتورمخه نیول کېدله. په لوېدیځ کي ډ یموکراسۍ د انفرادیت او آزاد اقتصاد څخه انکشاف راکړی دئ. پرمختیایي ټولني غیرصنعتي، بزګري او عنعنوي کلیوالي اقتصاد درلود، چي په هغه کي کورني او قبیلوي مناسبات ټینګ وه. د تعلیم او عاید اندازه لږ او زیاتو خلکو د ژوندي پاته کېدلو له پاره مبارزه کوله. رهبران په دې عقیده وه چي سیاسي او اقتصادي پرمختګ مرکزي قدرت ته اړتیا لري. دې لیډرانو فکر کاوه چي دوی د خلکو په اړتیاوو باندي پوره پوهېږي.

په دې ډول، د دریمي نړۍ په ډېرو برخو کي استبداد او د یوه واحد ګوند واکمني مسلطه سوه. زمبابوې په کال ۱۹۸۰ کي په دوه ګوندي سیسټم پیل وکړ. مګر وروسته ځیني ګوندونه له حاکم ګوند او د هغه له لیډر، رابرټ موګابې، سره مخالف سول. رابرټ موګابې هم د خپلي حاکمي قبیلې په عسکرو دوی سخت وځپل، او یو ګوندي سیسټم يې رامنځته کړ. د ده استدلال دا و، چي د وحدت او سوشیالیستي اقتصاد د جوړولو له پاره همدا یوازنۍ لار ده. په دې توګه، زمبابوې استبداد او دیکتاتورۍ ته ورولوېده. دا ډول سیسټمونه عموماً ډېر ډاروونکي او خطرناک وي. حکومتي مامورین غیر واقعي او بې ګټې پروژې رامنځته کوي، د قوانینو او مالیاتو په وضع کولو سره د انفرادي ابتکار او نوښت مخه نیسي، او انتقادي نظریات ځپي. اداري فساد یکښې تر حد زیات وي. په نتیجه کي د تانزانیا او میانمر (برما) په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو ځانونه غریب کړي دي نه ډیموکراسي پکښې سته او نه هم اقتصادي پرمختګ پکښې راغلی دئ.

### د استبدادي رژیمونو ډیموکراسي کېدل

د کال ۱۹۷۴ راهیسي، ډېرو هیوادونو استبدادي او یا ټوټالیټاري سیسټمونه د ډیموکراسۍ په ګټه پرېښي دي. اوس، د نړۍ تقریباً نیمایي هیوادونه لږترلږه تقریباً ډیموکراټیک دي. د ډیموکراسۍ انکشاف په دوه درزنه هیوادونو کي، چي زیات یې په غربي اروپا او شمالي امریکا کي دي، اوس یوه عمده تحقیقي موضوع ګرزېدلې ده. په کال ۱۹۸۹ع کي یو نوی او ډېر عالي درې میاشتنی ژورنال، د Journal of Democracy په نامه خپورسو، چي په هغه کي دا تشریح سوې ده چي ډیموکراسي ولي منځ ته راځي او په تقویه کولو کي یې څه ډول پالیسۍ مرسته کوي.

داسي ښکاري چي دوه ډوله رژیمونه په دې وروستیو کلونو کي ډیموکراسۍ ته رسېدلي دي: یو هغه استبدادي رژیمونه دي چي په اقتصادي لحاظ یې ډېر پرمختګ کړی و مګر راونړېدل، او بل هغه کمونسټي رژیمونه وه چي د اقتصادي انکشا ف له پلوه وروسته پاته وه. د چیلي، جنوبي کوریا او تایوان په شان د سریع انکشاف سیسټمونه له سیاسي پلوه استبدادي وه، مګر د شخصي اقتصاد او د آزاد بازار اقتصاد بیا چټکي ودې ته لار خلاصه کړې وه. داسي ښکاري لکه ډیکټاټور چي خلکو ته ویلي وه چي "سیاست ماته راپرېږدئ، زه یې چاره کوم، تاسي خپلو بېلابېلو بزنسونو ته کاروکړئ". د بزنیس طرفدارو رژیمونو د کلي اقتصاد macroeconomic پالیسي (لکه د باثباته او قوي پیسې درلودل، د پولي تورم کښته ساتل، د پورونو له پاره د زیاتي سرمایې برابرول) وضع کړه او همدارنګه یې خپل اقتصاد له نړیوال مارکېټ سره وصل کړ. یو څه وخت وروسته، پرمختلونکي اقتصاد ټوله جامعه د ډیموکراسۍ پر لوري روانه کړه. کله چي هیوادونه د عاید له مخي له غریب حالت څخه دمتوسط عاید حالت ته رالوړ سي، نو د با ثباته ډیموکراسۍ له پاره آماده کېږي. په غریبو هیوادونوکي ډیموکراسي چنداني دوام نه مومي (هندوستان یوه لویه استثنا ده) مګر د متوسط او لوړ عاید په هیوادونو کي ډیموکراسي زیات وخت دوام مومي.



ولي باید داسي پېښه سي؟ لومړی دا چي، اقتصادي پرمختګ یوه پراخه منځنۍ طبقه منځته راوړي چي په ډیموکراسي کي یې ګټه وي، دوی ښایي په ډیموکراسي کي د بدلون راوستلو غوښتنه ولري مګر د ډیموکراسۍ له منځه وړل نه غواړي. دوهم دا چي، د خلکو تعلیمي سطحه لوړېږي، زښت ډېر خلک د لېسو او ډېر خلک د کالج او پوهنتون فارغان وي. دوی نور ناپوه او جاهل نه وي او د عوام فریبانه او افراطي نظریاتو تر تأثیر لاندي نه راځي. دریم دا چي، خلک خپلي ګټي پېژني او په څرګنده توګه یې بیانوي. دوی د بزنسي، مسلکي، منطقوي او مذهبي غوښتنو په هکله خپل ږغ پورته کوي. دوی ظالم، فاسد، او یا بې کفایته حکومتونه پېژني او نه غواړي د کوچنیانو په ډول استعمال کړه سي. بالاخره، پخپله د مارکېټ اقتصاد خلکو ته پر ځان تکیه کول، تحمل او د ډېر څه توقع نه کول ور زده کوي. چي دا ټول د ډیموکراسۍ له ټینګښت سره مرسته کوي. په دې توګه نو په تدریج سره استبدادي رژیم ځان سره ایله کوي او انتقادي مطبوعاتو، سیاسي ګوندونو جوړولو، او بالاخره آزادو انتخاباتو ته اجازه ورکوي. تایوان د دې ډول انتقال ډېر ښه مثال دئ.

په هغودولتونو کي چي پر نفتو تکیه لري، یعني petrostates، خبره داسي نه ده. څرنګه چي د نفتو تولید، ثروت او قدرت په څو محدودو لاسونو کي متمرکز کوي، نو ډیموکراسي شا ته اچوي، زیاتره هغه دولتونه چي پر نفتو ولاړ وي فاسد او استبدادي وي. د نفتو صنعت ډېر کارګران نه استخداموي. خلک د کار او نورو مرستو له پاره پر حکومت تکیه لري او نه سي کولای یوه مستقله او پر ځان متکي منځنۍ طبقه منځته راوړي. دا هیوادونه، چي زیات یې د فارس د خلیج پر شاوخوا پراته دي، د له منځه تللو له پاره چمتو دي مګر د ډیموګراسۍ له پاره آماده نه دي.

د کمونسټي رژیمونو رانړېدل بیا د اقتصاد رول په منفي مفهوم څرګندوي. د دې هیوادونو اقتصاد، د غربي او ځینو نورو هیوادونو په پرتله، چي اقتصادي پرمختګ یې سریع و، کمزوری او وروسته پاته و. دې کار د میخاییل ګورباچوف په شان لیبرال کمونیستان دې ته وهڅول چي په په سیسټم کي د ریفورم راوستلو هڅي پیل کړي. دوی پوهېدل چي دوی، په تیره بیا د عالي تکنالوجۍ په ساحه کي، وروسته پاتېږي او فکر یې کاوه چي کولای سي د آزاد مارکېټ د ځینو برخو په عملي کولو سره به سیسټم ته انرژي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قوت ورکړي. مګر کمونيزم، د نورو ټوټاليټاري سيسټمونو په شان، ريفورم نه سي تحمل کولای. دوی هر څه کنټرولوي او په نتيجه کي يې داسي سيسټم منځته راوړی وي چي ماتېږي مګر کږېدل نه مني. کله چي دوی دا ومنل چي سيسټم سم نه دئ او سمون غواړي، نو دوی دا ومنل چي دوی غلط وه. ايډيالوجي غلطه وه، يو ګوندي سيسټم غلط و، مرکزي اقتصاد غلط و، او داسي نور. د ريفورم هڅي د سيسټم نړېدل رامنځته کړل.

آيا په هغو هيوادونو کي باثباته ډيموکراسي ټينګېدای سي چي له ډيکتاتورۍ څخه راخلاص سوي وي؟ ايا په عراق کي به د ډيموکراسۍ ريښې ټينګي سي؟ تر اوسه پوري، د مرکزي اروپا په پخوانيو کمونستي هيوادونو (لکه پولينډ، د چک جمهوريت، هنګري، او نورو) کي دا کار سر ته رسېدلی دئ. د مارکيټ سيسټم د روسيې، اوکراين، ازبکستان او نورو خلکو ته بېګانه او ډارونکی دئ او په رشتيا سره هم له تر کنټرول لاندي اقتصاد څخه د آزاد مارکيټ اقتصاد ته انتقال ډېري ستونزي له ځانه سره راوړي. ځيني کسان، چي هيڅ کله يې ډيموکراسي ليدلې نه وي، خپلې رايې استبدادي شخصيتونو ته ورکوي، ځکه هغوی د ثبات د اعاده کولو او د خلکو د اقتصادي ژوند د ښه کولو وعدې ورکوي. د روسيې جمهور رئيس ولاديمير پوتين خپل سياسي مخالفين تهديد او يا بنديان کړل، او زښتو ډېرو روسانو د ده ملاتړ وکړ. د روسيې سياسي کلتور د يوه قوي ليډر واکمني خوښوي. د روسيې جمهور رئيس ډېر زيات قدرت لري او په فرمان باندي حکومت کولای سي، دولتي دوما (پارلمان) کمزورې او د جمهور رئيس اطاعت کوي، د خصوصي کولو (ددولتي صنايعو او ملکيتونو خصوصي کولو) په جريان کي محدود کسان ډېر بډای او ډېر زيات خلک بيا له لوږي سره مخامخ سول، او د عامه ميډيا زياته برخه اوس هم د دولت په کنټرول کي ده.

ډيموکراسي اسانه شی نه ده. ډيموکراسي يو پرله پېچلی او په ډېر حساس ډول يو بيلانس سوی سيسټم دئ، چي د مملکت له سياسي کلتور سره ارتباط لري. د مارکيټ اقتصاد، د پراخي منځنۍ طبقې او پلوراليزم (تعدد) په موجوديت کي ښه وده کولای سي. کېدای سي چي په هر هيواد کي ډيموکراسي راسي. ډېر پوهان په دې عقيده دي چي د ډيموکراټيکي سولي تيوري democratic peace ډېرحاميان لري او ډيموکراسي هيڅکله يو له بله



سره جګړه نه ده کړې. که دا خبره رشتيا وي، نو ډيموکراټيکه نړۍ د سولي نړۍ بلل کېدای سي.

# عمده مفاهيم

**د بشپړ کنټرول واقعيت او تصوير :**

لکه څرنګه چي بشپړه او کامله ډيموکراسي وجود نه لري، همدا راز بشپړ او کامل ټوټليټاري ديکتاتوري هم وجود نه لري. هغه کسان چي له دباندي څخه توتاليتاري هيوادونو ته ورتلل، نو زيات وخت به د دې هيوادونو د مطلق کنټرول تر تأثير لاندي راتلل. مثلاً کله چي به خارجي ميلمانه د ايټاليا فاشيستي هيواد ته ورتلل، د هغه هيواد ظاهري قانون، انتظام، او د ښارونو پاکوالي ته به په حيرت کي پاتېدل او فکر به يې کاوه چي دا د يوه شخص واکمني ده. موږ اوس پوهېږو چي د ډېرو ايټالويانو مسيوليني خوښ نه و، د ده سازمانونه او اقتصادي پلانونه سره ګډ وډ وه، او ده پر هيواد باندي، هغه ډول چي تصور کېدي، بشپړ کنټرول نه درلود. کله چي په کال ۱۹۴۳ کي، برتانيې او امريکا جنوبي ايټاليا ونيوله، د موسيوليني خپلو جنرالانو دی د کودتا له لاري له پښو وغورځاوه. بيا نو د ايټاليې پاچا (تر کال ۱۹۴۶ پوري ايټاليا شاهي هيواد و) موسيوليني له صدارت څخه ګوښه کړ. آيا دې ته بشپړ کنټرول ويلای سو؟

د سټالين تر مړيني وروسته، د شوروي هر ګوندي مشر د بيوروکراسۍ او اقتصادي بې نظمۍ، چي د شوروي د پرمختګ مخه يې نيولې وه، پر خلاف بيانيې ورکړي دي. مګر نه خروشچف، نه بريژنيف او نه هم ګورباچوف دا پرابلمونه حل کړل. د شوروي د اقتصادي ژوند ډېره برخه پر پټو معاملاتو او قرادادونو او هم د بانفوذه اشخاصو پر نفوذ ولاړه وه چي له مرکزي پلانګذارۍ سره يې توافق نه درلود. شوروي کارګرانو له راډيو نيولې بيا تر انجن پوري غلا کول او زياتره وخت به کار ته نشه راتلل. بشپړ کنټرول چيرته و؟ د پراودا او ايزويستيا ورځپاڼو پاڼې په دې پرابلمونو ډکي وي، مګر حکومت د دې پرابلمونو د حل له پاره هيڅ نه سوای کولای.

موږ بايد دا په نظر کي ولرو، چي هغه نمونه يې او موډل ټوټاليتاريانيزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په دې فصل کي خبري پر وسوې، هيڅکله هم له واقعيت سره مطابقت نه دئ درلودلی. دا موډل د بشپړ کنټرول له پاره هڅه بيانوي مګر دا نه وايي چي بشپړ کنټرول لاسته راغلی دئ. تر کال ۱۹۸۹ راوروسته، چي د ختيځې اروپا هيوادونو يو په بل پسې کمونستي سيسټمونه پرېښوول، موږ وليدل چي دا سيسټم ځومره کمزوری و. د دې هيوادو کنټرول اقتصاد، له دردناکو ستونزو سره، د مارکېټ اقتصاد ته راواوښت. موږ اوس په دې پوه سولو چي دې کمونستي رژيمونو هيڅکله هم بشپړ کنټرول نه و درلودلی.

**ډيموکراسي ولي ناکامېږي؟**

ډيموکراسي کېدای سي چي د يوه ملت په سيا سي ژوند کي ډېر ژر منځته راسي. خو په تاريخي لحاظ پايېدونکې ډيموکراسي په هغو هيوادونو کي راځي چي پراخه او تعليميافته منځنۍ طبقه ولري. لکه بارينګټن مور Barrington Moore چي په کال ۱۹۶۶ کي دا نظر وړاند کړی و، چي "که بورژوازي نه وي، ډيموکراسي نسته". په غريبو او بېوزلو هيوادونو کي له خلکو سره تر ډيموکراسۍ دمخه د ژوندي پاته کېدلو اند ېښنه موجوده وي. د لاتيني امريکې په يوه سروې کي چي په کال ۲۰۰۴ کي تر سره سوه، اکثريت خلکو دا نظر ځرګند کړ، چي د دوی هغه ډيکتاتور، چي د دوی د ډوډۍ غم وخوري، تر هغه انتخابي ليډر خوښ دئ چي دوی ته ډوډۍ نه سي برابرولای. منځني طبقات له ځان سره اعتدال، تحمل او سړه سينه راوړي، او همدارنګه دا فهم او درک منځته راوړي چي ټول شيان ژر او په يوه وار نه سي سمېدلای.

# شپږم فصل

**سياسي ايډيالوجي :**

ايډيالوجي په دې باور پيل کېږي چي شيان بهتره کېدای سي، ايډيالوجي د ټولني د اصلاح او سمون پلان دئ. لکه انتون ډاونز Anthony Downs چي وايي، ايډيا لوجي د "ښې ټولني لفظي تصوير دئ، او همدارنګه د دې ډول ټولني د جوړولو عمده وسيله ده". سياسي ايډيالوجي ګاني پوليټکل ساينس نه دئ، ايډيالوجي ګاني په سياسي سيسټمونو باندي د پوهېدلو له پاره د پوليټکل ساينس په شان يو آرام او پر معقوليت ولاړ کوښښ هم نه دئ. بلکي، ايډيالوجي د سياسي سيسټم د بدلولو لپاره يو تعهد دئ.

په سياست کي، ايډيالوجي نهضتونه، ګوندونه، او انقلابي ګروپونه سره مبنلوي. د يو هدف په خاطر د مبارزې او قربانۍ له پاره خلک د ايډيالوجۍ محرکه قوې ته اړتيا لري يعني يو داسي شي ته اړتيا لري چي دوی عقيده پر ولري. هغه کسان چي په سياست کي پر اعتدال او پراګماتيزم باندي ټينګار کوي، په اوسنۍ نړۍ کي د ايډيالوجۍ په قوت نه دي پوهېدلي. د جنوبي ويتنام خلکو له جسماني پلوه د شمالي ويتنام او ويتکانګ له خلکو سره هيڅ توپير نه درلود، او د جنوبي ويتنام وسلې تر نورو ښې وې مګر په پاي کي هغه ويتناميان چي يوې ايډيالوجۍ ته معتقد وه پر هغو ويتناميانو چي کومي خاصي ايډيالوجۍ ته يي عقيده نه درلوده، بريالي سول. هغه ايډيالوجي چي دوی ورته معتقد وه د مارکس، لنين او ماوتسې تونګ له عقايدو څخه يو مرکب دکتورين و، چي د يوه قوي نېشنليزم او استعمار ضد نظريات پر زيات سوي وه.

تر دوو پېړيو لا يو څه مخکي، په عقيده او ايډيالوجي سنبال امريکايانو هم د انګرېزانو لوی فوج ته ماته ورکړه. امريکايانو پر ايډيالوجي سربېره، د جان لاک او توماس هابس د قلم له برکته، له استقلال او خودارادیت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی مینه درلوده، مګر انګریزانو داسي څه چي د هغه له پاره وجنګېږي نه درلودل. د تعجب خبره دا ده چي اوس بیا امریکایان اسلامیزم ته، چي یوه نوې افراطي ایډیالوجي ده، ګنګس او حیران دي.

ایډیالوجي ګاني هیڅکله په عمل کي کټ مټ هغسی چي حامیان یې ادعا کوي کار نه ورکوي. ځیني ایډیالوجي ګاني له سختي او بدورګه ماتي سره مخامخ کېږي. په ټولو ایډیا لوجي ګانو کي خیالي افکار (خیال پلو) داخل وي چي له واقعیت سره د مخامخ کېدلو په صورت کي سره پاشل کېږي. پر ایډیالوجي معتقد کسان ادعا کوي چي یو بشپړ او تکمیل جهان جوړولای سي، په داسي حال کي چي واقعیت پخپله بشپړ او مکمل نه دئ. د ادم سمیت Adam Smith کلاسیک لیبرالیزم په رشتیا سره هم د نولسمي پېړۍ له اقتصادي ودي سره مرسته وکړه، مګر د ثروت غیر عادلانه وېش او اقتصادي بحرانونه یې هم له ځانه سره راوړل. د کمونیزم ایډیالوجي ظالمانه استبداد، اقتصادي ناکامي او د سیسټم سقوط منځته راوړ. ټولي ایډیا لوجي ګاني، کله چي له واقعیت سره پر تله سي، زیات وکم نیمګړ تیاوي لري، ځکه نو باید په احتیاط برخوردور سره وسي.

## عمده ایډیالوجي ګاني

**کلاسیک لیبرالیزم:**

په کال ۱۷۷۶ع کي، د سکاټلیند اقتصاد پوه ادم سمیت د ملتونو ثروت The Wealth of Nations په نوم اثر خپور کړ او د کلاسیک لیسي فیري اقتصاد اساس یې کېښېښود. سمیت استدلال کاوه چي د ملتونو واقعي ثروت د سرو او سپینو زرو په راغونډولو کي نه دئ. بلکي د ملتو ثروت په هغو مالونو او خدماتو کي پروت دئ چي ملتونه یې تولیدوي. سمیت، د مرکانټلیزم په نوم مخکنۍ نظریه رد کړه. د مرکانټلیزم د نظریي له مخي، د یوه ملت په خزانه کي د سرو او سپینو زرو خښتو موجودیت د هیواد بډایتوب ټاکي. هسپانیې دا لار تعقیب کړه او نوې نړۍ (د امریکې براعظم) یې لوټ کړه مګر د پخوا په تناسب غریبه سوه. فرانسې هم، په تېره پېړۍ کي، د ځورلسم لویي له زمانې څخه د مرکانټلیزم لار تعقیب کړه. د فرانسې دولت د پلانونو، انحصاراتو، مالي



مرستو، پر تجارت باندي د ګمرګي بندیزونو له لاري د اقتصاد څارنه او کنټرول کاوه.

سمیت دا استدلال وړاندي کړ چي دا د بریالیتوب او نېکمرغۍ ته د رسیدلو لار نه ده. په اقتصاد کي د حکومت مداخله پر مختګ شا ته اچوي. که تاسي یوه شرکت ته د یو شي د تولید انحصاري حق ورکړی، نو تاسي د رقابت او له هغه سره د نوي او ارزانه تولیداتو د تولید مخنیوی کوی. که تاسي ګمرګي تعرفو له لاري د داخلي صنایعو حمایه اوساتنه وکړی، نو تاسي د بهترو او ارزانترو تولیداتو د منځته راوړلولپاره د تشویق مخه نیسی. له اقتصاد څخه د حکومت د ایستلو او اقتصاد و خپل سرته په پرېښوولو سره، تاسي بریالیتوب او نېکمرغۍ ته لاره خلاصوی.

مګر آیا، د حکومت له څارني پرته آزاد رقابت به بېنظمي او ګډوډي مینځته رانه وړي؟ سمیت وایي داسي نه پېښېږي، د ده په عقیده پخپله مارکېټ اقتصادپه نظم راکښېږا سي . باکفایته تولید کوونکي به بریالي سي او بې کفایته مولدین به له میدانه ووزي. عرضه او تقاضا تر هر ډول حکومتي مامورینو د شیانو قیمتونه ښه ټاکلای سی. په ازاد مارکېټ کي یو (نه لیدونکی لاس) اقتصاد تنظیموي. که د خلګو تقاضا د یوه ټاکلي شي له پاره ډېره سي، تولید کوونکي عرضه زیاتوي، نوي تولیدوونکي میدان ته راوزي، او یا هم خارجي تولیدوونکي خپل مالونه بازار ته راوړي. (نه لیدونکی لاس) د حکومت له مرستي پرته اقتصاد ته توازن وربخښي. دا نه لیدونکی لاس، په حقیقت کي، د خپلو شخصي ګټو د لاسته راوړلو له پاره د بې شمېرو انفرادي اشخاصو تلاش دئ.

دې ایډیالوجۍ د لیبرالیزم نوم د لاتیني لغت liber یعني (آزاد) څخه اخیستی دئ. ټولنه باید تر ممکنه حده د حکومت له مداخلې څخه آزاده وي. تامس جفرسن یې ډېر مناسب لنډیز داسي کوي چي: "ښه ترین حکومت هغه دئ چي لږترین حکومت کوي". امریکایانو کلاسیک لیبرالیزم په ډېري اسانۍ سره ومانه. ځکه کلاسیک لیبرالیزم د امریکې په شان د یوه پیاوړې، پر آزادۍ مین اولس له اړتیاوو سره تطابق درلود. غیراقتصادي آزادي هم د امریکانو پر طبیعت برابره وه. د دوی په عقیده، حکومت باید د مذهب، مطبوعاتو او د بیان د آزادۍ پر څارنه او کنټرول ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موډرن لیبرالیزم:**

د ادم سمیت و کلاسیک لیبرالیزم ته څه ورپېښه سوه؟ د نولسمي پېړۍ په اواخرو کي، دا موضوع روښانه سوه چي آزاد مارکېټ لکه سمیت چي فکر کاوه پخپله ځان نه تنظیموي. رقابت نیمګړتیاوي درلودې. تولیدونکو د مارکېټ په کنټرول پیل وکړ. (یعني تولیدونکي پخپل مینځ کي سره کښېنستل او د شیانو له پاره یې پخپله ګټه یو واحد قیمت وټاکی) چي سمیت هم د دې کارپېش بیني کړې وه. ځینو تولیدي مؤسساتو یو له بله سره د رقابت کولو په عوض کي، اتحاد سره وکړ او د تولیداتو انحصار یې په لاس کي ونیوی. دې سیسټم یوه ډېره پراخه غریبه او بېوزلې طبقه په وجود راوړه. طبقاتي موقف میراثي شکل ونیوی، د بډایي طبقې اولادونو په لوړه طبقه کي د پاته کېدلو له پاره د ښه تعلیم امکانات او لازم روابط درلودل. اقتصادي بحرانونو بېوزلي خلګ او کارګره طبقه ډېره ځوروله. د لېسې فیرې سیسټم په ټولنه کي ځیني ستونزي منځته راوړې.

انګرېزي یوه تامس هیل ګرین Thomas Hill Green په ۱۸۸۰ع کلونو کي پر لیبرالیزم باندي نوی نظر وکړ. د ګرین په عقیده د لیبرالیزم هدف یوه آزاده ټولنه وه. مګر که له اقتصادي پرمختګ سره آزادي له منځه ولاړه سي نو څه به کېږي؟ کلاسیک لیبرالیزم قراداد او رضایت ته ډېر اهمیت ورکوي (قرارداد یعني د راضي او سره خوښو ډلو تر منځ موافقه چي د حکومت مداخله پکښې شامله نه وي)، که په قرارداد راضي نه یې، مه یې قبلوه! (دلته د پښتو هغه متل صدق کوي چي وایي رضا یې کړه ملا یې ور ماته کړه). مګر که د قرارداد دواړه خواوي د قدرت له پلوه سره مساوي نه وي نو بیا څنګه کېږي؟ مثلاً یو بډای سرمایه دار او بېچاره کارګر د قدرت په لحاظ سره مساوي نه دي او غریب کارګر و کار ته ډېر اړ وي. په داسي یوه حالت کي، آیا یو بېچاره کارګر د ا آزادي لري چي په لږ اجوره کار کول رد کړي؟ کلاسیک لیبرالیزم وایي چي همداسي یې پرېږدئ، مارکېټ پخپله د اجورې اندازه ټاکي. مګر که اجوره دومره لږ وي چي کارګر ته ډوډۍ نه سي ورکولای نو بیا بېچاره کارګرڅه وکړي؟ دا وخت نو، د ګرین په عقیده، د حکومت د مداخلې وخت دئ. په داسي یو حالت کي، د خلګو په آزادۍ کي د حکومت د مداخلې سوال منځته نه راځي بلکي د حکومت لخوا د خلګو د حقوقو د دفاع او ساتني مسئله



مطرح ده. د ګرین په عقیده، حکومت باید د خلګو د عادي ژوند د تأمین او تضمین له پاره مداخله وکړي.

کلاسیک لیبرالیزم حکومت له مارکېټ او بازار څخه وایستی، موډرن لیبرالیزم بیرته حکومت مارکېټ ته د دې لپاره راننه ایست چي خلګ د غیرعادلانه اقتصادي سیسټم په وړاندي خوندي کړي. موډرن لیبرالیسټانو د اجورې و کار د ساعتونو د قوانینو له پاره، د صنفي اتحادیو جوړولو د حق لپاره، د بېکاره کېدلو او روغتیایي بېمې له پاره، او د تعلیمي پرمختګ له پاره ډېري هلي ځلي وکړې. د دې کار له پاره حکومتو تر کارګري طبقې پر سرمایه داري طبقې ډېر مالیات وضع کړل. دا د امریکې د متحده ایالاتو د شلمي پېړۍ لیبرالیزم دئ چي ووډروویلسن، فرانکلین روزویلټ او ټډ کینډي عملي کاوه. په موډرن لیبرالیزم کي د زاړه لیبرالیزم یوه مهمه برخه اوس هم پاته ده، او هغه د قلم او بیان پر آزادۍ ټینګار دئ.

**مارکسیسټي سوشیالیزم:**

که څه هم کلاسیک لیبرالیزم په نولسمه پېړۍ کي تسلط درلود، د کپیټالیستي سیسټم د ښکاره تېریو په عکس العمل کي زیات انتقادونه راپورته سول. ځینو کسانو، د یو څو ریفورمونو په راوستلو باور او عقیده نه درلوده، دوی د کپیټالیسټي سیسټم له منځه تلل غوښتل. دوی سوشیالیسټان وه، او د دوی مخکښ مفکِر کارل مارکس Karl Marx و، چي د ده پر پېچلې تیورۍ باندي په دوهم فصل کي وږغېدلو. مارکس په خپلو لیکنو کي انقلاب پر مخ بیوی. د ده له بورژوازۍ څخه، دمخه تر دې چي د دې طبقې د له منځه تللو تیوري رامنځته کړي، نفرت کېدی. د ده د نظریاتو عمده ټکي د کمونست مانیفیسټ په نوم رساله کي په کال ۱۸۴۸ع کي خپاره سول. د دې رسالې نتیجه ګیري په دې الفاظو سوې ده چي: "پرولتاریا بې له ځنځیرونو بل څه نه بایلي. او د ګټلو له پاره یو جهان لري. د نړۍ ټولو کارګرانو، سره یو سئ!" مارکس د اروپا د لومړنیو سوشیالیسټي ګوندونو په تنظیمولو او جوړولو کي برخه واخیستله.

د مارکس کاپیټال capital په دې هکله یو ډېر ستر تحلیل و، چي ولي به پرولتاریا کپیټالیزم له منځه یوسي او تر هغه وروسته به سوشیالیزم راسي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه عادلانه، تولیدي، او له طبقاتي امتیازاتو فارغه ټولنه ده. وروسته به، په یوه ټاکلې مرحله کې چې تولید ډېر زیات سي، دا سوشیالیستي ټولنه به په کمونستي ټولني واوړي. کمونستي یوه مکمله ټولنه ده چې په هغه کې به پولیس، پیسې او حتی حکومت وجود ونه لري. شیان به دومره پرېمانه وي چې خلګ به یوازي هغومره اخلي چې اړتیا ورته لري. خصوصي ملکیت به وجود نه لري، ځکه نو پولیس ته به هم اړتیا نه وي. څرنګه چې حکومت د حاکمي طبقې د حاکمیت یوه وسیله ده، نو د طبقاتو د له منځه تللو سره به حکومت ته هم ضرورت نه وي. په دې توګه نو تر سوشیالیزم وروسته به کمونیزم هغه یوتوپیایي ټولنه وي چې له ډېره وخته یې پېش بیني سوې ده.؛

مارکس د کپیټالیزم ناروغیو او عیبونو ته زیات متوجه و، او هیڅکله یې دا چې سوشیالیزم به څرنګه شي وي، مشخص نه کړ. ده یوازي دا وویل چې سوشیالیزم به تر کپیټالیزم ډېر ښه وي، مګر جزئیات یې ناڅرګند او مبهم پرېښودل. دې ابهام بېلا بېل مفکرین په دې وتوانول چې د خپل خاص نظر سوشیالیزم رامیدان ته کړي او ووایي چې د ده سوشیالیزم هغه څه دئ چې مارکس غوښت. په دې توګه نو د سوشیالیزم یوه لړۍ منځته راغله چې په دې لړۍ کې، د اجتماعي خدماتو طرفداره سوسیال ډیموکراتیک ګوندونه، د صنفي اتحادیو طرفداره ګوندونه، د لنین او سټالین تر حد زیات متمرکز استبداد، او د ماوتسه تونګ دایمي انقلاب شامل دي چې ټول د سوشیالیزم تر نامه لاندي راځي. ټولو ادعا کوله چې د دوی سوشیالیزم (اصیل) دئ. د سوشیالیزم دا متفاوت تفسیرونه د دې علت سو، چې لومړی په سوشیالیستي او وروسته په کمونستي نهضتونو کي انشعابونه راسي.

**سوشیال ډیموکراسي:**

د شلمي پېړۍ په پیل کې، د المان سوشیال ډموکرات ګوند، چې مارکسیزم ته یې عقیده درلوده، د المان ډېر لوی ګوند سو. مارکس مروجه ګوندونو او کارګري اتحادیو ته ښه نظرنه درلود، دی په دې عقیده و چې بورژوازي به دا ګوند ونه سره ونښتېځي. البته کېدای سي چې دا ګوندونه د جدي انقلابي فعالیتونو له پاره د تمرین ځای وګرزي. مګر د المان سوشیال ډیموکراټانو ځیني بریالیتوبونه په لاس راوړل. د دوی غړي و Reichstag (د



المان پارلمان) او نورو محلي مقامونو ته انتخاب سول، په دوی پوري تړلي کارګري اتحادیي د لوړ معاش او د کار د ښو شرایطو په لاس راوستلو بریالۍ سوې. ځینو کسانو ته دا مفکوره ورپیدا سوه چې کارګره طبقه بې له انقلابه هم خپل اهداف لاس ته راوړای سي. که په رایه ورکولو هدف لاس ته راوستل کېدای سي نو بیا د ټوپک څه حاجت سته؟

اېوارډ برنسټاین Eduard Bernstein یو بل نظر رامنځته کړ. ده پخپل تکاملي سوشیالیزم نومي اثر (۱۹۰۱ع) کي د کارګري طبقې لاسته راوړنو ته اشاره وکړه او دې نتیجې ته ورسېدی چې مارکس د کپیټالیزم د ړنګېدلو اوهم د انقلاب په هکله غلط و. هغه ریفورمونه چې کارګري طبقې ته یې ګټې ورسولې، سوشیالیزم هم راوستلای سي. په مارکسیزم کي د نوي نظر په وړاندي کولو سره، برنستاین ته د رویژینست (revisionist) لقب ورکړه سو، چي دا لقب دسنتي مارکسیستانو لخوا د ده د توهین له پاره استعمالېدی. په المان کي د وایمر د شوم جمهوریت په وخت کي(۱۹۱۹ – ۱۹۳۳ع) سوشیال ډیموکراټانو خپله مبارزوي لهجه نرمه کړه او له لیبرالانو او کاتولیکانو سره یې د ډیموکراسۍ د ژغورني له پاره کار وکړ. دوی د نازي رژیم په دوران کي تر تهدید اوتعقیب لاندي وه، چي تر دوهمي عمومي جګړې وروسته بیرته سره راژوندي سول. په کال ۱۹۵۹ع کي د المان سوسیال ډیموکراټانو، د نورو سوشیال ډیموکرات ګوندونو په شان، مارکسیزم پر یوه مخ پرېښود. څرنګه چي په ډېرو هیوادونو کي سوشیال ډیمو کراټانو د اعتدال لاره غوره کړه، نو په انتخاباتو کي یي هم زیات بریالیتوبونه تر لاسه کول. په دې ګوندونو کي نور د انقلاب آثار نه لیدل کېدل.

پوښتنه دا ده چي د سوشیال ډموکراټانو اوسنی دریځ څه دئ؟ دوی د صنایعو دولتي ملکیت (چي صنایع د دولت په لاس کي وي) خوشي کړی دئ. د سویډن د صنایعو یوازي په سل کي ۱۰ د دولت ملکیت دئ. اولوف پالمې Olof Palme، د سوېډن سوسیال ډیموکرات صدراعظم وایي: "که د صنایعو اصلي هدف د تولید پراخول، په نوي بازارونو کي بریالیتوب، او کارګرو ته د کار پیدا کول وي، نو باید له بېري سره مخامخ نه وي. (یعني د صنایعو سره باید دا ښره موجوده نه وي چي دولت به یي پخپل لاس کي ونیسي) د سوېډن صنایعو هیڅکله دومره چټک پرمختګ نه و کړی لکه د سوشیال ډیموکراټانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په واکمنۍ کي چي يي وکړ". د خلکو د ژوند د ښه کولو له پاره سوشيال ډيموکراتانو د صنايعو د دولتي کولو پر ځاي، د اجتماعي خدماتو welfare له وسايلو څخه کار واخيست چي هغه د بېکارۍ او روغتيايي بيمې، پوره تقاعدي معاش، او د کور او خوراکي موادو له مرستي څخه عبارت دي. سوشيال ډيموکراسي په خدماتي دولت welfare state تبديله سوه.

مګر يوه خبره سته، هغه دا ده چي خدماتي دولتونه ډېر ګران دي (ډېري پيسې غواړي). د اجتماعي خدماتو د تر سره کولو له پاره بايد ماليات لوړ سي. په ډنمارک اوسوېډن کي، د ناخالص داخلي توليد زياته برخه په مالياتو کي په مصرف رسېږي. له دا ډول لوړو مالياتو سره څوک نه سي کولای د خپلي خوښي ژوند وکړي.

**کمونيزم:**

په داسي حال کي چي سوشيال ډيموکراتان د ريفورميزم او اجتماعي خدماتو پر خوا ولاړل، د لومړنيو سوشيالستانو يوه وړوکې ډله له مارکسيزم سره پاته سوه او کمونسټان ځني جوړ سول. د دې بدلون په راوستلو کي عمده رول د روسيې روښان فکر، ولاديمير لنين درلودلی دئ. ده په مارکسيزم کي د ځينو تغيراتو په راوستلوسره مارکسيزم- لنينيزم منځته راووړ، چي د کمونيزم يو بل نوم دئ.

د نولسمي پېړۍ په وروستيو کلونو کي، د روسيې ډېرو روښان فکرو عناصرو له تزاري سيسټم څخه نفرت درلود او د تزاريزم د له منځه وړلو په خاطر يي مارکسيزم ته غېږه خلاصه کړه. د مارکس مطلب دا و، چي د ده تيوري به په ډېرو پرمختللو کپيټاليستي هيوادونو کي په کار لوېږي، نه د روسيې په شان وروسته پاته هيواد کي چي نوی يي په کپيټاليزم شروع کړې وه. لنين، په سويټزرليند کي د اوولس کلن تبعيد په دوران کي، مارکسيزم د وروسته پاته روسيې سره عيار کړ. ده د اقتصادي امپرېاليزم تيوري وړاندي کړه. لنين دا تيوري د الماني انقلابي شخصيت روزا لکسمبورګ Rosa Luxemburg او انګليسي اقتصاد پوه هابسن J.A. Hobson څخه اقتباس کړه. دا کسان په تعجب کي وه، چي ولي پرولتاري انقلابونه، لکه څرنګه چي مارکس پېش بيني کړي وه، په پرمختللو صنعتي هيوادونو کي منځته رانغلل.



نو دوی دې نتيجې ته ورسېدل چي کپيتاليزم له نوو شرايطو سره ځان داسي عيار کړی دئ چي مستعمراتو ته ورغزېدلی دئ او د هغوی اومه مواد، د کار ارزانه قوه او نوي بازارونه يي استثمار کړي دي. يعني کپيتاليزم په امپرياليزم باندي تبديل سو چي په دې توګه يې موقتي ژوند لاسته راوړ. داخلي مارکېټ ټول هغه توليدات چي کپيټاليستې سيسټم توليدول نه سوای جذبولای، ځکه نو خارجي بازارونو ته وروغزېدی. امپرياليستي هيوادونه له خپلو مستعمراتو څخه د ډېرو زياتو ګټو په راغونډولو سره وتوانېدل چي و کارګري طبقې ته هم يو څه ور کړي، او په دې توګه يې د انقلاب څخه راوګرزوي.

د لنين په عقيده، امپرېاليزم مجبور و چي پراخ سي، مګر انکشاف يي غير متوازن و. ځيني هيوادونه، لکه برتانيه او المان ډېر پرمختللي وه. مګر د هسپانيې او روسيې په شان هيوادو کي، چي کپيټاليزم تازه پکښې شروع سوی و، پرمختګ او انکشاف کمزوری و. نوي صنعتي سوي هيوادونه، په مجموع کي د بين المللي کپيټاليسټي سيستم لخوا استثمارېدل. همدا نوي صنعتي سوي هيوادونه وه چي انقلابي هيجانات پکښې روښانه ځلېدل، دوی د (امپرياليزم) کمزورې کړۍ وه.ځکه نو لنين استدلال کاوه، چي انقلاب کېدای سي په يوه غريب هيواد کي پېښ سي او وروسته و پرمختللو هيوادونو ته پراخ سي. امپرياليستي هيوادونه پر خپلو امپراتوريو ولاړ دي، کله چي يي له استثماره لاسونه غوڅ سي نو کپيتاليزم به راونړېږي. لومړۍ عمومي جګړه، د لنين په عقيده، د امپريالستانو تر مينځ ټکر او تصادم و چي غوښتل يي ټوله نړۍ تر خپل تسلط لاندي راولي.

لنين دمارکسيزم جهت اوتوجه دکپيټاليسټي هيوادونوله دننو [داخلي] شرايطوڅخه دکپيټالسټي هيوادونو خپل ميانځي شرايطوته واړوله. دمارکس توجه دبورژوازۍ په مقابل کي دپرولتاريا راپورته کېدلوته وه، لنين دا توجه دامپرياليستي قدرتونوپه مقابل کي د استثمار سويو هيوادونوراپورته کېدلوته واړوله. ښايي مارکس به د لنين لخوا دده دتيورۍ داډول بدلون نه وای منظور کړئ.

د لنين ډېر مهم کار و سازمان ته د ده دقيقه او جدي توجه وه. څرنګه چي دوی هر وخت د تزاري مخفي پوليسو تر تعقيب لاندي وه، نو لنين استدلال کاوه چي د روسيې سوشياليست ګوند نه سي کولای د نورو ګوندونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شان پراخ، پرانیستی او د رایې ګټلو په هڅه کې وي. په عوض کې يې، د روسيې سوشيالست ګوند بايد کوچنی، مخفي، د مسلکي انقلابيونو څخه جوړ سوی، او تر يوې مرکزي قوماندې لاندې ډېر ټينګ سازمان سوی وي. په کال ۱۹۰۳ کې، پرهمدې مسئله باندې د روسيې په کارګري سوشيال ډيموکرات ګوند کې انشعاب راغی. لنين د برسلز Brussels په ګوندي غونډه کې پوره حاميان درلودل او له حاضرو يو پنځوسو هيئتونو څخه يې درې دېرش رايې وګټلې. لنين خپل ګوند بالشويک (چې په روسي کې اکثريت ته وايي) وباله. د اقليت ګوند چې داعتدال طرفدار و د مانشويک (اقليت) په نامه وبلل سو. په کال ۱۹۱۸ کې بالشويکانو خپل د ګوند نوم کمونست ته واړاوه.

و سازمان ته د لنين زياتې توجه ده ته ګټه ورسوله. روسيه د لومړۍ عمومي جګړې له اغېزې څخه په ډېرګډ وډ حالت کې وه. د ۱۹۱۷ع کال د مارچ په مياشت کې يوې معتدلې ډلې له تزار څخه واک تر لاسه کړ، مګر په دې ونه توانېدل چې مملکت اداره کړي. د نوامبر په مياشت کې، بالشويکانو په مهارت سره په هغو شوراګانو کې چې په لويو ښارونو کې تشکيلي سوي وې له اعتدالي ډلو څخه قدرت تر لاسه کړ. د داخلي جنګ تر ګټلو وروسته، لنين د نړۍ ټولو ربښتيني سوشيالستانو ته بلنه ورکړه چې د ماسکو تر کنټرول لاندې په يوه نوي نهضت کې سره يو ځای سي. دا نهضت د بين المللي کمونيزم، يا کومينترن Comintern په نامه يادېدی. تقريباً د نړۍ په ټولو سوشياليستي احزابو کې انشعاب راغی، د دې احزابو چپي اړخونه له کومينترن سره يو ځای سول او په ۱۹۲۰ – ۱۹۲۱ع کلونو کې کمونستي احزاب ځني جوړ سول. په نتيجه کې يې منځته راغلي سوشيال ډيموکراتيک او کمونست ګوندونه له هغه وخت راهيسې يو له بل سره دښمني لري.

د شوروي اتحاد واکمنانو څومره پر مارکسيزم – لنينيزم باندې په رشتيا سره عقيده درلوده؟ دوی هر وخت مارکسيستي نطقونه او بيانيې ورکولې، مګر ډېر کتونکي په دې باور وه چې دوی پر مارکسيستي – لنينيستي ايډيالوجۍ باندې بد ګومانه وه او يوازې يې د نمايش له پاره کار ځني اخيست. شورويانو هيڅکله خپله ټولنه کمونستي نه بلله. دوی به ويل چې کمونستي به وروسته راځي او دوی کې کمونستي بلل کېدل. په کال ۱۹۶۱ کې، د شوروي د کمونست ګوند مشر نيکيتا خروشچيف په بې پروايي سره دا پېش بيني وکړه



چې "اوسنی نسل به کمونيزم په سترګو ويني" او داسي يې وښوول چې يوتوپيا (خيالي دنيا) به په کال ۱۹۸۰ کې راوروسېږي. مګر شوروي د زوال خوا ته وروښويېدی او د ۱۹۹۱ع کال په پای کې دشوروي سيستم ړنګ سو.

**ماوييزم او ټيټويزم:**

په ۱۹۳۰ کلونو کې، ماوتسې تونګ Mao Zedong و دې نتيجې ته ورسېدی چې د چين کمونست ګوند بايد پر بېوزلو بزګرو او ګوريلايي جګړو ولاړ وي. دا د ستالين د لېډرشيپ خلاف کار و، او تر څو لسيزو جګړو وروسته، په کال ۱۹۴۹ع کې د چين کمونست ګوند د چين قدرت په لاس کې ونيوی. ماوتسې تونګ يوه ډېره افراطي لاره تعقيب کړه. د چين د چټک صنعتي کېدلو له پاره ناکامه هلې ځلې (په کال ۱۹۵۸کې مخ په وړاندې ستر ګام)، د بيروکراتيک قدرت ماتول (په ۱۹۶۶ – ۱۹۷۶ع کلونو کې پرولتاريايي کلتوري انقلاب)، او په کال ۱۹۶۹ کې له شوروي اتحاد سره سرحدي جګړه يې څو مثالونه دي. کله چې په کال ۱۹۷۶ کې ماوتسې تونګ مړ سو، آرامو او خونسردو ليډرانو چين له افراطيت څخه، چې د چين اقتصادي پرمختګ ته يې ډېر تاوان رسولی و، رابېل کړ. ماوييزم د کمونيزم يو ډېر افراطي شکل دئ.

د يوګوسلاويې د ګوند مشر جوسپ تيتو Josip Tito يوه بله لار واخيستله. ده د کمونيزم يو نسبتاً معتدل او ليبرال شکل منځته راووړ. که څه هم د ټيټو پارتيزانان د ستالين تر نامه لاندې له المان سره وجنګېدل، مګر ستالين پر ټيټو باندې پوره کنټرول نه درلود، او په کال ۱۹۴۸ کې ستالين يوګوسلاويا له کمونيستي کمپ څخه وايستله. په ۱۹۵۹ع کلونو کې، د يوګوسلاويا کمونستانو پخپل سيستم کې اساسي بدلون راووست. دوی خپل سيستم پر غيرمرکزيت، غير بيوروکراسي (د بيوروکراسۍ له منځه وړل) او د کارګرو پر خپل منځي اداره باندې بنا کړ. دوی هڅه وکړه چې د مارکېټ او کنټرول سوي اقتصاد تر منځ يوه منځنۍ لاره پيدا کړي چې په نتيجه کې يوګوسلاويا په ۱۹۸۰ کلونو کې له ډېرو سختو اقتصادي پرابلمونو سره مخامخ سوه. ټيټويزم هغو کمونستي واکمنو ته چې غوښتل يې د کپيټاليزم او سوشياليزم تر مينځ (منځنۍ لاري) پيدا کړي، يو اخطار (خبرداري) و. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ترکيبي سيستم بې ثباته وي او يوازې په يوګوسلاويا کې يې ځکه کار کاوه چې د ټيټو تر اداري لاندې وه. کله چې ټيټو په ۱۹۸۰ع کې مړ سو، د يوګوسلاوېې تجزيه پيل سوه څو چې په ۱۹۹۰ کلونوکې په يوګوسلاويا کې د وينو ويالې وبهېدلې.

**نیشنلیزم:**

په ټولو ايډيالوجي ګانو کې نيشنليزم، چې د خپل هيواد پر ستر توب او وحدت (يووالي) باندې ډېره عقيده درلول دي، ميدان وړی دئ. نېشنليزم، چې اوس هم مسلط دئ، د خارجي قواوو له خوا د يوه هيواد د اشغال او استبداد څخه رازېږي. د کيوبا، فلسطين، ويتنام، عراق او نور نيشنلستان چيغې پورته کوي چې "موږ نور د خارجيانو استبداد نه سو منلاي!" نيشنليزم دومره برى تر لاسه کړی دئ چې پر نورو ايډيا لوجي ګانو يې هم اغېزه ښندلې ده. د امريکې په متحده ايالاتو کې محافظه کاري له امريکايي نيشنليزم سره يو ځای سوې ده او په چين کې کمونيزم له چينايي نيشنليزم سره نغښتى دئ. (په عمومي صورت د امريکې ټولنه پر محافظه کار او ليبرال باندې وېشل سوې ده. محافظه کاران عموماً د جمهوري غوښتونکي ګوند او ليبرالان عموماً د ډيموکرات ګوند پلوي کوي).

د نيشنليزم لومړي تخمونه د رنسانس د پاچهانو په وخت کې وپاشل سول، چې د خپلو سلطنتونو د مطلق قدرت، وحدت او ستر توب ادعا يې کوله. نيشناليټي يعني تابعيت له حاکميت څخه راوزېږېدی. نيشنليزم د فرانسې له انقلاب سره راڅرګند سو. د فرانسي له انقلاب سره په فرانسويانو کې د خپل ځان په هکله دا احساس قوي سو چې ګويا دوی خاص خلګ دي او قسمت د اروپا د آزادولو رهبري د دوی پر غاړه وراچولې ده. کله چې محافظه کاري ډلي، په کال ۱۷۹۲ کې هڅه وکړه چې پر فرانسې يرغل وکړي، (مسلح ملت) يې په والمي Valmy کې مخه ونيوله، داوطلب او په خپله خوښه خلګو و مسلکي پوځ ته ماته ورکړه. د فرانسې الهام بخښونکی ملي سرود (مارسي لايس Marseillaise) په همدغه کال کې راپيدا سو.

په راوروسته کې، د ناپليون پوځ په ظاهره د فرانسې د انقلاب ليبراليزم ته پراختيا ورکوله، مګر په حقيقت کې يې فرانسوي نيشنليزم خپراوه. د اروپا



فتح سويو ملتونو ډېر ژر د مغرورو فرانسوي فاتحينو څخه کرکه پيل کړه. هسپانويان، جرمنيان، او روسان پخپله نيشنلستان سول او د فرانسويانو د شړلو له پاره يې ملا وتړله. د نيشنليزم اساس له خارجي تسلط څخه پر کرکه کولو ولاړ دئ، دا فرق نه کوي چې دا خارجي قوت سورکوټې برتانويان وي يا د ناپليون پوځ او يا هم اروپايي استعمارچيان وي. نيشنليزم په نولسمه پېړۍ کې اروپا نيولې وه او په شلمه پېړۍ کې د اروپا ټولو مستعمرو ته وروغزېدی. همدا اوس نيشنليزم په دريمه نړۍ کې ډېر پياوړی دئ.

د نولسمې پېړۍ په نيمايي کې، اروپايي مفکرينو، په تېره بيا د ايټاليې او المان مفکرينو، ملت د عاليترين انساني ارزښت په توګه تعريف کړ او د ټولو ښېګڼو اصلي منبع يې وبلله. ايټالوي پوه او ليکوال ګيوسپ مازيني Giuseppe Mazzini په دې عقيده و، چې آزادي بايد د فرد له پاره نه بلکې بايد د ملت له پاره وي. يو څوک هغه وخت واقعي آزادي لاسته راوړي چې ځان د ملت په خدمت کې کښېږدي. مازيني دا استدلال کاوه چې د مثال په توګه، معارف (ښوونه اوروزنه) بايد په خلګو کې د نيشنلزم داسې احساس وروزي چې انفراديت له منځه يوسي.

نيشنليزم، چې په ټولنه کې د روښان فکرانو لخوا رهبري کېږي، هغه وخت رازېږي چې يو اولس يو څوک د دښمن او يا (بېګانه) په توګه وپېژني او وغواړي په مقابل کې يې مبارزه وکړي. په شلمه پېړۍ کې، نيشنليزم د برتانيې، فرانسې او هالنډ په شان استعماري طاقتونو په مقابل کې د هندوستان، الجزاير او اندونيزيا په اولسونوکې، چې د خپل استقلال له پاره جنګېدل، راوزېږېدی. نيشنليسټان پر دې ټينګ ولاړ دي چې هيڅ څوک بايد د بېګانه وو تر لاس لاندې نه وي. د بوسنيا سربان نه غواړي د بوسنيا د مسلمانانو تر لاس لاندې وي، فلسطينيان د اسرائيلو او چچنيان د روسانو تر لاس لاندې ژوند نه غواړي. ځيني چينايان او ايرانيان احساس کوي چې د خارجي قدرتونو تر فشار او کنټرول لاندې دي، ځکه نو نيشنليستي نظامي او ډيپلوماتيک سياستونه تعقيبوي. حتي ځيني کاناډايان، چې د امريکې له اقتصادي او کلتوري تسلط څخه په بېره کې دي، نيشنليستان کېږي.

د نيشنليزم لوی پرابلم دا دئ چې اقتصادي تجريد ته ميلان لري. نيشنليستان نارې وهي چې "موږ به خارجيان پرې نږدو چې زموږ اقتصاد ولکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي!" مګر چټک اقتصادي پرمختګ خارجي سرمایه ګذارۍ او نړیوال تجارت ته اړتیا لري. په هغو ایډیالوجي ګانوکي چي مخ کي یې یادونه وسوه، نیشنلیزم تر ټولو زیات پر احساساتو ولاړ دئ. په یو ملت پوري د اړه درلودلو احساس زموږ په روحیاتو کي اخښلی دئ.

په دې وروستیو لسیزوکي په نړۍ کي یو بل ډول نیشنلیزم رامخته سوی دئ چي هغه منطقوي نیشنلیزم بلل کېږي. د دې نېشنلیزم هدف د موجوده ملتونو تجزیه ده چي پلویان یې واقعي نیشنلیزم بولي. د کیوبک Quebecois جنګیالي غواړي له کاناډا څخه، باسک Basques له هسپانیې، کورسیکن Corsicans له فرانسې او تامیل Tamil له سریلانکا څخه بېل سي. دا نېشنلیزم هم د بېګانه وو لخوا د اداره کېدلو پر نفرت ولاړ دئ.

**فاشیزم:**

په ایټالیا او جرمني کي نیشنلیزم په فاشیزم تبدیل سو، چي د شلمې پېړۍ یوه ستره بدبختي وه. د فاشیستي جنبش یوه نښانه دا ده چي غړي یې یونیفورم (یوشانته جامې) اغوندي. تر لومړۍ عمومي جګړې مخکي، ایټالوي ژورنالیست بینیتو موسیوليني Benito Mussolini یو ډېر جدي سوشیالست و، عسکري خدمت له ده څخه یو ډېر توند نیشنلیست جوړ کړ. تر لومړۍ عمومي جګړې وروسته، ایټالیه له ناراضي خلګو ډکه وه. سوشیالستانو د انقلاب نارې وهلې. په داسي اله ګوله (بې نظمي) وخت کي، موسیوليني یوه ډله خلګ سره راغونډ کړل چي تور کمیسونه به یې اغوستي وه، د ډیموکراسۍ او سیاسي ګوندو د له منځه وړلو او د ډېر سخت مرکزیت او ډسیپلین تحمیلول یې غوښتل. دې فاشیستانو په ټولنه کي له بې نظمۍ څخه نفرت کاوه او د یو قوي لیډرشیپ، چي دا بېنظمی له منځه یوسي غوښتنه یې کوله.

په کال ۱۹۲۲ کي د بې نظمۍ له زیاتېدوسره، د ایټالیې پاچا موسیوليني ته قدرت وروسپاره. تر کال ۱۹۲۴ پوري موسیوليني ایټالیا په یو ګوندي دولت، چي دی یې لیډر و اړولې وه. فاشیستانو اقتصاد داسي څرخاوه چي په ټولو مهمو مقاماتو کي یې خپل (د ګوند) خلګ مقرر کړي وه. ایټالیه ډېره عالي ټولنه ښکارېدله، جرایم ډېر لږ وه، ډېر ستر تعمیرات جوړ سوي وه، قیمتونه ثابت وه، او لکه دوی چي ویل "ټرېنونه (اورګاډي) پرخپل وخت



راتلل". مګر، د پردې تر شا، په ایټالیه کي ورانه ورانې وه. پټه بېکاري زیاته وه، د اقتصاد چنداني خوند نه و او اداري فساد پکښې ډېر و.

په کال ۱۹۲۹ کي د نړیوال اقتصاد له رالوېدلو (سقوط) سره، ځینو کسانو داسي فکر کاوه چي راتلونکې په فاشیزم پوري اړه لري. ادولف هټلر په جرمني کي د موسیوليني فاشیزم کاپي کړ، مګر ده خپل طرفداران د نسواري رنګه کمیسانو په اغوستلو مجبور کړل او نژاد پرستي یې پر زیاته کړه. د هټلر له پاره د جرمن ملت یوازې د ورسا لیس Versailles د غیرعادلانه تړون پر ضد راپور ته سوی ملت نه و، بلکي د ده له پاره جرمنیان یو ممتاز او عالي نژاد هم و. هټلر د جرمني نژاد پرستي اختراع نه کړه، نژاد پرستي په جرمني کي له ډېر پخوا څخه موجوده وه، مګر ده نژادپرستۍ ته مبالغه آمېزه شکل ورکړ. نژادپرستان په دې عقیده وه چي ټول تمدن د سپین نژاد د یوې خاصې څانګې، یعني د آرین نژاد پر لاس راغلی دئ او یوه فرعي څانګه، یعني نوردیک نژاد Nordics، چي جرمنیان هم په هغه کي شامل دي، ترهغه (آرین) لا هم ښه دئ. (واقعیت دا دئ چي د جرمنیانو شجره ډېره ګډه وډه ده)، نازیان په دې عقیده وه چي د نوردیک عالي نژاد د صیهونیت، کمونیزم، جهاني کپیټالیزم، او حتی درومن کاتولیسیزم د فاسدو قواوو تر انقیاد لاندي دئ. دا دکتورین د مرګ د کمپونو اساس و.

هټلر په یو بحراني حالت کي په کال ۱۹۳۳کي د چانسلر (صدراعظم) په توګه وټاکل سو او د موسیوليني په شان یې په دوو کلونو کي یو دیکتاتوري رژیم منځته راووست. نازیانو د اقتصاد کواردیناسیون (انسجام) کاوه چي په نتیجه کي بېکاري له منځه ولاړه او د کایګرو خلګو زیاته برخه په هغو امتیازاتو باندي خوشحاله وه چي رژیم ورته برابرول. د نازي پوره نوم د جرمني د کارګرو ملي سوشیالیستي ګوند و، مګرسوشیالیزم یې جعل و. د هټلر اصلي مرام جنګ و، څګه جنګ قهرمانان جوړوي. د یو څو کلونو له پاره هټلر پر اروپا تسلط درلود او د شرقي اروپا سلاوي نژاده مځکي یې د جرمنیانو مستعمرې کړې. نازیانو د مرګ په کمپونو کي شپږ ملیونه یهودیان او په هم دې شمېر عیسویان ووژل. آیا هټلر لېونی و؟ ډېر زیات جرمنیان د ده په نظر وه او په ملیونو علاقه مندانو له ده سره مرسته کوله. د لېونتوب پر ځای ویلای سو چي نازیانو وښوول چي بې بندوباره او تر کنټرول وتلی نیشنلیزم څومره خطرناک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فاشیزم کلمه ډېره زیاته استعمال سوې او هم ډېره ناوړه استفاده ځني سوې ده. ځیني چپي ډلي یې پر هر هغه شي چي د دوی خوښ نه وي ورغورځوي. د مثال په توګه، د هسپانیې ډیکتاتور فرانسیسکو فرانکو فاشیست بلل کېدی، مګرپه واقعیت کي دی یو (عنعنوي دیکتاتور) و. ځکه ده هڅه کوله په سیاست کي د عامه خلکو د ګډون مخه ونیسي نه دا چي د موسیولیني او هټلر په شان خلګ راوپاروي.

**د کمونیزم سقوط (له منځه تلل):**

په ۱۹۸۰ کلونو کي، کمونیزم له ایډیالوجیکي پلوه په نړیواله سطحه ستړی ستومانه سو. په چین، شرقي اروپا، او حتی په شوروي اتحاد کي لږو خلګو عقیده پر دلودله. په غیر کمونستې نړۍ کي، ډله ډله چپیانو مارکسیزم پسي ایله کړ. د غربي اروپا ځینو کمونستې ګوندو خپله غېږه (یورو – کمونیزم) ته خلاصه کړه. یورو کمونیزم یوه ډېره نرمه ایډیالوجي ده چي دیکتاتوري او د صنایعو دولتي ملکیت ردوي. کمونستانو کپیتالیزم (سرمایه داري نظام) ړنګ فرض کړی و، مګر د امریکې په متحده ایالاتو، غربي اروپا، او شرقي آسیا کي کپیتالیزم پرمختګ کاوه. ډېرو کمونیستي لېډرانو په دې اعتراف وکړ، چي د دوی اقتصاد ډېر زیات پر مرکزیت ولاړ و او یوازینۍ چاره یې د دولتي کنټرول لیري کول او آزاد تشبث ته لاره ورکول وه. د شوروي ریفورم خیاله جمهور رئیس، میخایل ګورباچیف، د شوروي کمونیزم د بیا راژوندي کولو له پاره یو درې اړخیز روش وړاندي کړ: glasnost (د میډیا پرانستل)، perestroika (اقتصادي بیاجوړونه) او demokratizatzia (دیموکراتیزه کول). څرنګه چي ریفورم په ښه توګه نه عملي کېدی، نو د خلګو نارضایتي ځکه زیاته سوه چي اوس خلګو د شکایت ږغ پورته کولای سوای. په کال ۱۹۸۹ کي په شرقي اروپا کي غیر کمونیستي ګوندونو واک تر لاسه کړ. په شوروي اتحاد کي یو څه آزاد پارلمان انتخاب سو او د بدلون راوستلو په بحث یې پیل وکړ. غیر کمونست ګوندونه او نهضتونه راپیدا سول. ګورباچیف بیا هم ونه کولای سوای د ریفورم د چټکتیا او پراختیا په هکله قاطع تصمیم ونیسي. اقتصاد چي ډېر لږ ریفورم پکښې راغلی و، د پولي بحران پر خوا ورغښتی. د ۱۹۹۱ع کال کودتا ناکامه سوه او د همدې کال په پای کي شوروي اتحاد نور وجود نه درلود.



# عمده مفاهیم

**د ایډیالوجي ګانو سرچینه:**

ډېري ایډیالوجي ګاني له سیاسي تیوري ګانو څخه، چي په دوهم فصل کي پر وړغږېدو، راوتلي دي. کلاسیک لیبرالیزم د اوولسمي پېړۍ انګرېزي فیلسوف جان لاک ته ځان رسوي چي پر فردي حقوقو، ملکیت او استدلال یې ټینګار کاوه. کمونیزم بیا د اتلسمي پېړۍ جرمني فیلسوف هیګل ته ځان رسوي. هیګل پر دې ټینګار کاوه چي د ټولني ټول اړخونه (هنر، موسیقي، قانون او داسي نو) په یوه بسته بندي کي عمل کوي.

مګر، ایډیالوجستان د فلاسفه وو ایډیاوي (مفکورې) ساده کوي او عمومیت ورکوي. دوی د عمل له پاره یو پلان غواړي نه مجردي ایډیاوي. مارکس، د مثال په توګه، (هیګل پر سر ودراوه) څو اقتصاد د هر څه اساسي علت وښیي. اکثره ایډیالوجي ګاني یو پراخ اقتصادي جزء هم ځکه لري چي اقتصاد ټولني ته پرمختګ ورکوي. لنین بیا مارکس پر سر ودراوه څو وکولای سي خپلي ایډیاوي د روسیې په شان پر یوه وروسته پاته هیواد باندي تطبیق کړي. مائوتسه تونګ د لنین ایډیاوي په چین غوندي وروسته پاته هیواد کي عملي کړې.

**د ایډیالوجي ګانو طبقه بندي:**

ایډیالوجي ګاني، چي یو څه ساده سي، په چپ او راست قطبونو باندي وېشل کېدای سي. د دې خبري ریښه د فرانسې د ملي اسامبلې د کال ۱۷۹۸ غونډې ته رسېږي. د دې له پاره چي د سره ورته نظریاتو هیئتونه یو له بله سره په جنګ اخته نه سي، نو دوی په نیم دایروي تالار کي په ترتیب سره کښېنول سول. محافظه کاره ډله (چي د شاهي نظام دوام یې غوښتی) د اسامبلې د رئیس و راسته (ښي) خوا ته کښېنول سوه، افراطیون (چي د زاړه نظام له منځه وړل یې غوښتل او د آزادۍ، مساوات او جمهوریت پلویان وه) د رئیس و چپ (کیڼ) خوا ته ځای پرځای کړه سول او اعتدال غوښتونکي (هغه ډله چي یو څه تغیرات یې غوښتل) د دې دوو ډلو په مابین کي کښېنول سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د دوی په افکارو کې زیات تغیر راغلی دئ، خو موږ اوس هم د دوی ایډیالوجیکي نسل د چپ، راست او معتدل په نامه یادوو. چپیان اوس مساوات، اجتماعي خدمات او په اقتصاد کې د دولت مداخله غواړي. راستیان بیا انفرادي ابتکار او خصوصي اقتصاد غواړي. اعتدال غوښتونکي بیا دواړه سره یو ځای کوي.

**کپیټالیزم ولې ړنګ نه سو؟**

د مارکسیزم له کمزوریو او مشکلاتو څخه یو دا دئ چې، د مارکس د پېشبینۍ پر خلاف سرمایه داري نظام ړنګ سوی نه دئ. که څه هم کپیټالیزم په ۱۸۹۰ او۱۹۳۰ع کلونو کې ډېر لوی اقتصادي بحرانونه ولیدل، مگر هر وخت یې بیر ته ځان تکیه کړی دئ.اوس تر پخوا لا قوي سوی دئ.

مارکس، لږترلږه، دوې اشتباوي کړي دي. لومړی، دی د کپیټالیزم په انعطاف پذیرۍ او له نوو شرایطو سره د ځان عیارولو په خاصیت او فطرت نه پوهېدی. زاړه صنایع له منځه ځي او ځای یې نوي صنایع نیسي. کپیټالیزم ډېر لږ پر یوه حال پاتېږي او هر وخت په تغیر او تحول کې وي. دوهم، مارکس په دې نه پوهېدی چې کپیټالیزم یوازې یو سیسټم نه دئ، بلکې د کپیټالیزم ډېر سیسټمونه وجود لري. د امریکې، فرانسې، سنګاپور او جاپان کپیټالست سیسټمونه یوله بله توپیر سره لري.

**یوه نوې ایډیالوجي: اسلامیزم:**

اسلامیزم، چې ځیني وخت (اسلامي بنسټ پالنه) هم بلل کېږي، چې څرنګه د موجوده ایډیالوجي ګانو د ځینو عناصرو له ترکیب څخه یوه نوې ایډیالوجي منځته راتلای سي. اسلامیزم، که څه هم له ډېرو لسیزو راهیسي یې وجود درلود، د ایران د ۱۹۷۹ کال له انقلاب سره یې زور واخیستی. دا ایډیالوجي د مذهب، نېشنلیزم او د عصریت په مقابل کې له قهر څخه، چې له ډېر وخت راهیسي یې په اسلامي نړۍ کې سره په جوش کې و،جوړه ده. اسلامیسټان په دې عقیده دي چې، د امریکا په مشرۍ، غرب اسلامي اخلاق او کلتور تخریبوي، د سیمي هیوادونه (د تیلو له پاره) له اقتصادي پلوه اېلوي، او د اسلام مقدسه خاوره (اسرائیل) غلا کوي. اسلامیزم د نفوس د چټک



زیاتوالي، زیاتي بېکارۍ او په اسلامي هیوادو کې په حکومتونو کې د غلطي ادارې او فساد په مقابل کې د عکس العمل په نتیجه کې وده کوي.

اسلامیزم و نېشنلیزم ته ورته دئ، مگر په اسلام کې سیاست هر وخت له مذهب سره تړلی دئ. مسجد او دولت سره یو دي. حضرت محمد ﷺ د اسلام بنسټ د یوې لویې او پراخي کمیونیټۍ، امت پراساس ایښی دئ چې د مملکت مفهوم ته په سپکه کتل کېږي. همدا علت و چې اسامه بن لادین او د ده پېروان د فلسطین او یا هم د عراقي نیشنلیزم سره بې علاقې دي او یوازې و یوې اسلامي امپراتورۍ ته د رسېدلو په لار کې کار ځني اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ژوندۍ پاته ده. د زرهاوو کلونو زوړ هندو کلتور تر نن ورځې پورې د کاست پر سیستم ټینګار کوي. په داسې حال کې چې حکومت د کاست سیستم د له منځه وړلو له پاره ډېرې هڅې کوي. فرانسویان تر پېړیو etatisme وروسته بیا هم توقع لري چې دولت د اقتصاد څارنه او کنټرول ولري. عراق ...یوازې اوتوکراسي (مطلقه حکومت) پېژني چې وروستنی مثال یې د صدام حسین استبداد و. ډیموکراسي راوستل په عراق کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ ده.

پولیټیکل ساینټست سیدني وربا Sidney Verba سیاسي کلتور داسې تعریف کړی دئ: "سیاسي کلتور د یو لړ تجربي عقایدو (هغه چې پر تجربه او مشاهده بنا وي)، ښکاره سمبولونو، او ارزښتونو یو سیستم دئ چې د سیاسي عمل حالت او وضعیت تعریفوي". د سیاسي کلتور ځیني برخې ډېرې پخوانۍ ریښې لري. د امریکایانو هر وخت محدود حکومت خوښ و. په جاپان کې، چې د پخواني فیوډالي سیستم نخښې او آثار تر اوسه لا پاته دي، هغه څوک چې سر ډېر ټیټ کړي (د تعظیم له پاره) په کښته موقف کې دئ. جاپانیان اوس هم، سره له دې چې د مقاماتو له بې کفایتۍ او اداري فساد څخه ناخوښه دي، مقاماتو ته د تسلیمېدلو میلان لري. امریکایان، چې په عنعنوي توګه چاته غاړه نه ایږدي، حتی که په مسایلوچنداني پوهېږي هم نه، بیا هم دا خپل ډیموکراټیک او طبیعي حق بولي چې د هیواد په اداره کې ځرګندوني وکړي او خپل برغ پورته کړي. د سیاسي کلتور په لحاظ، جاپان او د امریکې متحده ایالات ډېر زیات تفاوت لري.

## سیاسي کلتور او عامه افکار:

سیاسي کلتور او عامه افکار یو پر بل سره رااوړي، ځکه دواړه د سیاست په هکله د خلکو د تفکر طرز او د برخورد طرز [attitude] ته توجه کوي. سیاسي کلتور د سیاست او حکومت په هکله د خلکو بنیادي او عمومي ارزښتونه بیانوي. له بلې خوا، عامه افکار بیا د ټاکلو لیډرانو او ټاکلو پالیسي ګانو په هکله د خلکو نظریاتو ته توجه کوي. سیاسي کلتور په یوه سیاسي سیستم کې په مشروعیت پسې ګرزي، په داسې حال کې چې عامه افکار بیا د روانو حالاتو په هکله د خلکو عکس العمل پلټي.

# اووم فصل

## سیاسي کلتور:

امریکایان او کاناډایان په ظاهره دومره ډېر شباهت سره لري چې ځیني خلک فکر کوي دواړه یو شی دي. مګر له کلتوري پلوه دوی سره جلا دي. امریکایان خوشبینه خلک دي، کاناډایان بدبینه خلک دي. په سیاست کې، د کاناډایانو په مقایسه امریکایان پر فردي حقوقو او محدود حکومتي قدرت زیات ټینګار کوي. کاناډایان ډېر د قانون اطاعت کوي او غواړي چې حکومت اقتصاد او ټولنه رهبري کړي. د امریکایانو په نظر کاناډایان ډېر مطیع او فرمانبرداره دي، د کاناډایانو په نظر بیا امریکایان سرکښه او بې قانونه دي. کاناډایان په کلتوري لحاظ زیات اروپایانو ته ورنږدې کېږي. د کاناډا سیاسي کلتور له امریکاسره ډېر نه خو یو څه توپیر لري.

## سیاسي کلتور څه ته وایي؟

هره ټولنه خپل معیارونه او ارزښتونه خپلو خلکو ته ورانتقالوي. خلک بیا په دې هکله چې سیاسي سیستم باید چارې څرنګه پرمخ بوزي او هم په دې هکله چې حکومت به له دوی سره او د دوی له پاره څه وکړي، څرګند او مشخص مفهوم او تصور (په خپل ذهن کې) لري. د سیاسي سیستم په باب دا ډول عقاید، سمبولونه او ارزښتونه د یوه ملت سیاسي کلتور تشکیلوي او له یوه ملت څخه تر بل پورې ډېر تفاوت سره لري.

د یوه ملت سیاسي کلتور د هغه ملت په تاریخ، اقتصاد، دین او عُرف پورې اړه لري. اساسي (بنسټیز) ارزښتونه چې په پخوا کې وضع سوي وي، ښایي په پېړیو دوام وکړي. سیاسي کلتور یو ډول ډله ییزه (دسته جمعي) سیاسي حافظه ده. امریکا د (رقابتي انفرادیت)، یعني یوازې د ځان له پاره د کار کولو پر بنسټ جوړه سوې ده. دا روحیه تر اوسه لا هم د امریکا په خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاسي کلتور او عامه افکارو متودولوجي هم یو پر بل سره رااوړي. د خلکو له مینځه څخه ګډي وډي (غیرمنظمي random) نمونې ټاکل کېږي او له هغو څخه د یوې ټاکلي موضوع په هکله پوښتني کېږي چي جوابونه یې د یو بل فرعي ګروپ سره په ارتباط کي څېړل کېږي. پوښتني، البته، یو له بله سره بېلي وي. د سیاسي کلتور په سروې کي ښایي دا پوښتنه وسي چي تاسي پر نورو خلکو څومره اعتماد کولای سی، د عامه افکارو په سروې کي بیا ښایي ستاسي نظر د جمهور رئیس د اجراآتو په هکله وپوښتل سي. د سیاسي کلتور په څېړنه کي ښایي په یو شمېر هیوادونو کي همدا پوښتنه د دې له پاره طرح سي چي یوه مقایسوي منظره اولید لاسته راوړل سي.

د سیاسي کلتور څېړني یوازي پر سروې ګانو تکیه نه لري. ځیني وخت د ورځني ژوند د ژوري مشاهدې له پاره او د افرادو د احساساتو په هکله د ژورو پوښتنو له پاره د انتراپولوجي او سایکالوجي له میتودونو څخه کار اخیستل کېږي. د عامه افکارو څېړني له اندازه کېدونکي ډېټا سره سروکار لري، په داسي حال کي چي د سیاسي کلتور څېړني د ژوري پوهي له پاره له تاریخ او ادبیاتو څخه هم کار اخلي. د مثال په توګه، د هغو کسانو مشاهدات چي په نولسمه پېړۍ کي یې امرېکې ته سفر کړی دئ، دا ښیي چي د امریکې په سیاسي او اجتماعي ارزښتونو کي تداوم او تسلسل موجود دئ. په رشتیا سره هم، د فرانسوي الیکسیس توکویل Alexis Tocqueville، چي په ۱۸۳۰ع کلونو کي یې د امریکې په متحده ایالاتو کي ډېرو ځایونو ته سفر وکړ، له ځلاندو مشاهداتو څخه اوس هم کار اخیستل کېږي. توکویل د پولیتیکل ساینس په مطالعه کي د سیاسي کلتور له روش څخه د کار اخیستلو بنسټ ایښوونکی دئ.

مخکي داسي فرضیه موجوده وه چي سیاسي کلتور یو دایمي شی دئ او یا هم ډېر په کراره بدلون مومي، مګر عامه افکار بې ثباته او ژر بدلېږي. اوسنیو څېړنو دا ښودلې ده چي سیاسي کلتور هم بدلون مومي. که باکفایته حکومت او اقتصادي پرمختګ ثبات او دوام ومومي، په خلکو کي د مشروعیت احساس قوي کېږي، له بلي خوا، که بې کفایته حکومت او اقتصادي رکود دوامداره سي، د مشروعیت احساس کمزوری کېږي. عامه افکار، که تر ډېره وخته پوري ثابت پاته سي، په سیاسي کلتور بدلېږي. په ۱۹۶۰ع کلونو کي، عامه



افکارو دا وښودله چي د ویټنام د جنګ په باب حمایه مخ پر لږېدو ده. ټیک په همدې وخت کي، د امریکې د متحده ایالاتو پر حکومت باندي د خلکو اعتماد هم مخ پر کښته روان و. د ویټنام د جنګ غوندي د یوې مشخصي موضوع په هکله عامه افکارو پر عمومي سیاسي کلتور اثر واچاوه، او خلګ یې پر سیاسي سیسټم باندي بدګومانه کړل.

یقیناً د یوه هیواد سیاسي کلتور د عامه افکارو په تناسب ډېر په کراره بدلون مومي او د سیاسي کلتور ځیني اساسي عناصر څو نسلونه او حتی څو پېړۍ لا هم دوام کوي. هغه اساسي ارزښتونه چي توکویل په امریکا کي وموندل اوس هم تر ډېره ځایه پر خپل حال پاته دي. فرانسویان اوس هم، کله چي بې عدالتي درک کړي، د خپلو نیکه ګانو په شان د پاریس جادو ته د اعتراض له پاره راوزي. ایټالویان اوس هم د حکومت په وړاندي د پېړیو زړه بدګوماني څرګندوي. روسان، چي هیڅکله یې هم ډیموکراسي نه وه درلودلې، اوس هم قوي لیډران خوښوي او د ډیموکراسۍ چنداني پروا نه لري. که څه هم دا خبره قطعي نه ده، سیاسي کلتور د یوه سیاسي سیسټم له حمایې او یا نه حمایې سره مرسته کوي.

## په امریکا کي په سیاست کي برخه اخیستنه:

حتی په امریکا کي، ټول خلګ په سیاست کي فعاله برخه نه اخلي. نو بیا څنګه کېدای سي چي اموند Almond او وربا Verba د امریکې متحده ایالات د (مدني کلتور) د ماډل په توګه نړۍ ته وړاندي کوي؟ دوی له خپلو څېړنو څخه یوه عمده نتیجه دا راوایستله چي برخه اخیستنه کېدای سي چي یوازي (تناوبي او بالقوه) وي. په عمل کي، دوی د ډیموکراټیک سیاسي کلتور له پاره د (بیدو سپیانو) تیوري وړاندي کوي. په دې معنی چي په یوه ډیموکراسي سیسټم کي، لیډران په دې پوهېږي چي ډېر وخت ډېر لږ خلګ و سیاست او سیاسي مسایلو ته توجه کوي. مګر دا لیډران په دې هم پوهېږي چي که خلګ د کومي سیاسي افتضاح، ډېري زیاتي بېکارۍ، پولي بحران او یا هم په خلکو کي د منفور جنګ په نتیجه کي راوپارېږي، کولای سي په راتلونکي انتخاباتو کي یې له خپل مقام څخه پسي واخلي. له دې امله نو لیډران عموماً دا هڅه کوي چي خلک غیرفعال او خاموشه وساتي. د پېشبیني کېدونکي عکس

(c) ketabton.com: The Digital Library



العمل د قاعدې له مخې، لیډران په ډیموکراسي سیسټم کې هر وخت له ځان ځخه دا پوښتنه کوي چې خلک به د دوی د تصامیمو او فیصلو په هکله څه ډول عکس العمل ښکاره کړي. دوی په دې خوښ دي چې خلک هیڅ عکس العمل ښکاره نه کړي، دوی غواړي چې بیده سپیان آرام پراته وي.

دا تیوري د امریکا په سیاسي ژوند، په تېره بیا په انتخاباتو کې، د عامه خلکو برخه نه اخیستل تشریح کوي. د صنعتي ډیموکراسیو په ډله کې د امریکا خلک تر ټولو لږ په انتخاباتو کې برخه اخلي. تقریباً نیمایي خلک (هغه خلک چې د رایې ورکولو حق لري) د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې برخه اخلي. په ایالتي او نورو محلي انتخاباتو کې د خلکو برخه اخیستنه تر دې لا هم لږ ده. په دې مقایسه، په لوېدیځه اروپا کې د خلکو درې پر څلورمه برخه په رایې ورکولو کې برخه اخلي (مګر په اروپا کې هم د خلکو برخه اخیستنه مخ پر کښته روانه ده). نو بیا څرنګه د امریکې متحده ایالات د خپلې ډیموکراسۍ باټې ولي؟ تیوریسنان دې سوال ته داسې جواب وړاندې کوي چې په ډیموکراتیک کلتور کې دا حتمي نه ده چې ډېر خلک په انتخاباتو کې برخه واخلي. بلکې د تفکر داسې یو طرز [attitude] لازم دئ چې که خلک راوپارېږي، او یا وپارول سي، په انتخاباتو کې په جدي توګه برخه اخلي او سیاسي لیډران په دې پوهېږي. د خلکو بالقوه، نه بالفعل، برخه اخیستنه ډیموکراټیک کلتور جوړوي.

ځینو څېړنو دا ښوولې ده چې امریکایان پخپل سیسټم ډېر ویاړي او د نورو هیوادو په مقایسه د خپلې ډیموکراسۍ څخه خوښ دي. د۱۹۹۵ع کال د ګالوپ Gallup سروې له مخې، په سلو کې څلورشپېټو امریکایانو د خپل سیسټم په هکله قناعت ښودلی دئ. دا فیصدي په کاناډا کې دوشپېټه، په جرمني کې پنځه پنځوس، په فرانسه کې درو څلوېښت، په برتانیه کې څلوېښت، په جاپان کې پنځه دېرش، په مکسیکو او هنګري کې اووه لس ښودل سوې ده. د امریکې خلک ښايي د خپل حکومت په هکله ډېر شکایتونه ولري، مګر پر ډیموکراسي باندې یې عقیده تر ټولې نړۍ ډېره ده.

## د سیاسي کلتور زوال:

په دې وروستیو کلونو کې، د ډېرو پرمختللو ډیموکراسي ګانو سیاسي



کلتور مخ پر زوال او په انتخاباتو کې د خلکو برخه اخیستنه مخ پر لږېدو ده. ډېر خلک سیاستوالو ته د فاسدو خلکو په سترګه ګوري او حکومتي مؤسسات بېکاره بولي. په جاپان کې چې اقتصاد یې د یوې لسېزې له پاره د رکود په حالت کې دئ دا زوال ډېر زیات دئ. په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ کلونو کې (د ویټنام جنګ، واټرګېټ، او پولي بحران) په امریکا کې سروې ګانو وښوولې چې پر حکومت باندې د خلکو اعتماد ډېر لږ و. په ۱۹۸۰ کلونو کې، چې د رونالد ریګان د جمهوري ریاست دوره وه، پر حکومت باندې اعتماد یو څه زیات سو. مګر په ۲۰۰۴ کال کې بیا په امریکا کې پر حکومت باندې د اعتماد لږېدل په عراق کې د امریکا د جګړې په هکله د خلکو ناخوښي ښیي.

په امریکا کې د محافظه کارانو او لیبرالانو تر منځ هم یو (کلتوري جنګ) روان دئ. د دوی یو له بله ښه نه راځي او یو د بل پر ضد رایې ورکوي. داسې ښکاري لکه امریکا چې دوه بېل هیوادونه وي. یو یې محافظه کاره او مذهبي خلک دي چې په کوچنیو ښارو کې او د هیواد په منځنۍ برخه ژوند کوي، دوی همېشه جمهوري خواهانو ته رایه ورکوي. بلې خوا ته بیا لیبرال، غیرمذهبي secular او ښاري خلک دي چې په شرقي او غربي سواحلو کې اوسېږي، دوی همېشه ډیموکراتانو ته رایې ورکوي. محافظه کاران د همجنس بازانو او ښځو حقوقو ته په کرکه ګوري. لیبرالان بیا لویو کارپورېشنو او د عراق جنګ ته په کرکه ګوري.

## سیاسي فرعي کلتور:

د ۲۰۰۰ کال د احصایې له مخې، په سلو کې تر ۳۰ زیات د امریکې اوسېدونکي سپینان نه دي. تور پوستان، لاتینان (چې خلک یې هیسپانیک بولي)، آسیایان او بومي امریکایان په دې ډله کې شامل دي. د کالیفورنیا په ایالت کې سپین پوستان یو اقلیت دئ. حتی په سپین پوستو امریکایانو کې هم د ایتنیکي، مذهبي او منطقوي ګروپونو تر منځ تفاوتونه وجود لري. کله چې په یوه ټاکلي ګروپ کې ځیني ممیزه خواص په کافي اندازه قوت ولري، نو موږ وایو چې دا ګروپ یو فرعي کلتور تشکیلوي. د فرعي کلتور تعریف یو څه جنجالي کار دئ ځکه موږ نه سو ویلای چې هر ګروپ فرعي کلتور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر تورپوستي امریکایان په اوسط ډول غریبان دي او د سپین پوستو امریکایانو په مقایسه تعلیم یافته پکښې لږ دي. د تور پوستانو مطلق اکثریت ډیموکراتانو ته رایي ورکوي. د جزایي سیستم په هکله د تورپوستانو د تفکر طرز له سپین پوستانو سره فرق لري. ډېر تور پوستان په دې فکر دي چې پولیس د دوی په هکله له تبعیض څخه کار اخلي. موږ ویلای سو چې تور پوستي امریکایان یو فرعي کلتور تشکیلوي.

هغه ګروپونه چې ژبې یې بېلې وي او نه غواړي چې د حاکم کلتور تر لاس لاندي وي، فرعي کلتور تشکیلوي. د کیوبیک ډېر فرانسوي ژبي غواړي له کاناډا څخه بېل او ځانته جلا هیواد ولري. د ختیځ پاکستان بنګالیان د ایتنیکي او ژبني پلوه له لوېدیځ پاکستان سره جلا وه او په کال ۱۹۷۱ع کي یې د بنګله دېش په نوم دولت جوړ کړ. د شمالي هسپانیې باسکیان او د شمال آیرلینډ رومن کاتولیکان فرعي سیاسي کلتور تشکیلوي.

په کوم ځای کي چي فرعي کلتور ډېر زیات متمایز وي، نو دا بیا پخپله سیاسي سیسټم ته خطر وي. شوروي اتحاد او یوګوسلاویه ځکه سره وپاشل سول چي خلګ یې تر ملت و خپلو ټاکلو ایتنیک ګروپونو ته ډېر وفاداره وه. په کوسوو کي البانیایان د مذهب او ژبي له پلوه له سربیانو څخه، چي پر دوی یې حکومت کاوه، ډېر متمایز وه او د آزادۍ له پاره وجنګېدل. په هندوستان کي ځیني سیکانو د پنجاب د آزادۍ له پاره وسلې ته لاس ا چولی دئ. د هندوستان صدر اعظمه، اندېرا ګاندي، د خپل سیک محافظ لخوا په کال ۱۹۸۵ کي ووژل سوه.

آیا یو ملت باید په عمومي جریان mainstream کي د خپلو فرعي کلتورونو د سره اخښلو (متحد کولو) له پاره هڅه وکړي؟ دا کار به ډېري ستونزي ولري، مګر که و خپل سر ته پرېښوول سي په راتلونکو کلونو کي به فرعي کلتورونه خپله آزادي وغواړي. په سریلانکا کي د تامیل خلګ آزادي غواړي. هر هغه فرعي کلتور چي په عمومي جریان کي اخښل سوي نه وي، د یوه ملت له پاره لږترلږه یو پرابلم وي او په بدتر حالت کي د ملت سیاسي سیسټم ته خطر وي.

د ۱۸۷۰ کلونو له پیل څخه، فرانسې د خپل مرکزي تعلیمي سیسټم له



لاري د ملي اختلاط [national integration] پروسه راشروع کړه. په هغه وخت کي د فرانسې ډېري سیمي وروسته پاته وې او په بېلابېلو لهجو یې خبري کولې. د فرانسې د پوهني وزارت و کلیو ته د ښوونځیو معلمان تقریباً د یو مذهبي رسالت په شان ولېږل. دې معلمانو یو مطلق معیاري نصاب په دومره جدیت تعقیباوه چي د پوهني وزارت په هره دقیقه کي پوهېدی چي په ټول هیواد کي څه شي تدریس کېږي. دې تعلیمي نصاب د فرانسې پر افتخاراتو او د فرانسې پر ملي وحدت ټینګار کاوه. تر څو لسیزو وروسته، یو متحد او مختلط فرانس منځته راغی.

د عامه کلتور mainstream د منځته راوړلو له پاره د امریکې متحده ایالاتو بیا زیاتره پر رضاکارانه اختلاط تکیه کړې ده. په امریکا کي مهاجر په دې پوهېږي چي دوی باید د پرمختګ له پاره انګرېزي ژبه زده کړي. امریکا پر لاسته راوړنو achievement باندي ولاړه مصرفي ټولنه ده چي په خلګو کي یې معیاري ذوقونه او سلیقې منځته راوړي دي. امریکا د ویلي کولو لوښي [melting pot] بلل کېږي چي کار یې وکړ. د امریکا د اوسېدونکو په لسو تنو کي یو تن مهاجر دئ، د ویلي کولو لوښی اوس هم په کار لګیا دئ. سره له دې هم، ډېرو امریکایانو د مذهب او غذایي سیسټم په برخه کي خپل فرعي کلتور خوندي کړی دئ چي ښایي له سیاسي پلوه دومره اهمیت ونه لري. آسیایي امریکایان (هغه امریکایان چي آسیایي ریښې لري) ډېر ژر د امریکا په عامه جریان کي مختلط سوي دي. اوس دوی د امریکې د نفوس په سلو کي ځلور تشکیلوي او د امریکې د پارلمان له ۵۳۵ چوکیو څخه څو چوکۍ دوی ګټلي دي.

په امریکا کي ټول ګروپونه دومره نېکمرغه نه دي. تورپوستان او هیسپانیک لا تر اوسه د امریکې په عامه جریان کي پوره مختلط سوي نه دي، مګر دا هم تغیر کوي. همدا اوس تورپوستان د امریکې د نفوس په سلو کي ۱۳ تشکیلوي او د امریکې د اولسي جرګې په سلو کي لس چوکۍ یې په لاس کي دي. لږ امریکایان په دې پروا کوي چي د بارک اوباما مور د کنساس د ایالت او پلار یې په کینیا کي زېږېدلي و، د دوی د بارک اوباما نظریات او شخصیت خوښ دئ. د امریکا په انتخاباتو کي به د ده بریالیتوب د ملي اختلاط په برخه کي ډېره اغېزه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم فصل

**عامه افکار:**

عامه افکار چې د څو بیلیونو ډالرو بزنس تشکیلوي، د اوسني عصر په ډیموکراسي کې لوی رول لوبوي. مګر سوال دا دئ چې آیا عامه افکار کولای سي، او یا هم لازمه ده، چې عمده او رهبري کوونکی رول ولري؟ لږ پولیټیکل ساینټسټان غواړي چې عامه افکار رهبري کوونکی رول ولري او د دې له پاره ښه دلایل هم لري.

عامه افکار په یوه ډیموکراسي کې ډېر مهم دي، ځکه چې انتخابات یوازې د خلکو د ارادې یو زیږ او ناتصفیه سوی تصویر وړاندې کوي. انتخابات ښایي دا څرګنده کړي چې رایه ورکوونکي د یوه ټاکلي کاندید په باب په عمومي توګه څه فکر کوي، مګر پر مشخصو مسایلو تمرکز نه کوي. د عامه افکارو سروې ګاني بیا جزئیاتو ته توجه کوي چې په دې ډول رسمي مقامات په دې باندې پوهېږي چې خلک مثلاً د صحي خدماتو او یا هم مثلاً د جنګ په هکله څه فکر کوي. عامه افکار کېدای سي په سیاست کې د عامو خلکو د نظریاتو د داخلیدو یوه وسیله وګرزي.

دولتي مقامات زیات وختونه د میډیا له لارې عامه افکار ایجادوي. کله چې په ۱۹۷۱ع کې ریچارډنیکسن و چین ته د رسمي سفر کولو اعلان وکړ، د چین په هکله د امریکې د متحده ایالاتو په عامه افکارو کې مثبت تغیر راغی.

عامه افکار اکثره وخت د ذینفعو ګروپونو [interest groups] لخوا رهبري او یا تنظیمېږي. کله چې میډیا و ځینو مظالموته د خلکو توجه راواړوي، د خلکو ډېره خواخوږي او همدردي راپیدا کېږي. کله چې پولیسو د امریکې د متحده ایالاتو د الاباما په ایالت کې هغه تور پوستان چې د رایې حق یې غوښتی، سخت وډبول او خلکو دا جریان په تلویزیون کې ولیدی، نو د خلکو عامه افکارو د ۱۹۶۵ع کال د رایې ورکولو د حقوقو د قانون Voting Rights Act په ګټه تغیر وکړ.



## عمده مفاهیم

**مذهبي امریکا:**

د امریکې متحده ایالات له ډېر پخوا راهیسي د یوه مذهبي هیواد په توګه شهرت لري. د ۲۰۰۲ کال د یوې سروې له مخې، په سلو کې نه پنځوس امریکایانو ویل چې مذهب د دوی په ژوند کې ډېر مهم رول لوبوي. دا فیصدي په برتانیویانو کې (۳۳)، په کاناډایانوکي (۳۰)، په جرمنیانوکي (۲۱)، په جاپانیانوکي (۱۲) او په فرانسویانو کې (۱۱) تشکیلوي. په عمومي صورت، غریب هیوادونه ډېر مذهبي دي. د هندوستان په سلو کې (۹۲)، د برازیل په سلو کې (۷۷) او د مکسیکو په سلو کې (۵۷) خلک مذهبي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر حکومت له عامه افکارو څخه متأثره کېږي. مهاتما ګاندي، د عدم تشدد د اعتراضونو له لاري، د هند د آزادۍ له پاره له عامه افکارو څخه کار واخیست. یو زوړ، ډنګر او عینکي سړي چې لونګ به یې وهلی و، د اعتراضونو رهبري پر غاړه درلوده. ده خپل د اغوستلو کالي پخپله اودل او برتانویان یې په دې تهدید کړل چې که دوی هندوستان پرې نږدي، دی به له لوږې ځان ووژني. هغه نهضت چې ګاندي منځته راووست دومره قوت وموند چې برتانیه مجبوره سوه هندوستان ته په کال ۱۹۴۷ کي آزادي ورکړي.

**د عامه افکارو شکل او جوړښت:**

ټولنپوهانو په تقریبي ډول دا معلومه کړې ده چې څوک د سیاست په باب څه فکر کوي. ښکاره خبره ده چې هیڅ اجتماعي کټه ګوري په سلو کي سل د یو شي طرفداره او یا پر ضد نه وي. په حقیقت کي، په سلو کي له ۶۰ څخه بیا تر ۷۰ پوري موافقت یا عدم موافقت ډېر کافي عدد دئ. موږ د اجتماعي کټه ګوريو تر مینځ تفاوتونه له احصائیوي پلوه تر څېړني لاندي نیسو. موږ په خپلو څېړنو کي په خړ سیوري پسې ګرزو نه په تور او سپین پسې. کله چې موږ د پام وړ تفاوتونه و موندل، نو بیا کولای سو دا څرګنده کړو چې مثلاً کومه اجتماعي کټه ګوري پر عامه افکارو په څه ډول اغېزه کوي. د مثال په توګه، په سکاندینویایي هیوادونو کي د اجتماعي طبقاتو غوره توب (رجحان) ښکاره دئ. کارګره طبقه سوسیال ډیموکرات ته رایي ورکوي او متوسطه طبقه بیا و نورو محافظه کارو ګوندونو ته رایه ورکوي. په لاتینه اروپا کي بیا اجتماعي طبقات دومره واضح نه دي. د کارګري طبقې رایي تیتي دي، یعني ښی، کیڼ او مابیني ګوندنو ته رایي ورکوي.

**اجتماعي طبقه بندي:**

کارل مارکس ته اجتماعي طبقات ډېر څرګند او واضح وه. ده دا پېښ بینې وکړه چې کارګران به سوشیالستان سي. په حقیقت کي فقط ځیني کارګران سوشیالستان سول. مګر اجتماعي طبقات، حتی د امریکې په متحده ایالاتو کي چې په نسبي توګه غیر طبقاتي ګڼل کېږي، ډېر اهمیت لري. له ډېرو کلونو راهیسي د امریکې د جسماني کارګرانو تمایل ډیموکراټانو ته د رایي



ورکولو پرخوا دئ، ماړه او یا هم مسلکي اشخاص بیا جمهوري خواهانو ته تمایل لري. مګر بیا هم دا صرف تمایلات دي، او هر وخت له نورو عناصرو څخه متأثره کېږي. بېوزلي او غریب خلک په عمومي توګه په مذهبي او اجتماعي مسایلو کي ډېر محافظه کاره وي، ماړه خلک بیا زیاتره وخت لیبرال او حتی افراطي وي.

د اجتماعي طبقې پیمانه کول او تعینول ګران کار دئ. د تعین له پاره یې دوې لاري موجودي دي، یوه عیني [objective] او بله عندي [subjective]. په عیني توګه د اجتماعي طبقې تعین داسي کېږي چې له خلګو څخه د دوی کلنی عاید وپوښتل سي. عندي لار یې دا ده چې له خلګو څخه پوښتنه وسي چې دوی په کومه طبقه پوري اړه لري. ښایي هغه خلک چې ډېر عاید لري هم ځانونه د لوړې طبقې ونه بولي، اکثریت امریکایان ځانونه په منځنۍ طبقه پوري تړي، حتی که داسي هم نه وي. کله کله حتی بډایان، د خپلي غریبانه سابقې له امله، ځانونه منځنۍ طبقه بولي. دا چې یو څوک په څه ډول پیسې ګټي ښایي تر دې چې څومره پیسې ګټي، مهم وي. په عمومي صورت د امریکې کروندګر محافظه کاره وي. معدن چیان (هغه کسان چې په کانونو کي کار کوي) او د فولادو د فابریکو کارګران بیا داسي نه وي.

طبقه، په تېره بیا چې منطقوي او مذهبي فکتورونه پر زیات سي، ډېر اهمیت لري. په برتانیه کي زیاتي رایي پر طبقه جمع منطقه باندي ولاړي وي، په فرانسه کي طبقه جمع منطقه جمع مذهبي والی (یعني دا چې څوک مذهب تعقیبوي او څوک یې نه تعقیبوي) پر رایو باندي اثر لري، په جرمني کي بیا طبقه جمع منطقه جمع مذهبي فرقه (کاتولیک یا پروتستانت) اثر لري.

امریکایانو تر عمومي جګړې وروسته څو لسیزو کي، په نسبي توګه د عاید له پلوه په منځنۍ طبقې پوري اړه درلودل. مګر د شلمي پېړۍ په اخیره کي د خلګو عاید ډېر غیر مساوي سو. په کال ۱۹۷۹کي د هغه کسانو عاید چې د لیسانس او یا تر هغه زیات تحصیل خاوندان وه، تر هغو کسانو چې د بکلوریا په سویه تحصیلات یې درلودل، په سلو کي ۳۱ زیات سو، او دا عدد په ۲۰۰۶ع کال کي تقریباً دوه چنده سو. په سلو کي د صفر اعشاریه یو لوړ عایدو کسانو عاید ډېر زیات لوړ سو، په داسي حال کي چې د فابریکو کارګران بېکاره کړه سول او کارونه یې ارزانو هیوادونو ته ولېږدول سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تعلیم (ښوونه اوروزنه):**

تعلیمي سویه له اجتماعي طبقې سره اړه لري چې پخپل وار سره بیا له قطبي کېدلو (جلا والي) سره مرسته کوي. له کالج یا پوهنتون څخه فارغه سوي کسان په مالي مؤسساتو او د معلوماتي تکنالوجۍ په شرکتونو کې لوړې تنخواګاني اخلي، هغه کسان چې دا ډول تعلیمي سویه ونه لري له ډېرو ستونزو سره مخامخ وي. بډایان خپلو اولادونو ته د ښه تعلیم زمینه برابروي، چې په حقیقت کې دوی خپل طبقاتي موقف خپلو اولادونو ته ورانتقالوي.

د امریکې په متحده ایالاتو کې، د لوړو تحصیلاتو خاوندان په غیر اقتصادي مسایلو کې ډېر لیبرال او په اقتصادي مسایلو کې بیا ډېر محافظه کار وي. سروې ګاني دا ښیي چې د کالج او پوهنتون د سویې خلک د ډېر تحمل خاوندان وي، له مدني حقوقو سره مینه لري، او د مختلفو نظریاتو او افکارو د اورېدلو ډېره حوصله لري.

**مذهب:**

مذهب زیات وخت په سیاست او د عامه افکارو په تشکل (جوړښت) کې ډېر مهم رول لوبوي. له مذهب څخه مطلب بېلا بېلې مذهبي فرقې او یا مذهبي والي او غیرمذهبي والي کېدای سي. په جرمني کې، د کاتولیک مذهب پیروان عموماً و کریسچن ډیموکرات Christian Democrat او د پروتستانت مذهب پیروان بیا عموماً سوسیال ډیموکرات Social Democrat ته رایې ورکوي. یعني په جرمني کې د مذهبي فرقو مسئله مطرح ده. په فرانسه کې، چې اکثر خلک د کاتولیک په توګه تعمید (د عمید غسل چې عیسویان یې ماشوم ته ورکوي) سوي وي، د مذهبي والي او غیرمذهبي والي سوال مطرح دئ. دا ځکه چې ډېر فرانسویان د مذهب په برخه کې بې تفاوته دي. هغه فرانسویان چې کلیسا ته ډېر ځي، ډېر امکان لري خپلې رایې محافظه کارو ګوندونو ته ورکړي. ډېر لږ کاتولیکان ښایي کمونستانو ته رایې ورکړي. په پولینډ کې رومن کاتولیک کلیسا د پولینډ خلک تشویق کړل چې کمونست رژیم له پښو وغورځوي او د کلیسا طرفدار ګوندونه حمایه کړي.

د امریکې په متحده ایالاتو کې هم مذهب ډېر عمده رول لوبوي. د پروتستانت مذهب پیروان عموماً جمهوري غوښتونکي ګوند ته رایې ورکوي.



د کاتولیک مذهب پیروان بیا عموماً ډیموکرات ګوند ته رایه ورکوي. تر ډېره وخته پوري دا عقیده موجوده وه چې یو کاتولیک د امریکې د متحده ایالاتو د جمهور رئیس په توګه نه سي انتخابېدلای، په کال ۱۹۶۰ کې جان کینیډي د امریکې جمهور رئیس سو او دا پدل مات سو.

**سن (عمر):**

د خلکو پر سیاسي نظریاتو باندې د عمر د اغېزې په هکله دوې نظریې موجودې دي. یوه د عمر د دوران او بله د نسل نظریه ده. د عمر د دوران نظریه، چې په پراخه توګه منل سوې ده، وایي چې په خلکو کې د عمر په تېرېدلو سره بدلون راځي. ځکه نو ځوانان په طبیعي ډول افراطي او احساساتي وي، او په عمر پاخه خلک بیا نرم او معتدل او حتی محافظه کار وي. د ځوانانو مسئولیتونه لږ وي او کولای سي چې ایډیالیست او باغي واوسي. کله چې د کور، وظیفې او اولادونو مسئولیتونه ور په غاړه سي، خلک محافظه کارۍ ته تمایل پیدا کوي.

ځیني وخت بیا څو نسلونه د هغو سترو پېښو تر تأثیر لاندې وي چې د دوی د ژوند په دوران کې پېښې سوې وي. هغو کسانو چې جګړې لیدلې وي تر ډېرو کلونو پوري یې په یاد وي او د جنګ، اقتصاد او سیاست په برخه کې د دوی پر نظریاتو اثر ښندي. د امریکې په متحده ایالاتو کې، هغو کسانو چې د ویټنام جنګ لیدلی دئ، په غریزي توګه، په عراق کې د امریکایي قواوو مخالف دي.

**جنس (ښځینه، نارینه):**

حتی د ښځو تر نهضت مخکې، جنس (یعني ښځیتوب یا نارینه توب) پر سیاست اثر درلود. په عنعنوي توګه، په تېره بیا په کاتولیکو هیوادو کې، ښځې د نارینه وو په تناسب محافظه کاره وې او د کور، فامیل او اخلاقو سره یې علاقه او اندېښنه زیاته وي. په هسپانیه او پرتګال کې، چې کاتولیک هیوادونه دي، دا موضوع اوس هم صدق کوي. مګر کله د ټولنې له مدني کېدلو سره د ښځو او نارینه وو په نظریاتو کې بدلون راځي. ښځې له کوره راوزي، کار کوي، په اجتماعي او اقتصادي پرابلمونو خبرېږي، او خامخا د خپلو مېړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي نظریات نه تعقیبوي. د امریکې په متحده ایالاتو کې، د ښځو او نارینه تفاوت په ۱۹۸۰ کلونو کې هغه وخت راڅرگند سو، چې احصائیې دا وښووله چې ښځې تر نارینه وو څو فیصده زیاتې لیبرال او ډیموکراتې وې. د ۱۹۹۶ او ۲۰۰۰ کلونو په انتخاباتو کې د نارینه وو په تناسب په سلو کې ۱۱ زیاتو ښځو ډیموکرات گوند ته رایې ورکړې. ښايي په اوسنۍ سیاسي نړۍ کې به د ښځو لیبرال نظریات درلودل طبیعي خبره وي.

**د عامه افکارو شمېرنه** (**احصائیوي شمېرنه**، **نظر غوښتنه**):

کېدای سي چې خلک د یوې مسئلې طرفداره، پر ضد او یا هم د هغې په باب بې تصمیمه وي. مگر د مسایلو په هکله د خلکو د بې اطمینانۍ او نه قاطعیت فکتورونه دومره زیات دي چې موږ دا نه سو ویلای چې د یوې مسئلې په طرفداري یا پر ضد د عامه افکارو یوه احصائیوي شمېرنه موږ ته د اعتماد وړ تصویر په لاس راکوي او کنه.

د مسایلو په هکله د خلکو نظریات زیات وخت په یو منظم او تعریف سوي ماډل ځکه نه راکښیوزي چې ډېر خلک زیاتره وخت له سیاست سره بې پروا وي او توجه نه ورته کوي. د دوی علاقه له هغو مسایلو سره چې د دوی پر ژوند مستقیم اثر نه لري کمزورې وي، ځکه نو د ډېرو مسایلو په هکله ځان نه خبروي. د امریکې په متحده ایالاتو کې، ډېرو سروې گانو دا ښودلې ده چې تر نیمایي زیات خلک په کانگرس کي د خپل ټاکل سوي نماینده نوم نه پېژني.

ځکه نو، د ډېرو سیاسي او اجتماعي مسایلو په هکله، د ټول اولس یو وړوکی اقلیت و خبري رپوټونو او اخباري سرمقالو ته په توجه کولو سره د یو روښانه نظرخاوندان وي. همدارنگه په ډېرو حالاتو کي، د عمومي افکارو سروې د همدغه (متوجه او علاقه مند اقلیت) د نظریاتو ښکارندوی وي. له دې ټولو ابهاماتو، د افرادو له ځانگړو خصوصیاتو او عامه بې علاقه گۍ او بې خبرۍ سره، سروې گاني څرنگه کولای سي د مسایلو په هکله د خلکو د نظریاتو واقعي تصویر وړاندي کړي؟

د ممثله نمونې sample له لاري د عمومي افکارو معلومول سروې بولي. خلک په مطبوعاتو کي خپرو سویو سروې گانو ته، په تېره بیا په انتخاباتي کال کي، ډېره پاملرنه کوي. تقریباً هره ورځ، احصائیې وینو چې د جنگ، بېکارۍ



او د کاندیدانو په هکله د امریکې د خلکو نظر وړاندي کوي. دا کار له کاندیدانو او پالیسي جوړونکو سره مرسته کوي. مگر اوس د دې سروې گانو پر سیاسي جانبي عوارضو تاوده بحثونه روان دي. د مثال په توگه، آیا داسي نه ده چې نظرغوښتنه [ polls] و ځینو غیرقطعي نظریاتوته تر حد زیاته توجه کوي؟ آیا داسي نه ده چې ژورنالیستان، د نظرغوښتني په کارولو سره د خپلي خوښي پېش بیني ته قاطع رنگ ورکوي او خلک بیا هغه مني؟ آیا د پالیسي گانو په ټاکلو کي د عامه افکارو د سروې گانو څخه کار اخیستل ډیموکراټیک او مناسب عمل دئ؟ آیا د پالیسۍ په تعینولو کي پر نظر غوښتنه باندي پوره اعتماد کېدای سي؟ څوک له سروې گانو څخه کار اخلي؟ د څه مقصد او هدف له پاره کارول کېږي؟ آیا موږ باورپه کولای سو؟

**د نظر غوښتني لاري او تخنیکونه**:

څرنگه د ۱۰۰۰ کسانو نمونه یې نظر غوښتنه کولای سي د دوه سوه ملیونو رایي ورکوونکو نظر تشریح کړي؟ د دې سوال جواب پر له پېچلی دئ، مگر پر یوه تخنیک راڅرخي چي په لاندي توگه خلاصه کېدای سي:

**د نمونې انتخابول**:

د نمونې په انتخابولو کي، نظر پوښتونکي دوه عمده روشونه کاروي. یو یې د طبقه بندۍ سوي سهمیې پر اساس د نمونې ټاکل دي. په دې روش کي هڅه کېږي چي د ټولني له داسي مقطع څخه نمونه انتخاب سي چي په متناسبه توگه دټولني نمایندگي وکړای سي. دا کار ډېري ستونزي لري، ځکه چي پوښتونکي (مصاحبه کونکي) باید په ډېر دقیق ډول د مثال په توگه x شمېر کارگران، y شمیر سپین سري ښځې او z شمېر جمهوري غوښتونکي د پوښتنو او مصاحبې له پاره انتخاب کړي. که د یوه گروپ شمېر زیات او د بل گروپ شمېر لږ وي، تناسب یې له منځه ځي چي اعتبار یې هم له منځه ځي.

دوهم عمده روش د اتفاقي نمونه گیرۍ random sample روش دئ چي په هغه کي انتخاب موجود نه وي. په یوه ریښتنې اتفاقي نمونه گیرۍ کي به پوښتل سوي کاریگران (او یا هم کومه بله کټه گوري) د فیصدۍ له مخي د دوی اصلي نفوس ته نژدې وي. اتفاقي نمونه گیري Randomization، چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپیوټر په مرسته سر ته رسېږي، د سهمیې د سیسټم په پر تله ډېر د اعتماد وړ نتایج منځته راوړي.

**نظر غوښتنه سر ته رسول:**

نظرغوښتنه ډېره ګرانه تمامېږي، او هغه کسان چي دا کار کوي غواړي سپما وکړي. له بده مرغه، په ارزانه میتود باندي تر سره سوې نظر غوښتنه صحیح نتیجه نه ورکوي. تر ټولو ارزانه لار دا ده چي انتخاب سوي نمونې ته پوښتني په لیکلې بڼه په پوسته کي ورولېږل سي. مګر هغه کسان چي علاقه ولري او د پوښتنو جواب بېرته نظر اخیستونکو مامورینو ته ورلېږي، ډېر لږ وي، ځکه نو د خپلي کټه ګوری‌پوره نماینده ګي نه سي کولای. په ټیلیفوني نظر غوښتنه کي بیا د دې مشکل مخنیوی کېدای سي، مګر د یوه په زړه پوري جواب لاسته راوړل ګران کار دئ. د ټیلیفوني سروې له پاره کمپیوټر اتفاقي نومرې په ټول هیواد کي ډایل کولای (وهلای) سي. مګر له ټیلیفوني سروې ګانو سره دوه پرابلمه سته، یوداچي ډېرخلک ټیلیفوني پوښتنو ته جواب نه ورکوي او بل دا چي ډېر امکان سته چي یوازي ښځي، سپین ږیري، سپین سري، او بېکاره خلک د ټیلیفوني پوښتنو پر وخت پر کور وي چي په دې صورت کي نمونه غیر اتفاقي شکل اخلي او د اعتماد وړ نتیجه لاس ته نه راځي. تر ټولو د اعتماد وړ میتود هماغه مصاحبه کول دي چي له یوې خوا ډېر ګران تمامېږي او له بلي خوا مصاحبه کوونکی باید د دې کار له پاره ښه روزل سوی وي.

## عمده مفاهیم

**عامه افکار کوم شیان په بر کي نیسي؟**

سیاسي کلتور او عامه افکارسره تړلي دي مګر سره یو شی نه دي. سیاسي کلتور پر پایښت لرونکو ارزښتونو، نظرونو او ایډیاوو باند ي، چي له خلګو سره له ډېره وخته وجود لري، تمرکز کوي. ډېر امریکایان ډېره کلکه عقیده لري چي له حکومتي قدرت سره بالقوه استبداد تړلی دئ او باید کنټرول سي او ډیموکراسي د حکومت یوازنی عادلانه شکل دئ. عامه افکار بیا د سمدستي پالیسي ګانو او پرابلمو په هکله د خلګو له عکس العمل سره



سروکار لري.

عامه افکار له انفرادي مفکورې سره تفاوت لري.د خپل همسایه د مذهبي عقیدې په هکله د یو شخص مفکوره یا نظر د عامه افکارو جزء نه دئ. عامه افکار د سیاسي او اجتماعي مسایلو په باب وي نه د شخصي مسایلو په باب. او همدارنګه، عامه افکار خامخا د دې معنی نه لري چي ګویا خلک د یوې موضوع په هکله قوي، روښانه او ټینګه عقیده لري. هغه څه چي موږ یې عامه افکار بولو، زیات وخت د څو کوچنیو او سره مخالفو ګروپونو نظریات په بر کي نیسي. پر دې سربېره، ځیني خلک د موضوعاتو په هکله واضح نظر او یا تصمیم نه لري او ډېر خلک بیا له موضوعاتو سره علاقه نه لري. د ډېرو موضوعاتو په هکله ښایي عامه افکار ډېر ژر تغیر وکړي.

عامه افکار کله کله د خلګو بې خبري ښیي. په ۲۰۰۰ کال کي د امریکې د متحده ایالاتو په سلو کي ۷۰ خلک په دې خبر نه وه چي د امریکې فدرالي بودجه اضافه توب لري. ډېرو خلګو ته د مسایلو په هکله سم معلومات هم نه وي وړاندي سوي. په ۲۰۰۶ کال کي یوې نظرغوښتني دا وښودله چي په سلو کي ۵۰ امریکایان اوس هم په دې فکر دي چي عراق د عمومي تباهۍ وسلې درلودې، او په سلو کي ۶۴ خلک په دې فکر وه چي صدام حسین له القاعده سره ټینګي اړیکي درلودې. دا په داسي حال کي چي درې کاله د دې ادعا پر خلاف خبرونه په میډیا کي خپرېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکالمه (ډیالوګ) شامل وي چې په ډله ییزه میډیا کې وجود نه لري. د امریکې په متحده ایالاتو کې، تر ۱۹۳۰ کلونو پورې لاهم په انتخاباتي او سیاسي مبارزه کې له مخ په مخ کمیونیکېشن څخه کار اخیستل کېدی. کاندیدان به په خپله انتخاباتي حوزه کې د درختي پر کونده باندې ودرېدل (په هغه وخت کې دا کار باب و) او د رایې ورکوونکو وړوکو ډلو ته به یې خبرې کولې او په دې ترتیب به دوی له خلکو څخه د حمایې غوښتنه کوله. مګر د ټلوېزیون په منځته راتللو او د اوسني عصر له پرله پېچلو مقتضیاتو سره نور دا کار کېدونکی نه دئ.

د ډله ییزې میډیا له لارې کاندیدان او نورسیاستوال (سیاست مداران) و نامحدوده شمېر خلکو ته رسېده ګې کولای سي او د مخ په مخ کمیونیکېشن په تناسب یې تر لاسه سوې نتیجه ډېره زیاته ده. که څوک په ټلوېزیون کې وینا وکړي، په ملیونونو خلک یې اورېدلای او لیدلای سي. مګر که څوک په هر شومره لویه غونډه کې وینا وکړي بیا هم تر یو څو زرو کسانو زیات یې نه سي اورېدلای.

مګر ډله ییزه میډیا یو طرفه کمونیکېشن دئ. که خلک د جمهور رئیس له هغه پیغام سره چې د تلویزیون پر مخ یې ویني موافق نه وي، دوی نه سي کولای خپل غبرګون ورته وړاندې کړي. ډله ییزه میډیا په عمومي صورت موجوده سیاسي نظریات تقویه کوي مګر د خلکو په نظریاتو کې ډېر لږ بدلون راولي.

ښایي تلویزیون د نظریاتي لیډرانو (هغه کسان چې د بېلا بېلو مسایلو په هکله نظریات وړاندې کوي) رول را لږ کړی وي ځکه چې د تلویزیون نطاقان او خبریالان پخپله نظریاتي لیډران ګرزېدلي دي. تلویزیون نه یوازې سیاسي پیغامونه په مستقیمه توګه خلکو ته وړاندې کوي بلکې د خلکو کورونو ته د خبرونو او ایډیاګانو په رسولو سره، په غیر مستقیمه توګه د ټولنې په تغیر کې رول لوبوي. ډېر مبصرین په دې عقیده دي چې که تلویزیون نه وای، د ۱۹۶۰عیسوي کلونو د مدني حقوقو نهضت (چې په هغه کې د امریکې تورپوستانو ته مساوي حقوق ورکړه سول) به بریالی سوی نه وای. د امریکې په جنوب کې نژادي تبعیض ته په چاپي میډیا او راډیو کې چنداني توجه نه کېدله، چې ښایي دا کار به عمدي و. مګر تورپوستانو ته د مساوي حقوقو له

# نهم فصل

**سیاسي ارتباط (کمیونیکېشن) او میډیا:**

عامه میډیا mass media هر وخت د امریکې پر سیاست خپل وزرونه غوړولي دي. د امریکې د جمهوري ریاست د کال ۱۸۲۸ انتخاباتي مبارزه، چې په هغه کې اندریوجکسن د جان کیونسي ادم په مقابل کې بریالی سو، د امریکې په تاریخ کې ډېره کرغېړنه (میډیایي مبارزه) وه. په دې مبارزه کې ځینو جرایدو جکسن او د هغه مېرمن په بد اخلاقیو متهم کړل. په کال ۱۹۰۴ کې، ټیډي روزویلټ د (میډیا کاندید) و، چې پر مطبوعاتو یې ډېره زیاته تکیه درلوده. فرانکلین روزویلټ هم د راډیو او په سلهاوو مطبوعاتي کنفرانسونو له لارې د خپلو پالیسي ګانو له پاره د خلکو ملاتړ تر لاسه کاوه. نن ورځ، عامه میډیا په نړیواله سطحه کې منل سوې او پر ټلویزیون باندې ډېره زیاته تکیه لري. حتی ځیني منقدین شکایت کوي چې لوړو مقاماتو ته کاندیدانو د عمده مسایلو پر اساس انتخاباتي مبارزه پرې ایښې ده، مسلکي مشاورین کاندیدان د میډیا له پاره داسي سکښې لکه دوی چې په بازار کې د خرڅلاو له پاره یوه تولیدي متاع وي.

**کمونیکېشن په سیاست کې:**

پولیټکل ساینټسټانو له ډېره وخته د سیاست او کمونیکېشن ارتباط ته پام درلودلی دئ.سیاسي سیسټم او د کمونیکېشن سیسټم یو له بل سره موازي روان وي، او په دې کې شک دئ چې یو به بې له بله وجود ولرلای سي.

هر سیاسي عمل د کمیونیکېشن د یوه یا بل شکل عکس العمل دئ. خو بیا هم، د کمیونیکېشن بېلابېل ډولونه او درجې وجود لري. د خلکو د سیاسي نظر د بدلولو او یا هم د هغه د تقویه کولو له پاره مخ په مخ کمیونیکېشن تر ټولو اساسي او تر ټولو اغېزمن ډول دئ. ځکه چې په دې ډول کمونیکېشن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکولو سره د امریکې د خلکو خواخوږي هغه وخت زیاته سوه چې دوی د ټلوېزیون پر پرده ولیدل چې پولیسو ډاروونکي سپیان د تورپوستانو مسالمت آمېزي مظاهرې ته وروښکارل. ځیني کسان په دې عقیده دي چې د ویتنام د جنګ په ارتباط تلویزیوني خپرونو د امریکې خلګ د جنګ او جمهور رئیس جانسن پر ضد راوپارول. په ۲۰۰۴ عیسوي کال کې له عراقي بندیانو سره د امریکایي عسکرو د بد چلند تلویزیوني عکسونو هم دا شان اثر ودرلودی.

اوسني امریکایان د یوه یا دوو نسلو مخکي امریکایانو په تناسب له خبرونو سره لږ علاقه لري. د پخوا په پرتله لږ امریکایان تلویزیوني خبرونه اوري او یا ورځپاڼې لولي. د سیاست او نړیوالو مسایلو پر ځای، خلګ د روغتیا، بیزنیس او د ژوند د مسایلو په هکله خبرونو سره علاقه لري. د امریکې د خلګو علاقه له سیاست سره په عمومي توګه لږ سوې ده او د علتونو په باب یې بحث روان دئ.

د اوسنی میډیا بېلابېل اشکال د ټولني و بېلا بېلو ډلو ته، چې د تعلیمي سویې، عاید او عمر له پلوه سره بېلېږي، د دلچسپی وړ دي. هر څومره چې د خلګو تعلیمي سویه لوړه وي په هماغه اندازه له میډیا څخه ډېره استفاده کوي. هغه کسان چې له کالیج څخه فارغه سوي وي، او همدارنګه آسوده او هوسا خلګ ورځپاڼې، مجلې او کتابونه لولي او هم راډیو او ټلوېزیون ته غوږ نیسي. د ټیټې تعلیمي سویې خلګ بیا له میډیا څخه د ساعت تېري له پاره کار اخلي او د چاپي میډیا په تناسب له تلویزیون او سینما څخه ډېره استفاده کوي. په امریکا کې په سلو کې ۹۰ هغه خلګ چې لوړ عاید لري، په منظمه توګه مجلې او کتابونه لولي. په داسي حال کې چې د کښته عاید خلګو په سلو کې ۵۰ دا کار کوي.

سِن هم له میډیا څخه پر استفادې کولو باندي اثر لري. زاړه خلګ د ځوانانو په تناسب د ورځپاڼو او مجلو سرمقالو او خبرونو ته زیاته توجه کوي. ځوانان بیا د ورځپاڼو د ساعت تېری برخو ته توجه لري.

## د اوسني عصر میډیا

### ورځپاڼې:

په ۱۹۱۰ عیسوي کال کې، د امریکې متحده ایالاتو ۲۶۰۰ ورځپاڼې



درلودې او د امریکې په سلو کې ۵۷ ښارونو دوې یا تر دوو زیاتي یو له بل سره په رقابت کې ورځپاڼې درلودې. نن ورځ دا شمېره نیمايي ته راکښته سوې ده او د امریکې په لږو ښارونو کې دوې مستقلي ورځپاڼې وجود لري. آیا په رقابت کې د دې انحطاط معنی دا ده چې خلګ د ورځپاڼو په سیاسي نظریاتو او سرمقالو کې تنوع نه ویني؟ (آزاد مطبوعات) اوس یو بزنیس ګرزېدلی دئ. لوی کورپورېشنونه، چې پخپلو ګټو پسې ګرزي او له جنجالونو څخه ځان لیري ساتي، د امریکې د ورځپاڼو په سلو کې تقریباً ۷۵ د دوی ملکیت دئ. د عملي او هم ایډیولوژیکي دلایلو له مخې، ډېري لږ داسي ورځپاڼې سته چې خبرونه په ښکاره توګه د یوه ګوند په ګټه وړاندي کوي. د اکثریت ورځپاڼو عاید له اعلاناتو څخه لاسته راځي او د اعلاناتو بیه د ورځپاڼې په تېراژ پوري اړه لري. له دې کبله چې ورځپاڼې هر کله د لوړ تېراژ په فکر کې وي ځکه نو داسي خبري پالیسي مخ ته بیايي چې د خلګو ضدیت راونه پاروي.

په خبرونو کې د واقعیت مراعاتول د ژورنالیزم ډېره پخوانۍ عنعنه ده. د دې مسلک خپل معیارونه له خبریالانو څخه غوښتنه کوي چې خبرونه په بېطرفانه او صادقانه توګه وړاندي کړي. بله خبره دا ده، چې د امریکې د متحده ایالاتو په ورځپاڼو کې زیاتره خبرونه له یوه خبري آژانس څخه اخیستل سوي وي. د اسوشیېټډ پریس Associated Press آژانس په خاصه توګه زیار باسي چې په خبرونو کې بې طرفي وساتي.

د امریکې په متحده ایالاتو کې ورځُپاڼې د پخوا په تناسب دومره زیات سیاسي اثر نه لري. په ۱۹۶۰ کلونو کې د امریکې په سلو کې اتیا خلګو ورځپاڼه لوستله، اوس په سلو کې پنځوس دا کار کوي. ځوانانو خو ګردسره ورځپاڼو ته شا ورګرزولې ده. هغه امریکایان چې له تلویزیون سره را لوی سوي دي چنداني لوستنه نه کوي. د ورځپاڼو محتوا هم تر ډېره ځایه اعلانونه تشکیلوي (چې ځنې خلګ یې د همدې اعلانو له پاره لولي).

### راډیو:

د امریکې په متحده ایالاتو کې راډیو هم د ورځپاڼو په سرنوشت اخته ده او د پخوا په شان علاقمندان نه لري. همدا اوس، د امریکې د نیمايي راډیو سټېشنو ملکیت د درو شرکتونو په لاس کې دئ. یوازي د کلېر چینل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونیکېشن چینل ۱۲۰۰ سټېشنونه په اختیار کې لري. مګر د دوو عمومي جګړو تر منځ، راډیو ډېر شهرت درلود او راډیویي خبرونو، تبصرو او سیاسي اعلامیو ډېر نفوذ درلودی. په ۱۹۵۰ عیسوي کلونو کې، د تلویزیون له منځته راتلو سره د راډیو اهمیت هم لږ سو.

**خبري سرویسونه:**

د امریکې په متحده ایالاتو کي ورځپاڼې، راډیوګاني او حتی ټلوېزیوني سټېشنونه هم ډېر خبرونه په خپله په داخل کي نه تهیه کوي. دوی زیات شمېر خبرونه له اسوشیېټډ پریس څخه اخلي چي تر اوسه هم په زاړه نامه یعني وایر سرویس شهرت لري. ډېري مشهوري ورځپاڼي دا نه خوښوي چي خبرونه له وایر سرویس څخه واخلي. د دوی له پاره د افتخار خبره ده چي د دوی خپل خبریالان رپورټونه ورته تهیه کړي. مګر زیاتي وړې امریکایي ورځپاڼي د اسوشیېټډ پریس پر خبرونو او عکسو تکیه لري.

اسوشیېټډ پریس یو کوپراتیف دئ چي غړي یې د خپل تېراژ پر اساس فیس تادیه کوي (یعني که د ورځپاڼي تېراژ زیات وي ډېر او که یې تېراژ لږ وي لږ فیس ورکوي). غړي همدارنګه محلي خبرونه اسوشیېټډ پریس ته ورکوي چي هغه یې بیا له سره لیکي او ټول هیواد ته یې وړاندي کوي. اسوشیېټډ پریس یو له هغو محدودو خبري سرویسونو څخه دئ چي د هیڅ یوه حکومت په ملکیت کي نه دئ او د هیڅ حکومت تر مالي مرستي، کنټرول او څارني لاندي نه دئ. د برتانیې ریوټر Reuters له حکومت څخه مالي مرسته تر لاسه کوي، د فرانسې AFP او د جرمني DPA د حکومت تر څارني لاندي دي او د چین سن هوا Xin Hua آژانس په کلي توګه د پیکنګ تخلیق دئ.

هیڅ حکومت پر اسوشیېټډ پریس باندي کنټرول نه لري، مګر ځیني نور پرابلمونه وجود لري چي د اسوشیېټډ پریس کیفیت او نفوذ راالړوي. لومړی دا چي اشوشیېټډ پریس ډېر چټک دئ او پر هره دقیقه یې حساب کېږي. د دې معنی دا ده چي ډېر عمق ته نه ځي او راپورونه یې سطحي وي. دوهم دا چي د خبري سرویسونو د تعریف له مخي، خبر هغه دئ چي له یوې رسمي منبع څخه لاسته راوړل سي. د دوی راپورونه په دقت سره د پولیسو، سپیني ماڼۍ، خارجه وزارت، د دفاع وزارت په شان منابعو څخه راغونډېږي. د دوی د



تعریف له مخي، که له رسمي منبع څخه لاسته نه وي راغلی نو خبر نه دئ، او که خبر رسمي وي نو باید رشتیا وي. همدا علت دئ چي خبري سرویسونه د نړۍ ډېر تاوده او انفجاري حالات تر سر تېروي، دا ځکه چي دوی د یوې پېښي په باب د اپوزیسیون، عادي خلګو او یا هم په بازار کي د سوداګرو د نظر په هکله راپورنه وړاندي کوي. په داسي حال کي چي ښایي هغوی تر رسمي ویاند د پېښي په هکله ښه تره او واقعي نظر ولري. د امریکې خبري میډیا د ایران د انقلاب په واقعي راپور وړاندي کولو کي په همدې دلیل ناکامه راوختله. زیات وخت پېښېږي چي د یوې پېښي په باب ډېر ښه خبري راپور هغه وي چي خلګ د پېښي په هکله څه وایي او څه فکر کوي.

**تلویزیون:**

له (میډیا) څخه د امریکایانو مطلب تلویزیون دئ، ځکه چي د تلویزیون تأثیر تر ټولو زیات دئ. تقریباً په سلو کي ۹۰ امریکایان خپل خبرونه د تلویزیون له لاري لاسته راوړي او اعتبار یې تر ورځپاڼو زیات دئ. تلویزیون د امریکې د متحده ایالاتو پر هر څه اثر ښند لی او په هر څه کي یې بدلون راوستلی دئ. انتخاباتي مبارزې اوس پر تلویزیون باندي راڅرخي، بریالي عموماً هغه کسان وي چي د میډیا په چارو کي ډېرښه مشاورین ولري. ځیني کسان د امریکې په انتخاباتو کي د رایي ورکوونکو د شمېر د کموالي او هم له سیاسي ګوندونو سره د خلګو د بې علاقه ګۍ پړه پر تلویزیون اچوي. ځیني مبصرین په دې باور دي چي د انتخاباتي مبارزرو په جریان کي خلګ فقط د یو څو ثانیو له پاره په یوه ترځ کي کاندیدانو ته د تلویزیون پر پرده توجه کوي، چي دا کار په امریکا کي د سیاست د بې اهمیته او جزئي کېدلو سبب ګرزېدلی دئ. په ارامو اعصابو تحلیل له منځه تللی او ځاي یې جذابو خبرونیولی دئ.

**تلویزیوني خبرونه:**

تلویزیون، د تعریف له مخي، په لیدو پوري مربوط دئ. په اصطلاح (خبري کوونکي سرونه) تر راډیو زیات خبرونه نه وړاندي کوي. (مګر خبري کوونکي سرونه د شخصیت او ځانګړیتوب احساس او په نتیجه کي د اعتبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس منځته راوړي). ځکه نو د خبرونو تهيه کوونکي و داسي ډول خبري راپور ته چي د تلويزيون پر مخ ښه وايسي زياته توجه کوي. د خبري سرويسونو په شان، په تلويزيوني خپرونو کي مجردو او عميقو موضوعاتو ته لږ توجه کېږي. ډراماټيکي او نمايشي پېښي (چي د تلويزيون عکاسان يې هم د ثبتولو له پاره حاضروي) ډېري زياتي خپرېږي. تلويزيون، د امريکې د نورو خبري مطبوعاتو په شان، د ايران د پاچا په مقابل کي د خلګو د زياتېدونکي نفرت په هکله د ډېرو کلونو له پاره څه خپاره نه کړل، مګر ايران ته د آيت الله خميني د ډراماټيک راتګ په هکله يې ډېري زياتي خپروني وکړې. تلويزيون هيڅکله دا تشريح نه کړه چي د ويټنام جنګ پر څه باندي او د څه له پاره و، مګر د ۱۹۶۸ عيسوي کال يوه لنډه فلمي صحنه يې وښووله چي په هغه کي د سايګون د رژيم يوه جنرال د ويتکانګ پر يوه قاتل باندي ډزي وکړې. دې دلخراشه صحنې د امريکې خلګ د جنګ پر ضد راوپارول. لکه څرنګه چي خبري سرويسونه په رسمي منابعو پوري چنګک (تړلي) دي، تلويزيوني خبرونه هم دا رنګه په دلچسپه او جالبو صحنو پوري چنګک دي. په عراق کي د ابوغريب د بنديخاني د ۲۰۰۴ عيسوي کال دلخراشه صحنې چي د تلويزيون پر مخ ښکاره کړه سوې، د دې ښه مثال دئ. تلويزيون په اصل کي تر نورو احساساتي محيط دئ، ځکه خپروني يې تر مغزو ګام اړوي او مخامخ زړه ته ننوزي، چي دا پخپله ډېر لوی قوت دئ.

له بده مرغه، د تلويزيوني کامرې پرسونل استخدامول ډېر ګران تماميږي، په تېره بيا په خارجي هيوادو کي. ځکه نو دوی هر وخت تر پېښي وروسته د پېښي ځای ته هغه وخت رارسېږي چي د اسوشييټډ پريس لخوا خبر وررسېږي. تلويزيون بايد د پېښي تر پېښېدو مخکي خبر وي چي څه به پېښېږي چي کامرې او د عکاسۍ پرسونل ورته آماده کړي. له دې امله نو تلويزيوني خبرونه له مطبوعاتي کنفرانسونو، نطقونو او رسمي اعلاميو سره جوړ راځي. ځيني منقدين دې ته د ميډيا له پاره منځته راوړلي سوي پېښي وايي. رسمي مامورين او همدارنګه اعتراض کوونکي ګروپونه په دې پوهېږي. مظاهره چيان او اعتصاب کوونکي کله کله داسي کارونه کوي چي پوليس يې په ډله ييزه توګه بنديان کړي او دا عمل په تلويزيون کي ټول خلګ ووينې.

د مسايلو ژور تحليل هم د تلويزيون قوي ټکی نه دئ. تلويزيوني خبر په



اوسط ډول يوه دقيقه په بر کي نيسي، او يو څلوردقيقه ييز راپور ژور تحليل بلل کېږي. له ډېر وخت راهيسي د تلويزيوني نطاقانو مشر والټر کرونکايټ Walter Cronkite پر دې ټينګار کوي چي تلويزيوني خبرونه يوازي (د خبرونو سرليکونه) دي، معنی يې دا ده چي که ليدونکي غواړي ژور او مفصل معلومات لاسته راوړي نو بايد نورو منابعو ته مراجعه وکړي. ښکاره خبره ده چي ډېر امريکايان ډېر عميق نه ځي، ځکه نو د دوی ورځني معلومات يوازي پر تلويزيون ولاړ وي. دا د تعجب خبره نه ده چي د نظر غوښتني سروې ګاني دا ښيي چي امريکايان د ورځنيو عمده مسايلو په هکله لږ معلومات لري.

**تلويزيون او سياست:**

تلويزيون په سياست کي پر څو لارو تغير راوستلی دئ. پر ګدۍ ناست (پر سر اقتدار) ولسمشر ته هر وخت، په تېره بيا هغه چاته چي په سپينه ماڼۍ کي ناست وي، ډېره توجه کېږي. تلويزيون په دې کار کي هر وخت ډېر لاس درلودلی دئ. تلويزيوني خبرونه تر ټولو زيات جمهور رئيس ته متوجه وي، د اجرائيه قوې نورو څانګو ته په نسبي توګه لږ توجه کېږي. کانګرس [مقننه قوې] ته هم لږ توجه کېږي او قضائيه قوې ته بيا تر دواړو هم لږ توجه کېږي. د دې ډېري زياتي توجه په نتيجه کي، جمهور رئيس د خلګو په ذهن کي د يو هر کاره (يعني چي هر کار يې په وس پوره وي) پلار شکل اخيستی دئ. په دې کار بايد جمهور رئيس خوشحاله وي. مګر کله چي کارونه خراب سي او جمهور رئيس يې سم نه کړای سي، نو بيا همدا ميډيا، په تېره بيا تلويزيون د ډېري توجه له امله، ټوله ملامتيا پر جمهور رئيس ورغورځوي. ميډيا له جمهور رئيس څخه توقعات ډېر لوړ بيايي نو ځکه د کارونو د خرابېدلو پر وخت نامېندي هم شديده وي. ځيني منقدين دا تور هم لګوي چي ميډيا د امريکې سياسي سيسټم ته تاوان پېښ کړی دئ.

**تلويزيون او د خلګو بې علاقه ګي:**

سياسي مبصرين له ډېر پخوا راهيسي پر دې شکمن وه چي تلويزيون په خلګو کي بې علاقه ګي رازېږوي. د هارورډ پوهنتون پوليټکل ساينټسټ رابرټ پټنم Robert D. Putnam په دې عقيده دئ چي د امريکې په متحده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایالاتو کې په مدني او سیاسي چارو کې د خلکو د برخې نه اخیستلو یو علت هم تلویزیون دئ. پټنم د خپلو څېړنو له مخې دا څرګنده کړه چې زاړه خلګ، هغه کسان چې تر دوهمې عمومي جګړې مخکې زېږېدلي دي، په سیاست کې برخې اخیستلو ته زیات میلان لري. علت یې دا دئ چې دوی د تلویزیون تر عصر مخکې، چې په ۱۹۵۰ کلونو کې پیل سوی دئ، روزل سوي دي. ځوانان چې د تلویزیون په عصر کې روزل سوي دي دا صفات نه لري.

بل اتهام دا دئ چې د تلویزون له امله په انتخاباتو کې د خلګو برخه اخیستنه رالږ سوې ده. د ۱۹۶۰ عیسوي کال راهیسې، چې تلویزیون د انتخاباتي مبارزې عمده وسیله ګرزېدلې ده، په انتخاباتو کې برخه اخیستنه په سلو کې ۱۳ لږ سوې ده. تلویزیون خپل لیدونکي مخکې له مخکې په زیاتو معلوماتو دومره اشباع کړي چې خلګ له رایې ورکولو سره علاقه له لاسه ورکړي. د منفي انتخاباتي مبارزې له امله د خلګو له انتخاباتو څخه کرکه وسي. په لوېدیځه اروپا کې، چې په شخصي پیسو باندې د انتخاباتي اعلانو رانیول په عمومي توګه منع دي او د انتخاباتي مبارزې وخت هم لنډ دئ، په انتخاباتو کې د خلګو برخه اخیستنه زیاته ده. په لوېدیځه اروپا کې د انتخاباتي مبارزې وخت عموماً یوه میاشت او په امریکا کې تر یوه کال لا زیات دئ. همدارنګه، امریکا یوازنی هیواد دئ چې په تلویزیون کې سیاسي اعلانونه په قانوني توګه تنظیم سوي نه دي.

تلویزیون په پېخر پیسې هم غواړي. په تلویزیون کې د سیاسي اعلاناتو مصرف په ۱۹۷۲ عیسوي کال کې ۵.۲۴ میلیونه ډالره و، په ۲۰۰۴ عیسوي کال کې دا مصرف تر یو بلیون ډالرو واوښت. که څه هم په ځای او وخت پوري اړه لري، د تلویزیون یوه دقیقه اعلان تر یو لک ډالرو زیات مصرف لري. دې دومرو زیاتو مصارفو د امریکې د سیاست بڼه ور اړولې ده. د جمهوري ریاست د انتخاباتي مبارزې د مصارفو نیمه برخه په تلویزیون مصرفېږي. په زیاتو انتخاباتي مسابقو کې هغه ثوک بریالی کېږي چې ډېرې پیسې، په تېره بیا پر تلویزیوني اعلانو مصرف کړي.

د امریکې حکومت، د ټولو صنعتي هیوادو په تناسب، پر کمیونیکېشن باندې لږترین کنټرول لري. د تلګراف له اختراع را هیسې، د امریکې حکومت کمونیکېشن خصوصي سکتور ته ورپرې ایښی دئ چې د ګټې پر



اساس فعالیت وکړي. په اروپا کې، برعکس، حکومت تلګراف او ورپسې ټیلیفون په خپل کنټرول کې ونیو. د امریکې حکومت د اساسي قانون د لومړی ضمیمې له امله، چې په هغه کې د بیان آزادي تضمین سوې ده، او هم په امریکې کې د آزاد تشبث د عنعنې له امله، حکومت نه غواړي د کمیونیکېشن په سکتور کې مداخله وکړي. په اروپایي هیوادو کې چې د مرکزي قدرت او حکومت ته د پلار په سترګه کتلو عنعنه ټینګه ده، پر کمیونیکشن باندې د حکومت کنټرول دومره عادي خبره ده لکه د رېل ګاډي دولتي ملکیت.

**میډیا او حکومت:**

په ډیموکراسي کې د میډیا رول له ډېر پخوا څخه څرګند دئ. توماس جفرسن په ۱۷۸۷ عیسوي کال کې لیکي: "که زه دې ته اړ سم چې د بې له مطبوعاتو حکومت او یا بې له حکومته مطبوعاتو په اړه تصمیم ونیسم، نو زه به بې له ځنډه بې له حکومته مطبوعات انتخاب کړم". په روسیه، اوکراین او کولمبیا کې هغه ژورنالیستان چې له قدرت څخه د ناوړې استفادې او یا فساد په هکله څېړني کوي پرله پسې وژل کېږي او قاتلان یې نه موندل کېږي. په دې هیوادو کې خبري سازمانونه، د دې له پاره چې وکولای سي ژوندي او فعال پاته سي، پخپله خپل ځانونه سانسوروي.

د امریکې په متحده ایالاتو کې مطبوعات له ډېر وخت راهیسي پر حکومت انتقادونه کوي. مګر، د ۱۹۶۰ په اواخرو او د ۱۹۷۰ په اوایلو کې د میډیا او حکومت تر منځ یو ډول نوي خصمانه مناسبات رامنځ ته سول چې تر اوسه هم وجود لري. د میډیا ممتازه اړخ زیات وخت د اجرائیه قوې په مقابل کې خصمانه دریځ غوره کړی دئ. ویټنام او واټرګېټ یې ښه مثالونه دي. په دواړو مثالو کې اجرائیه څانګې، د دې له پاره چې عامه افکار آرام کړي، میډیا ته یې درواغ وویل. د میډیا ډېرو غړو د حکومت لخوا د دوی د استعمالولو په هکله سخت عکس العمل وښود او د مطبوعاتي کنفرانسونو او تحقیقاتي رپورټونو له لارې یې پر حکومت سخت انتقادونه پیل کړل. جمهور رئیس نکسن، چې له مطبوعاتو یې له پخوا څخه لا بد راتلل، خبره نوره هم پسې خرابه کړه. ده عادت درلود چې تر مطبوعاتي کنفرانس مخکې په یوه تیاره کوټه کښېني څو خپل اعصاب آرام کړي. ده کارونه په ګوښي توب او پټوالي کې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رسول او خپل تصامیم به یې په مستقیمه توګه، بېله دې چې مطبوعاتیان په خبر سي، خلګوته اعلانول. په دې کار د مطبوعاتیانو کر که نوره هم له ده څخه زیاتېدله.

په سایګون (د ویټنام د پایتخت پخوانی نوم سایګون و) کې به د امریکې نظامي مطبوعاتي استازو په خپلو مطبوعاتي کنفرانسونو کې هڅه کوله چې په چارو کې پرمختګ وښیي او یو ښه تصویر نړۍ ته وړاندې کړي. ژورنالیستان ډېر ژر د دې ډول تکراري، خطا ایستونکو او غیر واقعي مطبوعاتي کنفرانسونو څخه په تنګ راغلل او پخپله یې په مستقله توګه څېړني او ګروېږني پیل کړې. په نتیجه کې دوی دا وښودله چې د سایګون رژیم فاسد او بیکاره رژیم دئ، د ویتکانګ (د امریکې ضد جنګیالي) قواوې په آزاده توګه په هرځای کې ګرځېدای سي او حملې کولای سي، او د رژیم د عسکرو روحیات کمزوري دي او نه سي کولای د ویتکانګ د حملو مخه ونیسي. د نیویارک ټایمز د یوه ځوان راپورتر د زیاتو انتقادي رپورټونو په نتیجه کې د امریکا اعتماد د جنوبي ویټنام د مشر دییم Diem پر رژیم باندي له منځه ولاړی او په ۱۹۶۳ عیسوي کال کې یې د ده دله منځه وړلو له پاره لاره هواره کړه او د خپلو جنرالانو لخوا ووژل سو.

# عمده مفاهیم

**د نخبه ګانو میډیا** (elite media):

نیویارک ټایمز، واشنګټن پوست او وال سټریټ ژورنال د امریکې یو وړوکی اقلیت لولي، مګر د دې ورځپاڼو اغېزمنتوب ډېر زیات دئ. په واشنګتن، او حتی په ټوله امریکا کې، تصمیم نیونکي د دې ورځپاڼو خبري راپورونه او سرمقالې ډېري جدي لولي. مخکښه مفکرین په دې ورځپاڼو کې خپل نظریات وړاندي کوي. همدا علت دئ چې د دې ورځپاڼو تأثیر د دوی د تېراژ په تناسب ډېر زیات دئ. دې ته د نخبه ګانو میډیا elite media ځکه وایي چې لوستونکي یې زیاتره ثروتمند او د لوړو تحصیلاتو خاوندان دي.

نخبه مطبوعات elite press د حکومت د غلطیو په هکله (تحقیقاتي رپورټونه) تهیه کوي چې عادي مطبوعات د دوی پر ضد د دعوو له بېري ځان



نه ورته ټېنګوي. نیویارک ټایمز په ۱۹۷۱ عیسوي کال کې د ویټنام په هکله د پنتا ګون (د امریکې د دفاع وزارت) د اسنادو په خپرولو سره ټوله امریکا سره ولړزوله. په ۱۹۷۲ عیسوي کال کې په واشنګټن پوست کې د واټر ګېټ د غلا د رپورټ د خپرېدلو په نتیجه کې د نکسن اداره راچپه کړه سوه. د وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه په واشنګټن کې پر اقتصادي تصمیمونو باندي ډېره اغېزه لري.

**میډیا او د عراق جنګ**:

په ۲۰۰۳ عیسوي کال کې د عراق جنګ ته په وردانګلو کې د میډیا حمایه او ملاتړ زیات و. همدارنګه د سپټمبر د یوولسمي پېښې د، د مطبوعاتو په شمول، د خلګو ډېر احساسات د جمهور رئیس بوش ملاتړ ته راوپارول. مطبوعاتو بېله پوښتني د حکومت ادعا چې ګواکې عراق د عامه تباهۍ وسلې لري ومنله. تر جنګ وروسته د عامه تباهۍ وسلې ونه موندلې سوې او د باثباته ډیموکراسۍ نصبول هم غیر ممکن ښکاري. لکه د حکومت لخوا د خطا ایستلو انتقام چې اخلي، د میډیا زیاته برخه انتقادي سوه او حکومت بیا دا شکایت راپورته کړ، چې میډیا عامه خلګو ته د جنګ په هکله سم معلومات نه ورکوي.

آیا د عراق د جګړې په هکله د خلګو د ملاتړ کموالی د میډیا ګناه ده؟ پولیټکل ساینټسټ جان میولر John Mueller د خپلو څېړنو په نتیجه کې څرګنده کړه چې په لومړي سر کې د امریکې د خلګو دوه دریمې برخې د کوریا (۱۹۵۰ – ۱۹۵۳)، ویټنام (۱۹۶۵ – ۱۹۷۳ ) او عراق (۲۰۰۳ پیل) د جګړو ملاتړ کاوه، مګر درې کاله وروسته یوازې یو پر دریمې برخې خلګو د جګړې حمایه کوله. د کوریا د جګړې په وخت کې تلویزیون وجود هم نه درلود، ځکه نو موږ نه سو کولای له جګړې څخه د خلګو د ملاتړ د کموالي پړه پر میډیا وراچوو. د تلفاتو زیاتوالی د خلګو د ملاتړ د کمزورتیا علت دئ نه ټلویزیون. د امریکایانو عموماً اوږده جنګونه نه خوښېږي. د عراق له جګړې سره د خلګو ملاتړ ډېر ژر ځکه لږ سو، چې د عامه تباهۍ وسلې ونه موندلې سوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټولني بې له سیاسي ګوندونو څه کولای نه سي.

**د ګوندونو (احزابو) د ندې:**

په ډیموکراسي او هم په اوټوریټاري سیسټمونو کي ګوندونه ځیني مهم وظایف سر ته رسوي چې د سیاسي سیسټم له سره یو ځای والي (وحد ت) سره مرسته کوي.

**د خلګو او حکومت تر منځ یو پل:**

د سیاسي ګوندونو یوه وظیفه دا ده چې د اولس غوښتني او هیلي د حکومت تر غوږونو پوري ورسوي. که ګوندونه وجود ونه لري، افراد به یوازي پاته وي او حکومت به توجه نه ورته کوي. په ګوندونو کي په شامیلېدلو او یا هم ګوندونو ته په رایي ورکولو سره خلګ کولای سي پر سیاسي پرېکړو اثر ولري. لېترلږه، ګوندونه خلګو ته دا احساس وربخښي چې دوی هم ګویا مطلق کمزوري نه دي، او دغه عقیده د حکومت له مشروعیت سره مرسته کوي. همدا علت دئ چې حتی په د یکتاتوري رژیمونو کي هم ګوندونه وجود لري.

**د سیاست اجتماعي کول:**

ګوندونه بېلابېل ګروپونه له ټولني سره یو ځاي کوي او هم خپلو غړو ته د سیاسي لوبي لوبول ور زده کوي. ګوندونه خلګ و کاندیدانو او یا انتخابي مقاماتوته ورپېژني، خپلو غړو ته دا ورښیي چې د خلګو په مخ کي څرنګه وینا وکړي، څرنګه یوه غونډه اداره کړي او څرنګه جوړه (مصالحه) وکړي. په دې توګه ګوندونه د خپلوغړو وړتیا پیاوړې کوي چې په مجموع کي د ټول سیسټم مشروعیت تقویه کوي. ګوندونه همدا راز د لیډرانو له پاره د ټرېنینګ او تمرین میدانونه تشکیلوي. په تاریخي لحاظ، ځینو اروپایي ګوندونو دا هڅه وکړه چې یو فرعي کلتور (مثلاً د ګوند د ځوانانو ګروپونه، د ګوند د فوټبال ټیمونه، د ګوند ورځپاڼي او د ښځو سازمانونه) منځ ته راوړي.

**د رایي ور کونکو سمبالونه (بسیج کول):**

د خپلو کاندیدانو له پاره د انتخاباتي مبارزې پر وخت، ګوندونه رایي

# لسم فصل

**سیاسي ګوندونه او ګوندي سیسټمونه:**

د امریکې په متحده ایالاتو کي ډېرو خلګو ته سیاسي ګوندونه چنداني اهمیت نه لري. د امریکې دوه ستر سیاسي ګوندونه زیات وخت یو شان ښکاري، د دوی اصلي او عمده ارزښتونه زیات وخت تطابق سره کوي. په انتخاباتو کي، زیا ت وخت د کاندید شخصیت او پرسونالیټي د ده تر حزب مهمه وي. د امریکې له ډېرو سیاست پوهانو سره دا ېېره سته چې سیاسي ګوندونه دومره کمزوري سوي دي چې هغه وظایف چې سیاسي ګوندونه یې باید سر ته ورسوي نه تر سره کوي.

د امریکې د ګوندونو دا کمزوري د تعجب خبره ځکه ده چې د امریکې متحده ایالات لومړنی هیواد و، چې تر اروپایي هیوادو یې ډېر مخکي پراخ سیاسي ګوندونه منځته راوړل چې د ۱۸۰۰ کال د جمهوري ریاست په انتخاباتو کي راڅر ګند سول. که څه هم ښایي اروپایانو سیاسي ګوندونه په پوره او مکمله توګه جوړ کړي وي. امریکایانو لکه چې دا هېره کړې ده چې ګوندونه د ډیموکراسۍ عمده افزار تشکیلوي. د شات شنایدر Schattschneider په عقیده سیاسي ګوندونو ډیموکراسي منځته راوستل او د اوسني عصر ډیموکراسي بې له ګوندونو تصور کېدای نه سي.؛

نن ورځ تقریباً په ټولو ټولنو کي، ډیموکراټیکي دي او که نه دي، ګوندونه وجود لري څو اولس له حکومت سره وصل کړي. نظامي دیکتاتورانو لکه په هسپانیه کي فرانکو، په چیلي کي پینوشې او په برازیل کي جنرالانو هڅه وکړه چې ګوندونه لغوه کړي، ځکه دوی د هیواد سیاسي ستونزي پر ګوندونو تاوانولې. مګر حتی دې دیکتاتورانو هم د خپلي ادارې دتقویې له پاره مطیع ګوندونه جوړ کړل، او کله چې دا دیکتاتوران له منځه ولاړل ډېر ژر آزاد ګوندونه جوړ سول. که یې خوښ وي اوکه یې بد ځني راځي، داسي ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوونکي رایي ورکولو ته هڅوي او د رایي ورکوونکو د شمېر د زیاتوالي له پاره هلي ځلي کوي. که د ګوند اعلانونه او هلي ځلي نه وي، ښایي ډېر رایي ورکوونکي په انتخاباتو کي برخه وانخلي. ډېر سیاست پوهان په دې عقیده دي چي د امریکې په متحده ایالاتو کي، د ګوندونو د کمزوري کېدلو او د رایي ورکوونکو د شمېر د لږوالي تر منځ یو ډول ارتباط موجود دئ. په سوېډن کي چي ډېر ښه سازمان سوي ګوندونه فعال دي، د رایي ورکوونکو شمېر په سلو کي ۹۰ ته رسېږي (که هم اوس لږ سوی دئ). ځیني منقدین په دې عقیده دي چي د ګوند انتخاباتي پروپاګنډه سیاست بې اهمیته کوي، مګر د سیاسي مسایلو ساده کول او روښانول رایي ورکوونکي ته د دې توان ورکوي چي د پر له پېچلو مسایلو په منځ کي موزون انتخاب وکړي.

**د حکومت سازمان او اداره:**

هغه ګوند چي انتخابات وګټي حکومتي مقامات او قدرت لاسته راوړي او هڅه کوي د حکومت په پالیسۍ کي پخپله خوښه بدلون راوړي. هغه ګوند چي د امریکې د متحده ایالاتو په اولسي جرګه او سنا کي ډېري چوکۍ لاسته راوړي نو د دواړو پارلماني خونو مشران او همدارنګه د جرګه ګیو (کومېټو) مشران ټاکي. نوی ټاکل سوی جمهور رئیس کولای سي په اجرائیه څانګو او ایجنسیو کي ۳۰۰۰ کسان مقرر کړي چي ګوند په دې وتوانوي ګوندي پالیسي لږ تر لږه د څلورو کلونو لپاره پرمخ بوزي. (د امریکې د جمهوري ریاست دوره څلور کاله ده). پر حکومت باندي د ګوند کنټرول په برتانیه کي د امریکې د متحده ایالاتو په تناسب زیات دئ، ځکه د برتانیې پارلماني سیسټم په همزمانه توګه د اجرائیه او مقننه دواړو قواوو کنټرول و هغه ګوند ته ورسپاري چي انتخابات وګټي. هغه څه چي صدراعظم وغواړي لاسته یې ځکه راوستلای سي چي په برتانیه کي ګوندي ډسپلین ډېر قوي دئ. سره له دې هم، په هیڅ یوه سیسټم کي ګوند د حکومت بشپړ کنټرول نه سي درلودلای، ځکه چي بیوروکراټان هم په خپل ځان کي یو قوت تشکیلوي. ګوندونه هڅي کوي د حکومت بشپړ کنټرول لاسته راوړي، مګر هر وخت پر دې کارباندي نه سي بریالي کېدای.



**ګوندونه په ډیموکراسي کي:**

په ډیموکراسي سیسټم کي، درې ټکي د ګوند په تشکیل کي اهمیت لري: د مرکزیت درجه، په پالیسي دګوند برخه اخیستل، او دا چي ګوند په مالي لحاظ په څه توګه چلېږي (یعني پیسې له کومي خوا ورته راځي).

**(۱) مرکزیت:**

د ګوند د مشرتابه کنټرول پر هغو غړو باندي ډېر متفاوت دئ چي د خلکو لخواانتخابي مقاماتوته انتخاب سوي وي. اسرائیل د کاندیدانو د ټاکلو ډېر متمرکزسیسټم لري، هر ګوند په ملي سطحه کي ۱۲۰ نامزدان د کنست Knesset (پارلمان) له پاره نوموي. د تناسبي نمایندګۍ د سیسټم له مخي [proportional representation] یوازي هغه کسان د پارلمان چوکۍ ګټي چي د نامزدانو د لیست په سر کي واقع وي. د ګوند مشران اعتمادي اوتجربه لرونکي کسان دلیست په سر کي راولي او نوي کسان دلیست په پای کي راولي. په دې ډول سیسټم کي ډېر مرکزي ګوندي ډسپیلین منځته راځي. د برتانیې سیسټم بیا یو څه لږ متمرکز دئ. په برتانیه کي، ګوندونه د پارلمان له پاره کاندیدان د ګوند د مرکزي او محلي ادارو تر منځ د روغي جوړي په نتیجه کي نامزد وي. د ګوند مرکزي اداره headquarter ښایي د یوې انتخاباتي حوزې له پاره یو څوک له بلي منطقې یا انتخاباتي حوزې څخه د ګوند د کاندید په توګه نامزد کړي، د ګوند محلي اداره د همدې نامزد په هکله د منلو او یا نه منلو تصمیم نیسي. محلي اداره داسي هم کولای سي چي د مرکزي ادارې په موافقه له خپلي منطقې څخه یو څوک کاندید کړي. جرمني هم، د اسرائیلو په شان، له ګوندي لیست څخه د کاندیدانو د نامزدۍ له پاره کار اخلي. مګر بیا پر ۱۶ ایالتونو وېشل سوی دئ چي ګوند تسلط پکښې لري او په دې توګه یې تر یوه حده پوري د مرکزي کنټرول مخه نیولې ده. دا ډول زیات وکم مرکزیت centralization و ګوندونو ته انسجام، ډسیپلین او ایډیالوجیکي ثبات وربخښي. کله چي خلګ په اسرائیلو، برتانیه او جرمني کي یوه ګوند ته رایي ورکوي، دوی پوهېږي چي ګوند څه غواړي او که چېري انتخابات وګټي څه اعمال به سرته ورسوي. کله چي دګوندي غړي پارلمان ته انتخاب سي نو بیا خپلسري نه کوي او په پارلمان کي د ګوند د تصامیمو پر اساس رایي ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکې په متحده ایالاتو کې، چې ګوندونه په تاریخي لحاظ مرکزیت نه لري، ګوندي ډسیپلین کمزورى دئ. په ډېرو حالاتو کې کاندیدان، په انتخاباتي مبارزه او هم د مالي منابعوپه راغونډولو کې، پر خپل ځان تکیه کوي. د ولسي جرګې او سنا له پاره کاندیدان، په حقیقت کې، د هر ځلي کاندیدېدلو پر وخت، یو نوی محلي او یا ایالتي ګوندي سازمان جوړوي. کله چې انتخابات نه وي، نو ګوندونه هم بیده اوبې حرکته وي. د جمهوري غوښتونکو ګوند ملي کمېټه او هم دا رنګه د ډیموکرات ګوند ملي کمېټه ښایي دومره منابع ونه لري چې له خپلو کاندیدانو سره مالي مرسته وکړي. کاندیدان په مستقیم ډول، د تلویزیون او میډیا له لارې، رایي ورکوونکو ته مراجعه کوي. اوس زیاتره وخت په تلویزیوني اعلانونو کې د کاندید وګوندي ارتباط ته حتی اشاره هم نه کېږي. ځکه نو کاندیدان کله چې انتخاب سي، ځانونه د ګوند په اطاعت کولو مکلف نه ګڼي. دې کار د امریکې په متحده ایالاتو کې ګوندونه ډېر غیرمرکزي decentralized کړي دي. انتخاب سوي نماینده ګان و خپل وجدان ته، خپلومو کلینو ته او د سیاسي فعالینو خپلي کمېټې ته ځانونه مسئول بولي نه هغه ګوند ته چې دوی یې غړي دي.

**(۲) د حکومت د پالیسي تعینول:**

په پارلماني سیستم کې، که د اکثریت ګوند په پارلمان کې د خپلو قوانینو د تصویبولو له پاره پوره رایي ونه لري نو باید استعفی وکړي. خو د امریکې په متحده ایالاتو کې د اکثریت تعینول اکثره وخت اسانه نه دي. ځیني ډیموکراتان په مشخصو مسایلو کې دجمهوري غوښتونکو په طرفداري رایه ورکوي چې دا کار جمهوري غوښتونکي هم کوي،

یعني په ځینو وختو کې د ډیموکرات ګوند په طرفداري رایه ورکوي. ځیني سناتوران له یوه ګوند څخه بل ته اوړي. هغه سیاسي دریځ او کړنلاره چې د هغه پر اساس جمهوررئیس بریالیتوب لاس ته راوړي د ګوند پارلماني غړي یې په عملي کولو ځان مکلف نه بولي. اکثره وخت هغه ګوند چې جمهور رئیس یې غړی وي، په کانګرس کې اکثریت نه لري. نو دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې د ګوند د قانون جوړولو پروګرام څوک مخ ته بیایي؟ جمهوررئیس؟ د ولسي جرګې او که د مشرانو جرګې رئیس؟



د امریکې جمهور رئیس ښایي یو قانون وړاندي کړي، مګر دولسي جرګې او مشرانو جرګې ۵۳۵ غړي یې باید په انفرادي ډول تصویب کړي چې دوی په نهایت کې یوازې د خپلي رایې مسئولیت لري. په دې صورت کې آیا د انتخاباتي وعدو د نه پرځای کولو ملامتیا د جمهور رئیس پر غاړه ده اوکه ملامتي په کمزوري ګوندي ډیسپلین کې ده؟ د شاټتسشنایدر په عقیده، د امریکې د متحده ایالاتو ګوندي سیستم دومره غیرمتمرکز دئ چې ټول پر یوه ملي کړنلاره باندي توافق ته نه سي رسېدلای. ډېر امریکایان غوره ګڼي چې سناتوران او وکیلان یې د خپل ضمیر او وجدان له مخې رایې ورکړي نه دا چې د یورپ په شان د ګوندي رهبرانو حکم پر ځای کړي.

**(۳) د ګوندي لګښتونو مدرک:**

ګوندونه د خپلو فعالیتونو له پاره پیسې مصرفوي. دا لګښتونه ورځ په ورځ زیاتېږي چې په نتیجه کي پر بډایو ذینفعو ګروپونو باندي د ګوندونو تکیه ورځ په ورځ زیاتېږي او په دې اړیکو کې چنداني شفافیت هم وجود نه لري. د جاپان د لیبرال ډیموکراټ ګوند ځینو بدنامو غړو د بزنسونو، بانکونو او حتي دیاکوزا ګانګسترانو څخه ډېري زیاتي پیسې اخیستې وې. د اروپا د ګوندي حق العضویت عنعنوي سیستم د ګوندي لګښتونو لپاره نور کفایت نه کوي او ګوندونه د پیسو راغونډولو له پاره ډېري هڅې کوي او ځیني یې له غلطو لارو څخه استفاده کوي. په دې وروستیو کلونو کې د ګوند له پاره د پیسو راټولولو رسوایي ګاني په امریکا، برتانیا، جرمني او فرانسه کې منځته راغلي دي. په ډیموکراسي کې د سیاسي رقابت دا پرابلم به ښایي د حل لار هم ونه لري. په ۱۹۷۶ عیسوي کال کې د امریکې د متحده ایالاتو په انتخاباتي مبارزه کې تقریباً ۵۰۰ میلیونه ډالره لګېدلي وې. په ۲۰۰۴ عیسوي کال تقریباً ۴ بیلیونه ډالره په انتخاباتي مبارزه باندي مصرف سوي دي. په مقابل کې بیا د برتانیې د ۲۰۰۱ عیسوي کال په عمومي انتخاباتو کې یوازې ۱۰۰ میلیونه ډالره مصرف سوي دي.

په ډېرو ډیموکراټیکو هیوادو کې پر سیاسي بسپنو باندي سخت قانوني بندیزونه لګول سوي دي او یا هم په یو قانوني چوکاټ کې تنظیم سوي دي. د جرمني، هسپانیې، سویډن او فنلنډ دولتونه له سیاسي ګوندونو سره، د دوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتي قوت سره متناسب، مالي مرسته کوي. ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي له نوو منځته راغلو ګوندونو سره تبعیض کېږي. د امریکې په متحده ایالاتو کي مالیه ورکوونکي کولای سي د کلنیو مالیاتو په فورمه کي درې ډالره د جمهوري ریاست د انتخاباتي مبارزو د مصارفو له پاره وټاکي. د مالیې دفتر دا پیسې د جمهوري ریاست کاندیدانو ته د دوی د ګټل سوو رایو په تناسب تادیه کوي. مګر یوازي له څلورومالیات ورکوونکوڅخه یو یې دا درې ډالره په خپله مالیاتي فورمه کي د دې کار له پاره ټاکي چي دا د کاندیدانو له پاره ډېري لږ پیسې دي. دا مالي خلا ذینفعه ګروپونو ډکه کړې ده. ذینفعه ګروپونه interest groups په هره انتخاباتي مبارزه کي ډېري زیاتي پیسې و دواړو ګوندنو ته ورکوي.

**د سیاسي ګوندو طبقه بندي:**

د ګوندو د طبقه بندۍ یوه اساسي لار دا ده چي د ایډیالوجي له مخي له چپ لوري څخه و ښي لور ته نظر واچوو. چپي ګوندونه، لکه کمونستان، د عمده صنایعو د ملي کولو له لاري د طبقاتي تفاوتونو له منځه وړل غواړي. مابیني چپي center-left ګوندونه، لکه د لوېدیځي اروپا سوشیالست ګوندونه، سوسیال یعني ویلفیر welfare دولت غواړي مګر عمده صنایع نه ملي کوي. مابیني centrist ګوندونه، لکه دجرمني او ایټالیا لیبرالان، په اجتماعي مسایلو کي لیبرال او په اقتصادي مسایلو کي بیا محافظه کار دي، یعني د آزاد مارکیټ پلوي کوي. مابیني ښي Center-right ګوندونه، لکه د جرمني کریسچن ډیموکرات ګوند، غواړي چي د آزاد مارکیټ په ګټه سوسیال سیسټم کنټرول کړي مګر له مینځه وړل یې نه غواړي. ښي ګوندونه، لکه د مارګریت تاچر تر رهبرۍ لاندي دبرتانیې محافظه کار ګوند، د سوسیال سیستم له منځه وړل، د کارګري اتحادیو د قدرت ختمول او د سرمایه دارۍ غښتلی انکشاف مخته بیایي.

**ګوند په کمونیستي دولتو کي:**

کمونیسټي سیسټمونه، یعني هغه هیوادونه چي د کمونیستي ګوندو لخوا اداره کېږي، لږ سوي دي. په ختیځه اروپا او شوروي اتحاد کي کمونیستي



ګوندونه له قدرته وایستل سول. چین، ویټنام، شمالي کوریا او کیوبا هڅه کړې ده چي دولت د کمونیسټي ګوند تر اداري لاندي وساتي، مګر دا هیوادونه هم داسي ښکاري چي د تغیر له پاره آماده دي.

په (کلاسیک) کمونیسټي سیسټم کي، چي لنین یې په شوروي اتحاد کي اساس کېښېښود او سټالین پر مخ بوتی، واحد کمونیسټ ګوند، حکومت او اقتصاد یو په بل کي سره نغښتي وه. کمونیست ګوند په مستیقیمه توګه اداره په لاس کي نه لرله، مګر ګوند ټول دولتي پرسونل او ټول اقتصادي ساختار تر کنټرول لاندي درلود. د ګوند غړي، چي د بالغ نفوس په سلو کي لس یې تشکیلول، د هیواد له ډېروپوهو، ځیرکو او فعالو خلګوڅخه په لاسي توګه راټولول کېدل. دشوروي د ډېرو مأمورینو دوې خولۍ پر سروې چي یوه یې د حکومت د ماموریت او بله یې د کمونیست ګوند دغړیتوب وه. د حکومت په هره برخه کي، په سیمه ییزه او هم په ملي سویه، یومتناسب ګوندي اورګان وجود درلودی چي د مأمورینو نومول او د عمومي کړنلاري ټاکل یې په کنټرول کي و. د دولت د ساختار په رأس کي، د مثال په توګه، مقننه هیئت یا عالي شورا ځای درلود. په مقابل کي بیا په ګوندي سیسټم کي مرکزي کمېټې و عالي شورا ته د کاندیدانو د نومولو او ټاکلو څارنه کوله او هم یې د عالي شورا د کړنلاري ټاکنه او لارښوونه پرغاړه درلوده. د مرکزي کمېټې نظارت د پولیټ بیورو، چي د ګوند د ډېرو لوړو لیډرانو څخه متشکله او د شوروي د حکومت دارۍ زړه بلل کېده، پر غاړه درلود. د پولیټ بیورو لارښودنه بیا د ګوند د عمومي منشي په لاس کي وه چي خپل وفادار ملګري یې په لوړو مقاماتو کي ځایول اوپه دې توګه یې خپل قدرت لاهم پسې زیاتاوه.

ولي د شوروي جمهور رئیس میخایل ګورباچیف په عمدي توګه د شوروي سیسټم د تخریب له پاره ملا وتړله؟ کله چي په هیواد کي یوازنی ګوند د ټولو مهمو شیانو د کنټرولولو هڅه کوي، نو د کلونو په تېریدو سره ډېر جدي پرابلمونه منځته راوړي. څرنګه چي د ګوند غړو ته ښه کارونه، ښه کورونه او نورو امتیازات ورکول کېږي، نو په ګوند کي ابن الوقته opportunists او فاسد خلګ ډېرېږي. ګوندي کارکوونکي محافظه کاره کېږي او د سیسټم د تغیرغوښتنه نه کوي. د دې ډول ګوندي غړوتر څارني او کنټرول لاندي، د شوروي اقتصاد دامریکا او لوېدیځي اروپا د اقتصاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تناسب ډېر وروسته پاته و. هغه کمونسټ ګوند چې باید شوروي اتحاد یې و یوې روښانه او نېکمرغه راتلونکي ته رهنمایي کړی وای، داسې ښکارېدل چې هیواد یې د شا پر خوا رهنمایي کاوه. ګورباچیف دې نتیجې ته ورسېدی چې د خپل هیواد د ژغورنې له پاره باید پر قدرت باندې د کمونیسټ ګوند انحصار مات کړي. ګورباچیف (د ډېرو غربي پولیټکل ساینټسټانو په شان) ونه کولای سوای په دې پوه سي چې د شوروي سیسټم څومره کړسن [ماتېدونکی]و. دا سیسټم اصلاح کېدونکی نه و، ځکه نو سره ونړېدی. د شوروي تجربېې دابښیي چې یو ګوندي سیسټمونه چې د قدرت انحصار په لاس کې نیسي، په اوږده مهال کې کار نه ورکوي.

**ګوندي سیسټمونه:**

د (ګوند) او (ګوندي سیسټم) تر مینځ یو منطقي توپیر سته. ګوند هغه سازمان دئ چې هدف یې پر حکومتي چارو اثر ښندل دي چې په انتخاباتو کې دګډون او ګټلو له لارې سر ته رسېږي. ګوندي سیسټم بیا دګوندونو تر منځ او همدارنګه له ټول سیاسي سیسټم سره د دوی فعل او انفعال دئ. د هر سیاسي سیسټم سلامتي له ګوندي سیسټم سره ډېره اړه لري. یو بې ثباته ګوندي سیسټم یو ډېر ښه اساسي قانون هم له خطر سره مخامخ کوي. ثبات لرونکی او معتدل ګوندي سیسټم، په لوېدیځ المان کې تر هټلر وروسته او په هسپانیه کې تر فرانکو وروسته د ډیموکراسۍ راوستل ممکن کړل.

**د ګوندي سیسټم طبقه بندي کول:**

د ګوندي سیسټم د طبقه بندي کولو اسانه لار په یوه هیواد کې د ګوندونوشمېر ته کتنه ده چې د مثال په توګه، په یوه هیواد کې یو ګوندي سیسټم، د مسلط ګوند سیسټم، دوه ګوندي سیسټم او که څو ګوندي سیسټم وجود لري.

یو ګوندي سیسټم په راست او یا چپ ټوټلیټاري رژیمونو کې وجود لري او د شلمې پېړۍ پدیده ګڼله کېږي. شوروي اتحاد، چین او په افریقا او آسیا کې ځیني نوي منځته راغلي هیوادونه یو ګوندي سیسټمونه وه او یا دي. په دې رژیمونو کې یوازې یو ګوند وجود لري چې د حکومت هر څه یې په کنټرول کې



وي او د هیواد یوازنی قانوني ګوند وي. د دې ډول ګوندونو مشران دا استدلال کوي چې دوی اوس هم ډیموکراټیک ګوندونه دي ځکه چې دوی د هغه څه نماینده ګي کوي چې خلک یې په رشتیا سره غواړي او اړتیا ورته لري. د دوی دا ادعا په بېطرفانه انتخاباتو او یا صادقانه نظر غوښتنه کې هیڅکله نه سي ثابتېدلای. کله چې د ختیځې اروپا هیوادو ته موقع ورکړه سوه، خلګو یو ګوندي سیسټم په کلکه رد کړ. ځیني پرمختیایي هیوادونه، په تېره بیا په افریقا کې، استلال کوي چې د زیاتو ګوندونو سته والی په هیواد کې ګډوډي راولي، ځکه چې ګوندونه پر قبیلوي اساس تشکیلېږي.

په مسلط ګوندي سیسټم کې، مخالف ګوندونه آزاد وي چې په انتخاباتو کې برخه واخلي مګر ډېر لږ پېښېږي چې له مسلط ګوند څخه بل ګوند انتخابات وګټي. مګر مسلط ګوندي سیسټم ډېر زیات وخت ځکه دوام نسي کولای چې خلک د مسلط ګوند له فساد او بېکفایتۍ څخه ستومانه کېږي. په هندوستان کې تر ډېره وخته د کانګرس ګوند او په جاپان کې د لیبرال ډیموکرات ګوند، سره له دې چې نورو ګوندونو هم په انتخاباتو کې برخه اخیستله، مسلط و. په مکسیکو کې هم یو ګوند تر ډېره وخته مسلط و، مګر په ۲۰۰۰ عیسوي کال کې بل ګوند د جمهوري ریاست انتخابات وګټل او په دې توګه په مکسیکو کې د مسلط ګوندي سیسټم پر ځای څو ګوندي سیسټم رامنځته سو.

ډېر خلک د امریکې د متحده ایالاتو او برتانیې له دوه ګوندي سیسټم سره اشنا دي. په دې هیوادو کې دوه عمده ګوندونه د بریالیتوب چانس لري. که څه هم په دې دواړو هیوادو کې نور ګوندونه هم فعالیت کوي، مګر په انتخاباتو کې ډېر لږ وخت بریالیتوب تر لاسه کوي. دوی یوازې دا خدمت کوي چې دې دوو عمده ګوندونو ته د د رایې ورکوونکو ناخوښي وروښیي. په نتیجه کې دواړه عمده ګوندونه د رایې ورکونکو د ناخوښیو د له منځه وړلو په منظور په خپلو پالیسیو کې تغیرات راولي. په دې توګه حتی ډېر واړه ګوندونه هم د هیواد په سیاست کې اثر ښندلای سي. ځیني مبصرین په دې باور دي، چې نوي سیاسي ایډیاوي زیات وخت د همدې وړو ګوندونو لخوا منځته راځي.

په څو ګوندي سیسټم کې یو له بل سره په رقابت کې څو ګوندونه وجود لري. سویډن څو ګوندي سیسټم لري چې هر ګوند په انتخاباتو کې د ګټل سوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایو په تناسب په پارلمان کي چوکۍ تر لاسه کوي. پر دې سیسټم هر وخت دا انتقاد کېږي چي ګویا ثبات نه لري. اسرائیل او ایټالیا د څو ګوندي سیسټم د کمزورتیا مثالونه دي، دوی په دې نه توانېږي چي یو دوامداره حکومت تشکیل او وساتي. په دې ډول سره پاشل سوی ګوندي سیسټم کي د یوه ګوند له پاره دا مشکله ده چي د حکومت جوړلو له پاره پوره اکثریت لاسته راوړي او د ګوندونو ائتلاف تر ډېر وخته دوا م نه کوي. مګرخبره هر وخت داسي نه ده. د هالینډ، سویډن او ناروې په هیوادونو کي ثبات لرونکي څو ګوندي ائتلافونه جوړېږي او اغېزمن حکومتونه منځته راځي. د ګوندونو شمېر د کابینې د بې ثباتۍ یوازنی دلیل نه دئ. د کابینې په جوړولو کي سیاسي کلتور او پر اساسي مسایلو باندي د ائتلافي ګوندونو توافق ډېر رول لري.

په هغو هیوادو کي چي ډیموکراسي نوې او بې ثباته وي، ګوندي سیسټم یې ناتکمیله او متحر ک وي. په دې هیوادو کي ګوندونه منځته راځي او ژر له منځه ځي. کله یو ګوند یوازي د انتخاباتو پر وخت دیوه شخص د انتخابولو له پاره جوړېږي او کوم خاص پروګرام یا ایډیالوجي نه لري. د دې ګوندونو سازماني جوړښت کمزوری وي او ډېر یې ډېر ژر له منځه ځي. په پولینډ، چکسلواکیه او هنګري کي پراخو هر کاره ائتلافونو په ۱۹۸۹ عیسوي کال کي کمونیسټان له قدرته واچول، مګر دوی پخپله هم ډېر ژر سره وپاشل سول. د روسیې ګوندي سیسټم متحر ک ګڼل کېدای سي، جمهور رئیس پوتین خپل د وحدت Unity ګوند تر انتخاباتولږ څه مخکي په ۱۹۹۹ کال کي تأسیس کړ چي په ۲۰۰۴ عیسوي کال کي د روسیې تر ټولو لوی ګوند ځني جوړ سو.

# یوولسم فصل

**مقننه قوه:**

سیاسي مؤسسات چي هر څومره عصري کېږي په هماغه اندازه اختصاصي او پرله پېچلي کېږي. په ډېر پخوا زمانو کي چي د خلګو ژوند په ښکار پوري تړلی و، یوازي یو مشر وجود درلود چي د ټولو شیانو په هکله به یې تصمیم نیوی. کله چي قبیلې راپیدا سوې نو بیا یو ډول شوراګاني (جرګې) منځته راغلې چي پر مهمو مسایلو به یې بحث کاوه او د ټولنیزو شخړو د حل په هکله به یې پرېکړې کولې. د آتن په شان ښاري – دولتونو بیا شوراګاني درلودې چي د مقننه، اجرائیه او قضائیه قواوو وظایف یې سر ته رسول. رومیانو بیا سنا (مشرانوجرګه) درلوده چي بېلابېلې وظیفې یې سر ته رسولې. کله چي روم له جمهوري سیسټم څخه امپراتورۍ ته واوښتی د سنا قدرت هم ډېر کمزوری سو. په منځنیو پېړیو (قرون وسطی) کي د هغه وخت مسلط فیوډالي سیسټم د پاچا، اشرافو او کلیسا تر منځ پر توازن تکیه درلوده. په همدې فیوډالیزم کي موږ د (قواوو د توازن) لومړنۍ نښانې وینو.

هغه هیوادونه چي پر دولت باندي محدودیتونه لري، عموماً د فیوډالیزم سابقه لري او موږ ته دا راښیي چي د قدرت وېش ښه او تمر کز یې بد شی دئ. په هغو هیوادونو کي چي د مطلقیت عنعنه مسلطه وي، د ډیموکراسۍ راوستل له ستونزو سره مخامخ کېږي. د قدرت د توازن مثال په منځنیو پېړیو کي په اراګون Aragon کي، چي د هسپانیې په شمال کي پروت دئ، د اشرافو لخوا و پاچا ته د وفادارۍ په لوړه کولو (بیعت) کي لیدلای سو: "موږ، چي تاسي غوندي ښه یو، ستاسي سره، چي تر موږ بهتره نه یاست، لوړه کوو چي تاسي د خپل سلطان په توګه په دې شرط منو چي تاسي به د ټولو قوانینو مراعات کوئ، کنه نو هیڅ (یعني موږ دا لوړه نه کوو چي تاسي به د خپل سلطان په توګه قبلوو)".

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچهانو، چې زیات وختونه به په جګړو بوخت وه، د جنګي مصارفو له پاره یې پیسو ته سخته اړتیا درلوده. ځینو پاچهانو به له مخورو او مهمو اشخاصوڅخه یوه شورا جوړه کړه او مالیات به یې پر وضع کړل. د مالیاتو د منلو په مقابل کې به دې شوراګانو له پاچا څخه د دولت په چارو او پالیسیو کې د څه ویلو حق تر لاسه کړ. د برتانیې پارلمان Parliament چې دوې خوني یې درلودې، په همدې ډول پیل سوی دئ او هم د سویډن ریکس ډاګ Riksdag چې په ابتدا کې یې څلور خوني درلودې هم په دغه ډول منځته راغلی دئ. د فرانسې ایستیت جنرال Estate General له لومړي سره ډېر کمزوری پیل سو او کله چې د فرانسې د پاچهانو شخصي قدرت زیات سو او مطلق العناني یې منځ ته راوړه، نو ایستیت جنرال هم د خلکو هېر سو.

په برتانیه، سویډن او ځینو نورو اروپایي هیوادونو کې مقننه قوې په تدریجي توګه نور قدرت هم تر لاسه کړ او ویې کولای سوای چې د پاچهانو د مطلق العنانه غوښتنو په مقابل کې مقاومت وکړي. په شپاړسمه پېړۍ کې د برتانیې اتم هنري Henry VIII د روم له کاتولیک کلیسا سره روابط ځکه وشلول چې ده غوښتل له خپلې مېرمنې څخه طلاق واخلي. ده له پارلمان سره اړیکي زیاتې کړې، ځکه د روم له کاتولیک کلیسا څخه د جلا کېدلو له پاره یې د قوانینو تصویب ته اړتیا درلوده. په اوولسمه پېړۍ کې خبره دې ځای ته ورسېده چې پارلمان ځان له سلطنت سره مساوي وباله او حتی د مالیاتو د وضع کولو په برخه کې یې پارلمان تر سلطنت لوړ وباله. د انګلیس کورنۍ جګړه د سلطنت د طرفدارانو او د پارلمان د پلویانو تر منځ د قدرت پر سر جګړه وه. په ۱۶۴۹ عیسوي کال کې، پارلمان لومړی چارلس Charles I محاکمه او غرغره کړ.

جان لاک John Lock انګرېزي فیلسوف، چې په دغه مهم دوران کې ژوند کاوه، مقننه هیئت یا مقننه قوه ډېره مهمه او اساسي بللې ده. د اتلسمې پېړۍ د روښانفکرۍ په دوران Age of Enlightenment کې د مونتسکیو Montesquieu او جفرسن Jefferson په شان تیوریسنان په دې عقیده وه چې فردي آزادي liberty یوازې هغه وخت تضمین کېدای سي چې حکومت پر دوو مشخصو ښاخونو یعني مقننه او اجرائیه قواوو باندې ووېشل سي او یو له بله سره په کنټرول او توازن check and balance کې وي. د اوسني عصر حکومتونه عموماً دا ډول دوه ښاخونه لري، مګر یوازې د امریکې



په متحده ایالاتو کې مقننه او اجرائیه قواوې د یو او بل کنټرول او څارنه کوي او سره په توازن کې دي. مقننه قوه لړترلړه په تیوریکي لحاظ، د ټولنې له پاره قوانین جوړوي او اجرائیه قوه د مقننه قوې لخوا تصویب سوي قوانین اجرا او عملي کوي. (له مقننه او اجرائیه قوې سره مساوي قضائیه قوه په لږو هیوادونو کې وجود لري او یوازې د امریکې د متحده ایالاتو ابداع ده).

**جمهوري او پارلماني سیستمونه:**

په جمهوري سیستمونو کې د اجرائیه او مقننه قواوو تر مینځ روښانه تفکیک او جلاوالی وجود لري. په دې سیستمونو کې، چې په نړۍ کې اقلیت تشکیلوي، جمهور رئیس د دولت او حکومت دواړو مشرتوب پر غاړه لري. جمهور رئیس د خلکو لخوا په مستقیمه توګه ټاکل کېږي. (د امریکې په متحده ایالاتو کې انتخاباتي هیئت electoral college د خلکو او انتخاباتو تر مینځ منځګړتوب کوي). په جمهوري سیستم کې جمهور رئیس ته زیات واک ورکول سوی وي او مقننه قوه یې په اسانۍ سره له قدرت څخه ګوښه کولای نه سي. په پارلماني سیستم کې، د دولت رئیس (پاچا او یا جمهور رئیس چې زیاتره وخت صرف تشریفاتي بڼه لري) او د حکومت رئیس (صدراعظم، صدر یا چانسلر چې اصلي قدرت یې په لاس کې وي) سره بېل وي.

دې خبرې ته مو باید پام وي چې په پارلماني سیستم کې رایې ورکوونکي یوازې مقننه قوه انتخابوي او نه سي کولای چې خپله یوه رایه د مقننه او اجرائیه قوې تر منځ ووېشي. مقننه قوه د خپلو غړو له میانځ څخه اجرائیه قوه ټاکي. که چېرې انتخاباتي سیستم پر تناسبي نمایندګۍ proportional representation باندې ولاړ وي، نو بیا ډېر امکان لري چې په پارلمان کې ګوندونه وجود ولري او هر هغه ګوند چې په پارلمان کې اکثریت چوکۍ ګټلې وي حکومت جوړوي. که چېرې یو ګوند هم اکثریت چوکۍ ونه لري نو بیا دوه یا زیات ګوندونه ائتلاف سره کوي. که یو ګوند وي او یا هم څو ګوندونو ائتلاف سره کړی وي، د پارلمان اکثریت غړي باید د کابینې ملاتړ وکړي. معمولاً پاچا (لکه په برتانیه او هسپانیه کې) او یا هم کمزوری جمهور رئیس (لکه په جرمني او اسراییل کې) په پارلمان کې د اکثریت چوکۍ لرونکي ګوند له مشر څخه (غوښتنه) کوي چې د صدراعظم وظیفه پر غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي او (حکومت تشکیل کړي). صدراعظم، د هغو ګوندونو په سلا او مشوره چي د ده ملاتړ کوي، د پارلمان له غړو څخه د وزیرانو کابینه تشکیلوي چي دا وزیران د اجرائیه قوې بېلابېل وزارتونه اداره کوي. صدراعظم او کابینه یې د پارلمان په وړاندي (مسئول) دي.

په جمهوري سیسټم کي، جمهور رئیس مقننه قوې ته مسئول نه دئ. جمهور رئیس د خلګو لخوا په مستقیمه توګه انتخابېږي او جمهور رئیس تر پارلمان دباندي د کابینې وزیران ټاکي. د امریکې په متحده ایالاتو کي، وزیران او قضات باید د سنا (مشرانو جرګې) منظوري تر لاسه کړي. د پارلماني سیسټم پر خلاف، په جمهوري سیسټم کي د دولت دواړه ښاخونه یعني مقننه او اجرائیه قواوي یو او بل کنټرول، منحل یا برطرفه کولای نه سي. دا کار جمهوري سیسټم ته زیات ثبات وربخښي. یو جمهور رئیس ښایي د خلګو خوښ نه وي او یا ښایي کانګرس ورسره مخالف وي، مګر بیا هم د اساسي قانون له مخي خپل کار ته دوام ور کولای سي.

**د قواوو تفکیک او امتزاج:**

د امریکې د متحده ایالاتو خلګ په سیسټم کي د قواوو په تفکیک او (چک او بیلانس) باندي، چي د امریکې بنسټ ایښوونکو پلرونو ټینګار پر کاوه، ډېر افتخار کوي. کله چي امریکایانو د دریم جورج George III او د هغه له ډیکتاتورۍ څخه استقلال لاسته راووړ نو داسي سیسټم یې جوړ کړ، چي د دولت یو ښاخ د دولت د بل ښاخ څارنه او کنټرول وکولای سي. په دې توګه، د دې عاقلانه انتظام له امله د ډیکتاتورۍ د منځته راتلومخه ونیول سوه. مګر دا یو ډېر سوکه (بطي) او له ستونزو ډک سیسټم دئ چي د سیاست پوه اډوارډ کرووین Edward Crowin په عقیده، مقننه او اجرائیه قواوي یو له بل سره مبارزې ته رابولي. د دولت دا دواړه ښاخونه زیاتره وخت یو د بل په مخ کي خنډونه منځته اچوي. کانګرس ښایي هغه څه چي جمهور رئیس غواړي تصویب نه کړي او جمهور رئیس ښایي هغه څه چي کانګرس غواړي، ویټو کړي.

ځیني مهم مسایل په کلونو لا هم د اجرائیه او مقننه قوې تر منځ بند پاته سوي دي. جمهور رئیس نه سي کولای کانګرس منحل او نوي انتخابات اعلان کړي، ځکه چي د کانګرس دوره په قانون کي تعین سوې ده. کانګرس هم نه



سي کولای جمهور رئیس په اسانۍ سره ګوښه کړي.

د لوېدیځې اروپا خلګ د امریکې سیسټم غیرمؤثر او بې کفایته بولي. دوی ډېر عصري سیسټمونه لري چي د امریکې تر اساسي قانون وروسته منځته راغلي او تکامل یې کړی دئ. د دوی پارلماني سیسټمونه د اجرائیه او مقننه قواوو داسي یو تفکیک لري چي د دولت دا دواړه ښاخونه یو د بل په مخ کي خنډ نه دي. په دې سیسټمونو کي اصلاً د اجرائیه او مقننه قوې ښکاره توپیر هم ګران کار ځکه دئ چي د اجرائیه قوې غړي عموماً د پارلمان غړي هم وي. په برتانیه، جرمني، جاپان او هالینډ کي، صدراعظم دمخه تر دې چي د اجرائیه قوې مشر سي باید د خلګو لخوا د نورو نمایندګانو په شان پارلمان ته انتخاب سوی وي. په پارلمان کي د اکثریت ګوند له مشر څخه (پاچا یا جمهور رئیس) رسمي غوښتنه کوي چي حکومت تشکیل کړي. هغه اشخاص چي حکومت یا کابینه ځني جوړه ده هم په پارلمان او هم په اجرائیه ډیپارټمنتونو کي چوکۍ لري. په هر وخت کي، د برتانیې د پارلمان تقریباً سل غړي په بېلابېلو وزارتونو او اجرائیه مقاماتو کي په خدمت بوخت وي. په دې ترتیب نو ګویا مقننه قوه په عین زمان کي اجرائیه قوه هم ده. کابینه، په واقعیت کي، د پارلمان یوه کمېټه ده چي د دولت د اجرائیه څانګي د ادارې او څارني له پاره لېږدول سوې ده. کله چي د برتانیې پارلمان غونډه کوي، د کابینې غړي د خپلو پارلماني ملګرو سوال او جواب ته حاضرېږي. د امریکې په سیسټم کي، چي د قواوو واضح تفکیک وجود لري، سنا او یا د نمایندګانو مجلس کولای سي د کابینې او یا د اجرائیه څانګې نور مامورین د استجواب او استیضاح غونډې ته راوغواړي. مګر جمهور رئیس، چي له کانګرس سره مساوي او ځني بېل دئ، د استیضاح یا استجواب له پاره نه سي راغوښتل کېدای.

**د پارلماني سیسټمونو ګټې:**

پارلماني سیسټمونه څو ځانګړي ښېګڼې لري. د اجرائیه او مقننه څانګو تر منځ شخړه او بندیز ځکه نه پېښېږي چي مقننه او اجرائیه دواړي څانګې د یوه ګوند په کنټرول کي وي. که د برتانیې لیبر ګوند Labor Party د ولسي جرګې په انتخاباتو کي اکثریت چوکۍ وګټي، د ګوند د مشرتابه هیئت په اوتومات ډول د هیواد اجرائیه قوه تشکیلوي. کله چي د لیبر ګوند یو نوی قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسوید او ولسي جرګې ته يې د تصویب له پاره ولېږي، نو ډېر لږ پېښېږي چې د ستونزو او یا ځنډ سره مخامخ سي، ځکه په ولسي جرګه کي د لیبر ګوند غړي ډېر غواړي د خپل ګوند د مشرانو له غوښتنو سره سم حرکت وکړي.

که په پارلمان کي د حکومت د ګوند غړي په کابینه کي د ګوند له مشرانو سره موافق نه وي، دوی کولای سي خپل ملاتړ بیرته واخلي او حکومت ته د (عدم اعتماد) رایه ورکړي. په داسي حالت کي نو حکومت په اصطلاح (سقوط) کوي او باید د لیډرشیپ نوې ډله، چي په پارلمان کي د اکثریت ملاتړ ورسره وي، منځته راسي. که د انتخاباتو په نتیجه کي مخالف ګوند زیاتي چوکۍ لاسته راوړي، نو کابینه استعفا کوي او د هغه ګوند مشران چي په انتخاباتو کي يې ډېري چوکۍ ګټلي وي نوی حکومت تشکیلوي. په هر صورت، د مقننه او اجرائیه څانګو تر منځ اختلاف زیات دوام ځکه نه سي کولای چي دواړه له یوه ګوند څخه جوړ وي.

په پارلماني سیستم کي، صدراعظم او کابینه يې ډېر ژر له کاره ګوښه کېدای سي او په پارلمان کي هر وخت د نه باور رایه مطرح کېدای سي. که صدراعظم د اعتماد رایه تر لاسه نه کړي، معنی يې دا ده چي په پارلمان کي نور ملاتړ نه لري نو استعفی کوي او ډېر ژر نوی صدراعظم د پارلمان لخوا ټاکل کېږي. که حکومت کومه لویه سیاسي سهوه یا غلطي وکړي، پارلمان بې له دې چي د حکومت د دورې پای ته رسېدلو ته انتظار وباسي، صدراعظم او کابینه يې له کاره ګوښه کوي. کله چي د امریکې خلګ د جمهور رئیس له پالیسۍ څخه ناخوښه وي، دوی د جمهوري ریاست د دورې تر پای ته رسېدلو مخکي د جمهور رئیس د ګوښه کولو له پاره په سیستم کي ډېر څه په اختیار کي نه لري. مګر په پارلماني سیستم کي پارلمان هغه صدراعظم چي د دوی خوښ نه وي ډېر ژر ګوښه کولای سي.

مګر، پارلماني سیستمونه بیا خپل ځان ته پرابلمونه لري. لومړی، څرنګه چي د پارلمان غړي په عمومي صورت د ګوندي مشرانو اطاعت کوي، نو په پارلمان کي رایي ګیري پوره پېش بیني کېدای سي. هغه ګوندونه چي د حکومت ملاتړ کوي، ټولو هغو قوانینو او لایحو ته چي د کابینې لخوا پارلمان ته وړاندي کېږي موافقه رایه ورکوي. په مقابل کي بیا هغه ګوندونه چي د حکومت ملاتړ نه کوي، مخالفه رایه ورکوي. د پارلمان په تالار کي د وکیلانو



نطقونه او بیانیې کوم تأثیر ځکه نه لري چي دوی په رایه ورکولو کي د ګوند هدایت تعقیبوي. په دې ډول سیستم کي د پارلمان غړي (مقننه قوه) خپل استقلال له لاسه ورکوي او یوازي پر هغه څه د تائید مهر لګوي چي کابینه (اجرائیه قوه) يې مخي ته وړاندي کوي. د قوانینو د تصویب پروسه ډېره منطقي، چټکه او مؤثره وي، مګر پارلمان اجرائیه قوې ته نه څه ویلای سي او نه هم خپل مستقل نظر په قانون یا لایحه کي ځایولای سي. له دې امله اروپایي پارلمانونه د امریکې د کانګرس په پرتله، چي په هغه کي د کانګرس غړي له جمهور رئیس سره مخالفت څرګندوي، بې خونده او بې اهمیته غونډي ښکاري. د ډېرو اروپایي قانون جوړوونکو د امریکې د کانګرس د غړو په استقلال او هغو منابعو کست کیږي چي د هغوی په اختیار کي دي.

دوهم دا چي په پارلماني ډیموکراسیو کي ډېر ګوندونه موجود وي چي زیاتره وخت یو يې هم په پارلمان کي اکثریت چوکۍ نه لري. د دې معنی دا ده چي په پارلمان کي د زیاتو چوکیو لرونکی ګوند باید له نورو وړو ګوندونو سره ائتلاف وکړي څو وکولای سي د حکومت تشکیلولو له پاره په پارلمان کي تر نیمایي زیاتي رایي تر لاسه کړي.

په پارلماني سیستم کي، د هغه ګوند مشر چي په پارلمان کي زیاتي چوکۍ ولري، صدراعظم کېږي. د هغه ګوند مشر چي په پارلمان کي دوهمه درجه زیاتي چوکۍ ولري د خارجه وزارت مقام تر لاسه کوي. د کابینې نوري چوکۍ د چنې وهلو له لاري تعینېږي. ایټالیا او اسرائیل د ائتلافي حکومتونو د ستونزو مثالونه دي: د ائتلاف ملګري د حکومت پر پالیسیو شخړي سره کوي او د ائتلاف یوه یا څو ډلي ائتلاف ماتوي چي په نتیجه کي حکومت په پارلمان کي اکثریت له لاسه ورکوي او حکومت یا د رسمي عدم اعتماد د رایو په نتیجه کي او یا هم د عدم اعتماد له رایو پرته ړنګېږي. دا کار د بې ثباتۍ او د کابینې د پرله پسې تغیر باعث ګرزي. د مثال په توګه، ایټالیې د دوهمي عمومي جګړې راهیسي شپېته حکومتونه درلودلي دي.

دا به ښایي دومره بده خبره نه وي، ځکه چي (حکومت) یعني (کابینه) او کابینه له ائتلافي غړو سره په مذاکره او چنې وهلو سره بیرته جوړېدای سي. مګر مشکل دا دئ چي د صدراعظم ډېره توجه په دې کي وي چي د ائتلاف د له منځه تلو مخه ونیسي. ځکه نو د داسي نویو پالیسیو د رامنځته کولو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره کوي چي ښايي د ائتلاف د غړو تر منځ د اختلاف سبب وګرزي. کله داسي پېښېږي چي پر یوه موضوع باندي د ائتلاف غړي د ډېر زیات وخت له پاره بند سره پاته وي او کار پر مخ نه ځي. عدم تحرک Immobilism، یعني د مهمو مسايلو په هکله د تصمیم نه نیول، د څو ګوندي پارلماني سیسټم لویه خطره ده.

مګر ټول پارلماني سیسټمونه د عدم تحرک مشکل نه لري. برتانیه، جرمني، نیوزیلینډ او سوېډن اغېزمني او متحدي کابینې ځکه لري چي دوی له ائتلافي ګوندونو سره قدرت یا نه شریکوي او یا ډېر لږ قدرت ورسره شریکوي. په دې هیوادو کي ستر ګوندونه یا پخپله په یوازي سر حکومتونه جوړولای سي او یا ډېر لږ د ائتلافي غړو مرستي ته اړتیا پیدا کوي. د دوهمي عمومي جګړې راهیسي، د جرمني او برتانیې حکومتونه یوازي یو ځل د عدم اعتماد له رایي سره مخامخ سوي دي. په عمومي صورت، هر څومره چي په ائتلاف کي زیات ګوندونه برخه ولري په هماغه اندازه کابینه له بې ثباتۍ سره مخامخ وي. د اسرائیلو څو ګوندي کابینه زیات وخت د عدم تحرک په مشکل اخته وي.

### قانون جوړونګي څه کوي؟

په ښوونځي کي لا دا پوښتنه زده کوونکو ته پیدا کېږي چي دا قوانین څرنګه منځته راځي؟ تاسي ته به ښايي داسي ویل سوي وي چي د اولسي او مشرانو جرګې نمایندګان قوانین جوړوي. په رشتیا سره هم ځني لایحې او قوانین په پارلمان کي منځته راځي، مګر د عمده او مهمو قوانینو مسوده د حکومت یعني اجرائیه قوې د یوه وزارت یا ادارې لخوا لیکل کېږي او په کابینه کي تر بحث وروسته پارلمان ته د تصویب له پاره وړاندي کېږي. په پارلمان کي بیا بحث پر کېږي او لازم تعدیلات پکښې راوستل کېږي.

### د کمیسون سیسټم :

په اوسنیو پارلمانونو کي ډېر قدرت په کمیسونونو کي پروت وي، ځکه کمیسونونه کولای سي چي د وړاندي سويو قوانینو د تصویب له پاره لاره هواره کړي او یا یې له ماتي سره مخامخ کړي. ډیموکراټیک پارلمانونه د دې له پاره



چي د یوه قانون او یا وړاندیز په هکله د مسلکي او پوهو خلکو نظریات واوري، اکثره اوقات عمومي غونډي رابولي. که یو وړاندي سوی قانون یا لایحه په کمیسون کي ومنل سي، نو بیا (تالار) ته لېږل کېږي چي هلته یې د تصویب له پاره د اکثریت رایو ته اړتیا سته.

په عمومي توګه، هر پارلمان یو شمېر دایمي کمیسونونه لري او همدارنګه وخت په وخت پر عاجلو او مهمو مسایلو باندي د بحث کولو له پاره ځیني موقتي او مخصوص کمیسونونه منځته راوړي. د برتانیې د عوامو مجلس (ولسي جرګه) پنځه دایمي او یوشمیر تخصصي کمیسونونه لري. مګر دا کمیسونونه د امریکی په کانګرس کي د کمیسونونو په تناسب لږ اهمیت ځکه لري چي د برتانیې په سیسټم کي له پارلمان څخه داسي توقع نه کېږي چي د حکومت او کابینې لخوا له وړاندي سوي قانون سره مخالفت وکړي. دوی ښايي وکولای سي ځیني تعدیلات پکښې راولي. د امریکې د متحده ایالاتو کانګرس د قواوو د تفکیک له امله ډېر پر مختللی دئ. د نمایندګانو مجلس (ولسي جرګه) اووه ویشت دایمي کمیسونونه لري . سنا (مشرانوجرګه) یوویشت کمیسونونه لري. چي هر وخت یې خبرونه په میډیا کي خپرېږي. د بودجې او یا دفاع په کمیسون کي د نماینده ګانو شمولیت دوی ته زیات حیثیت وربخښي ځکه چي زیات وخت له میډیا سره مخامخ وي.

د امریکې د کانګرس بېلابېل کمیسونونه په زرهاوو وړاندي سوي لایحې غلبېلوي او هغه چي ډېري مهمي وي د غور له پاره انتخابوي. په پارلماني سیسټم کي د حکومت لخوا هره لایحه او یا قانون د اهمیت وړ وي او په انفرادي توګه وړاندي سوې لایحه ښايي ډېر ژر په کمیسون کي رد سي. بله خبره دا ده چي د یوې لایحې یا قانون تسوید د ټولو غړو لخوانه سي سر ته رسېدلای، ځکه نو باید لومړی مربوطو کمیسونونو ته وړاندي او هلته تر څېړني لاندي ونیول سي. د قانون جوړولو ډېر کارونه د پارلمان په تالار کي نه بلکي په کمیسونونو کي سر ته رسېږي.

د امریکې د کانګرس په کمیسونونو کي بیلانس او توازن ساتل کېږي، د دواړو سیاسي ګوندونو غړي او همدارنګه د ذینفعو ایالاتو او جغرافیایي سیمو نمایندګان په متوازن ډول په کمیسون کي غړیتوب لري. مثلاً د نیبراسکا ایالت نماینده د کرهني، د نیویارک نماینده د پوهني او کار په کمیسون کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاملیږي. په هر کمیسون کي د ډیموکراټ او جمهوري غوښتونکي ګوند غړي په متناسب انډول برخه اخلي.

**قانون جوړونکو ته یوه کتنه**:

د مقننه هیئت اساسي مقصد د قوانینو جوړول او تنظیمول دي. البته دا کار د بېلابېلو سیاسي سیسټمونو تر منځ فرق کوي او په عمومي صورت اوس مخ پر کښته (انحطاط) روان دئ. په ښه حالت کي، مقننه هیئت (پارلمان) قوانین منځته راوړي، په اساسي قانون کي د تعدیل وړاندیزونه کوي، معاهدې تصویبوي، مالیات کنټرولوي او د حکومت د کړنو څارنه او کنټرول سر ته رسوي. مګر، په استبدادي (اټور یټیرین) سیسټمونو کي پارلمان په عمومي صورت د دیکتاتور له پاره ربړي مهر دئ. (یعني هر هغه څه چي دیکتاتور وایي هغه تصویبوي). قانون جوړونکي لاندي دندې لري:

**( ۱) قانون جوړول**:

که څه هم د مقننه هیئت وظیفه د قوانینو تصویبول دي، خو لږ داسي پېښېږي چي دوی پخپله د قوانینو د جوړلو ابتکار په لاس کي واخلي. لکه چي مخکي مو ولوستل، ډېر قوانین د حکومت په وزارتونو او نورو لوړو ادارو کي منځته راځي، په کابینه کي تر غور او ملاحظې وروسته پارلمان یا مقننه هیئت ته لېږل کېږي چي هغوی ښایي څه تعدیل پکښې راولي. په پارلماني سیسټم کي، په تېره بیا چي یو ګوند د پارلمان اکثریت چوکۍ په اختیار کي ولري، کابینه هغه څه چي غواړي لاسته راوړای سي. د ګوندي ډسیپلین له امله په پارلمان کي د حاکم (اکثریت) ګوند غړي د ګوند د لیډرشیپ له غوښتنو سره سمي رایي ورکوي. په دې ډول پارلمانونو کي رایي ورکول زیات وخت د ګوندي کړنلاري پر مبنا تر مخه لا اټکل کېدای سي، ځیني مبصرین په دې عقیده دي چي دا ډول پارلمانونه د اجرائیه قوې ربړي مهرونه وي (یعني مقننه قوه هغه څه کوي چي اجرائیه قوه یې غواړي).

د امریکې په کانګرس کي، چي ګوندي ډسیپلین ډېر سست دئ، د کانګرس غړي ځیني وخت له خپل ګوند سره مخالفت کوي. مګر حتی د امریکې په متحده ایالاتو کي هم تقنیني اجنداوي د سپیني ماڼۍ لخوا وړاندي



کېږي. اقتصادي وړاندیزونه، پر بل هیواد باندي یرغل کول، او یا د داخلي پروګرامونو د پراختیا په هکله وړاندیزونه د سپیني ماڼۍ لخوا منځته راځي. حتی د دولت بودجه، چي د امریکې کانګرس ته ډېر اهمیت لري، په اوسنیو کلونو کي هر کال د سپیني ماڼۍ د بودجې په اداره کي جوړېږي او کانګرس ته وړاندي کېږي. په عمومي توګه، کانګرس د جمهور رئیس لخوا وړاندي سوې بودجه را اخلي او د خپلو مؤکلینو او یا ذینفعو ګروپونو په ګټه څه شیان پر اضافه کوي او تصویبوي یې. ځکه نو ویلای سو چي اوس د (قانون جوړول) د کانګرس مهمه او یا ډېره مهمه وظیفه نه ده.

**( ۲) د مؤکلینو خدمت**:

د پارلمان غړي زیات وخت د مؤکلینو په خدمت کي تېروي. زیاتره وکیلان خپل مأمورین لري چي د مؤکلینو لیکونو او پوښتنو ته جواب او له دوی سره د مشکلاتو په برخه کي مرسته کوي. دا مأمورین هڅه کوي خلکو ته دا وښیي چي د دوی انتخاب سوی وکیل د دوی په غم کي دئ. اکثره وخت (قانون جوړوونکي) د مؤکلینو په کارونو دومره مصروف وي چي قانون جوړولو ته لږ توجه کوي. په حقیقت کي، انتخابي نمایندګانو اوس ځانونه په داسي یوه منځګړي بدل کړي دي چي د خلکو او حکومت تر منځ د خلکو د شکایتونو په برخه کي تخصص لري. اوس دا پوښتنه رامنځته کېږي چي آیا دا بېځایه کار دئ؟ آیا د یوه انتخابي نماینده له پاره د خپلو مؤکلینو خدمت کول لازمي او ضروري کار نه دئ؟ جواب دا دئ چي دا رشتیا هم ضروري او سم کار دئ مګر عمومي نظر دا دئ چي یو انتخابي نماینده باید د ټول اولس د ګټو له پاره کار وکړي. یو نماینده چي ټول وخت د مؤکلینو په کارونو کي غرق وي نو د ټول اولس په ګټه مهمو مسایلو ته وخت نه پیدا کوي. په نتیجه کي ابتکار زیات وخت حکومت یعني اجرائیه قوې ته پاتېږي او ډیموکراسي کمزورې کېږي.

د مؤکلینو خدمت هغه کار دئ چي د وکیلانو له بیا انتخابېدلو سره مرسته کوي، ځکه دوی په داسي موقف کي دي چي له خلکو سره مرسته کولای سي. وکیلان ډېرځله هغو سیمو ته چي دوی یې نمایندګي کوي، ورځي او د محلي خلکو ستونزو ته غوږ نیسي او د حکومتي چارو په برخه کي مرستي ورسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۳) د حکومت څارنه او انتقاد کول :**

د اوسنۍ عصري مقننه قوې يوه مهمه وظيفه د اجرائيه قوې انتقادي څارنه ده. که قوانين جوړ هم نه کړي، مقننه قوه کولای سي د حکومت چاري تر انتقادي څارني لاندي ونيسي او له دې لاري د حکومت پر کړنو داسي اثر وښندي چي په حکومت کي د اداري فساد مخه ونيسي او د ملت د ګټو په ساتلو کي مؤثر واقع سي.

په برتانيه کي، استيضاح Question Hour د پارلمان غړو ته موقع ورکوي چي له وزيرانو څخه ډېري سختي پوښتني وکړي چي حتی کله کله وخيم نتايج لري. که څه هم د برتانيې کابينه په دې اطمينان لري چي دوی د نه باور (عدم اعتماد) له رايي سره نه سي مخامخ کېدای. ځکه دوی د عوامو په مجلس کي اکثريت لري. بيا هم د کابينې غړي بايد پوښتنو ته په ډېر احتياط جوابونه ورکړي. نامعقول جواب او يا درواغ ښايي په راتلونکو انتخاباتو کي واکمن ګوند ته تاوان ورسوي.

د امريکې په متحده ايالاتو کي تقريباً هر حکومت (اجرائيه قوه)، د کانګرس د ډېرو سختو پوښتنو په نتيجه کي، په خپلو پاليسيو کي تغير راولي. په کانګرس کي د دواړو ګوندونو (ډموکراټ او جمهوري غوښتونکي) د بوش پر حکومت باندي په امريکې کي د تروريستي حملو د نه پېشبيني کولو له امله ډېر سخت انتقادونه وکړل او همدا رنګه، دا چي د بوش اداري ويل چي په عراق کي خطرناکه وسلې سته او امريکايي قواوي په عراق کي بندي پاته سوې، د کانګرس لخوا سخت انتقادونه پر وسول. د حکومت پر لار کول د مقننه قوې ډېره مهمه وظيفه تشکيلوي.

**(۴) ښوونه او روزنه :**

د پارلمان د غړو بله وظيفه دا هم ده چي اولس د حکومت په کړنو پوه او خبر کړي، دوی د ميډيا له لاري دا کار سر ته رسوي. د ۱۹۶۰ کلونو په مابين کي، د ارکنسا ايالت ډيموکراټ سناتور ويليام فولبرايت چي د سنا د خارجي اړيکو د کميټې مشرتوب پر غاړه درلود، د تلويزيون له لاري د کميټې د جرياناتو په خپرولو سره د امريکې اولس د ويټنام د جګړې په باب پوه کړ. همدا اوس چي د امريکې کانګرس د ډيموکراتانو په لاس کي دئ، دوی د



عراق د جګړې په هکله ډېر سخت انتقادونه کوي. ټول ډيموکراتيک هيوادونه د پارلماني مباحثاتو پراخ خبري رپورټونه د اولس په اختيار کي ايږدي او ډېر هيوادونه پارلماني مباحثې د تلويزيون له لاري خپروي.

**د مقننه قوې انحطاط :**

د نولسمي پېړۍ په پای کي، سياسي مبصرين دې خبري ته متوجه سول چي پارلمانونه هغه ډول چي فکر يې کېدی، کار نه کوي. د جان لاک د توقع پر خلاف، مقننه قوې خپل قدرت د اجرائيه قوې په وړاندي د لاسه ورکاوه. ډېر پوليټيکل ساينټسټان په دې باور دي چي د انحطاط دا لړۍ اوس هم روانه ده. ځيني بيا په دې عقيده دي چي د لومړي سره د جان لاک توقعات زيات وه. پارلمانونه که څه هم چي دومره زيات قوانين نه جوړوي، د اجرائيه قوې د څارني له پاره ډېر ګټور دي. د تکنالوجۍ اوسنی عصر، که ښه دئ او که بد، مقننه قوه يې کمزورې کړې ده.

**ساختماني ستونزي :**

په پارلماني سيسټمونو کي، ګوندي ډسيپلين قوي وي او د ګوند پارلماني غړي د ګوند د رهبرۍ خبره مني. په اروپايي پارلمانونو کي، موږ د يوې يا د دوو رايو په توپير، دا اټکل کولای سو چي يوه موضوع به په پارلمان کي څرنګه فيصله سي. هره موضوع د حکومت په ګټه ځکه فيصله کېږي چي حکومت (کابينه) په پارلمان کي اکثريت لري. يوازي هغه وخت چي ائتلافونه ړنګ سي او يا په پارلمان کي د يوه ګوند غړي بل ګوند ته ورواوړي، نو بيا پېش بيني مشکله کېږي او له پارلماني مسايلو سره د خلګو دلچسپي پيدا کېږي. اروپايي پارلمانونه په رشتيا سره هم د امريکې د کانګرس په پرتله منطقي او اغېزناک وي (يعني کارونه په چټکۍ سره پر مخ بيايي) مګر په مقابل کي بيا کمزوري او چنداني په زړه پوري نه وي.

د امريکې په کانګرس کي چي قدرت يو ډول فيوډالي وېش لري، د ګوندي ډسيپلين کمزورتيا او له اجرائيه قوې سره د مخالفت تمايل له کانګرس څخه زيات غيرمؤثر سيسټم جوړ کړی دئ. مګر همدا دليل دئ چي د امريکې کانګرس ژوندی او مهم دئ. په ډېرو لږو هيوادونو کي، د ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمایندګان په مجموع کې د اجرائیه قوې خبره ورغبرګوي او حتی د جمهور رئیس ویټو باطلوي. (د امریکې جمهور رئیس د کانګرس د هر رنګه فیصلې د ویټو حق لري). د کانګرس غړي ځیني وختونه د ناخوښۍ د ځرګندولو له پاره له یوه ګوند څخه بل ته وراوړي. مګر سربېره پر دې ټولو خبرو، حتی د امریکې په متحده ایالاتو کې، قدرت د اجرائیه قوې پر لوري ورلغښتی دئ. جمهور رئیس په یوه آواز خبري کوي، مګر کانګرس په کمېټو او جرګه ګیو کې اخته وي چې مشران یې د میډیا د توجه جلبولو هڅې کوي او دا کار د فیصلو د ځنډېدلو سبب ګرزي. کانګرس توقع لري او حتی ځیني وختونه غوښتنه کوي چې جمهور رئیس لیډرشیپ په لاس کې واخلي. کانګرس تر یو څه مخالفت او مشاجرې وروسته د جمهور رئیس غوښتنې ته غاړه ایږدي.

**د متخصصینو کمبوت:**

لږ نمایندګان په تخنیکي، نظامي، اقتصادي او یا هم اجتماعي چارو کې د تخصص لرونکي وي. د امریکې کانګرس له ۵۳۵ غړو تقریباً تر نیمایي زیات حقوق پوهان دي. اروپایي پارلمانونه لږ حقوق پوهان او زیات معلمان، ژورنالستان او دایمي ګوندي کارکوونکي لري. ډېر لږ داسي پېښېږي چې یو تخنیکي متخصص پارلمان ته انتخاب سي او د پارلمان ډېر لږ غړي دومره مسلکي وړتیا لري چې مثلاً د روغتیا، د بهرنیو اسعارو د نوسان او یا هم د محیط د کثافت په مسایلو پوره وپوهېږي. له دې امله نو د پارلمان غړي باید د اجرائیه قوې پر متخصصینو تکیه وکړي. هسې هم زیات قوانین او لایحې د دغو متخصصینو له خوا منځته راځي او دوی دي چې د پارلمان کمیسونو ته د توضیحاتو له پاره استحضارېږي. کمیسونونه د خپلو فیصلو په صادرولو کې د دې متخصصینو تخصصي نظریاتو او وړانیزونو ته په درنه سترګه ګوري.

زیاتره پارلمانونه د مستقل ریسرچ ملاتړ هیڅ او یا لږ لري، ځکه نو د حکومت او یا هم د شخصي ګروپونو پر ډېټا data تکیه کوي. یوازې د امریکې د متحده ایالاتو کانګرس، د قواوو د تفکیک له امله، کولای سي خپله مستقله ډېټا ولري. د حکومت د حساب ورکولو دفتر Government Accountability Office د کانګرس د ریسرچ سرویس Congressional Research Service او د کانګرس د بودجي دفتر Congressional Budget Office د امریکې د



کانګرس یعني مقننه قوې جزء دي. دوی د کانګرس له پاره ارزښتناکه ډېټا برابروي او پر اجرائیه قوې باندي د کانګرس اتکا رالږوي.

**د غیرحاضرۍ ستونزه:**

که تاسي د یوه پارلمان جاري غونډي ته سر ورایسته کړی، وبه وینی چې تالار تقریباً خالي دئ. زیاتره وخت، د غړو موجودیت ضرور نه وي او دوی هم تالار ته نه حاضرېږي. دوی ډېر نور شیان د کولو له پاره لري: له مؤکلینو سره لیدنه کتنه او له هغوی سره مرسته کول، له ذینفعو ګروپو سره خبري اتري او د پارلمان په بېلابېلو کمېټو کې برخه اخیستل هغه کارونه دي چې دوی یې باید سر ته ورسوي. په عمومي تالار کې کښینستل او ویناوو ته غوږ نیول د دوی له پاره ګټه نه لري. ویناوي د چا په نظر کې بدلون نه سي راوستلای او یوازي د میډیا له پاره دي.

ځیني غړي حتی د رایي ورکولو پر وخت، چې د دوی حضور ته اړتیا سته، هم غیرحاضر وي. د برتانیې په پارلمان کې د ګوند مشران کولای سي وکیلان د مهمي رایي ګیرۍ پر وخت حاضر کړي. په سویډن کې، کله چې په پارلمان کې ویناوي پاي ته ورسېږي، یو ډول الیکترونیکي سیستم د ریکسداګ Riksdag ټول غړي احضاروي. دوی په دې الیکترونیکي سیستم کې د ja یا nej (مثبت یا منفي رایي) تکمه د ګوند له غوښتني سره سمه کښېکاږي او بیر ته وزي. د ریکسداګ تالار یوازي د پنځو یا لسو دقیقو له پاره ډک وي.

په ځینو پارلمانو کې، د غړو د غیرحاضرۍ په وخت کې هم د دوی د رایو د ثبتولو لاري چاري وجود لري. د فرانسې د ملي اسامبلې د رایي ورکولو پر وخت، د هر ګوند یو څو غړي د خپلو غیرحاضرو غړو مېزونو ته ورځي او د هغوی د رایي ورکولو سویچ، د ګوند له دریځ سره سم ، د pour یا contre [مثبت یا منفي] پر خوا کښېکاږي. وروسته په مطبوعاتو کې خبر خپور سي چې، د مثال په توګه، پلانۍ لایحه په ۳۰۰ موافقو او ۲۰۰ مخالفو رایو تصویب سوه. دا احصائیه تېرایستونکې ده ځکه چي یوازي څو محدود غړي د رایي ورکولو پر وخت په اسامبله کې حاضر وي. د تیورۍ له مخي، د فرانسې په پارلمان کې د هر ګوند د یوه غړي حضور هم کفایت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکې د نمایندګانو او هم په سنا کي د غړو حضور لازم دئ، مګر بیا هم یو غیرحاضر غړی کولای سي خپله رایه د بل غیرحاضر غړي سره چي مخالف نظر لري (جوړه) کړي. په دې ترتیب نو موافقي او مخالفي رایې یو او بل سره نفي کوي او د وړاندي سوي لایحې په تصویب یا نه تصویب کي تغیر نه راځي. نماینده یا سناتور بیا هم ادعا کولای سي چي په رایې ګیرۍ کي یې برخه اخیستې ده.

د پارلماني غړو غیرحاضري ښایي داسي تعبیر سي چي دوی، لکه مخکي چي وویل سول، په نورو مهمو چارو بوخت وي. داسي بیا هم تعبیرېدلای سي چي دوی صرف ټنبل دي. مګر په یقیني توګه دا معنی لري چي نور نو مقننه غړي د قانون جوړول خپله اصلي وظیفه نه بولي. په غیرحاضرۍ سره دوی پر دې اعتراف کوي چي د قوانینو جوړول دوی ته ډېر مهم نه دي. د دې پرابلم د حل لاره دا ده چي ګوندي ډسیپلین کمزوری سي او د ګوندي تګلارې پر اساس رایه ور کول له منځه ولاړ سي چي په داسي یو حالت کي به ځوک د رایې ګیرۍ اټکل ونه کولای سي. که یوه لایحه تالار ته وړاندي سي نو غړي به تالار ته حاضرېږي او پر لایحه باندي به تاوده بحثونه کېږي. البته د دې کار تاوان بیا په دې کي دئ چي د قوانینو او لوایحو تصویب به بې نظمه او نه اټکل کېدونکی وي.

**د تغیر او تبدیل کمبوت :**

په ډیموکراټیکو پارلمانو کي، ټول غړي هڅه کوي د پارلمان غړیتوب خپل دایمي مسلکي کار وګرزوي. یو ځل چي انتخاب کړه سو، بیا دوباره انتخابېږي او تر هغو پوري چي زړه یې غواړي په پارلمان کي پاتېږي. د دې معنی دا ده چي لږ تازه او ځوان غړي له نویو ایډیاګانو سره پارلمان ته راځي. په اوسط ډول، د پارلمان غړي تر پنځوسو کلونو زیات عمر لري. د امریکې د نمایندګانو د مجلس په سلو کي تر۹۰ زیات غړي دوهم وار بیا انتخابېږي. دوی ځکه دوباره انتخابېږي چي خلګ یې پېژني، له خلګو سره یې مرستې کړې وي او د میډیا توجه هم دوی ته زیاته وي. که نمایندګان په کوم تور تورن نه سي او رسوایي ته راونه وزي نو چنداني ځوک په انتخاباتو کي ماته نه سي ور کولای.



پارلماني سیستمونه هم دا شان پرابلمونه لري. لږ نوي کسان پارلمان ته راتلای سي او ډېر یې په پارلمان کي خپله چوکۍ دایمي بولي. که سیستم تناسبي نمایندګي وي، د ګوند مشران او پخواني غړي د لیست په سر کي راځي او د پارلمان د غړو په توګه ټاکل کېږي. د ګوند ځوان او نوي غړي د لیست په پای کي وي او پارلمان ته یې د ټاکل کیدو چانس ډېر لږ وي. مګر، د تناسبي نمایندګۍ سیستم دا ګټه لري چي ځیني واړه ګوندونه هم پارلمان ته راتلای سي او په نتیجه کي ځوانان له نویو افکارو سره پارلمان ته ورننوزي. په ۱۹۸۰ کلونو کي ګرین Greens (زرغون) د لوېدیځې اروپا ډېرو پارلمانو ته لاره ومونده او پخواني زاړه ګوندونه یې مجبور کړل د محیط پرابلمونو ته توجه وکړي.

# عمده مفاهیم

**د دولت رئیس او که د حکومت مشر :**

د دولت او حکومت اصطلاحګاني ډېروخت زده کوونکو ته مغشوشي وي. د دولت رئیس په تیوریکي لحاظ د دولت په رأس کي واقع وي او زیات وختونه تشریفاتي وظایف سر ته رسوي، د انګلستان ملکه او د سویډن پاچا یې مثالونه دي. دوی خارجي سفیران ځان ته مني او په ملي ورځو کي وطن پالونکي ویناوي ور کوي او په دې توګه د هیواد نمایندګي کوي. په جمهوري نظام کي د دوی معادل جمهور رئیس دئ چي ځیني یې تشریفاتي بڼه لري. د مثال په توګه، د جرمني، هنګري او اسرائیلو په جمهوریتو کي جمهور رئیس د دولت رئیس وي، مګر دوی په عملي او ورځني سیاست کي ډېر لږ څه سر ته رسوي. (دوی چنداني ځوک پېژني هم نه).

د حکومت مشر واقعي اجرائیه رئیس دئ چي صدراعظم، وزیر اعظم، لومړي وزیراو یا چانسلر بلل کېږي. دوی په عمومي صورت د ګوند مشري پر غاړه لري، انتخاباتي مبارزه مخته بیایي او د حکومت ورځنۍ چاري پر مخ بیایي. د امریکې په متحده ایالاتو کي دا دواړه مقامونه سره یو ځای سوي دي، د امریکې جمهور رئیس د دولت رئیس او هم د حکومت مشر دئ.

**دوه اطاقه او که یو اطاقه پارلمان :**

د نړې د پارلمانو دوه پر دریمه برخه دوه اطاقه دي. یو یې لوړ اطاق وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د امریکې د سنا مجلس Senate، د برتانیې د لارډانو مجلس House of Lords، د فرانسې سناټ Senat، د جرمني بوندسرات Bundesrat او (د افغانستان د مشرانو جرګه). بل بیا کښته اطاق وي لکه د امریکې د نمایندګانو مجلس House of Representatives، د برتانیې د عوامو مجلس House of Commons، د فرانسې ملي اسامبله National Assembly، د جرمني بوندیسټاګ Bundestag او (د افغانستان ولسي جرګه). دې ته دوه اطاقیز یا دوه مجلسیز پارلمان وایي. لوړ اطاق (لکه سنا او مشرانو جرګه) لږ قدرت لري. کله چې یو قانون په کښته اطاق کې، د مثال په توګه په ولسي جرګه کې، تصویب سي مګر په لوړ اطاق کې رد او یا انتقاد سي، کښته اطاق یې دوباره د رایو په ساده اکثریت تصویبولای سي. یوازې د امریکې په متحده ایالاتو کې دواړه اطاقونه مساوي قدرت لري.

ډېر لږ پارلمانونه یو اطاقه دي لکه د سویډن ریکسډاګ Riksdag ، د چین د خلګو ملي کانګرس National People's Congress او د اسرائیلو کنسټ Knesset . جنوبي افریقا د یوې لنډې مودې له پاره دري اطاقیز پارلمان درلودی، یو اطاق یې د سپین پوستانو له پاره، بل یې د مخلوط نژاده خلګو لپاره او دریم یې د شرق الهند له پاره و. اکثریت تورپوستان په پارلمان کې د غړیتوب له حقه محروم وه. (د ۱۹۹۴ عیسوي کال راپه دېخوا جنوبي افریقا دوه اطاقیز پارلمان لري چي تورپوستان پکښې اکثریت تشکیلوي).

# دوولسم فصل

**اجرائیه قوه:**

اجرائیه قوه تر مقننه قوې له ډېر پخوا شخه وجود لرلی دئ. د قبیلې مشران، پاچهان او امپراتوران د بشري تمدن له پیل شخه موجود وه او زیات وخت یې مقننه قوه چې د دوی دي پروا په وسې نه درلوده. پارلمانونه په نسبي توګه نوي مؤسسات دي. حتي نن ورځ هم، قوي اجرائیه قوه موږ ته د وېشل سوي او له جنجالونو ډک پارلمان په پرتله یوطبیعي شی برېښي.

په رشتیا سره هم، د حکومت کلمه د نړۍ په ډېرو برخوکې د اجرائیه قوې معنی لري. په یورپ کې، حکومت له کابینې سره مساوي دئ. مثلاً د(براون حکومت) د برتانیې صدراعظم ګورډن براون Gordon Brown کابینه او تر کابینې رالاندې مرستیالانو په معنی دئ. د امریکې په متحده ایالاتو کې دې ډول تشکیل ته اداره administration وایي. و امریکایانو ته حکومت یعني ټولې حکومتي ادارې او ورسره مل بیروکراتان، چې په اروپا کې یې دولت بولي.

**جمهور رئیس او صدراعظم:**

لکه مخکې چې خبري پر وسوې، په پارلماني سیسټمونو کې د هیواد مقننه قوه یعني پارلمان په غیرمستقیمه توګه د اجرائیه قوې مشر یعني صدراعظم له خپلو غړو شخه ټاکي. دا ډول پارلمانونه د ملت د انتخابي هیئت په توګه د قوانینو د جوړولو او تصویبولو وظیفه پر غاړه لري. دوی همدارنګه کولای سي د عدم اعتماد له لاري صدراعظم او کابینه یې موقوفه کړي. که صدراعظم او کابینه یې په هغه ګوند پوري چې په پارلمان کې اکثریت لري، اړه ولري نو بیا یې د صدارت مقام تضمین دئ او کولای سي خپل پروګرامونه بې له ستونزو په پارلمان ومني. د برتانیې یو صدراعظم چې د عوامو په مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي اکثریت چوکۍ ولري، دومره زیات قدرت لري چي د امریکې د جمهور رئیس به کست په کېږي.

که هیڅ کوم ګوند په پارلمان کي اکثریت ونه لري، نو بیا د څو ګوندونو له ائتلاف څخه حکومت تشکیلېږي چي د ائتلاف هر غړی ګوند ته یو یا دوه وزارتونه په لاس ورځي. ځیني وختونه د ائتلاف غړي ګوندونه پر ځینو پالیسیو باندي شخړي هم سره کوي او د ائتلاف د ماتولو ګواښونه هم سره کوي. دا کار د صدراعظم د کمزورتیا سبب ګرزي ځکه د هري پالیسۍ له بدلون سره د ائتلاف د غړو تر منځ نوي شخړي رامنځته کیږي. دا نه سو ویلای چي صدراعظم نو ګویا تر جمهور رئیس (کمزوری) دئ، بلکي په دې پوري اړه لري چي صدراعظم په پارلمان کي ثابت اکثریت لري او کنه.

په جمهوري سیسټم کي دا پرابلم ځکه نسته چي جمهور رئیس د پارلمان په وړاندي مسؤل نه دئ او د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د ټاکلي وخت له پاره انتخابېږي. د امریکې د متحده ایالاتو د کانګرس به ښایي د جمهور رئیس پالیسۍ خوښي نه وي او ممکن مخالفي رایي ور کړي، مګر نه سي کولای جمهور رئیس له کاره ګوښه کړي. همدارنګه جمهور رئیس هم نه سي کولای کانګرس برطرفه کړي.

**په برتانیه کي د (حکومت تشکیلول):**

برتانیه د پارلماني سیسټم یو داسي کلاسیک هیواد دئ چي تاریخ یې اوس هم روښانه دئ. ملکه الیزابیت Queen Elizabeth II د عوامو په مجلس کي د اکثریت لرونکي ګوند مشرته په رسمي توګه بلنه ورکوي چي نوی (حکومت تشکیل) کړي. صدراعظم خپل وزیران او نور تر کابینې را لاندي لوړ رتبه مأمورین ټاکي چي ټول یې د پارلمان غړي او د صدراعظم په ګوند کي د بېلابېلو ګروپونو نمایندګي کوي. د تیورۍ له مخي، صدراعظم primus inter pares (د کابینې په مساوي غړو کي لومړی) دئ چي کابینه د توافق او هم آهنګۍ پر لوري رهنمایي کوي. مګر په عمل کي، صدراعظم مشر دئ او کولای سي چي کوم وزیر له کاره ګوښه کړي. له هغو وزیرانو څخه چي د حکومت له پالیسۍ سره موافق نه وي توقع کېږي چي استعفی وکړي او بېرته د عوامو په مجلس کي د غړي په توګه پاته سي.



**"ساختماني** constructive **عدم اعتماد" په جرمني کي:**

د جرمني چانسلر Chancellor دغومره قوي دئ لکه د برتانیې صدراعظم. چانسلر هم په ولسي جرګه (Bundestag) کي د اکثریت د ګوند مشر وي. چانسلر یوازي هغه وخت له وظیفې ګوښه کېدای سي چي بوندستاګ د چانسلر د کابینې پر ځای بلي کابینې ته د اعتماد رایه ور کړي. ځکه نو دا (ساختماني عدم اعتماد) بولي چي د جرمني د حکومتونو په ثبات کي یې ډېر رول لوبولی دئ. د پارلمان له پاره د کابینې ړنګول (برطرفه کول) د کابینې تر تعویض ډېر مشکل کار دئ، ځکه نو ساختماني عدم اعتماد په جرمني کي یوازي په کال ۱۹۸۲ کي هغه وخت عملي سو چي آزاد ډیموکراتیک Free Democratic ګوند د سوشیال ډیموکرات تر رهبرۍ لاندي ائتلاف څخه جلا سو او د مخالف کریسچن ډیموکراټانو سره یې ائتلاف وکړ.

**(همزېستي) په فرانسه کي:**

د فرانسې پخواني جمهور رئیس چارلزدوګول (۱۹۵۸ – ۱۹۶۹) یو ډول نیمه جمهوري سیسټم رامنځته کړ، چي په هغه کي جمهور رئیس او صدراعظم دواړه فعاله برخه لري. جمهور رئیس د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د اوو کلونو (چي اوس و پنځو کلونو ته راکښته سوي دي) او پارلمان د پنځو کلونو له پاره انتخابېږي. که دواړه له یوه ګوند څخه وي نو بیا پرابلم وجود نه لري. جمهور رئیس د خپلي خوښي صدراعظم نوموي چي د جمهور رئیس او پارلمان تر مینځ ارتباطي کړۍ تشکیلوي. مګر په ۱۹۸۶ کال او بیا په ۱۹۹۳ کال د فرانسې سوشیالست جمهور رئیس، فرانسوا میتراند، چي د جمهوري ریاست د دورې دوه کاله یې لاپاته وه، له یوه نوي پارلمان سره چي د محافظه کارانو په کنټرول کي و، مخامخ سو. په اساسي قانون کي د داسي یوه حالت له پاره لارښودنه نه وه. جمهور رئیس میتراند داسي حل کړه چي د مخالف ګوالیست ګوند څخه یې صدراعظم ونوماوه او دوی یې پرېښوول چي سوشیالستي اقدامات چي پخوا سر ته رسېدلي وه لغوه کړي. میتراند د ځان له پاره د خارجي سیاست چارې وساتلې. فرانسویانو دې کار ته د (همزېستۍ) نوم ور کړ، یعني چي ښځه او نارینه بې له دې چي واده وکړي یو ځای ژوند سره کوي. په ۱۹۹۷ کال کي برعکس خبره پېښه سوه: ګوالیست جمهور رئیس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاک شیراک، تر وخت دمخه پارلماني انتخابات اعلان کړل، انتخابات یې بایلودل او د سوشیالستانو تر کنټرول لاندي ملي اسامبلې سره مخامخ سو. د حل لاره یې بیا هم (همزېستي) وه، شیراک د سوشیالست ګوند مشر د صدراعظم په توګه ونوماوه. دا ډول (همزېستي) په فرانسه کي کار ورکوي او فرانسویانو هم منلې ده.

**د اجرائیه قوې دوره (د کار موده):**

د جمهور رئیس د خدمت دوره ټاکل سوې وي. د امریکې، برازیل او روسیې د جمهوري ریاست دوره څلور کاله ده (چي د یوې بلې څلور کلني دورې له پاره بیا هم ځانونه کاندیدولای سي). د مکسیکو د جمهوري ریاست دوره بیا شپږ کاله ده. د فرانسې او ډېرو نورو هیوادونو جمهور رئیسان کولای سي هر څو واره ځانونه کاندید کړي. کله چي جمهور رئیسان تر ډېره وخته، که څه هم "انتخاب" سي، پر خپل مقام پاته سي فاسد کېږي او یو دیکتاتور ځني جوړېږي. د اندونیزیا جمهور رئیس سوهارتو یې ښه مثال دئ چي د دودېرشو کلونو لپاره جمهور رئیس و او یوازي په ۱۹۹۷ کال کي هغه وخت له جمهوري ریاست څخه ګوښه کړه سو چي د اندونیزیا اقتصاد، چي سوهارتو او د ده کورنۍ لوټ او تالا کړ، راونړېدی.

په پارلماني سیسټم کي د صدراعظم د بیا انتخاب له پاره،که انتخابات وګټلای سي، کوم محدودیت وجود نه لري. په ۱۹۸۷ کال کي مارګریت تاچر د دریمي دورې له پاره دبرتانیې د صدراعظمي په توګه انتخاب سوه، مګر په ۱۹۹۰ کال کي یې د ډېرو سیاسي مشکلاتو له امله استعفا وکړه. د جرمني چانسلر هیلموت کوهل پرله پسې څلور واره انتخابات وګټل او شپاړس کاله پر خپله چوکۍ پاته سو (۱۹۸۲ – ۱۹۹۸). ډېر صدراعظمان کولای سي پارلمان رنګ کړي مګر د امریکې جمهور رئیس بیا دا کار نه سي کولای.

له بلي خوا، د برتانیې صدراعظم که په پارلمان کي اکثریت له لاسه ورکړي، ډېر ژر برطرفه کېدای سي. کله چي د کارګر ګوند صدراعظم په پارلمان کي صرف د یوولسو سکاټیش نېشنلست Scottish Nationalist غړو حمایه له لاسه ورکړه، ډېر ژر له کاره ګوښه کړه سو او پرځای یې د مخالف ګوند مشره مارګریت تاچر پر قدرت راغله. د ایټالیې صدراعظمان د ډېر لږ



وخت له پاره پر وظیفه پاتېږي ځکه ائتلافونه یې ډېر ژر سره شوړېږي. د جاپان صدراعظمان، د لیبرال ډیموکرات ګوند په دننه کي د مبارزې له امله، په اوسط ډول تردوه نیم کاله لږ پر وظیفه پاتېږي، ځیني خو لا حتی یوازي څو میاشتي وروسته له کاره ګوښه کړه سي. د تیورۍ له مخي، صدراعظمان کولای سي د ډېر وخت له پاره خدمت وکړي، مګر په عمل کي د دوی د کار او خدمت موده په سیاسي شرایطو، انتخاباتو او د ائتلاف په ماتېدلو پوري اړه لري. په پارلماني سیسټم کي صدراعظمان په اسانه راځي او په اسانه ځي. په جمهوري سیسټم کي جمهور رئیسان تر یو حده پوري له سیاسي لوړو او ژورو څخه په امان وي. د عراق د جګړې له امله، د مثال په توګه، د امریکې جمهور رئیس بوش ته ډېر لږ محبوبیت ورپاته دئ، مګر د ده د جمهوري ریاست د دورې تر پای ته رسېدلو پوري څوک هیڅ نه سي کولای.

د امریکې جمهور رئیس له مجرمیت impeachment سره مخامخ کېدای سي، مګر دا یوه اوږده او بې باوره پروسه ده چي د امریکې په تاریخ کي یوازي درې ځله مطرح سوې ده. جمهور رئیس اندریوجکسن Andrew Jackson په کال ۱۸۶۸ کي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سو، مګر د سنا په یوه رایه باندي یې برائت حاصل کړ. جمهور رئیس ریچارډ نکسن Richard Nixon نژدې و چي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سي، مګر ده تر رایې ګیرۍ دمخه استعفا وکړه. جمهور رئیس کلینټن Clinton مجرم وګڼل سو مګر محکوم نه سو. تر کومه ځایه چي د اجرائیه قوې د مشر په کرکټر پوري اړه لري، پارلماني سیسټمونه د امریکې د سیسټم په تناسب ځیني ښیګڼې لري. په پارلمان کي د ساده عدم اعتماد رایې له لاري، د اجرائیه قوې نامطلوب مشر ایسته کېدای سي.

**د رئیسه هیئت (د اجرائیه قوې مشر) رول:**

ریچارډ نیوسټادت Richard E. Neustadt لیکي چي: "یو جمهور رئیس له څو سریو څخه جوړ دئ، یا یو سړی دئ چي څو بېلابېلي (خولۍ) لري یا په بل عبارت ډېررولونه لري". په اوسني عصر کي زیاتره (د اجرائیه قوې) رئیسان تر یوې زیاتي خولۍ لري، مګر د امریکې جمهور رئېسان د زیات قدرت خاوندان دي ځکه دوی د مقننه قوې [کانګرس] څخه په مستقل ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو له خوا ټاکل کېږي. د امریکې جمهور رئیس د دولت رئیس، د حکومت مشر، د ګوند لیډر، د وسله والو قواوو اعلی قوماندان، لوړ پوړی دیپلومات، او هم د اجرائیه قوې مشر وي. د ۱۷۸۹ راهیسې په امریکې کې د جمهور رئیس قدرت په زیاته اندازه ډېر سوی دئ. د نړۍ په نورو هیوادونو کې هم د اجرائیه قوې د مشر قدرت زیات سوی دئ.

**د دولت مشر:**

جمهور رئیسان د ملت ښکاره سمبولونه وي او د پاچاهانو یا په ځینو هیوادونو کې نمایشي جمهور رئیسانو په شان تشریفاتي وظایف سر ته رسوي. د مثال په توګه، دوی د نورو هیوادونو مشرانو ته ښه راغلې وایي او ملاقات ورسره کوي، سفیران ځانته مني او په نړۍ کې د خپل هیواد نمایندګي کوي.

**د حکومت مشر:**

د حکومتونو مشران (جمهور رئیسان، صدراعظمان او یا چانسلران) د پالیسیو د عملي کولو مسئولیت پر غاړه لري. دوی په ملي سطحه کې د ستر بیوروکراتیک ماشین څارنه کوي چې دا ډېر دروند کار دئ. د امریکې جمهور رئیس، د پنځلسو لویو حکومتي ډیپارټمنټونو (وزارتونو) ۱۰۰ اجرائیه بیوروګانو، ۹۰۰ اداري دفترونو او ۶۰۰ حکومتي څانګو مسئول دئ چې ټول دوه اعشاریه اته میلیونه مأمورین په بر کې نیسي.

**اعلی قوماندان:**

د اجرائیه قوې (حکومت) مشران تقریباً په هر ځای کې د خپل هیواد د وسله والو قواوو اعلی قوماندان هم وي. په هغو هیوادونو کې چې ډیموکراسي نوې وي دا کا ر یو پرابلم دئ. ځکه چې جمهور رئیسان او یا هم صدراعظمان ښایي له وسله والي قوې څخه غیرقانوني استفاده وکړي او خپل سیاسي مخالفین په ووهي او یا هم د قدرت په انحصار کې له هغه څخه کار واخلي. په ډېرو هیوادو کې، لږ تر لږه د کاغذ پر مخ، داسي کړنلاري او کوماند سټر کچرونه وجود لري چې د هغو له مخې له وسله وال پوځ څخه د کار اخیستلو قانوني والی تعینېږي. جمهوري سیسټمونو و جګړې ته د وسله والي قوې لیږل اسانه کړي



دي. د امریکې او همدارنګه د روسیې جمهورو رئیسانو له وسله وال پوځ څخه په داسي لارو استفاده کړې ده چې د پارلمان منظوري یې تر لاسه کړې نه وه او هیڅ چا څه کولای هم نه سوای.

**معیوب جمهور رئیسان:**

جمهوري سیسټمونه یو بل پرابلم لري چې پارلماني سیسټمونه یې نه لري. که یو صدراعظم د خپل صدارت په دوران کې معیوب یا لیونی سي، پارلمان ډېر ژر کولای سي له کاره یې ګوښه کړي. جمهوري سیسټمونه په اسانۍ سره نه پوهېږي چې په ډېر سخت ناروغه جمهور رئیس (د اجرائیه قوې مشر) څه وکړي. اکوادور، د مثال په توګه، د ډېر سخت عصبي ناروغ جمهور رئیس له ګوښه کولو سره قانوني پرابلمونه درلودل. د امریکې اساسي قانون وایي کله چې جمهور رئیس "د قدرت او وظایفو د سر ته رسولو" کفایت و نه لري د جمهور رئیس مرستیال یې ځای نیسي، مګردا بې کفایتي هیڅکله تعریف سوې نه ده. په نتیجه کې، ډېر جمهور رئیسان سره له دې چې ډېر ناتوانه وه پر خپل ځای پاته سوي دي. په فرانسه کې، جمهور رئیس میتراند د سرطان د ناروغۍ له امله د خپل څوارلس کلن جمهوري ریاست په ډېرو کلونو کې د تدریجي مرګ سره لاس وګرېوان و، مګر د ده ډاکټرانو دا موضوع د ده تر مړیني وروسته په کال ۱۹۹۶ کې اعلان کړه.

د امریکې پر جمهور رئیس ووډروویلسن (۱۹۱۳– ۱۹۲۱) Woodrow Wilson په ۱۹۱۸ع کال کې، یعني دمخه تر دې چې د ورسایلیس Versaillesپه غونډوکې برخه واخلي، مغزي حمله stroke راغلې وه. د ده ناروغۍ په غونډو کې د ده د سیاسي چنې وهلو قدرت کمزوری کړ. دی هغه مهال چې د ورسایلس د معاهدې او همدارنګه د League of Nations Covenant له پاره یې د خلکو د حمایې راجلبولو له پاره وینا کوله، راچپه سو. وروسته تر هغه یې میرمنې په دې نامه چې یوازې یې د جمهور رئیس غوښتني پر ځای کولې، د جمهوري ریاست چاري پر مخ بېولې. کله چې جمهور رئیس فرانکلین روزویلت د څلرمې دورې له پاره په کال ۱۹۴۴ع کې انتخاب سو، د زړه ناروغي او لوړ فشار یې درلود. ده چې کله په ۱۹۴۵ع کال کې د یالتاYalta په غونډو کې برخه اخیستله، د مرګ په دروازه کې ولاړ و، ښایي په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



علت سټالین ته تر ډېرو شیانو ورتېر سو. جمهور رئیس کینیډي د اډیسن په نوم ناروغي درلوده او هم یې د درد او خوب ګولۍ خوړلې. آیا دې دومره دواګانو به د مهمو پرېکړو په هکله د ده پر قضاوت اثر نه وي ښندلی؟

دا چې ولي د سپیني ماڼۍ ډاکترانو په دې هکله څه ونه ویل، یو علت یې دا و چې ډاکترانو د جمهوررئیس حفاظت کاوه ځکه چې په امریکا کي د مریض او ډاکتر تر منځ روابط ډېر سخت امتیازي شکل لري یعني ډاکتر حق نه لري د مریض حال افشا کړي، او بل دا چې ډاکټرانو په رشتیا سره هم له جمهور رئیس سره علاقه درلوده او نه یې غوښتل چې د دوی خوښ جمهور رئیس قدرت له لاسه ورکړي. د دوی په انګېزه کي څه نقص موجود نه و، مګر د دوی هڅي چې یو ناروغ جمهور رئیس یې پر خپل حال پرېښود، ښایي وطن ته تاوان پېښ کړی وای.

**کابینه:**

کابینه د اجرائیه قوې له مشر سره مرسته کوي. د کابینې غړی د اجرائیه قوې د یوې عمده څانګې، چې په امریکا کي ډیپارټمنټ او په نوره نړۍ کي یې وزارت بولي، مشرتوب پر غاړه لري. په امریکا کي د کابینې د غړو شمېر تر ۱۵ پوري محدود او د اروپا په ځینو هیوادونو کي بیا تر ۲۰ هم زیات دئ. د وزارتونو شمېر د هیواد په داخلي سیسټم او د خلکو په توقعاتو پوري اړه لري. د امریکې متحده ایالاتو هر وخت پر محدود حکومت باندي ټینګار کړی دئ، مګر په دې وروستیو کلونو کي امریکا هم د یورپ پر لوري ور روانه ده.

**څوک په کابینه کي برخه اخلي؟**

د برتانیې او جرمني په شان پارلماني سیسټمونو کي، وزیران له پارلمان څخه ټاکل کېږي او دوی خپلي پارلماني چوکۍ ساتي. دوی هم د مقننه قوې او هم د اجرائیه قوې غړي وي. دوی معمولاً د پارلمان په بېلابېلو کمېټو کي د غړیتوب او په پارلماني انتخاباتو کي د بریالیتوب له پاره د ډېرو سیاسي تجربیو لرونکي وي. د جرمني په بون دیسټاګ Bundestag کي د دفاعي کمېټې مشر ډېر چانس لري چې په کابینه کي د دفاع د وزیر په توګه وټاکل سي. د امریکې د متحده ایالاتو او برازیل په شان جمهوري سیسټمونو کي،



وزیران په عمومي صورت سیاسي خلک نه وي بلکي د حقوق، بزنس او یا هم له اکاډیمیکي ساحې څخه ټاکل کېږي. دوی ښایي د خپلو وزارتونو په هکله معلومات او سابقه ولري مګر لږ پیښېږي چې کوم انتخابي مقام یې د انتخاباتو له لاري ګټلی وي. په دې وروستیو وختونو کي د امریکې ځینو جمهوررو رئیسانو د کانګرس غړي په کابینه کي شامل کړي دي، مګر دوی د وزارت چوکۍ ته تر ټاکل کېدلو مخکي له کانګرس څخه باید استعفی وکړي.

کوم سیسټم ښه دئ؟ هغه وزیر چې په سیاست کي فعاله برخه لري یعني د پارلمان غړي هم وي او که هغه وزیر چې د دولت له حلقې څخه دباندي په کابینه کي شامل سي؟ د اروپایي پارلمانونو انتخابي غړي چې وزارت ته ټاکل کېږي، عموماً هم په سیاست او هم د خپل مربوطه وزارت په چارو کي وارد وي. دوی د پارلمان غړي له نژدې پېژني او یو ځای یې کار سره کړی وي. وزیران او پارلمان یو بل ته خصمانه نظر نه لري. په پارلمان کي پر وزیرانو باندي انتقادونه کېږي مګر دا انتقادونه د مخالف ګوند د غړو لخوا کېږي او د حکومت موافق ګوند په عمومي صورت د کابینې د غړو حمایت کوي.

هغه وزیران چې له پارلمان څخه دباندي کابینې ته داخل کړه سي، چې د امریکې عنعنه ده، ښایي نوي نظریات له ځانه سره راوړي، مګر دوی به ښایي په سیاست کي دومره وارد نه وي. د دې امکان سته چې دوی به په پارلمان کي له مخالفتونو سره مخامخ سي او ښایي حتی خپل ګوند یې هم ملاتړ ونه کړي.

په خاصه توګه د امریکې په متحده ایالاتو کي، د کابینې اهمیت ورځ په ورځ لږېږي. د کابینې غونډې ډېري لږ وي او دومره زیات څه پر بنا هم نه وي. ډېر لږ امریکایان د کابینې د درو یا زیاتو غړو نومونه ښوولای سي. د دې مشکل یو علت دا دئ چې د کابینې ډېر لږ غړي مهم سیاسي شخصیتونه وي. د کابینې غړي تر ډېره حده د خپلو مربوطه وزارتونو اداره چیان وي.

**تر کابینې دباندي مشاورینو زیاتېدل:**

په اوسني عصر کي د حکومتونو یو اساسي پرابلم دا دئ چې سرعت پکښې زیات دئ. جمهور رئیس غواړي داسي خلک پر راټول وي چې ده ته نوي ایډیا وي او د نوو پېښو په هکله چټک قضاوت وړاندي کړي. له دې امله په امریکا او ځینو نورو هیوادونو کي تر کابینې دباندي مشاورین (سلاکارن) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر زیاتېدو دي چي ځیني وختونه تر وزیرانو لا هم مهم وي. (په افغانستان کي هم داسي ده).

## عمده مفاهیم

**په اسرائیل کي د صدراعظم مستقیم انتخاب:**

په ۱۹۹۶ عیسوي کال کي اسرائیلو، د یوه نوي قانون له مخي، پارلمان او صدراعظم یو له بله بېل او په مستقیمه توګه انتخاب کړل. دا کار په نړۍ کي بېساري و او هیڅکله نه و سوی. هر اسرائیلي رایه ورکوونکي دوې رایې درلودې چي یوه یې د پارلمان او بله یې د صدراعظم د ټاکلو له پاره وه. د تعریف له مخي، په پارلماني سیستم کي صدراعظم، چي په اسرائیل کي عموماً د اکثریت ګوند مشر وي، د غیرمستقیمي لاري یعني د پارلمان لخوا ټاکل کېږي. په جمهوري سیستم کي بیا د اجرائیه قوې مشر د خلګو لخوا د انتخاباتو له لاري په مستقیمه توګه ټاکل کېږي. په دې توګه نو اسرائیل له سوچه پارلماني سیستم څخه جمهوري سیستم ته راواوښتی، مګر بیا هم پارلمان کولای سوای د عدم اعتماد له لاري صدراعظم له کاره ګوښه کړي.

اسرائیلي رایو ورکونکو، په دې فکر چي ګویا د خپلي یوې رایې په وسیله یې د صدراعظم چاره وکړه، خپله دوهمه رایه یې د وړو ګوندونو تر مینځ ووېشله. دي کار د اسرائیلو پارلمان تر پخوا زیات پر ډېرو فراکسیونو (ډلو) ووېشی چي په نتیجه کي د ائتلاف جوړول نور هم پسې مشکل سول. دوه ځلي له دې ځانګړي مخلوط سیستم څخه کار واخیستل سو، مګر د اسرائیلو پارلمان په ۲۰۰۱ عیسوي کال کي دا سیستم لغوه کړ. تجربې وښودله چي د جمهوري او پارلماني سیستم ترکیب کار نه ورکوي.

# دوولسم فصل

**اجرائیه قوه:**

اجرائیه قوه تر مقننه قوې له ډېر پخوا څخه وجود لرلی دئ. د قبیلې مشران، پاچهان او امپراتوران د بشري تمدن له پیل څخه موجود وه او زیات وخت یې مقننه قوه چي د دوی دي پروا په وسي نه درلوده. پارلمانونه په نسبي توګه نوي مؤسسات دي. حتي نن ورځ هم، قوي اجرائیه قوه موږ ته د وېشل سوي او له جنجالونو ډک پارلمان په پرتله یوطبیعي شی برېښي.

په رشتیا سره هم، د حکومت کلمه د نړۍ په ډېرو برخوکي د اجرائیه قوې معنی لري. په یورپ کي، حکومت له کابینې سره مساوي دئ. مثلاً د(براون حکومت) د برتانیې صدراعظم ګورډن براون Gordon Brown کابینه او تر کابینې رالاندي مرستیالانو په معنی دئ. د امریکې په متحده ایالاتو کي دې ډول تشکیل ته اداره administration وایي. و امریکایانو ته حکومت یعني ټولي حکومتي اداري او ورسره مل بیروکراتان، چي په اروپا کي یې دولت بولي.

**جمهور رئیس او صدراعظم:**

لکه مخکي چي خبري پر وسوې، په پارلماني سیستمونو کي د هیواد مقننه قوه یعني پارلمان په غیرمستقیمه توګه د اجرائیه قوې مشر یعني صدراعظم له خپلو غړو څخه ټاکي. دا ډول پارلمانونه د ملت د انتخابي هیئت په توګه د قوانینو د جوړولو او تصویبولو وظیفه پر غاړه لري. دوی همدارنګه کولای سي د عدم اعتماد له لاري صدراعظم او کابینه یې موقوفه کړي. که صدراعظم او کابینه یې په هغه ګوند پوري چي په پارلمان کي اکثریت لري، اړه ولري نو بیا یې د صدارت مقام تضمین دئ او کولای سي خپل پروګرامونه بې له ستونزو په پارلمان ومني. د برتانیې یو صدراعظم چي د عوامو په مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي اکثریت چوکۍ ولري، دومره زیات قدرت لري چي د امریکې د جمهور رئیس به کست په کېږي.

که هیڅ کوم ګوند په پارلمان کي اکثریت ونه لري، نو بیا د څو ګوندونو له ائتلاف څخه حکومت تشکیلېږي چي د ائتلاف هر غړی ګوند ته یو یا دوه وزارتونه په لاس ورځي. ځیني وختونه د ائتلاف غړي ګوندونه پر ځینو پالیسیو باندي شخړي هم سره کوي او د ائتلاف د ماتولو ګواښونه هم سره کوي. دا کار د صدراعظم د کمزورتیا سبب ګرزي ځکه د هري پالیسۍ له بدلون سره د ائتلاف د غړو تر منځ نوي شخړي رامنځته کیږي. دا نه سو ویلای چي صدراعظم نو ګویا تر جمهور رئیس (کمزوری) دئ، بلکي په دې پوري اړه لري چي صدراعظم په پارلمان کي ثابت اکثریت لري او کنه.

په جمهوري سیسټم کي دا پرابلم ځکه نسته چي جمهور رئیس د پارلمان په وړاندي مسئول نه دئ او د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د ټاکلي وخت له پاره انتخابېږي. د امریکې د متحده ایالاتو د کانګرس به بنایي د جمهور رئیس پالیسۍ خوښي نه وي او ممکن مخالفي رایي ورکړي، مګر نه سي کولای جمهور رئیس له کاره ګوښه کړي. همدارنګه جمهور رئیس هم نه سي کولای کانګرس برطرفه کړي.

**په برتانیه کي د (حکومت تشکیلول):**

برتانیه د پارلماني سیسټم یو داسي کلاسیک هیواد دئ چي تاریخ یې اوس هم روښانه دئ. ملکه الیزابیت Queen Elizabeth II د عوامو په مجلس کي د اکثریت لرونکي ګوند مشرته په رسمي توګه بلنه ورکوي چي نوی (حکومت تشکیل) کړي. صدراعظم خپل وزیران او نور تر کابینې را لاندي لوړ رتبه مأمورین ټاکي چي ټول یې د پارلمان غړي او د صدراعظم په ګوند کي د بېلابېلو ګروپونو نمایندګي کوي. د تیورۍ له مخي، صدراعظم primus inter pares (د کابینې په مساوي غړو کي لومړی) دئ چي کابینه د توافق او هم آهنګۍ پر لوري رهنمایي کوي. مګر په عمل کي، صدراعظم مشر دئ او کولای سي چي کوم وزیر له کاره ګوښه کړي. له هغو وزیرانو څخه چي د حکومت له پالیسۍ سره موافق نه وي توقع کېږي چي استعفی وکړي او بېرته د عوامو په مجلس کي د غړي په توګه پاته سي.



**"ساختماني** constructive **عدم اعتماد" په جرمني کي:**

د جرمني چانسلر Chancellor دغومره قوي دئ لکه د برتانیې صدراعظم. چانسلر هم په ولسي جرګه (Bundestag) کي د اکثریت د ګوند مشر وي. چانسلر یوازي هغه وخت له وظیفې ګوښه کېدای سي چي بوندستاګ د چانسلر د کابینې پر ځای بلي کابینې ته د اعتماد رایه ورکړي. ځکه نو دا (ساختماني عدم اعتماد) بولي چي د جرمني د حکومتونو په ثبات کي یې ډېر رول لوبولی دئ. د پارلمان له پاره د کابینې ړنګول (برطرفه کول) د کابینې تر تعویض ډېر مشکل کار دئ، ځکه نو ساختماني عدم اعتماد په جرمني کي یوازي په کال ۱۹۸۲ کي هغه وخت عملي سو چي آزاد ډیموکراتیک Free Democratic ګوند د سوشیال ډیموکرات تر رهبرۍ لاندي ائتلاف څخه جلا سو او د مخالف کریسچن ډیموکراټانو سره یې ائتلاف وکړ.

**(همزیستي) په فرانسه کي:**

د فرانسې پخواني جمهور رئیس چارلزدوګول (۱۹۵۸ – ۱۹۶۹) یو ډول نیمه جمهوري سیسټم رامنځته کړ، چي په هغه کي جمهور رئیس او صدراعظم دواړه فعاله برخه لري. جمهور رئیس د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د اوو کلونو (چي اوس و پنځو کلونو ته راکښته سوي دي) او پارلمان د پنځو کلونو له پاره انتخابېږي. که دواړه له یوه ګوند څخه وي نو بیا پرابلم وجود نه لري. جمهور رئیس د خپلي خوښي صدراعظم نوموي چي د جمهور رئیس او پارلمان تر مینځ ارتباطي کړۍ تشکیلوي. مګر په ۱۹۸۶ کال او بیا په ۱۹۹۳ کال د فرانسې سوشیالست جمهور رئیس، فرانسوا میتراند، چي د جمهوري ریاست د دورې دوه کاله یې لاپاته وه، له یوه نوي پارلمان سره چي د محافظه کارانو په کنټرول کي و، مخامخ سو. په اساسي قانون کي د داسي یوه حالت له پاره لارښودنه نه وه. جمهور رئیس میتراند داسي حل کړه چي د مخالف ګوالیست ګوند څخه یې صدراعظم ونوماوه او دوی یې پرېښوول چي سوشیالستي اقدامات چي پخوا سر ته رسېدلي وه لغوه کړي. میتراند د ځان له پاره د خارجي سیاست چاري وساتلې. فرانسویانو دې کار ته د (همزیستۍ) نوم ورکړ، یعني چي ښځه او نارینه بې له دې چي واده وکړي یو ځای ژوند سره کوي. په ۱۹۹۷ کال کي برعکس خبره پېښه سوه: ګوالیست جمهور رئیس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاک شیراک، تر وخت دمخه پارلماني انتخابات اعلان کړل، انتخابات یې بایلودل او د سوشیالستانو تر کنټرول لاندي ملي اسامبلې سره مخامخ سو. د حل لاره یې بیا هم (همزیستي) وه، شیراک د سوشیالست ګوند مشر د صدراعظم په توګه ونوماوه. دا ډول (همزیستي) په فرانسه کي کار ورکوي او فرانسویانو هم منلې ده.

**د اجرائیه قوې دوره (د کار موده):**

د جمهور رئیس د خدمت دوره ټاکل سوې وي. د امریکې، برازیل او روسیې د جمهوري ریاست دوره څلور کاله ده (چي د یوې بلې څلور کلنې دورې له پاره بیا هم ځانونه کاندیدولای سي). د مکسیکو د جمهوري ریاست دوره بیا شپږ کاله ده. د فرانسې او ډېرو نورو هیوادونو جمهور رئیسان کولای سي هر څو واره ځانونه کاندید کړي. کله چي جمهور رئیسان تر ډېره وخته، که څه هم "انتخاب" سي، پر خپل مقام پاته سي فاسد کېږي او یو دیکتاتور ځنې جوړېږي. د اندونیزیا جمهور رئیس سوهارتو یې ښه مثال دئ چي د دوډېرشو کلونو لپاره جمهور رئیس و او یوازې په ۱۹۹۷ کال کي هغه وخت له جمهوري ریاست څخه ګوښه کړه سو چي د اندونیزیا اقتصاد، چي سوهارتو او د ده کورنۍ لوټ او تالا کړ، راونړېدی.

په پارلماني سیستم کي د صدراعظم د بیا انتخاب له پاره، که انتخابات وګټلای سي، کوم محدودیت وجود نه لري. په ۱۹۸۷ کال کي مارګریت تاچر د دریمې دورې له پاره دبرتانیې د صدراعظمې په توګه انتخاب سوه، مګر په ۱۹۹۰ کال کي یې د ډېرو سیاسي مشکلاتو له امله استعفا وکړه. د جرمني چانسلر هیلموت کوهل پر له پسې څلور واره انتخابات وګټل او شپاړس کاله پر خپله چوکۍ پاته سو (۱۹۸۲ – ۱۹۹۸). ډېر صدراعظمان کولای سي پارلمان ړنګ کړي مګر د امریکې جمهور رئیس بیا دا کار نه سي کولای.

له بلې خوا، د برتانیې صدراعظم که په پارلمان کي اکثریت له لاسه ورکړي، ډېر ژر برطرفه کېدای سي. کله چي د کارګر ګوند صدراعظم په پارلمان کي صرف د یوولسو سکاټیش نېشنلست Scottish Nationalist غړو حمایه له لاسه ورکړه، ډېر ژر له کاره ګوښه کړه سو او پرځای یې د مخالف ګوند مشره مارګریت تاچر پر قدرت راغله. د ایټالیې صدراعظمان د ډېر لږ



وخت له پاره پر وظیفه پاتېږي ځکه ائتلافونه یې ډېر ژر سره شوړېږي. د جاپان صدراعظمان، د لیبرال ډیموکرات ګوند په دننه کي د مبارزې له امله، په اوسط ډول تردوه نیم کاله لږ پر وظیفه پاتېږي، ځیني خو لا حتی یوازې څو میاشتې وروسته له کاره ګوښه کړه سي. د تیورۍ له مخې، صدراعظمان کولای سي د ډېر وخت له پاره خدمت وکړي، مګر په عمل کي د دوی د کار او خدمت موده په سیاسي شرایطو، انتخاباتو او د ائتلاف په ماتېدلو پوري اړه لري. په پارلماني سیستم کي صدراعظمان په اسانه راځي او په اسانه ځي. په جمهوري سیستم کي جمهور رئیسان تر یو حده پوري له سیاسي لوړو او ژورو څخه په امان وي. د عراق د جګړې له امله، د مثال په توګه، د امریکې جمهور رئیس بوش ته ډېر لږ محبوبیت ورپاته دئ، مګر د ده د جمهوري ریاست د دورې تر پای ته رسېدلو پوري څوک هیڅ نه سي کولای.

د امریکې جمهور رئیس له مجرمیت impeachment سره مخامخ کېدای سي، مګر دا یوه اوږده او بې باوره پروسه ده چي د امریکې په تاریخ کي یوازې درې ځله مطرح سوې ده. جمهور رئیس اندریوجکسن Andrew Jackson په کال ۱۸۶۸ کي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سو، مګر د سنا په یوه رایه باندي یې برائت حاصل کړ. جمهور رئیس ریچارډ نکسن Richard Nixon نژدې و چي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سي، مګر ده تر رایې ګیرۍ دمخه استعفا وکړه. جمهور رئیس کلینټن Clinton مجرم وګڼل سو مګر محکوم نه سو. تر کومه ځایه چي د اجرائیه قوې د مشر په کرکټر پوري اړه لري، پارلماني سیستمونه د امریکې د سیستم په تناسب ځیني ښېګڼې لري. په پارلمان کي د ساده عدم اعتماد رایې له لاري، د اجرائیه قوې نامطلوب مشر ایسته کېدای سي.

**د رئیسه هیئت (د اجرائیه قوې مشر) رول:**

ریچارډ نیوسټادت Richard E. Neustadt لیکي چي: "یو جمهور رئیس له څو سرېو څخه جوړ دئ، یا یو سړي دئ چي څو بېلابېلي (خولۍ) لري یا په بل عبارت ډېر رولونه لري". په اوسني عصر کي زیاتره (د اجرائیه قوې) رئیسان تر یوې زیاتې خولۍ لري، مګر د امریکې جمهور رئېسان د زیات قدرت خاوندان دي ځکه دوی د مقننه قوې [کانګرس] څخه په مستقل ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلګو له خوا ټاکل کېږي. د امریکې جمهور رئیس د دولت رئیس، د حکومت مشر، د ګوند لیډر، د وسله والو قواوو اعلی قوماندان، لوړ پوړی دیپلومات، او هم د اجرائیه قوې مشر وي. د ۱۷۸۹ راهیسي په امریکې کي د جمهور رئیس قدرت په زیاته اندازه ډېر سوی دئ. د نړۍ په نورو هیوادونو کي هم د اجرائیه قوې د مشر قدرت زیات سوی دئ.

**د دولت مشر:**

جمهور رئیسان د ملت ښکاره سمبولونه وي او د پاچاهانو یا په ځینو هیوادونو کي نمایشي جمهور رئیسانو په شان تشریفاتي وظایف سر ته رسوي. د مثال په توګه، دوی د نورو هیوادونو مشرانو ته ښه راغلې وایي او ملاقات ورسره کوي، سفیران ځانته مني او په نړۍ کي د خپل هیواد نمایندګي کوي.

**د حکومت مشر:**

د حکومتونو مشران (جمهور رئیسان، صدراعظمان او یا چانسلران) د پالیسیو د عملي کولو مسئولیت پر غاړه لري. دوی په ملي سطحه کي د ستر بیوروکراتیک ماشین ځارنه کوي چي دا ډېر دروند کار دئ. د امریکې جمهور رئیس، د پنځلسو لویو حکومتي ډیپارتمنتونو (وزارتونو) ۱۰۰ اجرائیه بیوروګانو، ۹۰۰ اداري دفترونو او ۶۰۰ حکومتي څانګو مسئول دئ چي ټول دوه اعشاریه اته میلیونه مأمورین په بر کي نیسي.

**اعلی قوماندان:**

د اجرائیه قوې (حکومت) مشران تقریباً په هر ځای کي د خپل هیواد د وسله والو قواوو اعلی قوماندان هم وي. په هغو هیوادونو کي چي ډیموکراسي نوې وي دا کا ر یو پرابلم دئ.ځکه چي جمهور رئیسان او یا هم صدراعظمان ښایي له وسله والي قوې څخه غیرقانوني استفاده وکړي او خپل سیاسي مخالفین په ووهي او یا هم د قدرت په انحصار کي له هغه څخه کار واخلي. په ډېرو هیوادو کي، لږ.ترلږه د کاغذ پرمخ، داسي کړنلاري او کومانډ سټر کچرونه وجود لري چي د هغو له مخي له وسله وال پوځ څخه د کار اخیستلو قانوني والی تعینېږي. جمهوري سیسټمونو و جګړې ته د وسله والي قوې لیږل اسانه کړي



دي. د امریکې او همدارنګه د روسیې جمهورو رئیسانو له وسله وال پوځ څخه په داسي لارو استفاده کړې ده چي د پارلمان منظوري یې تر لاسه کړې نه وه او هیڅ چا څه کولای هم نه سوای.

**معیوب جمهور رئیسان:**

جمهوري سیسټمونه یو بل پرابلم لري چي پارلماني سیسټمونه یې نه لري. که یو صدراعظم د خپل صدارت په دوران کي معیوب یا لیونی سي، پارلمان ډېر ژر کولای سي له کاره یې ګوښه کړي. جمهوري سیسټمونه په اسانۍ سره نه پوهېږي چي په ډېر سخت ناروغه جمهور رئیس (د اجرائیه قوې مشر) څه وکړي. اکوادور، د مثال په توګه، د ډېر سخت عصبي ناروغ جمهور رئیس له ګوښه کولو سره قانوني پرابلمونه درلودل. د امریکې اساسي قانون وایي کله چي جمهور رئیس "د قدرت او وظایفو د سر ته رسولو" کفایت و نه لري د جمهور رئیس مرستیال یې ځای نیسي، مګردا بې کفایتي هیڅکله تعریف سوې نه ده. په نتیجه کي، ډېر جمهور رئیسان سره له دې چي ډېر ناتوانه وه پر خپل ځای پاته سوي دي. په فرانسه کي، جمهور رئیس میتراند د سرطان د ناروغۍ له امله د خپل څوارلس کلن جمهوري ریاست په ډېرو کلونو کي د تدریجي مرګ سره لاس وګرېوان و، مګر د ده ډاکټرانو دا موضوع د ده تر مړیني وروسته په کال ۱۹۹۶ کي اعلان کړه.

د امریکې پر جمهور رئیس ووډروویلسن (۱۹۱۳– ۱۹۲۱) Woodrow Wilson په ۱۹۱۸ع کال کي، یعني دمخه تر دې چي د ورسایلیس Versailles په غونډوکي برخه واخلي، مغزي حمله stroke راغلې وه. د ده ناروغۍ په غونډو کي د ده د سیاسي چنې وهلو قدرت کمزوری کړ. دی هغه مهال چي د ورسایلس د معاهدې او همدارنګه د League of Nations Covenant له پاره یې د خلګو د حمایې راجلبولو له پاره وینا کوله، راچپه سو. وروسته تر هغه یې میرمنې په دې نامه چي یوازي یې د جمهور رئیس غوښتني پر ځای کولې، د جمهوري ریاست چارې پر مخ بېولې. کله چي جمهور رئیس فرانکلین روزویلت د څلرمي دورې له پاره په کال ۱۹۴۴ع کي انتخاب سو، د زړه ناروغي او لوړ فشار یې درلود. ده چي کله په ۱۹۴۵ع کال کي د یالتا Yalta په غونډو کي برخه اخیستله، د مرګ په دروازه کي ولاړ و، ښایي په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



علت سټالین ته تر ډېرو شیانو ورتېر سو. جمهور رئیس کینیډي د اډیسن په نوم ناروغي درلوده او هم یې د درد او خوب ګولۍ خوړلې. آیا دې دومره دواګانو به د مهمو پرېکړو په هکله د ده پر قضاوت اثر نه وي ښندلی؟

دا چې ولې د سپیني ماڼۍ ډاکترانو په دې هکله څه ونه ویل، یو علت یې دا و چې ډاکترانو د جمهوررئیس حفاظت کاوه ځکه چې په امریکا کې د مریض او ډاکټر تر منځ روابط ډېر سخت امتیازي شکل لري یعني ډاکټر حق نه لري د مریض حال افشا کړي، او بل دا چې ډاکټرانو په رشتیا سره هم له جمهور رئیس سره علاقه درلوده او نه یې غوښتل چې د دوی خوښ جمهور رئیس قدرت له لاسه ورکړي. د دوی په انګېزه کې څه نقص موجود نه و، مګر د دوی هڅې چې یو ناروغ جمهور رئیس یې پر خپل حال پرېښود، ښایي وطن ته تاوان پېښ کړی وای.

**کابینه:**

کابینه د اجرائیه قوې له مشر سره مرسته کوي. د کابینې غړی د اجرائیه قوې د یوې عمده څانګې، چې په امریکا کې ډیپارټمنټ او په نوره نړۍ کې یې وزارت بولي، مشرتوب پر غاړه لري. په امریکا کې د کابینې د غړو شمېر تر ۱۵ پوري محدود او د اروپا په ځینو هیوادونو کې بیا تر ۲۰ هم زیات دئ. د وزارتونو شمېر د هیواد په داخلي سیستم او د خلکو په توقعاتو پوري اړه لري. د امریکې متحده ایالاتو هر وخت پر محدود حکومت باندي ټینګار کړی دئ، مګر په دې وروستیو کلونو کې امریکا هم د یورپ پر لوري ور روانه ده.

**څوک په کابینه کې برخه اخلي؟**

د برتانیې او جرمني په شان پارلماني سیستمونو کې، وزیران له پارلمان څخه ټاکل کېږي او دوی خپلې پارلماني چوکۍ ساتي. دوی هم د مقننه قوې او هم د اجرائیه قوې غړي وي. دوی معمولاً د پارلمان په بېلابېلو کمېټو کې د غړیتوب او په پارلماني انتخاباتو کې د بریالیتوب له پاره د ډېرو سیاسي تجربیو لرونکي وي. د جرمني په بون دیستاګ Bundestag کې د دفاعي کمېټې مشر ډېر چانس لري چې په کابینه کې د دفاع د وزیر په توګه وټاکل سي. د امریکې د متحده ایالاتو او برازیل په شان جمهوري سیستمونو کې،



وزیران په عمومي صورت سیاسي خلک نه وي بلکې د حقوق، بزنس او یا هم له اکاډیمیکي ساحې څخه ټاکل کېږي. دوی ښایي د خپلو وزارتونو په هکله معلومات او سابقه ولري مګر لږ پېښېږي چې کوم انتخابي مقام یې د انتخاباتو له لاري ګټلی وي. په دې وروستیو وختونو کې د امریکې ځینو جمهورو رئیسانو د کانګرس غړي په کابینه کې شامل کړي دي، مګر دوی د وزارت چوکۍ ته تر ټاکل کېدلو مخکې له کانګرس څخه باید استعفی وکړي.

کوم سیستم ښه دئ؟ هغه وزیر چې په سیاست کې فعاله برخه لري یعني د پارلمان غړي هم وي او که هغه وزیر چې د دولت له حلقې څخه دباندي په کابینه کې شامل سي؟ د اروپایي پارلمانونو انتخابي غړي چې وزارت ته ټاکل کېږي، عموماً هم په سیاست او هم د خپل مربوطه وزارت په چارو کې وارد وي. دوی د پارلمان غړي له نژدې پېژني او یو ځای یې کار سره کړی وي. وزیران او پارلمان یو بل ته خصمانه نظر نه لري. په پارلمان کې پر وزیرانو باندي انتقادونه کېږي مګر دا انتقادونه د مخالف ګوند د غړو لخوا کېږي او د حکومت موافق ګوند په عمومي صورت د کابینې د غړو حمایت کوي.

هغه وزیران چې له پارلمان څخه دباندي کابینې ته داخل کړه سي، چې د امریکې عنعنه ده، ښایي نوي نظریات له ځانه سره راوړي، مګر دوی به ښایي په سیاست کې دومره وارد نه وي. د دې امکان سته چې دوی به په پارلمان کې له مخالفتونو سره مخامخ سي او ښایي حتی خپل ګوند یې هم ملاتړ ونه کړي.

په خاصه توګه د امریکې په متحده ایالاتو کې، د کابینې اهمیت ورځ په ورځ لږېږي. د کابینې غونډې ډېري لږ وي او دومره زیات څه پر بنا هم نه وي. ډېر لږ امریکایان د کابینې د درو یا زیاتو غړو نومونه ښوولای سي. د دې مشکل یو علت دا دئ چې د کابینې ډېر لږ غړي مهم سیاسي شخصیتونه وي. د کابینې غړي تر ډېره حده د خپلو مربوطه وزارتونو اداره چیان وي.

**تر کابینې دباندي مشاورینو زیاتېدل:**

په اوسني عصر کې د حکومتونو یو اساسي پرابلم دا دئ چې سرعت پکښې زیات دئ. جمهور رئیس غواړي داسي خلک پر راټول وي چې ده ته نوي ایډیا وي او د نوو پېښو په هکله چټک قضاوت وړاندي کړي. له دې امله په امریکا او ځینو نورو هیوادونو کې تر کابینې دباندي مشاورین (سلاکارن) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر زیاتېدو دي چې ځیني وختونه تر وزیرانو لا هم مهم وي. (په افغانستان کې هم داسي ده).

## عمده مفاهیم

**په اسرائیل کي د صدراعظم مستقیم انتخاب:**

په ۱۹۹۶ عیسوي کال کي اسرائیلو، د یوه نوي قانون له مخي، پارلمان او صدراعظم یو له بله بېل او په مستقیمه توګه انتخاب کړل. دا کار په نړۍ کي بېساري و او هیڅکله نه و سوی. هر اسرائیلي رایه ورکوونکي دوې رایي درلودې چي یوه یې د پارلمان او بله یې د صدراعظم د ټاکلو له پاره وه. د تعریف له مخي، په پارلماني سیستم کي صدراعظم، چي په اسرائیل کي عموماً د اکثریت ګوند مشر وي، د غیرمستقیمي لاري یعني د پارلمان لخوا ټاکل کېږي. په جمهوري سیستم کي بیا د اجرائیه قوې مشر د خلکو لخوا د انتخاباتو له لاري په مستقیمه توګه ټاکل کېږي. په دې توګه نو اسرائیل له سوچه پارلماني سیستم څخه جمهوري سیستم ته راواوښتی، مګر بیا هم پارلمان کولای سوای د عدم اعتماد له لاري صدراعظم له کاره ګوښه کړي.

اسرائیلي رایو ورکونکو، په دې فکر چي ګویا د خپلي یوې رایي په وسیله یې د صدراعظم چاره وکړه، خپله دوهمه رایه یې د وړو ګوندونو تر مینځ ووېشله. دي کار د اسرائیلو پارلمان تر پخوا زیات پر ډېرو فراکسیونو (ډلو) ووېشی چي په نتیجه کي د ائتلاف جوړول نور هم پسي مشکل سول. دوه ځلي له دې ځانګړي مخلوط سیستم څخه کار واخیستل سو، مګر د اسرائیلو پارلمان په ۲۰۰۱ عیسوي کال کي دا سیستم لغوه کړ. تجربې وښودله چي د جمهوري او پارلماني سیستم ترکیب کار نه ورکوي.

# دوولسم فصل

**اجرائیه قوه:**

اجرائیه قوه تر مقننه قوې له ډېر پخوا څخه وجود لرلی دئ. د قبیلې مشران، پاچهان او امپراتوران د بشري تمدن له پیل څخه موجود وه او زیات وخت یې مقننه قوه چي د دوی دي پروا په وسي نه درلوده. پارلمانونه په نسبي توګه نوي مؤسسات دي. حتي نن ورځ هم، قوي اجرائیه قوه موږ ته د وېشل سوي او له جنجالونو ډک پارلمان په پرتله یوطبیعي شی برېښي.

په رشتیا سره هم، د حکومت کلمه د نړۍ په ډېرو برخوکي د اجرائیه قوې معنی لري. په یورپ کي، حکومت له کابینې سره مساوي دئ. مثلاً د(براون حکومت) د برتانیې صدراعظم ګوردن براون Gordon Brown کابینه او تر کابینې رالاندي مرستیالانو په معنی دئ. د امریکې په متحده ایالاتو کي دې ډول تشکیل ته اداره administration وایي. و امریکایانو ته حکومت یعني ټولي حکومتي اداري او ورسره مل بیروکراتان، چي په اروپا کي یې دولت بولي.

**جمهور رئیس او صدراعظم:**

لکه مخکي چي خبري پر وسوې، په پارلماني سیسټمونو کي د هیواد مقننه قوه یعني پارلمان په غیرمستقیمه توګه د اجرائیه قوې مشر یعني صدراعظم له خپلو غړو څخه ټاکي. دا ډول پارلمانونه د ملت د انتخابي هیئت په توګه د قوانینو د جوړولو او تصویبولو وظیفه پر غاړه لري. دوی همدارنګه کولای سي د عدم اعتماد له لاري صدراعظم او کابینه یې موقوفه کړي. که صدراعظم او کابینه یې په هغه ګوند پوري چي په پارلمان کي اکثریت لري، اړه ولري نو بیا یې د صدارت مقام تضمین دئ او کولای سي خپل پروګرامونه بې له ستونزو په پارلمان ومني. د برتانیې یو صدراعظم چي د عوامو په مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي اکثریت چوکۍ ولري، دومره زیات قدرت لري چي د امریکې د جمهور رئیس به کست په کېږي.

که هیڅ کوم ګوند په پارلمان کي اکثریت ونه لري، نو بیا د څو ګوندونو له ائتلاف څخه حکومت تشکیلېږي چي د ائتلاف هر غړی ګوند ته یو یا دوه وزارتونه په لاس ورځي. ځیني وختونه د ائتلاف غړي ګوندونه پر ځینو پالیسیو باندي شخړي هم سره کوي او د ائتلاف د ماتولو ګواښونه هم سره کوي. دا کار د صدراعظم د کمزورتیا سبب ګرزي ځکه د هري پالیسۍ له بدلون سره د ائتلاف د غړو تر منځ نوي شخړي رامنځته کیږي. دا نه سو ویلای چي صدراعظم نو ګویا تر جمهور رئیس (کمزوری) دئ، بلکي په دې پوري اړه لري چي صدراعظم په پارلمان کي ثابت اکثریت لري او که نه.

په جمهوري سیسټم کي دا پرابلم ځکه نسته چي جمهور رئیس د پارلمان په وړاندي مسئول نه دئ او د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د ټاکلي وخت له پاره انتخابېږي. د امریکې د متحده ایالاتو د کانګرس به ښایي د جمهور رئیس پالیسۍ خوښي نه وي او ممکن مخالفي رایي ورکړي، مګر نه سي کولای جمهور رئیس له کاره ګوښه کړي. همدارنګه جمهور رئیس هم نه سي کولای کانګرس برطرفه کړي.

**په برتانیه کي د (حکومت تشکیلول):**

برتانیه د پارلماني سیسټم یو داسي کلاسیک هیواد دئ چي تاریخ یې اوس هم روښانه دئ. ملکه الیزابیت Queen Elizabeth II د عوامو په مجلس کي د اکثریت لرونکي ګوند مشرته په رسمي توګه بلنه ورکوي چي نوی (حکومت تشکیل) کړي. صدراعظم خپل وزیران او نور تر کابینې را لاندي لوړ رتبه مأمورین ټاکي چي ټول یې د پارلمان غړي او د صدراعظم په ګوند کي د بېلابېلو ګروپونو نمایندګي کوي. د تیورۍ له مخي، صدراعظم primus inter pares (د کابینې په مساوي غړو کي لومړی) دئ چي کابینه د توافق او هم آهنګۍ پر لوري رهنمایي کوي. مګر په عمل کي، صدراعظم مشر دئ او کولای سي چي کوم وزیر له کاره ګوښه کړي. له هغو وزیرانو څخه چي د حکومت له پالیسۍ سره موافق نه وي توقع کېږي چي استعفی وکړي او بېرته د عوامو په مجلس کي د غړي په توګه پاته سي.



"**ساختماني** constructive **عدم اعتماد" په جرمني کي:**

د جرمني چانسلر Chancellor دغومره قوي دئ لکه د برتانیې صدراعظم. چانسلر هم په ولسي جرګه (Bundestag) کي د اکثریت د ګوند مشر وي. چانسلر یوازي هغه وخت له وظیفې ګوښه کېدای سي چي بوندستاګ د چانسلر د کابینې پر ځای بلي کابینې ته د اعتماد رایه ورکړي. ځکه نو دا (ساختماني عدم اعتماد) بولي چي د جرمني د حکومتونو په ثبات کي یې ډېر رول لوبولی دئ. د پارلمان له پاره د کابینې ړنګول (برطرفه کول) د کابینې تر تعویض ډېر مشکل کار دئ، ځکه نو ساختماني عدم اعتماد په جرمني کي یوازي په کال ۱۹۸۲ کي هغه وخت عملي سو چي آزاد ډیموکراتیک Free Democratic ګوند د سوشیال ډیموکرات تر رهبرۍ لاندي ائتلاف څخه جلا سو او د مخالف کریسچن ډیموکراټانو سره یې ائتلاف وکړ.

**(همزیستي) په فرانسه کي:**

د فرانسې پخواني جمهور رئیس چارلزدوګول (۱۹۵۸ – ۱۹۶۹) یو ډول نیمه جمهوري سیسټم رامنځته کړ، چي په هغه کي جمهور رئیس او صدراعظم دواړه فعاله برخه لري. جمهور رئیس د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د اوو کلونو (چي اوس و پنځو کلونو ته راکښته سوي دي) او پارلمان د پنځو کلونو له پاره انتخابېږي. که دواړه له یوه ګوند څخه وي نو بیا پرابلم وجود نه لري. جمهور رئیس د خپلي خوښي صدراعظم نوموي چي د جمهور رئیس او پارلمان تر مینځ ارتباطي کړۍ تشکیلوي. مګر په ۱۹۸۶ کال او بیا په ۱۹۹۳ کال د فرانسې سوشیالست جمهور رئیس، فرانسوا میتراند، چي د جمهوري ریاست د دورې دوه کاله یې لاپاته وه، له یوه نوي پارلمان سره چي د محافظه کارانو په کنټرول کي و، مخامخ سو. په اساسي قانون کي د داسي یوه حالت له پاره لارښودنه نه وه. جمهور رئیس میتراند داسي حل کړه چي د مخالف ګوالیست ګوند څخه یې صدراعظم ونوماوه او دوی یې پرېښوول چي سوشیالستي اقدامات چي پخوا سر ته رسېدلي وه لغوه کړي. میتراند د ځان له پاره د خارجي سیاست چاري وساتلې. فرانسویانو دې کار ته د (همزیستۍ) نوم ورکړ، یعني چي ښځه او نارینه بې له دې چي واده وکړي یو ځای ژوند سره کوي. په ۱۹۹۷ کال کي برعکس خبره پېښه سوه: ګوالیست جمهور رئیس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاک شیراک، تر وخت دمخه پارلماني انتخابات اعلان کړل، انتخابات یې بایلودل او د سوشیالستانو تر کنټرول لاندي ملي اسامبلې سره مخامخ سو. د حل لاره یې بیا هم (همزیستي) وه، شیراک د سوشیالست ګوند مشر د صدراعظم په توګه ونوماوه. دا ډول (همزیستي) په فرانسه کي کار ورکوي او فرانسویانو هم منلې ده.

**د اجرائیه قوې دوره (د کار موده):**

د جمهور رئیس د خدمت دوره ټاکل سوې وي. د امریکې، برازیل او روسیې د جمهوري ریاست دوره څلور کاله ده (چي د یوې بلې څلور کلني دورې له پاره بیا هم ځانونه کاندیدولای سي). د مکسیکو د جمهوري ریاست دوره بیا شپږ کاله ده. د فرانسې او ډېرو نورو هیوادونو جمهور رئیسان کولای سي هر څو واره ځانونه کاندید کړي. کله چي جمهور رئیسان تر ډېره وخته، که څه هم "انتخاب" سي، پر خپل مقام پاته سي فاسد کېږي او یو دیکتاتور ځني جوړېږي. د اندونیزیا جمهور رئیس سوهارتو یې ښه مثال دئ چي د دودېرشو کلونو لپاره جمهور رئیس و او یوازي په ۱۹۹۷ کال کي هغه وخت له جمهوري ریاست څخه ګوښه کړه سو چي د اندونیزیا اقتصاد، چي سوهارتو او د ده کورنۍ لوټ او تالا کړ، راونړېدی.

په پارلماني سیستم کي د صدراعظم د بیا انتخاب له پاره، که انتخابات وګټلای سي، کوم محدودیت وجود نه لري. په ۱۹۸۷ کال کي مارګریت تاچر د دریمي دورې له پاره دبرتانیې د صدراعظمي په توګه انتخاب سوه، مګر په ۱۹۹۰ کال کي یې د ډېرو سیاسي مشکلاتو له امله استعفا وکړه. د جرمني چانسلر هیلموت کوهل پرله پسې څلور واره انتخابات وګټل او شپاړس کاله پر خپله چوکۍ پاته سو (۱۹۸۲ – ۱۹۹۸). ډېر صدراعظمان کولای سي پارلمان ړنګ کړي مګر د امریکې جمهور رئیس بیا دا کار نه سي کولای.

له بلې خوا، د برتانیې صدراعظم که په پارلمان کي اکثریت له لاسه ورکړي، ډېر ژر برطرفه کېدای سي. کله چي د کارګر ګوند صدراعظم په پارلمان کي صرف د یوولسو سکاټیش نېشنلست Scottish Nationalist غړو حمایه له لاسه ورکړه، ډیر ژر له کاره ګوښه کړه سو او پرځای یې د مخالف ګوند مشره مارګریت تاچر پر قدرت راغله. د ایټالیې صدراعظمان د ډیر لږ



وخت له پاره پر وظیفه پاتېږي ځکه ائتلافونه یې ډېر ژر سره شوړېږي. د جاپان صدراعظمان، د لیبرال ډیموکرات ګوند په دننه کي د مبارزې له امله، په اوسط ډول تردوه نیم کاله لږ پر وظیفه پاتېږي، ځیني خو لا حتی یوازي څو میاشتي وروسته له کاره ګوښه کړه سي. د تیورۍ له مخې، صدراعظمان کولای سي د ډېر وخت له پاره خدمت وکړي، مګر په عمل کي د دوی د کار او خدمت موده په سیاسي شرایطو، انتخاباتو او د ائتلاف په ماتېدلو پوري اړه لري. په پارلماني سیستم کي صدراعظمان په اسانه راځي او په اسانه ځي. په جمهوري سیستم کي جمهور رئیسان تر یو حده پوري له سیاسي لوړو او ژورو څخه په امان وي. د عراق د جګړې له امله، د مثال په توګه، د امریکې جمهور رئیس بوش ته ډېر لږ محبوبیت ورپاته دئ، مګر د ده د جمهوري ریاست د دورې تر پای ته رسېدلو پوري څوک هیڅ نه سي کولای.

د امریکې جمهور رئیس له مجرمیت impeachment سره مخامخ کېدای سي، مګر دا یوه اوږده او بې باوره پروسه ده چي د امریکې په تاریخ کي یوازي درې ځله مطرح سوې ده. جمهور رئیس اندریوجکسن Andrew Jackson په کال ۱۸۶۸ کي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سو، مګر د سنا په یوه رایه باندي یې برائت حاصل کړ. جمهور رئیس ریچارډ نکسن Richard Nixon نژدې و چي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سي، مګر ده تر رایې ګیرۍ دمخه استعفا وکړه. جمهور رئیس کلینټن Clinton مجرم وګڼل سو مګر محکوم نه سو. تر کومه ځایه چي د اجرائیه قوې د مشر په کرکټر پوري اړه لري، پارلماني سیستمونه د امریکې د سیستم په تناسب ځیني ښیګڼې لري. په پارلمان کي د ساده عدم اعتماد رایې له لاري، د اجرائیه قوې نامطلوب مشر ایسته کېدای سي.

**د رئیسه هیئت (د اجرائیه قوې مشر) رول:**

ریچارډ نیوسټادت Richard E. Neustadt لیکي چي: "یو جمهور رئیس له څو سرېو څخه جوړ دئ، یا یو سړي دئ چي څو بېلابېلي (خولۍ) لري یا په بل عبارت ډېر رولونه لري". په اوسني عصر کي زیاتره (د اجرائیه قوې) رئیسان تر یوې زیاتي خولۍ لري، مګر د امریکې جمهور رئېسان د زیات قدرت خاوندان دي ځکه دوی د مقننه قوې [کانګرس] څخه په مستقل ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلګو له خوا ټاکل کېږي. د امريکې جمهور رئيس د دولت رئيس، د حکومت مشر، د ګوند ليډر، د وسله والو قواوو اعلی قوماندان، لوړ پوړی ډيپلومات، او هم د اجرائيه قوې مشر وي. د ۱۷۸۹ راهيسي په امريکې کي د جمهور رئيس قدرت په زياته اندازه ډېر سوی دئ. د نړۍ په نورو هيوادونو کي هم د اجرائيه قوې د مشر قدرت زيات سوی دئ.

**د دولت مشر :**

جمهور رئيسان د ملت ښکاره سمبولونه وي او د پاچاهانو يا په ځينو هيوادونو کي نمايشي جمهور رئيسانو په شان تشريفاتي وظايف سر ته رسوي. د مثال په توګه، دوی د نورو هيوادونو مشرانو ته ښه راغلې وايي او ملاقات ورسره کوي، سفيران ځانته مني او په نړۍ کي د خپل هيواد نمايندګي کوي.

**د حکومت مشر :**

د حکومتونو مشران (جمهور رئيسان، صدراعظمان او يا چانسلران) د پاليسيو د عملي کولو مسئوليت پر غاړه لري. دوی په ملي سطحه کي د ستر بيوروکراتيک ماشين څارنه کوي چي دا ډېر دروند کار دئ. د امريکې جمهور رئيس، د پنځلسو لويو حکومتي ډيپارتمنتونو (وزارتونو) ۱۰۰ اجرائيه بيوروګانو، ۹۰۰ اداري دفترونو او ۶۰۰ حکومتي څانګو مسئول دئ چي ټول دوه اعشاريه اته ميليونه مأمورين په بر کي نيسي.

**اعلی قوماندان :**

د اجرائيه قوې (حکومت) مشران تقريباً په هر ځای کي د خپل هيواد د وسله والو قواوو اعلی قوماندان هم وي. په هغو هيوادونو کي چي ډيموکراسي نوې وي دا کا ر يو پرابلم دئ.ځکه چي جمهور رئيسان او يا هم صدراعظمان ښايي له وسله والي قوې څخه غيرقانوني استفاده وکړي او خپل سياسي مخالفين په ووهي او يا هم د قدرت په انحصار کي له هغه څخه کار واخلي. په ډېرو هيوادو کي، لږ.ترلږه د کاغذ پرمخ، داسي کړنلاري او کومانډ ستر کچرونه وجود لري چي د هغو له مخي له وسله وال پوځ څخه د کار اخيستلو قانوني والی تعينېږي. جمهوري سيستمونو و جګړې ته د وسله والي قوې ليبرل اسانه کړې



دي. د امريکې او همدارنګه د روسيې جمهورو رئيسانو له وسله وال پوځ څخه په داسي لارو استفاده کړې ده چي د پارلمان منظوري يې تر لاسه کړې نه وه او هيڅ چا څه کولای هم نه سوای.

**معيوب جمهور رئيسان :**

جمهوري سيستمونه يو بل پرابلم لري چي پارلماني سيستمونه يې نه لري. که يو صدراعظم د خپل صدارت په دوران کي معيوب يا ليونی سي، پارلمان ډېر ژر کولای سي له کاره يې ګوښه کړي. جمهوري سيستمونه په اسانۍ سره نه پوهېږي چي په ډېر سخت ناروغه جمهور رئيس (د اجرائيه قوې مشر) څه وکړي. اکوادور، د مثال په توګه، د ډېر سخت عصبي ناروغ جمهور رئيس له ګوښه کولو سره قانوني پرابلمونه درلودل. د امريکې اساسي قانون وايي کله چي جمهور رئيس "د قدرت او وظايفو د سر ته رسولو" کفايت و نه لري د جمهور رئيس مرستيال يې ځای نيسي، مګردا بې کفايتي هيڅکله تعريف سوې نه ده. په نتيجه کي، ډېر جمهور رئيسان سره له دې چي ډېر ناتوانه وه پر خپل ځای پاته سوي دي. په فرانسه کي، جمهور رئيس ميتراند د سرطان د ناروغۍ له امله د خپل څوارلس کلن جمهوري رياست په ډېرو کلونو کي د تدريجي مرګ سره لاس وګرېوان و، مګر د ده ډاکترانو دا موضوع د ده تر مړيني وروسته په کال ۱۹۹۶ کي اعلان کړه.

د امريکې پر جمهور رئيس ووډروويلسن (۱۹۱۳– ۱۹۲۱) Woodrow Wilson په ۱۹۱۸ع کال کي، يعني دمخه تر دې چي د ورسايليس Versailles په غونډوکي برخه واخلي، مغزي حمله stroke راغلې وه. د ده ناروغۍ په غونډو کي د ده د سياسي چنې وهلو قدرت کمزوری کړ. دی هغه مهال چي د ورسايلس د معاهدې او همدارنګه د League of Nations Covenant له پاره يې د خلګو د حمايې راجلبولو له پاره وينا کوله، راچپه سو. وروسته تر هغه يې ميرمني په دې نامه چي يوازي يې د جمهور رئيس غوښتني پر ځای کولې، د جمهوري رياست چاري پر مخ بېولې. کله چي جمهور رئيس فرانکلين روزويلت د ځلرمي دورې له پاره په کال ۱۹۴۴ع کي انتخاب سو، د زړه ناروغي او لوړ فشار يې درلود. ده چي کله په ۱۹۴۵ع کال کي د يالتا Yalta په غونډو کي برخه اخيستله، د مرګ په دروازه کي ولاړ و، ښايي په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



علت سټالین ته تر ډېرو شیانو ورتېر سو. جمهور رئیس کینیډي د اډیسن په نوم ناروغي درلوده او هم یې د درد او خوب ګولۍ خوړلې. آیا دې دومره دواګانو به د مهمو پرېکړو په هکله د ده پر قضاوت اثر نه وي ښندلی؟

دا چې ولي د سپیني ماڼۍ ډاکترانو په دې هکله څه ونه ویل، یو علت یې دا و چې ډاکترانو د جمهوررئیس حفاظت کاوه ځکه چې په امریکا کې د مریض او ډاکتر تر منځ روابط ډېر سخت امتیازي شکل لري یعني ډاکتر حق نه لري د مریض حال افشا کړي، او بل دا چې ډاکټرانو په رشتیا سره هم له جمهور رئیس سره علاقه درلوده او نه یې غوښتل چې د دوی خوښ جمهور رئیس قدرت له لاسه ورکړي. د دوی په انګېزه کې څه نقص موجود نه و، مګر د دوی هڅې چې یو ناروغ جمهور رئیس یې پر خپل حال پرېښود، ښایي وطن ته تاوان پېښ کړی وای.

**کابینه**:

کابینه د اجرائیه قوې له مشر سره مرسته کوي. د کابینې غړی د اجرائیه قوې د یوې عمده څانګې، چې په امریکا کې ډیپارټمنټ او په نوره نړۍ کې یې وزارت بولي، مشرتوب پر غاړه لري. په امریکا کې د کابینې د غړو شمېر تر ۱۵ پوري محدود او د اروپا په ځینو هیوادونو کي بیا تر ۲۰ هم زیات دئ. د وزارتونو شمېر د هیواد په داخلي سیستم او د خلکو په توقعاتو پوري اړه لري. د امریکې متحده ایالاتو هر وخت پر محدود حکومت باندي ټینګار کړی دئ، مګر په دې وروستیو کلونو کي امریکا هم د یورپ پر لوري ور روانه ده.

**څوک په کابینه کي برخه اخلي؟**

د برتانیې او جرمني په شان پارلماني سیستمونو کې، وزیران له پارلمان څخه ټاکل کېږي او دوی خپلي پارلماني چوکۍ ساتي. دوی هم د مقننه قوې او هم د اجرائیه قوې غړي وي. دوی معمولاً د پارلمان په بېلابېلو کمېټو کي د غړیتوب او په پارلماني انتخاباتو کي د بریالیتوب له پاره د ډېرو سیاسي تجربیو لرونکي وي. د جرمني په بون دیستاګ Bundestag کي د دفاعي کمېټې مشر ډېر چانس لري چې په کابینه کي د دفاع د وزیر په توګه وټاکل سي. د امریکې د متحده ایالاتو او برازیل په شان جمهوري سیستمونو کي،



وزیران په عمومي صورت سیاسي خلک نه وي بلکي د حقوق، بزنس او یا هم له اکاډیمیکي ساحې څخه ټاکل کېږي. دوی ښایي د خپلو وزارتونو په هکله معلومات او سابقه ولري مګر لږ پېښېږي چې کوم انتخابي مقام یې د انتخاباتو له لاري ګټلی وي. په دې وروستیو وختونو کي د امریکې ځینو جمهورو رئیسانو د کانګرس غړي په کابینه کي شامل کړي دي، مګر دوی د وزارت چوکۍ ته تر ټاکل کېدلو مخکي له کانګرس څخه باید استعفی وکړي.

کوم سیستم ښه دئ؟ هغه وزیر چې په سیاست کي فعاله برخه لري یعني د پارلمان غړي هم وي او که هغه وزیر چې د دولت له حلقې څخه دباندي په کابینه کي شامل سي؟ د اروپایي پارلمانونو انتخابي غړي چې وزارت ته ټاکل کېږي، عموماً هم په سیاست او هم د خپل مربوطه وزارت په چارو کي وارد وي. دوی د پارلمان غړي له نژدې پېژني او یو ځای یې کار سره کړی وي. وزیران او پارلمان یو بل ته خصمانه نظر نه لري. په پارلمان کي پر وزیرانو باندي انتقادونه کېږي مګر دا انتقادونه د مخالف ګوند د غړو لخوا کېږي او د حکومت موافق ګوند په عمومي صورت د کابینې د غړو حمایت کوي.

هغه وزیران چې له پارلمان څخه دباندي کابینې ته داخل کړه سي، چې د امریکې عنعنه ده، ښایي نوي نظریات له ځانه سره راوړي، مګر دوی به ښایي په سیاست کي دومره وارد نه وي. د دې امکان سته چې دوی به په پارلمان کي له مخالفتونو سره مخامخ سي او ښایي حتی خپل ګوند یې هم ملاتړ ونه کړي.

په خاصه توګه د امریکې په متحده ایالاتو کي، د کابینې اهمیت ورځ په ورځ لږېږي. د کابینې غونډې ډېري لږ وي او دومره زیات څه پر بنا هم نه وي. ډېر لږ امریکایان د کابینې د درو یا زیاتو غړو نومونه ښوولای سي. د دې مشکل یو علت دا دئ چې د کابینې ډېر لږ غړي مهم سیاسي شخصیتونه وي. د کابینې غړي تر ډېره حده د خپلو مربوطه وزارتونو اداره چیان وي.

**تر کابینې دباندي مشاورینو زیاتېدل**:

په اوسني عصر کي د حکومتونو یو اساسي پرابلم دا دئ چې سرعت پکښې زیات دئ. جمهور رئیس غواړي داسي خلک پر راټول وي چې ده ته نوي ایډیا وي او د نوو پېښو په هکله چټک قضاوت وړاندي کړي. له دې امله په امریکا او ځینو نورو هیوادونو کي تر کابینې دباندي مشاورین (سلاکارن) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر زیاتېدو دي چي ځیني وختونه تر وزیرانو لا هم مهم وي. (په افغانستان کي هم داسي ده).

## عمده مفاهیم

**په اسرائیل کي د صدراعظم مستقیم انتخاب:**

په ۱۹۹۶ عیسوي کال کي اسرائیلو، د یوه نوي قانون له مخي، پارلمان او صدراعظم یو له بله بېل او په مستقیمه توګه انتخاب کړل. دا کار په نړۍ کي بېساري و او هیڅکله نه و سوی. هر اسرائیلي رایه ورکوونکي دوې رایي درلودې چي یوه یې د پارلمان او بله یې د صدراعظم د ټاکلو له پاره وه. د تعریف له مخي، په پارلماني سیسټم کي صدراعظم، چي په اسرائیل کي عموماً د اکثریت ګوند مشر وي، د غیرمستقیمي لاري یعني د پارلمان لخوا ټاکل کېږي. په جمهوري سیسټم کي بیا د اجرائیه قوې مشر د خلکو لخوا د انتخاباتو له لاري په مستقیمه توګه ټاکل کېږي. په دې توګه نو اسرائیل له سوچه پارلماني سیسټم څخه جمهوري سیسټم ته راواوښتی، مګر بیا هم پارلمان کولای سوای د عدم اعتماد له لاري صدراعظم له کاره ګوښه کړي.

اسرائیلي رایو ورکونکو، په دې فکر چي ګویا د خپلي یوې رایي په وسیله یې د صدراعظم چاره وکړه، خپله دوهمه رایه یې د وړو ګوندونو تر مینځ ووېشله. دي کار د اسرائیلو پارلمان تر پخوا زیات پر ډېرو فراکسیونو (ډلو) ووېشی چي په نتیجه کي د ائتلاف جوړول نور هم پسې مشکل سول. دوه ځلي له دې ځانګړې مخلوط سیسټم څخه کار واخیستل سو، مګر د اسرائیلو پارلمان په ۲۰۰۱ عیسوي کال کي دا سیسټم لغوه کړ. تجربې وښودله چي د جمهوري او پارلماني سیسټم ترکیب کار نه ورکوي.

# دوولسم فصل

**اجرائیه قوه:**

اجرائیه قوه تر مقننه قوې له ډېر پخوا څخه وجود لرلی دئ. د قبیلې مشران، پاچهان او امپراتوران د بشري تمدن له پیل څخه موجود وه او زیات وخت یې مقننه قوه چي د دوی دي پروا په وسي نه درلوده. پارلمانونه په نسبي توګه نوي مؤسسات دي. حتي نن ورځ هم، قوي اجرائیه قوه مور ته د وېشل سوي او له جنجالونو ډک پارلمان په پرتله یوطبیعي شی برېښي.

په رشتیا سره هم، د حکومت کلمه د نړۍ په ډېرو برخوکي د اجرائیه قوې معنی لري. په یورپ کي، حکومت له کابینې سره مساوي دئ. مثلاً د(براون حکومت) د برتانیې صدراعظم ګورډن براون Gordon Brown کابینه او تر کابینې رالاندي مرستیالانو په معنی دئ. د امریکې په متحده ایالاتو کي دې ډول تشکیل ته اداره administration وایي. و امریکایانو ته حکومت یعني ټولي حکومتي ادارې او ورسره مل بیروکراتان، چي په اروپا کي یې دولت بولي.

**جمهور رئیس او صدراعظم:**

لکه مخکي چي خبري پر وسوې، په پارلماني سیسټمونو کي د هیواد مقننه قوه یعني پارلمان په غیرمستقیمه توګه د اجرائیه قوې مشر یعني صدراعظم له خپلو غړو څخه ټاکي. دا ډول پارلمانونه د ملت د انتخابي هیئت په توګه د قوانینو د جوړولو او تصویبولو وظیفه پر غاړه لري. دوی همدارنګه کولای سي د عدم اعتماد له لاري صدراعظم او کابینه یې موقوفه کړي. که صدراعظم او کابینه یې په هغه ګوند پوري چي په پارلمان کي اکثریت لري، اړه ولري نو بیا یې د صدارت مقام تضمین دئ او کولای سي خپل پروګرامونه بې له ستونزو په پارلمان ومني. د برتانیې یو صدراعظم چي د عوامو په مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي اکثریت چوکۍ ولري، دومره زیات قدرت لري چي د امریکې د جمهور رئیس به کست په کېږي.

که هیڅ کوم ګوند په پارلمان کي اکثریت ونه لري، نو بیا د څو ګوندونو له ائتلاف څخه حکومت تشکیلېږي چي د ائتلاف هر غړی ګوند ته یو یا دوه وزارتونه په لاس ورځي. ځیني وختونه د ائتلاف غړي ګوندونه پر ځینو پالیسیو باندي شخړي هم سره کوي او د ائتلاف د ماتولو ګواښونه هم سره کوي. دا کار د صدراعظم د کمزورتیا سبب ګرزي ځکه د هري پالیسۍ له بدلون سره د ائتلاف د غړو تر منځ نوي شخړي رامنځته کیږي. دا نه سو ویلای چي صدراعظم نو ګویا تر جمهور رئیس (کمزوری) دئ، بلکي په دې پوري اړه لري چي صدراعظم په پارلمان کي ثابت اکثریت لري او کنه.

په جمهوري سیسټم کي دا پرابلم ځکه نسته چي جمهور رئیس د پارلمان په وړاندي مسئول نه دئ او د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د ټاکلي وخت له پاره انتخابېږي. د امریکې د متحده ایالاتو د کانګرس به ښایي د جمهور رئیس پالیسۍ خوښي نه وي او ممکن مخالفي رایي ورکړي، مګر نه سي کولای جمهور رئیس له کاره ګوښه کړي. همدارنګه جمهور رئیس هم نه سي کولای کانګرس برطرفه کړي.

**په برتانیه کي د (حکومت تشکیلول):**

برتانیه د پارلماني سیسټم یو داسي کلاسیک هیواد دئ چي تاریخ یې اوس هم روښانه دئ. ملکه الیزابیت Queen Elizabeth II د عوامو په مجلس کي د اکثریت لرونکي ګوند مشرته په رسمي توګه بلنه ورکوي چي نوی (حکومت تشکیل) کړي. صدراعظم خپل وزیران او نور تر کابینې را لاندي لوړ رتبه مأمورین ټاکي چي ټول یې د پارلمان غړي او د صدراعظم په ګوند کي د بېلابېلو ګروپونو نمایندګي کوي. د تیورۍ له مخي، صدراعظم primus inter pares (د کابینې په مساوي غړو کي لومړی) دئ چي کابینه د توافق او هم آهنګۍ پر لوري رهنمایي کوي. مګر په عمل کي، صدراعظم مشر دئ او کولای سي چي کوم وزیر له کاره ګوښه کړي. له هغو وزیرانو څخه چي د حکومت له پالیسۍ سره موافق نه وي توقع کېږي چي استعفی وکړي او بېرته د عوامو په مجلس کي د غړي په توګه پاته سي.



**"ساختماني** constructive **عدم اعتماد" په جرمني کي:**

د جرمني چانسلر Chancellor دغومره قوي دئ لکه د برتانیې صدراعظم. چانسلر هم په ولسي جرګه (Bundestag) کي د اکثریت د ګوند مشر وي. چانسلر یوازي هغه وخت له وظیفې ګوښه کېدای سي چي بوندستاګ د چانسلر د کابینې پر ځای بلي کابینې ته د اعتماد رایه ورکړي. ځکه نو دا (ساختماني عدم اعتماد) بولي چي د جرمني د حکومتونو په ثبات کي یې ډېر رول لوبولی دئ. د پارلمان له پاره د کابینې ړنګول (برطرفه کول) د کابینې تر تعویض ډېر مشکل کار دئ، ځکه نو ساختماني عدم اعتماد په جرمني کي یوازي په کال ۱۹۸۲ کي هغه وخت عملي سو چي آزاد ډیموکراتیک Free Democratic ګوند د سوشیال ډیموکرات تر رهبرۍ لاندي ائتلاف څخه جلا سو او د مخالف کریسچن ډیموکراتانو سره یې ائتلاف وکړ.

**(همزېستي) په فرانسه کي:**

د فرانسې پخواني جمهور رئیس چارلزدوګول (۱۹۵۸ – ۱۹۶۹) یو ډول نیمه جمهوري سیسټم رامنځته کړ، چي په هغه کي جمهور رئیس او صدراعظم دواړه فعاله برخه لري. جمهور رئیس د خلکو لخوا په مستقیمه توګه د اوو کلونو (چي اوس و پنځو کلونو ته راکښته سوي دي) او پارلمان د پنځو کلونو له پاره انتخابېږي. که دواړه له یوه ګوند څخه وي نو بیا پرابلم وجود نه لري. جمهور رئیس د خپلي خوښي صدراعظم نوموي چي د جمهور رئیس او پارلمان تر مینځ ارتباطي کړۍ تشکیلوي. مګر په ۱۹۸۶ کال او بیا په ۱۹۹۳ کال د فرانسې سوشیالست جمهور رئیس، فرانسوا میتراند، چي د جمهوري ریاست د دورې دوه کاله یې لاپاته وه، له یوه نوي پارلمان سره چي د محافظه کارانو په کنټرول کي و، مخامخ سو. په اساسي قانون کي د داسي یوه حالت له پاره لارښودنه نه وه. جمهور رئیس میتراند داسي حل کړه چي د مخالف ګوالیست ګوند څخه یې صدراعظم ونوماوه او دوی یې پرېښوول چي سوشیالستي اقدامات چي پخوا سر ته رسېدلي وه لغوه کړي. میتراند د ځان له پاره د خارجي سیاست چاري وساتلې. فرانسویانو دې کار ته د (همزېستی) نوم ورکړ، یعني چي ښځه او نارینه بې له دې چي واده وکړي یو ځای ژوند سره کوي. په ۱۹۹۷ کال کي برعکس خبره پېښه سوه: ګوالیست جمهور رئیس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاک شیراک، تر وخت دمخه پارلماني انتخابات اعلان کړل، انتخابات یې بایلودل او د سوشیالستانو تر کنټرول لاندي ملي اسامبلې سره مخامخ سو. د حل لاره یې بیا هم (همزیستي) وه، شیراک د سوشیالست ګوند مشر د صدراعظم په توګه ونوماوه. دا ډول (همزیستي) په فرانسه کي کار ورکوي او فرانسویانو هم منلې ده.

**د اجرائیه قوې دوره (د کار موده):**

د جمهور رئیس د خدمت دوره ټاکل سوي وي. د امریکې، برازیل او روسیې د جمهوري ریاست دوره څلور کاله ده (چي د یوې بلې څلور کلني دورې له پاره بیا هم ځانونه کاندیدولای سي). د مکسیکو د جمهوري ریاست دوره بیا شپږ کاله ده. د فرانسې او ډېرو نورو هیوادونو جمهور رئیسان کولای سي هر څو واره ځانونه کاندید کړي. کله چي جمهور رئیسان تر ډېره وخته، که څه هم "انتخاب" سي، پر خپل مقام پاته سي فاسد کېږي او یو دیکتاتور ځني جوړېږي. د اندونیزیا جمهور رئیس سوهارتو یې ښه مثال دئ چي د دودېرشو کلونو لپاره جمهور رئیس و او یوازي په ۱۹۹۷ کال کي هغه وخت له جمهوري ریاست څخه ګوښه کړه سو چي د اندونیزیا اقتصاد، چي سوهارتو او د ده کورنۍ لوټ او تالا کړ، راونړېدی.

په پارلماني سیستم کي د صدراعظم د بیا انتخاب له پاره، که انتخابات وګټلای سي، کوم محدودیت وجود نه لري. په ۱۹۸۷ کال کي مارګریت تاچر د دریمي دورې له پاره دبرتانیې د صدراعظمي په توګه انتخاب سوه، مګر په ۱۹۹۰ کال کي یې د ډېرو سیاسي مشکلاتو له امله استعفا وکړه. د جرمني چانسلر هیلموت کوهل پرله پسې څلور واره انتخابات وګټل او شپاړس کاله پر خپله چوکۍ پاته سو (۱۹۸۲ – ۱۹۹۸). ډېر صدراعظمان کولای سي پارلمان ړنګ کړي مګر د امریکې جمهور رئیس بیا دا کار نه سي کولای.

له بلي خوا، د برتانیې صدراعظم که په پارلمان کي اکثریت له لاسه ورکړي، ډېر ژر برطرفه کېدای سي. کله چي د کارګر ګوند صدراعظم په پارلمان کي صرف د یوولسو سکاټیش نېشنلست Scottish Nationalist غړو حمایه له لاسه ورکړه، ډېر ژر له کاره ګوښه کړه سو او پرځای یې د مخالف ګوند مشره مارګریت تاچر پر قدرت راغله. د ایټالیې صدراعظمان د ډېر لږ



وخت له پاره پر وظیفه پاتېږي ځکه ائتلافونه یې ډېر ژر سره شوږېږي. د جاپان صدراعظمان، د لیبرال ډیموکرات ګوند په دننه کي د مبارزې له امله، په اوسط ډول تردوه نیم کاله لږ پر وظیفه پاتېږي، ځیني خو لا حتی یوازي څو میاشتې وروسته له کاره ګوښه کړه سي. د تیورۍ له مخې، صدراعظمان کولای سي د ډېر وخت له پاره خدمت وکړي، مګر په عمل کي د دوی د کار او خدمت موده په سیاسي شرایطو، انتخاباتو او د ائتلاف په ماتېدلو پوري اړه لري. په پارلماني سیستم کي صدراعظمان په اسانه راځي او په اسانه ځي. په جمهوري سیستم کي جمهور رئیسان تر یو حده پوري له سیاسي لوړو او ژورو څخه په امان وي. د عراق د جګړې له امله، د مثال په توګه، د امریکې جمهور رئیس بوش ته ډېر لږ محبوبیت ورپاته دئ، مګر د ده د جمهوري ریاست د دورې تر پای ته رسېدلو پوري څوک هیڅ نه سي کولای.

د امریکې جمهور رئیس له مجرمیت impeachment سره مخامخ کېدای سي، مګر دا یوه اوږده او بې باوره پروسه ده چي د امریکې په تاریخ کي یوازي درې ځله مطرح سوې ده. جمهور رئیس اندریوجکسن Andrew Jackson په کال ۱۸۶۸ کي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سو، مګر د سنا په یوه رایه باندي یې برائت حاصل کړ. جمهور رئیس ریچارډ نکسن Richard Nixon نژدې و چي د نمایندګانو د مجلس لخوا مجرم وګڼل سي، مګر ده تر رایې ګیرۍ دمخه استعفا وکړه. جمهور رئیس کلینټن Clinton مجرم وګڼل سو مګر محکوم نه سو. تر کومه ځایه چي د اجرائیه قوې د مشر په کرکټر پوري اړه لري، پارلماني سیستمونه د امریکې د سیستم په تناسب ځیني ښېګڼې لري. په پارلمان کي د ساده عدم اعتماد رایې له لاري، د اجرائیه قوې نامطلوب مشر ایسته کېدای سي.

**د رئیسه هیئت (د اجرائیه قوې مشر) رول:**

ریچارډ نیوسټاډت Richard E. Neustadt لیکي چي: "یو جمهور رئیس له څو سرېو څخه جوړ دئ، یا یو سړي دئ چي څو بېلابېلي (خولۍ) لري یا په بل عبارت ډېر رولونه لري". په اوسني عصر کي زیاتره (د اجرائیه قوې) رئیسان تر یوې زیاتې خولۍ لري، مګر د امریکې جمهور رئېسان د زیات قدرت خاوندان دي ځکه دوی د مقننه قوې [کانګرس] څخه په مستقل ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو له خوا ټاکل کېږي. د امریکې جمهور رئیس د دولت رئیس، د حکومت مشر، د ګوند لیډر، د وسله والو قواوو اعلی قومندان، لوړ پوړی ډیپلومات، او هم د اجرائیه قوې مشر وي. د ۱۷۸۹ راهیسي په امریکې کي د جمهور رئیس قدرت په زیاته اندازه ډېر سوی دئ. د نړۍ په نورو هیوادونو کي هم د اجرائیه قوې د مشر قدرت زیات سوی دئ.

**د دولت مشر:**

جمهور رئیسان د ملت ښکاره سمبولونه وي او د پاچاهانو یا په ځینو هیوادونو کي نمایشي جمهور رئیسانو په شان تشریفاتي وظایف سر ته رسوي. د مثال په توګه، دوی د نورو هیوادونو مشرانو ته ښه راغلې وایي او ملاقات ورسره کوي، سفیران ځانته مني او په نړۍ کي د خپل هیواد نمایندګي کوي.

**د حکومت مشر:**

د حکومتونو مشران (جمهور رئیسان، صدراعظمان او یا چانسلران) د پالیسیو د عملي کولو مسئولیت پر غاړه لري. دوی په ملي سطحه کي د ستر بیوروکراتیک ماشین ښارنه کوي چي دا ډېر دروند کار دئ. د امریکې جمهور رئیس، د پنځلسو لویو حکومتي ډیپارټمنتونو (وزارتونو) ۱۰۰ اجرائیه بیوروګانو، ۹۰۰ اداري دفترونو او ۶۰۰ حکومتي څانګو مسئول دئ چي ټول دوه اشاریه اته میلیونه مأمورین په بر کي نیسي.

**اعلی قومندان:**

د اجرائیه قوې (حکومت) مشران تقریباً په هر ځای کي د خپل هیواد د وسله والو قواوو اعلی قومندان هم وي. په هغو هیوادونو کي چي ډیموکراسي نوې وي دا کا ر یو پرابلم دئ. ځکه چي جمهور رئیسان او یا هم صدراعظمان ښایي له وسله والي قوې څخه غیرقانوني استفاده وکړي او خپل سیاسي مخالفین په ووهي او یا هم د قدرت په انحصار کي له هغه څخه کار واخلي. په ډېرو هیوادو کي، لږ تر لږه د کاغذ پر مخ، داسي کړنلاري او کوماندې سټر کچرونه وجود لري چي د هغو له مخي له وسله وال پوځ څخه د کار اخیستلو قانوني والی تعینېږي. جمهوري سیسټمونو و جګړې ته د وسله والي قوې لیږل اسانه کړي



دي. د امریکې او همدارنګه د روسیې جمهورو رئیسانو له وسله وال پوځ څخه په داسي لارو استفاده کړې ده چي د پارلمان منظوري یې تر لاسه کړې نه وه او هیڅ چا څه کولای هم نه سوای.

**معیوب جمهور رئیسان:**

جمهوري سیسټمونه یو بل پرابلم لري چي پارلماني سیسټمونه یې نه لري. که یو صدراعظم د خپل صدارت په دوران کي معیوب یا لیونی سي، پارلمان ډېر ژر کولای سي له کاره یې ګوښه کړي. جمهوري سیسټمونه په اسانۍ سره نه پوهېږي چي په ډېر سخت ناروغه جمهور رئیس (د اجرائیه قوې مشر) څه وکړي. اکوادور، د مثال په توګه، د ډېر سخت عصبي ناروغ جمهور رئیس له ګوښه کولو سره قانوني پرابلمونه درلودل. د امریکې اساسي قانون وایي کله چي جمهور رئیس "د قدرت او وظایفو د سر ته رسولو" کفایت و نه لري د جمهور رئیس مرستیال یې ځای نیسي، مګردا بې کفایتي هیڅکله تعریف سوې نه ده. په نتیجه کي، ډېر جمهور رئیسان سره له دې چي ډېر ناتوانه وه پر خپل ځای پاته سوي دي. په فرانسه کي، جمهور رئیس میتراند د سرطان د ناروغۍ له امله د خپل څوارلس کلن جمهوري ریاست په ډېرو کلونو کي د تدریجي مرګ سره لاس وګرېوان و، مګر د ده ډاکترانو دا موضوع د ده تر مړیني وروسته په کال ۱۹۹۶ کي اعلان کړه.

د امریکې پر جمهور رئیس ووډروویلسن (۱۹۱۳– ۱۹۲۱) Woodrow Wilson په ۱۹۱۸ع کال کي، یعني دمخه تر دې چي د ورسایلیس Versailles په غونډوکي برخه واخلي، مغزي حمله stroke راغلې وه. د ده ناروغۍ په غونډو کي د ده د سیاسي چنې وهلو قدرت کمزوری کړ. دی هغه مهال چي د ورسایلس د معاهدې او همدارنګه د League of Nations Covenant له پاره یې د خلکو د حمایې راجلبولو له پاره وینا کوله، راچپه سو. وروسته تر هغه یې میرمني په دې نامه چي یوازي یې د جمهور رئیس غوښتني پر ځای کولې، د جمهوري ریاست چاري پر مخ بیولې. کله چي جمهور رئیس فرانکلین روزویلت د څلرمي دورې له پاره په کال ۱۹۴۴ع کي انتخاب سو، د زړه ناروغي او لوړ فشار یې درلود. ده چي کله په ۱۹۴۵ع کال کي د یالتا Yalta په غونډو کي برخه اخیستله، د مرګ په دروازه کي ولاړ و، ښایي په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



علت سټالین ته تر ډېرو شیانو ورتېر سو. جمهور رئیس کینیډي د اډیسن په نوم ناروغي درلوده او هم یې د درد او خوب ګولۍ خوړلې. آیا دې دومره دواګانو به د مهمو پرېکړو په هکله د ده پر قضاوت اثر نه وي ښندلی؟

دا چي ولي د سپیني ماڼۍ ډاکترانو په دې هکله څه ونه ویل، یو علت یې دا و چي ډاکترانو د جمهوررئیس حفاظت کاوه ځکه چي په امریکا کي د مریض او ډاکټر تر منځ روابط ډېر سخت امتیازي شکل لري یعني ډاکتر حق نه لري د مریض حال افشا کړي، او بل دا چي ډاکټرانو په رشتیا سره هم له جمهور رئیس سره علاقه درلوده او نه یې غوښتل چي د دوی خوښ جمهور رئیس قدرت له لاسه ورکړي. د دوی په انګېزه کي څه نقص موجود نه و، مګر د دوی هڅې چي یو ناروغ جمهور رئیس یې پر خپل حال پرېښود، ښایي وطن ته تاوان پېښ کړی وای.

**کابینه:**

کابینه د اجرائیه قوې له مشر سره مرسته کوي. د کابینې غړی د اجرائیه قوې د یوې عمده څانګې، چي په امریکا کي ډیپارټمنټ او په نوره نړۍ کي یې وزارت بولي، مشرتوب پر غاړه لري. په امریکا کي د کابینې د غړو شمېر تر ۱۵ پوري محدود او د اروپا په ځینو هیوادونو کي بیا تر ۲۰ هم زیات دئ. د وزارتونو شمېر د هیواد په داخلي سیسټم او د خلکو په توقعاتو پوري اړه لري. د امریکې متحده ایالاتو هر وخت پر محدود حکومت باندي ټینګار کړی دئ، مګر په دې وروستیو کلونو کي امریکا هم د یورپ پر لوري ور روانه ده.

**څوک په کابینه کي برخه اخلي؟**

د برتانیې او جرمني په شان پارلماني سیسټمونو کي، وزیران له پارلمان څخه ټاکل کېږي او دوی خپلي پارلماني چوکۍ ساتي. دوی هم د مقننه قوې او هم د اجرائیه قوې غړي وي. دوی معمولاً د پارلمان په بېلابېلو کمېټو کي د غړیتوب او په پارلماني انتخاباتو کي د بریالیتوب له پاره د ډېرو سیاسي تجربیو لرونکي وي. د جرمني په بون دیسټاګ Bundestag کي د دفاعي کمېټې مشر ډېر چانس لري چي په کابینه کي د دفاع د وزیر په توګه وټاکل سي. د امریکې د متحده ایالاتو او برازیل په شان جمهوري سیسټمونو کي،



وزیران په عمومي صورت سیاسي خلک نه وي بلکي د حقوق، بزنس او یا هم له اکاډیمیکي ساحې څخه ټاکل کېږي. دوی ښایي د خپلو وزارتونو په هکله معلومات او سابقه ولري مګر لږ پېښېږي چي کوم انتخابي مقام یې د انتخاباتو له لاري ګټلی وي. په دې وروستیو وختونو کي د امریکې ځینو جمهورو رئیسانو د کانګرس غړي په کابینه کي شامل کړي دي، مګر دوی د وزارت چوکۍ ته تر ټاکل کېدلو مخکي له کانګرس څخه باید استعفی وکړي.

کوم سیسټم ښه دئ؟ هغه وزیر چي په سیاست کي فعاله برخه لري یعني د پارلمان غړي هم وي او که هغه وزیر چي د دولت له حلقې څخه دباندي په کابینه کي شامل سي؟ د اروپایي پارلمانونو انتخابي غړي چي وزارت ته ټاکل کېږي، عموماً هم په سیاست او هم د خپل مربوطه وزارت په چارو کي وارد وي. دوی د پارلمان غړي له نژدې پېژني او یو ځای یې کار سره کړی وي. وزیران او پارلمان یو بل ته خصمانه نظر نه لري. په پارلمان کي پر وزیرانو باندي انتقادونه کېږي مګر دا انتقادونه د مخالف ګوند د غړو لخوا کېږي او د حکومت موافق ګوند په عمومي صورت د کابینې د غړو حمایت کوي.

هغه وزیران چي له پارلمان څخه دباندي کابینې ته داخل کړه سي، چي د امریکې عنعنه ده، ښایي نوي نظریات له ځانه سره راوړي، مګر دوی به ښایي په سیاست کي دومره وارد نه وي. د دې امکان سته چي دوی به په پارلمان کي له مخالفتونو سره مخامخ سي او ښایي حتی خپل ګوند یې هم ملاتړ ونه کړي.

په خاصه توګه د امریکې په متحده ایالاتو کي، د کابینې اهمیت ورځ په ورځ لږېږي. د کابینې غونډې ډېري لږ وي او دومره زیات څه پر بنا هم نه وي. ډېر لږ امریکایان د کابینې د درو یا زیاتو غړو نومونه ښوولای سي. د دې مشکل یو علت دا دئ چي د کابینې ډېر لږ غړي مهم سیاسي شخصیتونه وي. د کابینې غړي تر ډېره حده د خپلو مربوطه وزارتونو اداره چیان وي.

**تر کابینې دباندي مشاورینو زیاتېدل:**

په اوسني عصر کي د حکومتونو یو اساسي پرابلم دا دئ چي سرعت پکښې زیات دئ. جمهور رئیس غواړي داسي خلک پر راټول وي چي ده ته نوي ایډیا وي او د نوو پېښو په هکله چټک قضاوت وړاندي کړي. له دې امله په امریکا او ځینو نورو هیوادونو کي تر کابینې دباندي مشاورین (سلاکارن) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر زیاتېدو دي چي ځیني وختونه تر وزیرانو لا هم مهم وي. (په افغانستان کي هم داسي ده).

## عمده مفاهیم

**په اسرائیل کي د صدراعظم مستقیم انتخاب:**

په ۱۹۹۶ عیسوي کال کي اسرائیلو، د یوه نوي قانون له مخي، پارلمان او صدراعظم یو له بله بېل او په مستقیمه توګه انتخاب کړل. دا کار په نړۍ کي بېساري و او هیڅکله نه و سوی. هر اسرائیلي رایه ورکوونکي دوې رایي درلودې چي یوه یې د پارلمان او بله یې د صدراعظم د ټاکلو له پاره وه. د تعریف له مخي، په پارلماني سیستم کي صدراعظم، چي په اسرائیل کي عموماً د اکثریت ګوند مشر وي، د غیرمستقیمي لاري یعني د پارلمان لخوا ټاکل کېږي. په جمهوري سیستم کي بیا د اجرائیه قوې مشر د خلګو لخوا د انتخاباتو له لاري په مستقیمه توګه ټاکل کېږي. په دې توګه نو اسرائیل له سوچه پارلماني سیستم څخه جمهوري سیستم ته راواوښتی، مګر بیا هم پارلمان کولای سوای د عدم اعتماد له لاري صدراعظم له کاره ګوښه کړي.

اسرائیلي رایو ورکونکو، په دې فکر چي ګویا د خپلي یوې رایي په وسیله یې د صدراعظم چاره وکړه، خپله دوهمه رایه یې د وړو ګوندونو تر مینځ ووېشله. دي کار د اسرائیلو پارلمان تر پخوا زیات پر ډېرو فراکسیونو (ډلو) ووېشی چي په نتیجه کي د ائتلاف جوړول نور هم پسې مشکل سول. دوه ځلي له دې ځانګړي مخلوط سیستم څخه کار واخیستل سو، مګر د اسرائیلو پارلمان په ۲۰۰۱ عیسوي کال کي دا سیستم لغوه کړ. تجربې وښودله چي د جمهوري او پارلماني سیستم ترکیب کار نه ورکوي.

# دیارلسم فصل

**حقوقي سیستمونه او محاکم:**

د امریکې متحده اَیالات په دې ویاړي چي د (قانون حکومت) پکښې حکفرما دئ. د دې خبري یوه نښانه په امریکا کي د قانوني وکیلانو [lawyers] د شمیر زیاتوالی دئ. په امریکا کي پر هرو سلو زرو تنو باندي ۲۸۱ قانوني وکیلان موجود دي، په مقایسوي توګه دا شمېره په انګلستان کي ۹۴، په فرانسه کي ۳۳ او په جاپان کي ۷ تنو ته رسېږي. قانون په دې سیستمونو کي بیلابېل رولونه لوبوي. په امریکا کي د قانوني وکیلانو پراخ لښکر د خلګو د آزادۍ او انفرادیت ښکارندوی دئ. په ډېر ولړو هیوادونو کي کمزوري سړي په زورور سړي دعوه کولای سي. په امریکا کي ډېر خلګ شکایت کوي چي په دې هیواد کي بیخي ډېري دعوې اقامه کېږي، مګر ډېر لږ خلګ به د جاپان سیستم ته غاړه کښېږدي، چي په هغه کي له خلګو څخه د حکومت د اطاعت او همکارۍ غوښتنه کېږي. قانون بې له قانوني وکیلانو داسي معنی لري چي قانون به د بیوروکراتانو په ولکه کي وي. د قانون تر سایې لاندي آزادي ډېرو قانوني وکیلانو ته اړتیا لري.

**د قانون ډولونه:**

موږ دلته پر مثبت قانون باندي چي انسانانو د پېړیو په اوږدو کي تصنیف کړی دئ، تمرکز کوو. د طبیعي قانون په خلاف، مثبت قانون د صحیح او غلط د معلومولو له پاره د حقوقو کتابونو ته مراجعه کوي. زموږ پر له پېچلې بشري ټولنه د قانون بېلابېلو ډولونو ته اړتیا لري چي لاندي څلور یې عمده دي:

**جنایي قانون:**

څرنګه چي تقریباً دوه ملیونه خلګ د امریکې په بندیخانو کي پراته دي،

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library